


Ketabton.com

:□#شهاب

بِسمِ أَللّهِ أَلرَحمَنْ أَلرَحيم

يخ مې دبدن مغز، مغز او هډوکي ته رسيږی او زه د ډير يخ څخه لړزيږم، داسی لړزيږمه چي هر سوک زما د ځنګ څخه تيريږی په زړه سواندې نظر راګوری. او زه چي بغير له کوم موخي او هدف څخه پر لېسي سړکونه تيره وم، او زه چي حتا موخه او لاره مي معلومه نده او بې منزله په حرکت يمه. او زه چي کورنی نلرم، او زه چي حتا يو چت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر له پاسه د ژوند تیره ولو لپاره نلرم، او زه چي څومره بی پناه او بیچاره یم.

او زه؟ اصلاً زه سوک یم؟ یغما؟
څو ځله په کراره دا نوم لځان سره تکراره وم
یغما، یغما...

هغه یغما چی خپل د عمر په شلم مني موسم کي پښه ایخودلي.

یو ترخه مسکا مي په شونډو باندی خپره کیږی، او لځان سره فکر کوم زما نوم او زما ژوند څومره ښایسته ورته والي لری.

خپل د قدمو سرعت زیاته وم، داسي چي څو غټ او قوی سپیي راپسی ویي او زه خپل د ژوند د ژغورلو لپاره نه بلکي خپل د عزت او حیا ژغورلو لپاره د هغه ځای څخه د تلو کوښښ کوم.

مګر هغوی ندی راپسي؟!یواځی هغوي په ظاهر کي څلور پښی نه بلکي دوه پښو والا دی، دا فکر عجیبه لړزه مي په ناتوانه وجود باندی قایمه کړه.

لاس مي خپل د کمیس جیب ته چي د حجاب پشان دی راته ننباسم، ګوتي مي د یو څیز د لټون پسی دی، او زه ویریږم چي هغه شئ مي په هدیره کي لیاده باسلي نه ویي.

د یو شئ په لمس کولو چي د کلک پلاستیک پشان دی، نری مسکا کوم.

اه نو خپل ژغورونکي مي لځان سره راوړی د ګولیو پاکټ ته چي اوس زما په لاسونو کي دی ګورم او بیا یي بیرته په جیب کی ایږدم

شاوخوا د نظر څخه تیره وم او په ځیر سره ګورم چي اوس د ښار په کوم ځای کي کرار لرم؟ خو هر څومره چي خپل په مغزو فشار او بوج راوړم هیڅکله مي داسی ځای ذهن ته نه راځی چی ما دی لیدلی ویی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زه څومره د هغه ځای څخه لرې شوې یم؟ او څومره فاصله مې تېره کړې؟ ضرور ډېر لرې شوی یم...

په همدې فکرونو کې نظر مې د هټۍ او هوټلونو خواته چې یو دبل په څنګ کې موقعیت درلودو وشو او بیا ولړزیدم، پېښې مې بې واقه شوې او د تلو یارې راسره نکول.

دا ځل د یخ له لاسه و نه لړزیدم بلکې، د خلکو د ناپاکه نظر او مردار خندا وه چې زړه کې راته ویره واچول.

لکه چې تازه مې فکر شو چې زه جنۍ یم او دا هم هغه وینه څکونکي ښار د جنکیانو لپاره دی د هغه انجونو لپاره چې زما د جنس څخه دی د نرم والي او درد...

د هغه ځای څخه لرې کیږم، د نانوای خواته ځم او د ډوډۍ غوښتنه کوم
اه چې څومره د ډوډۍ ګرم او خوندور بوی عجیبه ورته والي د ژوند د بوی سره لرې.

ههه د کوم ژوند څخه خبرې کوم د هغه ژوند څخه چې هیڅکله ماته ژوند نشو!

ډوډۍ راخلم او د څو شپو وږو پشان یې خورم، خپل مات شوی ساعت ته ګورم او تازه مې فکر د وقت تیریدو ته کیږي. یعنې زه پینځه ساعت بغیر له کومې وقفې او دمې څخه د یو نامعلوم منزل په لورې په حرکت یم! هک حیرانه کیږم و دی دومره توان او انرژي ته چې زه یې په پښو دره ولې یم.

په هغې تیږي چې زما څنګ ته وه کیناستم او خپل په فکرونو کې ډوبیږم، ډوبیږم په هغه تور ماضې وقت کې چې سم زما د تقدیر پشان تور دی.

خپل د عمه خبرې مې یاد ته راغلل" پخدای که پوهیږم چې د دې لیونۍ او عصبي جنۍ سره څه وکړم؟ مور او پلار یې خپل شَر کم کړو او دا مریضه جنۍ یې زما غاړې ته را واچول اه چې د هغوۍ مړینه لا زما په فایده نه وه." خو د دې خبرو هضم کول دومره ګرانه نه وه بلکې جواب یې وو چې زما ساه یې بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ښځې دومره زما د غوږ لاندي بنګ،بنګ مه کوه خپله خو پوهیږی چي دا مریضي خیرنه زموږ په څه درد راځی."
په لوړ غږ خاندي او بیا وایي:
" لکه چي لیاده دی وتي چي د دی ډنګری په سر موږ دولس لک افغاني اخلو، یواځی یو ځو وقته صبر وکړه ترځو سلیم کاپیسا ته لاړشي، بیا د دی جنۍ شَر او مصیبت خپل د سر څخه کم کو، نجیب څلور ورځې وقت راکړي ترځو امانت یي ورته تسلیم کړو"

صبر نجیب! دا خو هغه نجیب ندی چي څو ځله یي ماته د مزاحمت اراده درلود؟
همغه نجیب چي یو کور د بیځایه او بي پناه جنکیانو درلود همغه چي خپل د عیش او نوش پیسي د دی جنکیانو په سر پیدا کول!

بدن مې بي ساه کیږی او تازه د مصیبت لوې والي ته مې فکر کیږی چي څه بد مرغه تقدیر مې په تمه دي

که سلیم لاړشي بیا څه؟ هغه کس چي زما یواځنې حمایت کونکي په هغه کور کیدی، هغه کس چي په وار، وار یي ماته د واده وړاندیز کړی وو، په وار، وار یي د مئینې اظهار کړی وو، او ما یواځی هغه ته ورور ویلي وه

هغه ورور چې ما خپل خور نه منې.
نه، نور نشم کولي د هغه په مرستي حساب کړم عمه هیڅکله سلیم نه پریږدی چي زما سره مرسته وکړی نشم کولي هغه ته یو مصیبت وګرځم

د دی ترخه خاطراتو په یاد راوړل چي یواځی څو ساعته مخکي د شپي په تیاره کي تیر شوي وه حال مي خراب شو او څو څاڅکې اوښکې مې په څهري توې شوی.!
نه داسې نه کیږی زه غښتلي یم، زه باید قوی اوسیږم خپل د ځان لپاره خپل د آینده لپاره.....

باید یو لاره مي خپل د ژغورلې لپاره لټولي وایې یو داسې لاره چې ما د هغه کور او د دی مردار نظرنو څخه لرې وساتي خو کوم لاره؟ آیا کوم لاره هم شتون لرې؟ دا پوښتنه څو ځله لځان سر تکراره وم....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم څومره وقت کېدو چې خپل ځان مې خپل ذهني خبرو ته سپارلي وو چې يو غږ د هغه ځای ښځه زه وويستلم.

و دوه هلکانو ته چې زما ښځه په لږ فاصله کي ولاړ وه ګورم

- اوووو سترګو ته يي وګوره زما په نظر د ظالم لور د کور ښځه تختيدلې، ته راځه چې خدای رحم پر موږ کړی!

دواړه په لوړ غږ خاندی او زما طرف ته را نږدی کيږی.....

زه څومره کرکه لرم د دی نږدی والي او د دی ناپاک کتلو ښځه...
په تلوار خپل لځايه پاسيږم او په غټو ګامونو د هغه ځای ښځه لري کيږم، يو اځی خدای،خدای کوم چې زما پسي نه ويي راغلې، د څو دقو وروسته خپل شاته ګورم او کله چې ډاډمن کيږم چې د هغوی ښځه هيس کوم خبر نشته يو هوسا نفس اخلم

هوا په تياره کيدو ده او زه تراوسه نه پوهيږم چې شپه چيرته تيره کړم ترڅو د دغه وحشي ځناورو ښکار نشم..

بغير له کوم فکر ښځه لځان سره وايم کاش جنۍ نه وايی! لاس خپل په اوږده ويښتيانو چې د ټکری لاندی دی تيره وم او يو فکر مي مغزو ته راځی، څو دقي خپل په فکر کي بنده پاتی کيږم، او لځان سره وايم دا يواځنې لار ده چې ماته پاتي
مګر بله چاره هم لرم؟

په بيرو بار کي داخله کيږم ښار ډک دی د ليلا مې د هر ډول وسايل او کاليو ښځه. خپل په فکر شرميږم او له خدايه بخښنه غواړم.

د يو کراچي خواته ځم
- ورور د دي قيچي قيمت څو دی؟
- خوري ماښام شوي او ځکه چې نن ما کوم خرڅلاو ندی کړی تاسو 150 افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړی.

بغیر د کوم چانه وهلو د قیمت په سر قیچې اخلم او د سړیانو د کالو پسې ګرځم.
تول دوکانونه کرار،کرار په بند کیدو دی، او زما تشویش او ویره په زیاتیدو..

مخکې ځم او نظر مې په یو دوکان چې یو د عمر پوخ سړی پکی شتون لری پریوځې، په منډه د دوکان خواته ځم چې هغه دوکاندار په حیرت باندی وایی:
- لوري خیرت خو دی؟ کوم شې دی په کار وو؟
- هو کاکا یو جوړه مردانه کالې او یو د غاړی پټو مې پکار دی!

سړی ما د نظر څخه تیره ویي بیا وایي:
- صبر اوس درته یو څو جوړی راوړم.
د څو دقو وروسته د څو جوړو کالو سره راځی او وایي:
- دا دي لوري وګوره یواځی تلوار کوه چې دوکان بنده وم.

په غور باندی کالې ګورم، دلړ دمې وروسته یو جوړه تور کالې دهغه خوا ته نیسم
- د دی قیمت څو دی کاکا؟
- ستا لپاره 800 یواځی یو دوه ځلې اغوستل شوی نوې دې.
- سمده، کولې شې یو د غاړی پټو هم د دی سره راته حساب کړی؟

- ځکه چې ناوخته ده او ته هم یواځی یي منم یي زما له خوا تاته ډالې. یو سپین دسما پټو مې خواته نیسې
- همدا سم دی؟

مننه کوم، کالې را اخلم او د بیرو بار څخه ځان باسم، اففف اوس خالې ځای له کومې کړم چې کالې بدل کړم؟

یو زړي غرفې ته مې فکر کیږی چې یو کونج کې ولاړه ده، شاوخوا ګورم کله چې د خلکو په نشتون ډاډمنه کیږم، نو د فرصت څخه استفاده کوم، او د غرفې خوا ته ځم او په تلوار خپل کالې بدله وم او یو هوسا ساه اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځومره خوشحاله یم چې کوچني او ماشومانه بدن لرم د عمه په خبره چې ویل یي: د هلکانو پشان صاف یي!

بنه اوس د ویینتیانو نوبت مې دی چې د شر څخه یي ځان بیغمه کړم، زړه نا زړه غچې خپل د ویینتیانو خوا ته وړم سترګې مې پټی کوم، او په بیخ کې غچې کوم، د لږ اخوا دیخوا جوړه وم یي. البته داسې فکر مه کوي چې د فلمو پشان بنایسته او شتیلې مې قیچې کړی نه! یو اځی شکل مې ورڅخه ماشومانه او لنډ او پورته کړی.

یو ځل بیا ځانته ګورم او کله خپل د کالو په منظم اوسیدو ډاډمنه کیږم، د مسافرخانو خواته قدمونه تیزه وم، د یو کلک ځیز په لګیدو باندی په سړک وغورځیدم

- اخ پینه مې ماته شوه خدای دي ستا جزا درکړي چې زما پشان غټ پټ انسان دی ونه لیدو!

ځان سره لګیا وم او بنګ بنګ مې و، چې یو مردانه غږ د هغه ذهني جنجال څخه وویستم.
- بنه یاست ورور؟ وبخښی له قصده نه و تاسو ناساپه د موټر مخي ته راغلي..
هغه خبری کول او ما خلاص خوله د حیرت څخه ورته کتل دا اوس انس دی یا حور!
لوړ قد، بیحده توری سترکې، اوږد باڼره، قلمي پوزه، سپین مخ او تور بنواره ویینتیان...

د ژبې لاندی داسې چې یو اځې خپله یي وآورم وایم: خدای دی واخله د خلکو زوی دي وخوړی، لیونې جینې اصلاً زما د ورور لځایه دی وي!

خلک زموږ شاوخوا راټول شوي او بنګ،بنګ یي وو...
د خلکو خواته ګورم او به کلکه لهجه وایم.

- هیله کوم خپل کارونو ته ورسیږي یو حادثه وه تیره شوه مننه ستاسو تولو څخه!
د ځای څخه د پورته کیدو کوښښ کوم چې د پیني په بند کې مې سخته درد احساس کوم.
- بنه یاست؟
- مننه تاسو هم تلې شې.
په سترګو کې حیرت ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یعنې تاسو خپل د پېښې تاوان نغواړی؟
خلک تیت پرک کیږی او زه راحته نفس اخلم.

- پرې شوي خو نده وروره، خپل کار ته ورسیږی. استغفرالله څه لیونې خلک دی.

پداسې حال کې چې زما لاس نیسې وايي:
- پاسیږی ډاکتر ته ځو یو معاینه وکړی چې مات شوي نه ويي؟!

د هغه د لاس په لمس کولو مې تندې تروش کړو او په تلوار خپل لاس د هغه د لاس څخه کشه وم.
- وایم ښه یم نه یې آوری؟ توبه خدایه
په قهر او ډیر کلک لهجې باندی وايي:
- محترم وروره زه هم بېکار نه یم اوس چې ستاسو د پیښې مسؤول یم باېد تاسو ویسم نو زر پاسیږې.

د هغه په جدی لهجه مې خوله بنده شوه او بې له خبرو لځایه اوچته شوم.او ګوډه ګوډه د چنار ګل بابا(دا هغه لقب دی چې د هغه په لیدو مې ذهن ته راغلي و) د موټر په طرف روانه شوم.(په دی لقب ایخودو خندا هم راتله) خو کوښښ می کولو چی ښکاره نکړم.موټر خپله چوپتیا خوره کړی وه،نه ما او نه هغه خبرې کولې!
د تلیفون زنګ چوپتیا ختمه کړه.

- بلی مور جانی آورم.
د هغه طرف غږ مې وانه وریدو، بیا ده ورته وویل:
- یو مشکل کی یم شایږ لږ ناوخته کورته درشم.
- هو مور جانی خیرتی ده زه وروسته زنګ وهم.
- خدا پامان.

یو څو دقیقې وروروسته شفاخانې ته ورسېدو.

بیا یې لاس رامخکی کړو چی راسره مرسته وکړی. او زه فکر کوم چی دا ولی دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غور نه کوې. زه جلی یم او دا هم افغانستان ؟؟

مخکې له دې چې زه انکار وکړم، زما لاس نیسي او زه تازه خپل ځان ته مې خپال کیږی چې زه خو د هلکانو په جامو کې یم !

نو هغه ګناه نه لرې ځکه هغه فکر کوې زه هلک یم، نو د یو هلک لمس د مرستې کولو لپاره ګناه لرې؟ نه نه لرې...

ولی زه څه؟ زه خو پوهیږم چې جلی یم، او هغه نا محرم دی.
خو څه وکړم؟ بله چاره نشته اول دا چې زه په دې پښې تللي نشم.
او دویم دلیل دا چې ما په خپل وجود کې د جلی توب ټول حس وژلی دی او تر اخره به د هلکانو جامو کې به ژوند کوم.....

زموږ د یو بل لمس کول د هوس او شهوت څخه پاک دی.
نو بیا څه ستونزه ده؟ په همدې خبرو باندې ځانته تسلي ورکوم او نه پوهیږم چې څه وخت د ډاکټر کوټې ته ورسیږدو. د دروازې ټک،ټک وهلو وروسته کوټې ته داخل شو! په کراره سلام کوو.

ډاکټر- علیکم السلام مهرباني وکړې.
هلک زر وایی: ډاکټر صایب د ورور پښې مې ستونزه پیدا کړې یعنی له موټر سره یې ټکر کړې یو ځلې که وګوری چې کوم خاص مشکل خو نلری؟
او زه د چنارګل بابا د ژبې د تیزوالی په حیرت کې پاتې کیږم.

ډاکټر- سمه ده راشې دلته کینې.

د چنارګل بابا په مرسته زه په چپرکټ کې‌ناستم.
او ډاکټر په معاینه کولو باندی لګیا شو.....

ډاکټر- کوم خاص مشکل نه لرې یواځې لږ ضربه یې خوړلې چی ګچ کوم یې ورته تر یو هفته خلاصه نکړی او هو ونه ګرځی ورباندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلوار وایم: یو هفته ډېر وقت دي بې له ګچ نه کېږی؟
ډاکټر- نا نه کیږی که ګچ نشي نو مشکل یې زیاتیږی.
بیا چنارګل بابا جواب ورکوې.

چنار ګل بابا- ګچ یې کړې ډاکټر صایب!
بد، بد چنار ګل بابا ته ګورم چې هغه خپل اوږه اوچته وې (معنا دا چې ماته څه لږ وخت لپاره په چپرکټ کی کینم او هغه پیسې حسابوې.یو ځل بیا د نامعلوم راتلونکي په فکر کې ډوبه شوم، نو د دې لارې پای به څه وي! د دروازی غږ شو او چنار ګل بابا دننه راننوته لاس یی راته راکړو او زه یې پوره اوچته کړم،د زینو په طرف ځو او کرار کرار لاندی ښکته کیږو!

په کوچنیو ګامونو موږ تر موټر ورسیدو، چنار ګل بابا د موټر دروازه خلاصه کړه او زه په مخامخ څوکی کیناستم.

چنار ګل بابا- نو اوس راته ووایه چې ستا کور په کوم لوري دی؟

غلی پاتې شوم او نه پوهېږم چې څه ځواب ورکړم، له لږ ځند وروسته مې خوله خلاصه کړه چې خبرې وکړم:

- زه د بدخشان یم او مسافر یم، یو نسبتاً ارزانه مېلمستون ته لاړ شه.پیسي نه لرم، باید کار ته ولاړ شم، یوازې هغه شیږ زره افغانۍ مې راوړې چې په خزانې کې مې وی. او بس.

زما د خبرو وروسته بیا خاموشي حاکمه شوه!
چنارګل بابا-که تاسو کوم مشکل نه لرئ، زموږ د کور میلمستون لوې دی، تاسو کولې شئ زما سره لاړ شئ!

نه پوهېږم چې څه ووایم، زما په اند دا بده خبره (وړاندیز) نه ده، اوس چې زه هلک یم، دا ماته څه توان رسولې شي! په هرصورت، زه د خپلې خوښې خلاف وایم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه مننه، زه تاسو ته تکلیف نه درکوم !
چنار ګل بابا- نه د څه تکلیف دنده می ده اوس چې ستاسو د وضیعت سبب شوی یم.اوس تاسو ته څه فرق کوې چې مسافر خاني ته لاړشي یا که زما کور ته!

خبرو سره یی موافقه وم هغه صحیح ویل ماته نو څه توپیر دهغه کور او مسافر خاني کې و؟ نو ځکه مې ورته وویل:سمه ده که کوم مشکل تاسو ته نه ویې او آرام یاست، زه کوم خبره نلرم.

هغه ماته په فکرمند نظر راګوري او بیا په کراره لځان سره یو څه وایي چې زه یې نه آورم.

او زه لځان سره وایم هغه زما پینه ماته کړی اوس دی نو ما وزغمې خود نو.
د نږدې شل دقیقو سفر وروسته، چې بغیر له کوم رابندون او ترافیک څخه وه، هغه د یوه لوړ بالا منزله وداني مخکې ودرېدو! او ساتونکو دروازه خلاصه کړه، تقریبا، 6,5 داني ساتونکې وه! ما په خلاصه خوله هک حیرانه خپل د مخ منظری ته کتل

داسې خو نده چې دا کور نه نه وبخښې دا ماڼې د دی چنار ګل بابا ده!
دننه ننوځو او زه د پخوا څخه لا ډیر حیرانه شوم،دا اوس کور دی که ماڼۍ ده!؟
د دې ماڼې په لیدو اخته کیږم،څومره هم غټ او فراخه دی، دا زما د عمه د کور څخه تقریبا پنځوس چنده لویه ده،یو لوې باغ د ونو ډک، یو حوض او دوه کوټې چې له دې ماڼۍ څخه په څو متری کې لرې موقعیت لري.د حویلی او د هغو دوو کوټو تر منځ یو لوی چمن شتون درلود..

د کور د لیدو په حال وم چې د ټوخي آواز د دی سبب شو چې د هغه ښکلي منظرو د کتلو څخه لاس واخلم..

چنار ګل بابا- که ستاسو کتل خلاص شوې وی نو، مهرباني وکړئ دننه لاړشي (او د ماڼۍ په لور یې اشاره وکړل)دواړه یوځای دننه لاړو او هغه زه یوې لویې کوټې ته چې شاېد میلمستون یې و راوبللم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمران، د مېلمه بڼه راغلاست وکړه، هغه دا خبره وکړل او پخپله لاړ او زه يوازې پاتې شوم د يو نالې خوا ته ځم او پر هغه کينم.

په وجود کې مې يو حس پيدا شو, شايد دا کينه وه،د چنار ګل بابا سره.
د ګيلې په توګه لځانه سره وايم، چې ولې خدای هر څه يو چا ته ورکوي! بنګلا، پيسې، شتمنې او خوښی.! يو غټه ساه اخلم ترڅو له دې بې ځايه فکرونو څخه ځان خلاص کړم په هرصورت، هغه زما سره مرسته کړی وه.
د هغه د موټر ماډل څه وو؟ نه پوهيږم يو لوی تور موټر څومره آرام وو!

زه به د موټر په ماډل له کومه خوا خبره شم؟ کله چې په ژوند کې مې داسې موټر نه وو ليدلی، افسوس کوم په خپل حال باندې. هغه هلک چې عمران نوميده، د اوبو کوزه په لاس کوټې ته راداخل شوو، د هغه په راداخل کيدو زه وشرميدم، چې يو هلک دی زما لاسونه پريوی..! لاسو منځلو وروسته,دوه ځوان هلکان له ډوډۍ سره راننوتل.! حتماً دا شاهی مانۍ ده،او زه يې په خوب کې وينم! يعنې دا ټول د چنار ګل بابا د کور نوکران دی..؟

چنار ګل بابا د کور ساده کالو کې کوټې ته راننوتې او زما څنګ ته کېناستو، د هغه په کيناستو زما څنګ کې زه پعذابه کيږم خو د دی خبرې په ياد راوړل چې زه اوس هلک يم يوه لنډه موسکا مې په شونډو خپره کيری.ډوډۍ دومره خوندوره وه، چې ما لکه قحطی وهلو خلکو پشان په ډوډی حمله کړل او پر خوړلو ی اخته شوم!

کله چې بڼه موړ شوم، سر مې پورته کړ، چې د چنارګل بابا د حيرت څخه ډک نظر باندی مې سترګو ولګيده، اوره مې پورته کړه.او ومې ويل: زه وږی وم!
هغه يو کم رنګه موسکا وکړه، چې ژر يې خپل مسکا له منځه ويوړل.له ميز څخه ډوډۍ نوکرانو ټوله کړه، او ميوه او د هغه څخه وروسته چای راوړل..

زما په لاس کې د چای پياله وه چې يو بل ځوان هلک راغی، هغه هم ښکلی وو، خو د چنارګل بابا د ښايست په اندازه نه. ځان سره وايم:اه سترګې دی وتره ليونی جلی.

- زيد، ته چيرته يې وه هلک؟
چنارګل بابا- په ربښتيا چې ړوند يې، رضوانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه نوې راغلې هلک موړ ته پام کيږی، او مخکې له دې چې څه ووايي، سترګې يې زما په لور تيېنګې شوې.
چنارګل بابا خواته يې( چې زه تازه خبره شوم چې د هغه چنارګل بابا نوم زيد دی اشاره وکړل او ويې ويل: نه يې رامعرفي کوی زيد؟

چنارګل بابا- ته خپله ورڅخه پوښتنه وکړه، زه نه پوهيږم چې نوم يې څه دی؟
رضوان په حيرانی ماته ګوري!
زه په چټکی سره ټوخی کوم،او آرامه ورته وايم:زه يوسف يم، او اوس دلته مسافر يم!

د رضوان جواب مې په يو نارينه غږ چې ډير زحمت مې وباسو د هلکانو پشان واوسيږی ورکړو، تر څو څوک راباندی شک ونکړی چې جلې يم!

رضوان- له پيژندګلوی څخه مو خوشحاله شوم، يوسف جانه.
ما په مسکا جواب ورکړو: زه هم.

رضوان د چنارګل بابا په لوری ګوری او په سترګو تری پوښتي کوې چې څه خبره ده؟

چنارګل بابا- دا همغه هلک دی چې په موټر می ورسره ټکر کړی.

چنار ګل بابا دا خبره کوی او په بی حوصلګی د کوټې څخه وځی.
رضوان چی اوس يی سترګی د حيرت څخه د توپ په شان راوتې ماته ګوری

چې زه بې اختياره مسکا کوم او وايم: داسی مه راګوری اوس ښه يم!
زما په خبری رضوان خاندی او د ناستی لپاره راته اشاره کوی او زه هم ورسره په ډير واټن کې کينم. د چنارګل بابا څخه رضوان ډير اخلاقې هلک وو او ډير ژر ملګری شو،له خپل حاله ورته وايم او رضوان يی آوری او په ډير زړه سواندی نظر راته ګوری البته د ويلو وخت کی لګ مالګه مرچکې پکې زياتوم او يو د دروغو قيصه ورته کوم..
" دلته به د جنې نوم چې يغما ده او ځان يې يوسف معرفي کړی په همغه د يوسف په نوم په مکالمه کې ليکو پام کوی چې غلط نشي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف- زما مور او پلار مړه شوی او زه د هغوی یواځینی اولاد وم هلته راته شرایط بیحده سخت ول نو ځکه ددی خوا په لور راغلم تر څو یو کار پیدا کړم چی د چنارګل بابا په مهربانی" خپلی پښې ته اشاره کوم"چی داسی شوم.

رضوان لومړی په حیرت راګوری خو یو دم په کړس کړس خاندی او وریځې پورته اچوی او وایي: چنار ګل بابا؟!

د هغه په خبره تازه مې فکر شو چې څه مې وویل او د شرم څخه تکه سره شوم، او کوښښ مې وکړو خپل خبره اصلاح کړم خو رضوان همغسی بی واکه له خندا څخه پر ځمکي پروت وه.

یوسف : هغه...هغه زما مطلب زید جان وه..
په مظلومانه بڼول دا خبره وایم: دا خبره دی زموږ تر مینځ پاتي شي سمده.

چي دا ځل رضوان نور هم په کړس خاندی او وایې: هلکه ! ته څومره د نجونو په څیر یی!

د رضوان پدی خبره رنګ مي د ځیري څخه الوځی خو کوښښ کوم ځان له لاسه ورنکړم او په کلکه لهجه وایم: نه هیڅ هم داسی نده فقط تنه مي ورته ده چي مخکي مي درته دلایل یی وویلې.
رضوان: کوم هدف مي نه درلوده فقط ټوکه مي وکړه!
ورته مسکا کوم او وایم: پوهیږم ستونزه نشته

اوس پوهه شوي وم چي رضوان له زید نه مشر دی، دوه ورونه او یوه خور یي لرله پلار یي د ښار نامتو سوداګر وه چي ما نه پیژنده! د ډیر خبرو او خندا ګانو وروسته رضوان د پورته کیدلو اراده وکړه او په همغه حال کي په خندا وویل: ویني دا چنارګل بابا څومره بی پروا او بیعقل دي؟ میلمه یي د خداي په هیله پریښودی او دي لاړ.

د رضوان پدی خبره چې زما ورکړل شوی لقب یې زید ته استعمال کړو دواړه په خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو چې رضوان په همغه حال وویل: البته که ربښتیا ووایم زما خو ستاسره ښه سات تیر شو.

یوسف : زما لپاره هم ګرانه وروره
زما په دې خبره رضوان په زوره زوره وخندل او د اشاري ګوته يې زما په لور ونیول او ویې ویل: تر یوې اونۍ پورې هیڅ ځای ته نشي تللی ګرانه وروره...

داخل دواړه خاندو! رضوان شپه پخیر وایی او ځی،عمران هم زما ځای جوړوی او ځی، بیا هم زه پاتی شوم او اندیښنی دا څو ساعتونو کی لکه چې هر غم او اندیښنه می هیره کړی وه.زه یو شوخ او خوشحاله مزاج لرم تل هڅه کوم چې د نورو په شونډو مسکا میلمنه کړم خو له دننه نه ددې سرچپه یم سترګې مې درندیږي او د خوب نړې ته ځم.

رضوان- یوسف.. یوسف! پورته شه سهار شوی یوسفففففف....
سترګې مې غړوم او د رضوان په لیدلو له خوبه راپورته کیږم،بیا هم په خپل شوخ پوستکي کې ورننوځم دا چې زما حال ښه ندی، غم لرم، درد لرم دلیل نه کیږی چې نورو ټولو ته هم دا بی معنا حس ولیږدوم..

یوسف- مرګ یوسف اوس یوه شپه دې ډوډی راکړه داسې یې بیرته رانه وباسې.؟
زما په خبری د رضوان قهقهه پورته کیږی،آیا دا مخلوق غیر له خندا هم ژوندی پاتی کیدلی شی؟!

رضوان- ای یوسف پخدای په یوه شپه کی دربسی خپه شوم، ما هیڅکله ستا په څیر ملګرې نه درلود.
یوسف- مهربانی مو ده اوس صبا ناري راکوی یا نه؟

رضوان پداسې حال کې جواب راکړو چې په غږ کی څپی وهلی:راځه پورته شه مخ او لاس دی پریمینځه صبا ناري چمتو دی!

پورته کیږم او د حمام په لور ځم،په آئینه کې ځان ته ګورم،دا زه یم! یغما!؟ یو هلک په ګډوډو او تیټ او جیګ ویښتو وینم! غټې سترګی نه خو اوږدی او د نورو په وینا ښکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



،توری وریځې، منځوی پوزه چی له مخ سره می جوړښت لری، لوړ قد البته د نجونو په مینځ کې لوړ شمیرل کیږم او د شیدو په څیر سپین. پوستکی؛مسکا کوم هغه کس ته چې په آئینه کې یې ګورم چی نیوهیږم څه یی په انتظار کی دی؟

له آئینه نه مخ اړوم او کوټې ته ورځم رضوان ناست دی، او لکه چې ماته په تمه وو؟

رضوان- څومره دی وقت تیر کړو؟ ښه ده چی ته انجلی نه یی کنه څه به دی کول!
(رضوان هم زما په څیر شوخ طبیعته وه)
یوسف: ستا په څیر خو بدرنګه او بدشکله نه یم چې آیینه پریینودل راته آسانه وی!
زما په خبری رضوان خاندی او په ویاړ وایی: نه ریښتیا ووایه تر اوسه دی زما په څېر ښکلی هلک لیدلی؟(او خپلی سترګی ډیر په ناز اړوي، په دې حالت یی زما په ستونی کی کړی ګوله الوځی او ټوخیږم او د ډیری خندا له امله لکه لبلبو (چوغندر) سور اوړم..

په ریښتیا چی ښکلی وه مګر نه د چنارګل بابا په کچه او اندازه.....

یوسف: ښه ده چی انجلی نه یی کنه په دی سترګو اړولو په دیې څو نفره تباه کړی وای؟

دا ځل ما په قهقه وخندل او رضوان راته هک پک کتل!
یوسف: څه دی ګرانه وروره تراوسه دی ژوندی موجود ندی لیدلی؟
رضوان د مربا مړی پورته کولو حال کې په مسکا یی وویل:ژوندی موجود می لیدلی خو ستا په څېر نه..؟!

هیس مې ونه ویل او ډوډی مو وخوړل،د صبا نارې وروسته رضوان دفتر ته ځی او زه یواځې پاتی کیږم، بیا هم غم مې د زړه په لورې برید کوی، او زه خپل د دی بیځایه ففکرونو ښخه د نجات لپاره د چمن او باغ لوری ته ځم !
نیوهیږم څومره وخت تیر شوی وو چی د یو کس غږ اورم..

_ یوسف ....... یوسف
د رضوان غږ وه، په لوړ غږ وایم:دلته یم.
په غوصه زما په لوری راځی او وایې:چیرته ورک یی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف- دلته ورک وم.(د باغ په لوری اشاره کوم)
رضوان- غرمه چیرته وی؟
یوسف- همدلته وم نو.
رضوان د خولې څخه یو پوف کوي او وايي: نو ولی دی ډوډی نده خوړلی؟؟

د رضوان په خبره تازه مې د هوا تیاره کیدلو ته پام شو! او په کراره وایم: وبښې وخت می بیخي له لاسه وتې وو،دا ځاې دیر ښکلی دی.
زما په خبره رضوان راته په مسکا ګوری او وايي: ډاکټر درته نه وه ویلی چې یوه هفته له ځایه مه پورته کیږه !؟
:□#شهاب
د ډاکټر خبره مې تازه یاد ته راغله، خو ځان بی خبره نیسم او د رضوان خبره بدله وم او وایم: دفتر کې کار ځنګه تیر شو؟
زما په خبری رضوان خپل سر په دواړو خوا وخوره ویې او ویې ویل: په ربنتیا چې ډیر سپین سترګې یی خبره ولی تیروی!

د هغه پدی خبره دواړه خاندو او د کور په لور ځو
چنارګل بابا- سلام یوسف خان.

مخ می اړوم او تازه مې چنارګل بابا ته پام کیږي او وایم:علیکم سلام ښه راغلئ.
رضوان زما د ځیری او د خبرو طریقی ته په کتلو هڅه کوی خپله خندا تیره کړی!
او بریالی کیږی او چنارګل بابا ته مخ اړوي او وایې ورته.

رضوان- زید پخدای که یو سم کار تا خپل په ټول ژوند کې کړی وی نو هغ همدا د یوسف راوستل دی.

چنارګل بابا داسی لکه چې د رضوان خبره یی نه وی اوریدلی وایی:مور چیرته ده؟
رضوان- د ترور دوی کره تللی.
چنارګل بابا- ډوډی مو خوړلی؟
رضوان- نه عالیجناب ته په تمه وو.
چنارګل بابا بی له کومی خبری ځی او خدمتګارانو ته غږ کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې ډوډی تیاریږی او په پوره آرامتیا کې خوړل کیږي
زید- عمران چای راوړه
عمران- په سترګو ښاغلیه.
چای راوړل کیږی د وچی میوې سره؛

هغه دواړه په ټیلفون کې مصروف ول او زه لګه د لیونو په څیر می ورته کتل
رضوان خپل سر پورته کوی او زما په لیدو وایې:راکړه ټیلفون دی چې د وای فای کوډ درته وو هم

په حیرانۍ وایم- وای فای څه دی؟
دا ځل ښاغلې چنارګل بابا هم سر راپورته کړ او دواړو په حیرت ماته را وکتل او رضوان په همغه حیرت وویل: په قرآن رښتیا ووایه ته یی نه پیژنی؟
یوسف- نه پخدای.
بیا هم زما په خبری دواړه هک حیران شول.
رضوان- ته راکړه ټیلفون دی.

یوسف : نه یی لرم
دا ځل نو په واضح ډول د دواړو سترګې د توپ په څیر د حیرت څخه راوتلل او رضوان وویل: له غره نه راغلی یی یوسف جانه؟
یوسف- هو رضوان جانه بدخشان ډیر ښکلی او سمسور غرونه لری!

زما په دې خبری رضوان په کړس وخندل او چنارګل بابا هم لږ غوندی مسکا وکړه.
رضوان بیا وویل: درس دی ویلی؟
یوسف- هو تر دولسم ټولګې پورې.

رضوان-انګلیسی څنګه؟
یوسف : لږ لږ می زده ده.

زما په خبرو رضوان په فکر کی ډوبیږی او هیڅ نه وایی. په دی دوه شپو کی ولی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصبي حملې پته نه لګېږي؟ نېو هېږم ورته حيران يم! څلور شپې تيرېږي او رضوان له ما سره عادت کړی دواړه خاندو خو چنارګل بابا لږ وينم،يو ځل هم د چنارګل بابا مور زما پوښتنې ته راغله په ربښتيا چې ښکلې او زړه سواندې ښځې وه.

د چنارګل بابا مور- زويه خنګه يې؟
يوسف- ښه يم ترور جانې وبښي ستاسو مزاحم هم شوم.
د چنارګل بابا مور- دا څنګه خبره ده زويه زموږ د سترګو په سر ځاې لرې.
وروسته له لنډو خبرو کولو له کوټې نه لاړه
په دا څو ورځو کې هيڅ ورځ نه وه چې د دوی ميلمستون خالي ووسی ډير قومي خلک ول...

نن شپه مې دلته پنځمه شپه ده !
نور بايد ورو ورو تللې په همدې فکرونو کې وم چې رضوان دهليز ته راغی او مخامخ ماته کيناسته کرار يي سلام کړو.
يوسف- عليکم سلام
په ټيلفون کې بوخت شو، په يو څه لوړ غږ مې وويل:رضوان!
رضوان- وايه!
يوسف- صبا ځم
زما په خبرې رضوان په جدي نظر راوکتل او ويې ويل: چيرته؟

يوسف- د کار او مسافر خونې پسې.
رضوان- چا درته څه ويلي؟
يوسف- نه خو ميلمستيا هم يو حد لرې.
مخکې له دې چې رضوان کومه خبره وکړی د چنار ګل بابا غږ پورته شو چې ويې ويل:رضوان دا باغوان چيرته دی؟
رضوان- کلي ته ولاړ.
چنارګل بابا- بيرته نه راځی؟
رضوان- نه فکر نکوم.

رضوان لنډ ځوابونه ورکول ګواکی فکر يې ګډوډ وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنارګل بابا پوف کړو او ویې ویل: نو باید یو بل باغوان پیدا کړم!

باغوان .... باغوان له فکر نه چی په سر مې درلوده وړه شانتی مسکا می وکړه خو په ویلو یی باوری نه وم بیا هم جرأت می وکړ او ومی ویلی: که ستونزه نه وی زه باغوانی کولی شم؟

دواړه حیران شول چنارګل بابا څه ونه ویل خو رضوان په نه زړه وویل: څه وایی یوسفه! ته زموږ میلمه یی او تر اوسه ښه شوی هم نه یی!!

یوسف- مېلمستیا هم حد لری ځنګه چی ګوری زه هم کار پسی ګرځم او صبا می پینه هم له ګچ نه خلاصیږی.

په تمه د دواړو طرف ته ګورم چی رضوان وایې: بیا پاتې کیږی؟

خاندم او د سر په ښورولو یی خبره تایید کوم،یو دفعه الوځی چی غیږه راکړی چې زه هم پورته کیږم او لاسونه می مخې ته نیسم او وایم.

یوسفچ- عه عه نو حیا دی چیری زما خورکی نه ګوری زه نامحرم یم هوم؟
رضوان: هههههه زه دی وډار کړم چې څه خبره ده لیونیه!

چنار ګل بابا چی تراوسه غلی ناست وه وی ویل: په دی ډنګر او ضعیف ځان دی دومره لوی باغ د کارونو له ضماواري وتلی شی؟
یوسف- هو ما هلته هم باغوانی کوله!

سر ښوروی او څه نه وایی چی رضوان وویل: نو ښه راغلاست باغوان یوسفه!!!!!!
ومو خندل او دا ځل چنارګل بابا هم زموږ سره وخندل،څومره په مسکا باندی ښکلی ښکاری دا مخلوق،البته د ورور په ځای می دی وی!
په دی فکر مې په کراره ځان سره وخندل....

نن له چنارګل بابا سره ځم چی پینه می له ګچ څخه خلاصه کړی، له مخکې نه اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسره ښه شوی کله چې څوک نه وی راسره خاندی او ټوکی کوی خو له نورو سره رسمی خبری کوی؛

- مهربانی وکړی.
یوسف- سلام.
همغه ډاکټر می چی مخکې لیدلی وه په کراره یی وویل:
ډاکټر- علیکم السلام پینه دی څنګه ده؟
یوسف- ښه ده شکر..

وروسته له دې چې پینه می له ګچ نه وباسی له روغتون نه وځو
چنارګل بابا په خندا وایی: زه وایم ته یو دفعه انجلی ونه اوسیږی یوسفه!

په لاس مې د هغه په سر ګوزار کوم او ورته وایم:سړی شه چنارګل بابا.

زما پدی خبره هغه 180 درجې زما خواته را وڅرخیده او په حیرانتیا یی وویل: څه دی وویل چنارګل بابا بیا څوک دی؟

د هغه پدی خبره تازه خپل خبری ته مې فکر شو او په ډار می وویل: مخ دی واړوه. چې اوس ما غوندې بل څوک په موټر ونه وهې او معیوبه یې نکړی.

چنارګل بابا- خبره مه بدلوه ووایه چنارګل بابا څوک دی؟
یوسف- زید جانه وایم چې له رضوان نه احوال لری؟؟؟
چنارګل بابا- یوسف سړی شه ووایه چنارګل بابا څوک دی؟

موټر یی ودروه او زما تازه پام شو چی کور ته رسیدلی یو.
چنارګل بابا- نه یی آوری وایم چنارګل بابا څوک دی؟

تیښته می پر پاتې کیدلو ښه وګڼله په هغه حال کې چې د موټر دروازه مې خلاصوله په خندا می وویل: خپله دی یې ګرانه ورور جانه خپله دی!
د دی خبری نه وروسته مې د مانې په لور منډه واخیسته! او چنارګل بابا هم راپسې شو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه حال کی چی زما پسی منډی وهلی، په لوړ آواز سره د خندا یی وویل:

چنارګل بابا: مګر زما لاس به درته ونه رسیږی یوسفه وژنم دی!
په منډه مانې ته ورننوتم چی رضوان می ولیده خواته می ورمنډه کړه او شاته یی پټ شوم،په داسی یو غږ چی هیجان او پاریدنه پکې پټه نه وه ومی ویل: هله چی وژنی می!!

د چنارګل بابا آواز پورته شو: یوسفففف!!!!!!!!!!
زما په لیدلو چې د رضوان شاته پټ وم شیطانه مسکا یی وکړه، رضوان بیچاره هک پک زموږ دواړو تر منځ لیدونکی وه. چنارګل بابا له فرصت نه ګټه پورته کړه او زما خواته یی رامنډه کړه، چې ما په لوړ او غټ غږ وویل: رضوان خاورې دې په سر شه ددی چنارګل بابا مخه ونیسه یوه نړی ارمانونه لرم!

زما په خبری رضوان په کړس وخندل او ویې ویل: آخر دی هم خپل کار وکه.؟!

لا د رضوان خبره خلاصه شوی نه وه،چی چنارګل بابا رضوان یو لورې ته ټیل واهه او زما په خوا یی حمله وکړه چی زما د چیغه پورته شوه، په لاس یی زه د شا لخوا له کالیو ونیولم او لکه ماشوم یی پورته کړم!

د ربنتیا هم د هغه چنارګل بابا پهمخکي زه یو ماشوم بنکاریدم نور هیس.
چنارګل بابا-وو ایه وګورم څه دي ویل؟! چاته دي چنارګل بابا ویلی هوووم ؟؟؟

د ډار څخه په ډک غږ می ورته وویل: زید جانه ته چیرته چنارګل باباي یې په ټوکو دی هم سر نه خلاصیږی او نه پوهیږي هان؟؟؟

زما په خبری دواړو په جګ غږ وخندل اوما ادامه ورکړه: سمده زما په اندازه جذاب نه یی ، خو بیاهم ښه یی په خدای زه خپله درته ښځه پیدا کوم سمده وروره په زړه مه نیسه اوس می رابنکته که..!

زما پدی خبرو اوس نو دواړو خنداوی د ګاوندي کورته رسیدلي وه، زه دي زید په لاسونوکی داسي وم لکه ماشومه اوس باید جزايي شم دي شرمم احساس می وکه او ومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل !

یوسف- هی ځمکه ته می ښکته که، اوس سمده چنارګل بیې هې خپل قد زما په مخکې مه راوړه یاالله ځمکه ته می ښکته که.

دواړو خپله خندا تولـه کړه چنارګل بابا زه ځمکي ته ښکته کړم. او ما ناسایه مخ د رضوان خواته کړو او ورته می وویل: اووو تور ماره ولی خاندي! هیڅ دي کولی نشوو ما دي آدم خوار له لاس څخه راخلاصه کي زما ټول حیثیت دي سوال لاندي لاړ! بیا مې پام شوو چې ګل ته می آوبه ورکړل...

خدایه بیا مې څه وویلې نن حتماً مړه کیږم دي دي ژبې ده لاسه، خاوري دي په سرشه یغما خاوررررر دي په سر شه یغماااا.. دا ځلی دي رضوان نوبت شوو ما پسې منډي ووهې، وای خدایه بیا دی موړک او پیشو لوبه پیل شوه، چنارګل بابا په زوره، زوره خندلې او رضوان سترګي سری وي  ماپسي منډي وهلې او ویل یې:اووو لنډیه اوس زه درته ښایم څوک تور مار دی؟! آیا تا زما په شان داسې جذابه او ښایسته انسان لیدلی ده لنډیه!؟ودریږه!

باید یو بل تخنیک وکاروم،داځلې د چنارګل بابا شاته می پناه ویوړه،او په خوږه او شیرنه لهجه می ورته وویل:زید جانه صدقه دي شم الهي، څومره مهربانه یی خدای ته وګوره ماڅه ورته وویلی هغه ته (اشاره می رضوان ته وکړه ) چې د څه پشان راپسې منډي وهي..؟!

چنارګل بابا د حیرت څخه په خلاصو سترګو ماته کتل..رضوان کرار، کرار رانیږدي کیده چي ما په لوړ غږ ورته وویل: په قرآن که زما دسر یو ویښته وشکوې،زید دی ژوندي نه پریږدی. نور دي زړه وروره ( او بیا مې مخ د چنارګل بابا خواته کړه او مې ویل: کنه زید جانه؟؟؟

وااااى بیا دوی د ډیر خندا څخه خپل پښتورګي نیولي وه،
زید په جګ غږ وویل: هرڅوک که زما ښځي ته نیږدي شو پښي ورته ماتي کوم خیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه..

د چنارګل بابا پی خبره داخل ما در حیرانتیا څخه ښکرونه پیدا کړل! او رضوان نور رانیږدې نشوو هملته ځکمی په سر کیناسته او خندل یې، چې ما څو سوکه د چنارګل بابا په اوږه وکړل او ومې ویل: سپین سترګیه، لږ حیاهم ښه شي ده ( د هغه په شان خو لږ د خولې او سترګو په کږه کولو مې په مسخره لهجه د هغه پیښې وکړل او ورته مې وویل: هرڅوک زما ښځې ته نیږدې شي وژنمی. تا چنارګل بابا ته نو څوک ښځه درکوي؟

دا خبره مې وکړل او مانې په لورمی پښو ته زور ورکړه ، او د دواړو څخه لرې شوم، او یواځېږمې د هغوی د خنداګانو غږونه د شا لخوا څخه آوریدل..

***

زما یوه میاشت ده راتګ څخه تیره شوی وه، خوو تراوسه د دي کورنې د پلار سره می کتلي نه وه؟! موږ ټول یوځای په یو دسترخوان ډوډی خوړل.زید خور 23 کالو عمر لري،او ډیره ښه او با حجابه جلی ده.رضوان 28 او زید 26 کالو دي، ښه اخلاقي او ښه کورني لري،اوس زه هم د دي پنځه نفرې کورني یو غړي حساب کیدم' دي یو میاشت کی تقریبآ 2 ځلي عصبي حملې راته پیدا شوې خو ډیره شدیده او دوامداره نه وه....

نن شپه د زید پلار د سفر څخه راغې، مهربانه سړی وه رښتیا هم نېکبخته کورني وه.
او زه بیا د لیونیانو پشان د داسې یو ژوند حسرت او آرمان خورم...

نن شپه د ټولو شپو پر خلاف ژر خپلي کوټې ته راغلم، یوه د هغه دوه کوټو څخه چې د مانې څخه د باندي وي د اوسیدو لپاره مې انتخاب کړی وي، دلته می د آرامتیا احساس کوه. ترڅه اندازه ټول شیان په دي دوه کوټو او آشپزخانې کې موجود وه، تریخ چاې مې ځانته واچوه اوپه تخت کیناستم لاس کی کتاب ته می کتل
د کتاب نوم څو ځلې لځان سره تکراره وم... بینوایان... بینوایان.

بیا هم تیروخت کي ډوبه کیږم تیاره ماضې کي مې او خپل راتلونکي ته په اندیښنې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم، څومره په نور حقیقت پټ پاتی شی؟څو ځلي می دا پوښتنه لځانه څخه وکړل خو په ځواب باندی نپو هیږم.

دروازه غږ زما خیالونه په نیمه کې پاتی کوی...

د زید لوړ قد او چهارشانه قامت په دروازه کې ښکاره شو چې ویې ویل: ولی دومره وختي راغلې، ښه یی؟
یوسف- ښه یم لږ می یوازې توپ غوښته!

زید راځی او زما په تخت باندی ځان اچوي او په ستړی لهجه وایې: یوسف زړه می تنګ دی، فکر کوم زړه می د سینی څخه د باندې راوځي!

نپوهیږم ولی! خو احساس کوم چې د زید زړه نیولې دی او اړتیا لرې ترڅو یو نفر و ته غوږ ونیسې، نو ځکه ورته وایم: کوم څه شوي دي؟

زما د پوښتني په جواب کې هیس نه وایې، چې زه خپل لځاي څخه پورته کیږم، مخ د زید خواته ګرځه وم او وایم: چای که قهوه؟
هغه آرامه وایي:قهوه.

آشپزخانې ته ځم او د یوی پیالی قهوې سره راځم، د هغه څنګ ته په تخت باندی کینم، هغه بیا هم په فکرونو کې ډوب شوي او خاموش دی، وربانديي غږ کوم: زید!

خپل توري سترګي را پورته کوی او ماته راګوری،په کراره باندیچ خپل سر زما پر پښنو کیږدی چې زه ورخطا کیږم او ټول بدن می لکه آور ګرم کیږی..تر اوسه پوري هیڅکله کوم هلک سره دومره نیږدي نه وم،کولی می نشوو د هغه سر خپل د پښنو څخه لري کړم، هغه یواځي د یو وړور په شان دا کار وکړ او زه هم په دي شرایطو کې هلک یم، نور باید نورماله اوسم .....

زید- ته څومره ظریفه، کمزوری یي هیڅ زموږ په شان نه یی !
یوسف- ښه اوس د دی خبرو لپاره خپل ځان دي لکه خرس زما په تخت اچولی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبری باندی په آرامه خاندي او بیا خاموشه کیږی.څومره ښکلی ویښتان لري، تک تور بی اختیاره وایم: ده کومي شامپو څخه ګټه اخلي؟ څومره ښه ویښتان لري

زید- ذاتی همدا رقم دی شامپو پوري اړه نلري.

د زید پدی خبر لڅان سره وایم هو ربښتیا وایی د فرشته خاله( د زید مور) ویښتان هم همداسی تک تور دی، هغه لږ خاموشه پاتې کیږی او بیا وایي: ستا ویښتان ولی بی نظمه دي؟ ما تراوسه لیدلی ندی فکر کوم ویښتان دي یو اندازه صاف ندی همداسی نده؟؟

نباید هم هغه زما ویښتیان لیدلی واي!؟ ځکه هروخت به په سر مې خولی او دستمال تړو، په کراره ورته وایم: هو بې نظمه دي تیټ والي او جګ والي لري،ځکه چې زه یې خپله اصلاح کوم او جوړه وم یې.

زما په خبری هغه خپل سر را پورته کړو، او ښه په ځیر،ځیر یې راته وکتل خو بیا هم خاموش شوو، نن شپه ډیر په فکر کی دی حتماً کوم څه شوي دي؟ کوښښ کوم ترڅو د کوټې درانه چوپتیا ماته کړم او وایم: چنارګل بابا، هله زر پورته شه ځآن دي زما غیږي کې اچولی نه شرمیږي د بل چا ځای دی اخیستی بل سبا ښځه کوم د خلکو حق مه خوره سپین سترګیه!

هغه په خندا وویل: بلکل په یو سم ځای کې شتون لرم یوسف خان!
د هغه په خبره تکه سره کیږم، او فکر کوم دغوږونو څخه می دود پورته کیږي خپل ځان کنترول کوم، ویښتان ورته کش کوم، چې هغه یو" اخ" واي

یوسف- دا زما د ښځي حق دی بی ادبه لاړشه حق دی بل ځای که پیدا کړه،
دا خبره کوم او په تلوار د هغه څخه لرې کیږم، زما پدی کار د زید خندا د کوټې فضا ډکه کوي.

زید- ته راشه ستا ویښتان وګورم.
یوسف- ولې د خاله کور خوو ندی محترم وروره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په طرف راځې تر څو د سر ځخه مې خولې لرې کړې خو زه ورځخه لرې کیږم.
زید- اه ندی خورمه یوسف دوه دقیقه آرامه اوسه.

په سل جار او جنجال باندی زما له سر ځخه خولې لرې کړه،حیرانتیایی په سترګو کی وینم په حیرانه غږ وایې: یوسف په خدای ویښتان دي هم د جینکیانو په شان دي ښنګه اوږده دي، ټیټ والي جګ والي سره هم ښایسته ښکاري لاسونی زما په ویښتانو کي ننباسي لکه په ګوتو باندي ویښتانو سره می لوبي کوي

زید- ښنګه نرم دی کومي شامپو ځخه ګټه اخلي؟
یوسف- اه بس ده لرې که لاسونه دي لکه چې غل دی نیولی وي ټول ویښتان دي راته وشکول لرې شه لرې ...

زما په خبرو خاندی او وایې: د همدی لپاره دي ویښتان چاته نښکاره کوي ښاغلي یوسف!
یوسف- په خدای و هم دي چنارګل بابا انسان په شان کینه قهوه دي زهرکه
او داسي هم ما غیږ کي مه نیسه لکه چې خپله ښځې غیږي نیولي وي،بی حیا هلکه.
(پدی خبری مي دواړه خاندو او زه بیا وایم: بده ده زما وروره ، بده ده

زما په خبرو زید خپل لاسونه د تسلیم په نښاني پورته کړل او ویې ویل: سمده تسلیم مولوي صاحب.

دواره په تخت باندی کیناستلو هغه خپله قهوه په لاس کي ونیوله، او ما خپل یخ چای بدل کړو د چای ځکلو حال کي وم چې زید وویل: یوسف سهار لاړشوو جامي یا کالي درته واخلم یوه میاشت کیږي د عمران کالي او جمپر اغوندئ، زما کالی ستا په اندازه ندی ټول، ژمي دي همدا دوه جوړه کالو و جمپر کي تیره کړل.

زید ربښتیا ویل ما ټول ژمي همدط دوه جوړه کالو لو جمپر کي تیر کړو،خو نیمکرغي دلته وه چې کوټي کي دننه د کالو مینځلو ماشین درلوده یو به مې ماشین کي اچوه بل به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغوندې.

په صاف غږ ورته ووایم: نه همدا دوه جوړط کالي زما بس دی څه ضرور..؟!
زید- د ماسپښین وروسته څلور بجې په تمه اوسه.

زید دا خبره و کړل او خالي پیاله د قهوه یې د میز په سر کېښوده او د دروزاه په خوا روان شوو او ویې ویل:شپه پخیر.
یوسف- شپه پخیر.

ژوره ساه می واخیسته او لځان سره می وویل: چنارګل بابا هم لیونی راوخته!سهار وختي پاسیدلم دي منډو غږ می غوږونه ته راورسېده،د کړکې دباندي می وکتل ژمي هم هیڅ خلاصیږي نه! زید په ورزشي کالو کې د مانې په لوري منډي وهلي،لاړم کالی می بدل کړل او کالو لاندي می ډبل شي هم واغوستو ترڅو کوم شی مشخص نشي، کنه هروخت می اغوستلو،خولی می په سر کړه عمران جمپر می واغوسته او مانې په لوری لاړم.

تقریباّ ټول راټول وه په جګ غږ می سلام وکو، ټولو علیکم وویل او په خندایی راته کتل، آسما غږ وکړ(آسما دي زید او رضوان خور ده)

آسما- یوسف لالا راځه رضوان سره کینه.
په خندای می ځواب ورکو:سمده.

د رضوان څنګ کې کیناستم، هغه په تلوار،تلوار او تیزه ډوډی خولې ته کوله.
یوسف- زهر دی شه انسان په رقم یی وخوره ټوله دي خلاصه کړل.

زما په خبری رضوان د خندا څخه سور شوؤ او ویې ویل: یو ورځ هم انسان په کراره نه پریږدي مزاحم لنډیه!

زید غږ وکړ: آسما د یوسف ناشته څه شوه؟
آسما- دغه ده لالا جانه ظریفه ترور یی راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسته د څو دقیقونه ترور یو پتنوس سره راغله د ناشته وروسته، چمن او باغ مې یوځل وکته، د ګلانونه څخه باید بیحده زیات محافظت وشي ځکه ډیر حساس دی.
ربنتیا هم دا کورني په ما باندی ډیر احسان کړي او هیڅکله ماته یی د یو نوکر په سترګه ندی کتلي هغوی لپاره دي کورني غړي وم،تر ماښامه په باغ کي مصروفه وم د موټر غږ راغی شاید زید وي!

زه لا په باغ کې وم چې هغه د څو ثانیو وروسته غږ وکړ: یوسف ته تراوسه پوری تیار شوي نه یې؟
یوسف- سلام دې څه کړو بی ادبه؟
زید- سلام می دي یوسف خان په ښکلا او جمال باندي.
خاندم او ورته وایم: زه تیاریم اوس درځم.

لاسونه می د پیپ په اوبو ومینځل او دواړه د زید د موټر په طرف چې اوس پوهیږم لندکروزر دي روان شو،څومره موټر یې ګرم دی! مارکیټ ته تر رسیدو دواړه خاموش وو. یو نارینه مارکیټ مخې ته ودریده.

زید- ښکته شه.

د موټر څخه ښکته شو او د مارکیټ په خوا روان شوو، یو دوکان ته ورغلو

زید- وګوره او خوښي کړه.
یوسف- زه پتلون او بلوز نه اغوندم.
زما په خبری زید په حیرانتیا وایی: هغه وخت ولی؟
یوسف- ځکه خوښیږي می ناا.

زما په خبری زید پوففف کوي او د یو بل کالویو دوکان په خوا روان شوو.
زید-اوسی واخله خوښ کړه!

یوجوره نقره یی کالی مې سترګی نیسې غاړه یی نازک وه، وایم: اوبخښی هغه نقره یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالي راښکته کړي.

دوکاندار کالي راښکته کړل تقريبآ نو زما په اندازه وه صرف لږ لوی وه،خو زما بلکل همدا لويوالي آزاد والي زما خوښ شول.

يوسف ـ دغه زيد دغه همدا واخله.
زيد په سترګو باندي کالي اندازه کړل او وويل: په تاباندې لوی دي.
يوسف- تاته يی څه ؟؟؟؟
زيد زما په خبرى په حيرانو سترګو راته وکتل او وويل: بی ادبه!

يوه خاکستری جمپر، جګریی کرتی،او يو جوړه نخودی کالي د زيد په انتخاب باندی می واخستيل او د مارکيټ څخه راووتو.

زيد- راځه يو رستورانت ته لاړشوو ډوډی به وخورو څه وايې؟
د زيد په ځواب کی می وويل:نيکی او پرسش عجبه!

زما په خبری زيد خاندي خوو څه نه وايي،چ موټر دربړي او پياده کيږو رستورانت ته ننوځو،رستورانت ډير لوکس وه دوم منزل ته يی ورغلو يو کونچ او د نظر څخه لرې ميز مو خوښ کوو او کيناستو، د څو شيبو وروسته ګارسون راغی ترڅو سفارش يا فرمايش واخلې، چي يوه ډله جينکانی راځي، او يو ميز مخکي بلکل د زيد مخامخ کيناستلي او د خندا غږونه يی پورته شو.

زيد زما خواته ته مخ کوي وايي: ځای ښکه دي؟
يوسف- زما په رقم جذابه او ښکلي.
زما په خبری زيد خاندي او وايي: په ځان مينه.

موږ دواړو خبری کول چي يوه جلی وويل:جينکيانو خدای هم څه ښکلاګاني خلق کړي.

د هغه جني پدی خبری باندی زما سترګی د حيرت څخه خلاصی کيږی او زيد خوا ته ګورم، خو زيد ډير جدي ناست وو او مبايل که مصروف وه، د بلي جلی غږ راغی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسیه که بد ورته وګوری سترګی دی درباسم اوښي د دی!
بلی انجلی په غوسه وویل:دواړه چوپ شی په کوڅه کی خو نه یاست.

د هغوی په خبرو زما سترګي د حیرت څخه خلاصې پاتې وي،! انجلی هم دونه بي حیا اوسیدی شي! د زید غږ لوړ شو.

زید- څه شوی ولی لکه بیزو غوندی شوی یې یوسف؟
یوسف- بیزو به پخپله یی وادی وریدل هغه انجونو څه وویل؟

زید خپل اوږه پورته کړه او په شیطانه مسکا باندی وویل: نا کوڼ یم.
یوسف- ښه شو وادی وریده ما درته ویل وه چې زه سومره جذاب یم دا هم ثبوت یې.

اوس نو د چنارګل بابا نوبت و چی سترګی تر اخیر حد خلاصی شوی، زما په خبره او په لوړ غږ یې خندا شروع کړه او همغه حال کې وویل:یوسف جان کولې شې ماته ووایې دا دومره په ځان باور دی له کوم ځای څخه سرچشمه اخلې؟

مخکی له دی چی زه جواب ورکړم زموږ غوښتل شوی شیان راورسیدل، په خوړلو بوخت شو چی زید یو دم په ټوخی شروع وکړل، سترګی می پورته کړی او کوم څه مې چی سترګو ولید خوله می خلاصه پاتی شوه! یو انجلی میز ته نږدی ولاړه وه او یو کاغذ پر میز ایخې و؟! زید ته یې خپله شمیره ورکوله!؟ زه دومره په ډوډی بوخت وم چې بیخی مې پام نه و شوی.له یو ټوپ سره زید څنګ ته ځان رسه وم او په کلکه باندې پر شا یې وهم چی هغه نور هم سور شو او اوبه یی په یو نفس وڅکلی په کراره وایم: خاوری دی په سر شه زید یو عالم خلکو ته دی و شرمه ولو.

داسی می وویل چی یواځې زید وآورید مخ مې انجلی ته واړوه او مسکی شوم ومی ویل:اغلی که غواړی مونږ سره ډوډی خوړی شی.

انجلی نامحسوسه خندا وکړه او بغیر له کومې خبری د دی سره راغلې هغه نور انجونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: راځې انجونو ښاغلو سره ډوډی خورو.

چنارګل بابا په غوسه ماته را وکتل خو ما ځان تیر باسو، دری واړه انجونی راغلی ګارسون میز له سره ډک کړو ټولو په آرامه خپل خواړه خوړل هیچا خبری نکولې، چې انجلی په ډیر ناز زید ته وویل:وبخښئ کولې شم ستاسو نوم باندی پوهه شم؟!

زید په نه زړه وویل: زید!
انجلی- څه ښکلې نوم.
زید د دروغو موسکی کیږی او خپل خواړه خوړلو باندی مصروف کیږی.خواړه په خاموشی کی خوړل کیږی د قهوی سفارش مو ورکړو، دری واړه انجونی چی نومونه یې آسیه ,فرخنده او زیبا وه د زید سره په خبرو بوخت شول او دا جناب یوسف صیب کدو تشریف فرما وو؟!!

د هغه انجونو د تلو ورسته مې وویل: څومره بی حیایی زیاته شوی په خدای نمبر یې هم واخیسته..! خاوری مو پر سر شه انجلی باید لږ سنګینه وی کنه زید؟
زید په غوسه وویل:ودی خوړه !خپله شپه دی هم خرابه کړه او زما ده هم.

په شیطنت مې وخندل او ومې ویل: ما خو ستا له عذاب درکولو څخه خوند واخیست.

چنارګل بابا خپل سر وخورو او ویې ویل: ولا حول ولا قوت پاسیږه یوسف له مخې مې لرې شه کنه وهم دی.

د هغه په خبره مي وخندل او د ډوډی د پیسو ورکولو لپاره د حساب صندوق خوا ته لاړو حساب دار وویل: ستاسو حساب ورکول شی..!

د هغه پدی خبره په حیرانتیا موږ یو بل ته وکتل او بیا پوی شو چی هغه انجونو حساب کړی..؟ د هوټل څخه د وتلو په حال په خندا مې زید ته وویل: زید وایم بلاخره پیسه دار خاوند دی پیدا کو ده ډوډی پیسی هم درته حساب کړی. هههههههه

زید د غوسې څخه سور واوخت او زما خواته یې حمله وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ما په خندا وویل: په خدای ټوکې مې کول ولې اوس وحشی کیږی خو ته یې خوښ شوی زه څه وکړم.

زید هیس نه وایي او زما لاس نیسي او موټر طرف ته مې وړی او د توپ په څیر مې د موټر مخکی سیټ کی مې اچوی. او موټر حرکت کوی، او شکر ژر ورسیدو، همدا چې ښکته شو رضوان زموږ خواته ته ورختا رامنډی کړل او په لوړ غږ یې وویل: چیرته وې لنډه غرانو..!

یوسف- هوی تور ماره څه شوی دی؟خرید ته تللې و څه ځان په زمکه او آسمان وهی!
د زید د خندا غږ آورم او رضوان چې په غوسه وایې: بد دی وکړل لنډیه ماته مو ولی ونه ویل ها؟!

کرار مې د زید د غوږ ښنګ کې وویل: په خدای که دا تور مار ما ووهې نو مور جانی ته دی هر څه وایم نور خپله پوهیږی!
:□#شهاب
زما په خبری د زید خندا د غږ یی چوپ کیږی او ماته ګوری، چې زه وایم: ریښتیا رضوان پوهیږی رستورانټ کی څه وشو..؟
زما په خبری رضوان وویل: څه شوی بیا مو کوم ګل ته اوبه ورکړی !?
په خندا می وویل: له دی ورور نه مو پوښتنه وکړه.
زید چې وضعیت خراب ولید ډیر جدی وویل: رضوان بس که ماشوم خو نه یی لاړو یوسف ته مو کالې واخیستل یو میاشت شوی د عمران کالی او جمپر اغوندی،ته په کور کی نه وی نو ځکه تنها لاړو.

رضوان خپل سر وخوځه وه او مشکوکه غوندی چوپتیا اختیار کړل او کرار یې وویل: زیدا! عمه راغلی.

د هغه پدی خبری زید په لوړ غږ وویل: څه!? ولی !!
رضوان عاجزانه ورته وکتل او ویې وویل: آرام اوسه زیدا!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید په غوسه باندی د مانی طرف ته لاړو، ما مخ د رضوان خواته کو او ومی ویل: ده باندی سه وشو؟

رضوان زید ته چی د مانې خواته تلو وکتل او ویې ویل: قصه یی اوږده ده.
خپل اوږه مې پورته کړل او خپل د کالیو پلاستیک مې واخیست او کوټی ته مې لاړم او حمام مې وکړو،نوې کالې او نوی چمپر می واغوست هوا ریښتیا هم سړه وه،دی خلکو ریښه وباسی،ویښتیان مې وچ کړل خولې مې په سر کړه، داسی چی څو تار دی ویښتیان مې د باندی را ووتل،مانې خوا ته لاړم او آشپزخانی لاره مې ونیوله

اسما په جیګ غږ وویل:سلام لالا.
په خندا مې وویل: علیک سلام زیدا او رضوان چیرته دی !
آسما په خفګان وویل: د زید کوټه کې‌دی.
سر می ښکته پورته کو د سمده په توګه او زینو خواته لاړم، د زید کوټی ته ورسیدم دروازه می ټک ټک کړه له لږ زنډ وروسته غږ وشو: راځه.

ننوتم او دروازه می بنده کړه، مخ می د هغوی دواړو خواته کړو او ومې ویل: دلته مو سنګه باندار اچولی خیریت خو دی؟؟؟

پرته له کومی خبری دواړو په حیرت کتل راته خپل وریځی می پورته کړی او په حیرت می وویل: هوې څه شوی؟؟ پیری مو لیدلی!؟

زما په خبری رضوان وخندل او ویې ویل: څنګه ښایسته او دلکش شوی یی؟!

مغرورانه می تعظیم وکړو او ومی ویل: درورہ ګله زه همدا یم نو او دری واړو وخندل، چې ما بیا وویل: ولی ښکته نه راځې؟

رضوان په عاجزانه توګه زید ته وکتل او آرامه یې وویل: خان صیب ضد کړی او وایې ښکته نه ځم.
په حیرت مې ویل: وای..! ولی څه شوی؟؟؟
رضوان غټه ساه واخیسته او ویې ویل: قصه یې اوږده ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف- خو ووایه چې پوه شم!
منتظر مې د رضوان خواته کتل چې زید پاسیدو او د کړکۍ خواته لاړو، او بیرون ته په کتو شو چې رضوان خپل ستونی صاف کړو او ویې ویل: دی عمه لور مریم د ماشومتوب څخه په زید مینه ده...!

بی لدی چی زید ته پام وکړم رضوان ته وایم: بنه بیا؟!!
رضوان- خو زید نده قبوله بناغلی وایی چی هغه می د خور په شان ده، هر ځل یی رد کوی چی د هغې بیچاره حالت خرابیږی.حتی یو ځل یی د ځان وژنی کوښښ وکړو خو، وژغورل شوه..!

زه د حیرت څخه خاموشه وم او غوږ نیولې منتظره وم خو رضوان څه ونه ویل چې بی طاقته مې پوښتنه وکړل: بیا ؟؟!!!
زما په خبری رضوان په کراره وویل: دری میاشتې مخکې جنجال وشو او ترور غوسه شوه او لاړه اوس د دری میاشتو وروسته راغلې خو زید خان حتی نغواړی هغوې وګوری پیچاره ګناه لری بیا د مریم حالت خراب نشي.

د رضوان د خبرو وروسته خاموشی په کوټه کی خپره شوه، چوپتیا می ماته کړه، او رضوان ته می وویل: دا مریم او ترور دی مانه مخ پټه وی؟؟؟

رضوان- نا فکر نکوم مور می ستا په اړه ورسره خبری کړی.
یوسف- سمده نو ته ورځه زه زید راوړم.

زما په خبری رضوان سر وښوره و او ویې ویل: بنه نو لږ زر چی ناوخته شوي.
په خندا می د تاکید په ډول سر وخوځه وو. چې رضوان په نرمه مسکا د کوټې څخه ووتې، د هغه په تلو په کراره مې وییل: زید، زه چی ځو بنکته.

زما په خبری هغه په غوسه وویل: د بحث حوصله نلرم ته زه' زه نه ځم.
خواته یې ځم په سختی تر وږی رسیدم لاسونه می د هغه له متو تاو کړل او ځان خوا ته می کش کړ ترڅو لاندی ویسم خو هغه لږ شور لا ونخوړ په دروغجنې غوسه وایم: انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندی ښکته لاړ شه! ترور دی پتمه ده.

هغه زما خواته را وکتل او ويې ويل: نشم کوی،په خدای نشم کولې پريميږدی یو دوه دقی ارامه ساه واخلم.
دهغه پدی خبره زه لځان سره وایم: یعنی زید هم ستونزه لری؟؟ خپل فکر بیرته بدله وم، او وایم: یو ځل زما لپاره کوښښ وکړه هغه ګناه نلری (او په لاس می د زید زړه خوا ته اشاره کوم او وایم: د زړه ګناه یی ده.

زید جواب رانکړو چې ما بیا وویل: هرو مرو درسره ډیره مینه لری، کنه هیس انجلی خپل غرور د یو هلک لپاره د پښو نه لاندی کوی!

زما په خبری زید په شیطانت وویل: ته له کومه پوهیږی لکه چی انجلی یی ؟؟
په سر یی وهم، او وایم: اپلاتې مه وایه زه چی ځو ناوخته شوه.

زید نرمه مسکا وکړه او زما سره یوځای د کوټې څخه را ووت د هلیز ته په رسیدو د هغه لاس خوشی کوم او جدی انداز باندی ورته وایم: آرامه اوسه هغه انجلی بی ګناه ده عادی رفتار وکړه سمده ؟!

زما په خبرو هغه خپل سر وښوره وو، چې د هغه پدی کارما وخندل او دهلیز ته داخل شو،چ ټولو ته مو سلام ورکړو او ورسیدو مریم او د هغه مور ته،
مریم ته به رسیدو هغې ته په کتو شوم، غنم رنګه څهره، غټی سترګی نری پوزه، ګرد مخ او، جیګ قد، په رښتیا چې ښکلی وه، نپوهیګم د زید ولی نده خوښه؟! که واده یې ورسره کړی وایې سومره ښکلی جوړه به وه..!خپل فکرونه می هخوا کړل او مریم ته می وویل: ستړی مشی خوری.

مریم- ته هم ستړی مشی وروره.
یوسف- ستړی مشی ترور جانی پخیر راغلی
عمه- خیر ویسی زویه.

د مریم مور مهربان او نورانی څهره لرله چی په لیدو یی انسان ښه احساس پیدا کو، پر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچ کیناستم او د زید ستړه مشی می کته چی سرقم ستړه مشی کوی..!؟

زید- ستړی مشی ترورجانی!
عمه- خیر ویسی د ترور ګرانه سنګه یی؟؟

عمه دا خبره کوی او د زید مخ ښکل کوی.
زید- ښه یم مننه ترور جانی ستاسو ښه والی هم غواړم.

په مسکا له ترور نه تیریږی او مریم ته مخامخ دریږی، چې د مریم رنګ د ګچ په څیر کیږی او لاسونه یی لړزیږی، د وریم د حال په لیدو په زړه کې وایم: اه چی سومره زید ظالم دی !

مریم- س .... سلام زید ښ... ښه یی؟؟
زید- علیکم سلام مننه، شکر ته ښه يي؟ (مریم همغسی د زید په کتو کی ډوبه وه وویل: مننه د اوس څخه نور شه نشم اوسیدی.

زید خپل سر وښورو او راغی زما څنګ ته کیناست،زړه می په مریم وسوزید بیچاره مریم ! سترګی می په مریم ولګیدی د زید په کتو کی ډوبه وه او ټول مجلس ته يې هیس پام نه وه، مجلس ګرم و هر چا خپل د همزولو سره خبری کولی خو مریم بیا هم د زید په کتلو کی ډوبه وه چې ما آرام د زید غوږ سره وویل: ډیر ظالم یی یو نظر خو ورته وګوره..!

زما په خبری زید د مریم خواته ګوری او موسکی کیږی( نظر نشی اول ځل جنار ګل بابا زما خبره ومنل. د زید په موسکا مریم په تلوار له ځایه پاسیده او لاړه پخلنځی ته! د هغې په تلو آسما هم پاسیده او لاړه! د هغوی پدی کار باندی زه لږ کنجکاوه کیږم او د لږ زنډ وروسته د اوبو څکلو په پلمه پاسیدم، چې زی وویل: چیرته ځی؟؟

یوسف- اوبه څکم؟ ته يې هم څکی؟!
زید- نه.

پورته شوم، د پخلنځي پۀ لور لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې،پخلنځي ته ورسېدم د يو چا د ژړا غږ زه ودرولم.

مريم- ودې ليده قسم پۀ خدای اسما ويې خندل!
او بيا يې ژړا هغه سکون او آرامتيا يوړل هق هق يې پورته شول، او د اسما ځواب ته تم نه شوم، په چټکو ګامونو د هغه ځايه څخه لاړم، نور مې د پاتې کيدو توان نه لرلو، د خپلې خونې پۀ لور روان شوم، نه پو هيږم، خو د مريم حال ما د خپلو بدبختيو په سوچ کې بيايي.دوې مياشتې کيږي، چې هره شپه زه په ډارونکو

خوبونو، ويښيږم، دوې مياشتې وشوې، هره ورځ تمثيل کوم، خاندم او خندوم يې خو شپه په بې رحمۍ سره دردونه زما پۀ لور راکاږي.اخ ژونده! سترګې مې له خوبه درنې درنې کيږي، بيا ويده شم، سهار بيا د تيليفون په غږ را ويښيږم. هغه زوړ تيليفون چې رضوان راکړی و.! زيد زنګ کوي خو ولې؟هغه پرونۍ شپې ته په سوچ کولو سره غوسه کيږم، او زنګ پرې کومه!او خپل ځان سمبالومه، د ودانۍ په لور روانيږم.او ننوتلو وروسته د خپلې څرمنې، توده هوا موږم

يوسف- سلام
ټول مې د سلام ځواب راکوي.د ميز لرې برخه ټاکم،او خاله صباح ناری راوړي.
مشغول خوردن صبحانه میشم نگاهم سوی مريم کشيده د صبانارې په خوړلو بوخت شم.
او سترګې مې به مريم ولګيده چې بيا هم د زيد په سوچ کې ډوبه ده!

له زيد څخه يې ځانته بت جوړ کړی، خو زيد يی ارزښت لري؟
ددې بت عبادت کول کومه ګټه لري؟

ولې خپل ځان ته درد اخلي همم؟؟ يو غږ مې د زړه له تله پورته کيږي او وايي کله چې ته د مريم په درد روږدې نه يې، نو پريکړه مه کوه!سر خوځوم چې ترڅو خپل خيال مې په نورو سوچونو بوخت شي. صبا ناری خلاصوم، پورته کيږم، دمريم د باغ(بڼ)په لور، ګلونه چک کوم، ونې چک کوم،زيړې پاڼې له روغو پاڼو را ټولوم.
تر شپې پورې ځان په کار بوختوم، هو تياره کيږي،او د ودانۍ په لور ځم.

ډير په آرامه په خپل ځای کې کښينم،چې رضوان راځي او زما تر خوا ځای خوښوي،او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په آرامه غږ سره وايي: څه شوي پهٔ سوچ کې يې؟
يوسف- نه يوازې لږ ستړې يم.
وروسته له نيم ساعت څخه زيد راځي،سلام کوي،راځي زما تر خوا کښيني،په چټکۍ سره پاسيږم،د خونې په لور روانيږم.وروسته له نيم ساعت رضوانه غږ کوي:يوسفه چرته ځې؟ ډوډۍ چمتو ده.

يوسف- وږی نه يم!
د خونې په لور بغير له خبرو روان شوم، د ننه کيږم، چای ږدم چې له کيک سره مې خوښيږي، ګولۍ مې هم د خلاصيدو په لور وې، خدايه! په پخله رحم وکړه، له دغې لعنتي ناروغۍ څخه مې وژغوره.مرکز ګرمي روښانه کوم، او کښينم، چای په لاسونو کې نيسم،په تلوسې سره يې مزه مزه کوم.له خدايه شکر کوم، له بد څخه بد تر هم شتون لري،خدای (ج) مې دې له بدو څخه وساتي.

خندا مې په، شونډو ښکارنديي کوي، د لاسونو لړزه مې حس کوله،نه، خدايه،نه!
ساګانې مې ټکنۍ ويستلې،خو ګټه هم نه لري؟ د وره غږ سره ما توپ کړو

زيد ډير په غوسه سره د ننه کيږي او په لوړ او عصبي غږ وايي: وګورم چې څه په تا شوي؟زما نه مخ پټوي کم عقلې.زړه دې ورته وسوزيدو نو زه بدبخته څه ها؟
زړه دې ماته نه سوزيږي؟(چيغې وهي وايي ځواب راکه!)

په بې حوصلګۍ وايم: ووځه بهر تا ته حوصله نه لرم ويده کيږم.

زيد په لوړو قدمونو زما په لور راځي،ډاريږم ورڅخه نه پوهيږم ولې داسې وحشي شوی؟
زما اوږه په کلکه نيسي او په غوسه وايې: نو حوصله نه لرې؟ زما حوصله نه لرې کنه!
زما زنګ ته ځواب نه راکوې؟؟؟

زيد دا خبرې په غوسه کوی او نور هم زما لاس کلک نيسي چې په درد ورته وايم:وحشي توب مه کوه ستړې يم لاس مې خوشې که.
زيد- زما سره سمې خبرې وکړه ،پوهيږې؟زه په نړۍ کې د هيچا په کيسه کې نه يم،
هيچا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی غوسه باندی زما لاسونو په لړزیدو پیل وکړ،نه خدایه اوس یې وخت نه دی، په دغه حالت کې باید ما ونه ګوري. په پسخند خپل زړه کې وایم"کوم وخت دې زما غږ اوریدلی، چې دا ځل یې دویم ځل وی خدایه؟؟" زه عصبی ناروغتیا لرم او اوس هم د ډیر استرس او ویری څخه راباندی بیا هم عصبي حمله راغله. او په لړزیدو مې شروع وکړه..

ساه مې تنګه شوه، سوچ کوم تر همدې ځایه وو. زما د ژوند کیسه مې نیم ګړ یې پاتې شوه! د خبرو کولو کوښښ کوم،او د زید غاړی ته منګولې اچوم، او په بند بند غږ وایم:ګ...ګو..لې مې...

زما د حال په لیدو زید په ورختا او غمژن انداز وایي: چیرته دی ګولی دی چیرته دی؟

لاس مې د میز په سر د ګولې پاکټ ته نیسم، چې زید په چټکۍ سره د میز په سر د ګولیو پاکټ خواته ځي، زما حال نور هم بدتره کیږي، لاسونه او پښې مې، د نور مال حالت څخه وځي.ساه مې وځي خو له خولې مې زګ وځي.

زید مې په خوله کې ګولې را اچوي، او او اوبه وه چې د ستوني څخه مې پ زحمت تیری کړی،د زید په غیږه کې وم، د هغه د ورختا زړه درزا مې چې تیزه تیزه وه آوریده،خو خوځیدلی نه شوم زما دواړه لاسونه خپل په یوه لاس کې کلک نیسي او د سر څخه مې خولی لرې کوی، ویښتان مې چې د پخوانه څخه غټ شوي وو، او ما د کم کولو وخت یې پیدا کړی نه وو خپل په ګوتو موږي یې، او زما په بدن کې حرکت نشته!

سر مې د زید په سینه ایښی و، عطر یې زما دماغو ته را رسیدو،،خو زه له مخکې هم بد تره وم، هیڅ حس مې د انجلۍ په حیث نه و، چې ووایم سوچ وکړم،سوچ مې ګډ وډ شو نه هیڅ نه شو.کوښښ کوم، وخوځیږم ، له دغې لعنتي تندې، او خراب موقعیت څخه ووځم ،خو نه کیدل.

زید- یوسفه ښه یې؟ اورې یوسفه؟
ما اوریدل،خو خوځیدلی نه شوی، ډیر په ستونزه وتوانیدلم چې ځواب ورکړم: ښه ی....یم..مم...او...اوبه..اوبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبرې زيد په چټکۍ سره د ميز څخه اوبه را واخيستې، او ماته يې ونيولې، غړپ، غړپ له اوبو څه مې وڅښلې،او لږ په حال شوم، زړه مې لکه ليونی په سينه سينه مې وهې، ای لعنت دې په دغې حمله وي، چې هر ځل ما ددغې مصيب سره مخ کوي.
کوښښ کوم چې د زيد له غيږې را ووځم، خو هغې زه کلک نيولی يم په غيږه کې.په سخت وايم:

يوسف: هډوکي مې مات شول خوشي مې کړه، زيد په لړزيدونکی غږ وويل: ولې داسې شوی؟ مريض يې؟

د زيد په خبره مې تندی تروش کيږی ما د مريض د نوم څخه بد راتلل په تنده لهجه وايم:
هو عصبی حملې او دوری راباندی راځي کله ناکله.

زما په خبرې هغه لږ خاموش پاته کيږی او بيا وايي: سهار چمتو اوسه ډاکتر ته ځو!
يوسف- اړينه نه ده ښه يم!

زما په خبرې زيد په کلکه وويل:کله مې چې وويل چې چمتو شه، نو بيا چمتو شه پوه شوې؟
په بې حوصله ګۍ وايم.ډاکتر ته لاړم، دغه يې هم دوا ده، ځينې وخت ورسره مخ کيږم،خو ښه کيږم!

زما په خبرې زيد وايي: ډاډمن يې چې سم تکړه ډاکتر ته تللی يې؟
يوسف- هو سم ډاکټر و اوس ورځه غواړم ويده شم، مړ شوم له بيخوبی څخه.

زيد زما د خبرې په جواب کې يواځې خپل سر پورته او ښکته کوی او وايي:ښه شپه بې حاله په تخت لويږم، او نه پوهيږم، څه وخت ويده شوم.سهار ګڼه ګونه شوه ويښيږم په چټکۍ سره، مې خپل کالي بدل کړل، او د ودانۍ په لوري منډې وهم،غږونه اوريدل کيږي! د ځانه سره وايم يعنې څه شوي؟؟ ګامونه مې تيز کوم د ودانۍ په لور ، د رضوان غږ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان-انسان اوسه، زیده څه په ځان نازیږې، نه وینې چې حال یې څنګه دی؟
لعنتې!

د زید په خبره لځان سره وایم: یعنې د مریم  حال بد شوی؟
دا ځل د زید د چیغو په ډول آواز مې تر غوږ شو چې ویې ویل: ما وویل حالیت یې بد شي
هاا؟ما بد بخت څه کړې، مه مجبوروی مې چې دا کورته تاسو ته پریږدم!

زما په ور رسیدلو دواړو ساه تیزه تیزه باسله، چې پوه شوم د ډیر خبرو څخه دواړه ستړی
شوی.د زید مور په کوچ کې ناسته وه او سر یې په لاسو کې نیولی و
عمه او مریم نه وه نو چیرته تللی؟

د رضوان پام ماته کیږي.او کرار وایې: یوسفه ته یو څه دغه ناپوه ته ووایه چې په خدای
کم پاتې هه بیچاره جنې ځان مړه کړی، او د دغه ناپوه(زید ته اشاره کوی) هیس فکر او
خیال نشته.

زید زما خواته راګوی خو زه هیس نه وایم او ځم د فرښتې خاله خواته او وایم: ښه یې
خاله جانې؟

زما په غږ هغې خپل ستړې سترګې را پورته کړی او په ستړي انداز یې وویل: هو بچې
مې ښه یم، صباناری دې خوړلی؟

د خاله پدی خبره زه ځانته شرمنده کیږم، زه څومره ددې کورنی پوروړی یم، په جنګ کې
د خاله فکر زما خوراک ته دی! دهغی جواب خپل د سر په خوځه ولو ورکوم او د
رضوان خواته ځم او وایم: بیا څه شوې؟
رضوان- د ښاغلي زید څخه وپوښته (او په غوسه د زید خواته ګوري.زید پرته له خبرو د
باغ خواته ځي؛ چې رضوان به همغه لهجه ویې: مور مې د مریم په اړه د هغه سره خبرې
کولې چې بیا وحشي شو. (او مات شوي ګلاس ته یې اشاره وکړه،) دا هم ښه کار د
ښاغلي!

د رضوان په خبرو زه ځان سره وایم بی له شکه کله چې زید په غوسه کیږی نو د کنټرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه وځې او وحشی کیږی. په کراره رضوان ته وایم: مریم خو د زی انکار اوګ خبری وا نه وریدل؟

زما په خبری رضوان په غمژن لهجه وایي: وایې وریدل فشار یې ښکته شو، کمزوری شوی اوس هم د آسما کوټه کیده.

رضوان دا خبره وکړل او چوپ شو د مور خواته یې ځي او زه زړه نا زړه د باغ په لوري ګورم چې زید شته که تللی. نه نشته تللي .....

نو بیرته د ودانۍ په لور ځم! ټول غمژن او فکرمند حالت کې دي،د رضوان خواته چې بیحده په سوچونو کې غرق دی ځم او وایم: رضوان راځه آسما او مریم بهرته وباسو کیدای شي سوچ یې بدل شي!؟

زما په خبری رضوان سر پورته کړو او په مسکا یې وویل: ښه خبره ده.

رضوان دا خبره کوی او د زینو خواته ځي،د څو شیبو ورسته دری واړه، ښکته راځي، د مریم رنګ زیړ و بې کراره انداز له زینونه راښکته شوه.مورږ د رضوان په موټر کې روان شو، څلور واړه.لکه د زید موټر داسې نه و خو ښکلی و، زه په مخکې سیټ کې کښیناستم، مریم،او آسما د شا په سیټونو کې کښیناستې. چې رضوان وویل:

رضوان- ښا نو اغلو میرمنو کومې خواته ځو؟
مریم چوپه وه، خو اسماکرار وویل: نه پوهیږم لالا، هر ځای چې تاسو وایی.

د اسما د خبری وروسته رضوان موټر روښانه کړو او حرکت یې وکړو، او زه نه پوهیدم چې چرته ځو؟خو بلاخره د یوه پلورنځي مخې ته ودریدلو.

رضوان- دادی ورسیدو!

ټول ښکته شوو،او د پلورنځي خواته مو حرکت وکړ، او د دوکانو په کتلو بوخت شولو. د مریم غږ و چې د خاموشۍ لړۍ یې ماته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم- اسما.. اسما ته راشه چې دا څنګه ښکلې ګوتمې لري!

اسما ودریدله او بیا دمریم خواته چې د هغه شیانو په کتلو بوخه وه ولاړه او په خندای ورته وویل: ریینتیا وایې، یو ځل یې وګورو..

د نقرې د پلور ځای ته راغلي یو.مریم او اسما دواړه د ګانو په کتلو بوختې شوې.
مریم- اسما وګوره څنګه ده؟
اسما وروسته له لږ ځنډ،ځواب ورکړ: اې دا خو نارینه ده لیونۍ(اسما لږ چپتیا غوره کړه، او بیایې کرار وویل: د زید لپاره یې اخلې؟

د اسما په خبره مې په زړه کې وویل: اووووووف زید زید څومره مې له دغه نامه څخه بد راځي، هغه نر چې خود خوا دی! هغه چې مغروه دی.

اسما کرار وویل: ښکلې ده !
رضوان زما خواته ودریدو او ویې ویل: یوسفه ته کوم څه نه اخلې؟
خپل معاش مې اخیستی و په ډاډه زړه مې وویل: راځه وګورو چې څه مې خوښیږي که نه؟
رضوان مسکی شو او ویې ویل: راځه دواړه د ګوتمو او ښکلو زنځیرونو په کتلو بوخت شو.

رضوان- یوسفه دغه ګوتمه څنګه ده؟
یوسف- کوم یو؟
رضوان- دغه تور غمی والا.

یوه نارینه ګوتمه چې د غمی یې څلور کونجه او چار چاپیره یې وړو وړو غمیو چې رنګونه یې تور وو، ریینتیا هم چې ډیره ښایسته وه.

یوسف- ولا دا ښایسته ده، ته ورته ووایه چې را و باسه ګوتمهچ.

ګوتمه یې را وویستله، رضوان چټکی وکړه او ګوتمه یې واخیسته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رضوان پدی کار په دروغجنه غوسه وایم: هوی دغه ما خوښه کړې وه نو را یې کړه!
رضوان خاندی او وایي: ښا داده واخله، مه غوسه کیږه.

ګوتمه اخلم او په ګوته کوم یې، چې زما د ګوتو له اندازې څخه غټه وه ،مایوسه غوندې ګوتمې ته ګورم او رضوان ته وایم: رضوانه ته یې واخله،دا زما د ګوتو له اندازې غټه ده.

رضوان- ته یې را وښیه؟

رضوان زما د لاس د ګوتو په لیدو په شیطنت باندی وایې: پخدای چې لاسونه دې لکه د نجونو ښایسته دی حتا د مریم او د آسما څخه ډیر ښایسته دی ( دا خبره کوی او په خندا کیږی او بیا په همغه خندا وایي: یوسفه! رېښتا راته ووایه! انجلۍ خو نه یې؟

د رضوان په خبره په غوسه ورته وایم: ورځه ورک شه نر توبې خو په لاسونو او قد او قواری نده( رضوان زما په خبرو خاندی او دوکاندار ته غږ کوی او ورته وایې: وبخښې دا ګوتمې کوچنې کوی؟ ( او زما لاس ته اشاره کوی، چې دوکاندار وایې:

دوکاندار- هو، شل دقیقې وخت نیسي.

زه ګوتمې د ګوتې څخه باسم او خپل د ګوتې اندازه اخلم، مریم او اسماء په خپل مینځ کې لیګا ویې او خبری کول چې رضوان غږ پورته شو او ویې ویل: اوس نو یوسف ماته هم یو ګوتمې خپل په ذوق خوښه کړه.

د رضوان خواته ګورم او په خندا ورته وایم: ولې خپله سترګې نلری؟
زما په خبری رضوان خاندی او وایې: زه ستا ذوق او انتخاب ګورم.

د رضوان په خبره ما خپل سر وښوراوه او وایم: سمه ده راځه.

یوه حلقه چې د تور ګردي جواهر سره د جواهراتو لخوا محاصره شوې.او سپینه وه او زما سترګې یې ونیولې زه حلقې ته په اشاره وایم: وګوره دا ښکه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبرې رضوان په ځیر،ځیر هغه ګوتمې ته ګورې او وایې: بده نده.
د رضوان په داسې بې خونده لهجه زه ورته وایم: سمه ده زه یې یو بل چاته اخلم.
رضوان- بد کوې زه یې خپله اخلم.

د رضوان پدې غوسه ناکه لهجه ورته وایم- و دې خوړې بیا ته ووایه بده ده.
رضوان څه نه وای او اسما و مریم خواته ګورې پداسې حال کې چې خپل غږ کرار کوی
ترڅو یواځې زه یې واورم کرار وایې: یوسف پخدا دغه دوه دانې زما جیب خالي کوی.

زما سترګې په یو مردانه زنځیر پریوت چې یو کوچنی قفل سره د زنځیر په پای کې وو
او د بنیینې په منځ کې کیخودل شوی و، زه په لاس زنځیر ته اشاره کوم او وایم: کیدی
شې هغه رابنکته کړې؟( څومره د پام وړ او بنایسته زنځیر دی..)

د شل دقیقو وروسته، همغه زما انتخاب کړی ګوتمې راته په لاس برابره کړې راوړه،
زه د رضوان، مریم او اسماء خواته چې دواړه لګیا دی خبرې کوې ځم او وایم: خلاص
نشو ستاسو خرید؟

رضوان راته وایې: یوسف ټول دوکانونه دوی دواړو تش کړل.

د رضوان په خبره د هغوی خواته ګورم چې د مریم په لاس کې څلور پلاستیک ګورم!
آسما ته اشاره کوم او وایم چې مریم څه اخیستی؟

آسما د مریم خواته ګورې او ورته وایې: مریم خپل خرید دوی دواړو ته وبنایه چې څه دی
اخیستي؟

مریم پلاستیکونه خلاصه وی، په یو کې یو دانه څلور کونجه زمردی ګوتمې وه، چې موږ
ټول پوی شو هغه یې د زید لپاره اخیستې، او یو همغه ډیزاین خو ښځینه ګوتمې چې جوړه
یې د هغه مردانه ګوتمې سره خپل ځانته اخیستې وه. او په بل پلاستیک کې هم دوه دانې
دسبندونه وه چې بیا هم جوړه یې وه یو یې مردانه او بل زنانه...!

اسماء هم د غاړکې،ګوتمو او دسبندو یوه بښیږ سیټ اوجوړه اخیستې وه، لاړو ترڅو پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب کړو رضوان اول د آسما او مریم خرید پیسی ورکړل کله چې زموږ د خرید پیسو ته ورسیدو نو ما پوښتنه وکړه څو شول؟

دوکاندار: 4600

ما تلوار وکړو او د رضوان د پیسو ورکولو څخه مخکې ما پیسی دوکاندار ته ورکړل، چې زما په کار رضوان په غوسه وویل: واخله بیرته خپل پیسی شابه.
بغیر له خبری رضوان د کورتې څخه نیسم او د دوکان څخه د وتلو په حال ورته وایم: بل ځل بیا ته یې حساب کړه.

رضوان څه ونه ویل خو تندی تروش وو، د دواکن څخه چې ووتلو یو څه نور هم وګرځیدو خو د اغلو میرمنو نور شي خوښ نشو، البته ما د هغوی څخ په پټه یو عطر ځانته واخیستو ترڅو د چانه وهلو لپاره فرصت ولرم هسی دا خان خلک دی د دوی په مخ کې د خرید په سر چانه وهل بده ده.

کله چې خرید مو خلاص شو د ډوډی خوړلو لپاره یو ښایسته هوټل ته لاړو، ډوډی خوړو وقت کې ما او رضوان ښه ټوکې او مجلس وکړو، او بیا د کور په خوا روان شو نګهبانانو دروازه خلاصه کړه او کورته ننوځو هغوی د ماڼې په خوا ځې او زه خپل کوټې خواته حرکت کوم، د ماښام د لمانځه وروسته کالې مې چې یو څه نمناکه وه بدله وم چې نظر مې د زنځیر په قطعې ولګیدو، په ډیر زحمت هغه زنځیر خپل په غاړه کوم او خپل خولې په سر جوړه وم او خپل د اخیستل شوی عطر څخه یو څه لږ به ځان وهم.

جمپر مې را اخلم او د ماڼې پخوا روانیږم، کله چې ننوتلم ټول مې به دهلیز ناست ولیده زید خپل د مور څنګ کې وو، د رضوان خواته ځم او د هغه څنګ ته کینم. چې زما به کینستلو رضوان راته وایې: چیرته ورک شوی ناساپه؟

په شیطنت وایم: ړوند خو نه یې تور ماره کالې مې بدل کړل.
زما په حبری رضوان خاندی او وایې: ولی نو به قهر کیږی کدووو(لندیه)

د رضوان نظر زما په غاړه کې اچول شوی زنځیر ته کیږی او وایې: دا څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف- زنځیر.
رضوان- تر څو دقو مخکي خو ستا په غاړه کی هیس نه وه؟
په شیطانه خندا وایم: ځکه چې نن ماښام مې په طلا فروشی کی واخیستو.
زما به خبری رضوان په دروغجنی غوسې او قهر وایې: ای ناځوانه زما څخه په پټه دی واخیستو، اوس سم وښایه څنګه دی؟

پداسې حال کې چې زنځیر مې خپل کالیو دننه اچو په خندا مې وویل: خوند یې په همدی خاص والو کېدی ورور ..

موږ دواړه خاندو چې زید زموږ خواته راګوری او هغه هم لږ مسکې کیږی، ټول د میز خواته ځو ظریف خاله ډوډی راوړی، د ډوډی وروسته ښځې په دهلیز کې پاتی کیږی خو موږ د میلمه خانې خواته ځو، میلمه خانه کې د زید پلار رحیم کاکا هم وو رضوان او زید خپل په موبایلو موښتې وه او ما و رحیم کاکا بیکاره پاتې و چې رحیم کاکا ماته وویل: بچیه سنګه یې د باغبانې سره؟ به تکلیف خو نه یې ورسره؟

د رحیم کاکا جواب په خلاص تندی ورکوم او ورته وایم: نه کاکا جانه باغبانې ماته ساتیر او وخت تیره ولو پشان ده.
رحیم کاکا- ډیر ښه که کوم څیز دی بکار وو ماته ووایه.
یوسف- په سترګو کاکا جانه.
:□#شهاب
لږ مجلس وروسته رحیم کاکا ولاړو او یواځې موږ دری پاتې شو، خپل د چای پیاله مې راوخیسته او چای مې څکو چې رضوان وویل: سهار ځم د ځمکو کتو ته راځې راسره؟(
د چای پیاله د یو لاس څخه بل ته راخلم او د رضوان د خبری به جواب کط وایم: نه سبا نوی نیالګې راوړی او چمن هم باید اصلاح کړم.

رضوان- سبا ته زما سره راځه بل سبا بیا دواړه یوځای چمن اصلاح کو، زه هسی هم بل سبا بیکار یم.
یوسف- نه نکیږی ته یواځې لاړشه.
رضوان- دومره ناز کوی بیخی مه راځه.( رضوان ته هغه بالښت دی راکړه. چې زه ورته وایم: ربښتیا رضوان هغه سفر دی سنګه شو؟ کله لخیره د کور څخه ځی او ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږی؟
زما په خبری رضوان په خندا وویل: اخ ستا آرمان دی پوره نشی، زه نه ځم زما لځایه زید ځي هغه سفر ته.

غوښتل مي د رضوان جواب ورکړم ی یو دروند څیز مي به پښو کیځودل شو! به حیرت می وکتل چي زید خپل سر زما په غیږ کی ایخودلي وو! د زید پدی کار رضوان ورته وايې: اووو نر غواېي ځای کم وو چي تا خپل د ده بیچاره په پښو کیخودو؟

رضوان په خندا وايې: تاته ولې زور درکوی؟ زما بالښت به دی نه وايې اخیستی.
رضوان- ما بد کړی راشه بالښت دی واخله.

زه چي تراوسه د زید پدی کار باندی هک حیرانه وم، خپل غږ می پورته کړو او ومې ویل: هوی خیرتي ده زر ځله مي درته ویلي چي د نورو حق مه خوری، او دا غیږه هم ستاسو د وریندار ده نو هله پاسیږه.( زما په خبری رضوان به قهقهه خاندی خو زید کرار مسکا کوی او وايې: یو نن مراعات وکړه، سبا سهار ځم هلته ستاسو پسې مې زړه تنګ کیږی.

د زید پدی خبره نه پوهیږم ولې خو بیحده خوشحاله شوم او په همغه خوشحاله لهجه مې وویل: رښتیا څومره وقت پاتې کیږی هلته؟؟!

نه پوهیږم ولې زما به خوشحاله لهجه زید خفه شو او په خفه لهجه یې وویل: زما تګ دومره تا خوشحاله کوی؟

همدا چي خوله مې جواب ورکولو ته جوړه کړه، زید پاسیدو او لاړو!؟ په حیرات مې رضوان ته وویل: په ده څه وشو؟ ما بده خبره وکړل رضوان؟!

رضوان پداسې حال کې چي خندل او زما خواته راروان وو ویې ویل: زه ښه شو چي لاړو بالښت یې زه نیسم.( همدا چي رضوان غوښتل خپل سر زما په غیږ کې کیږدی زه پاسیدم او ومې ویل: فکر یې هم مه کوه ګرانه ورور جاننه ورځه خپل ځای ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبرې رضوان وخندل او ویې ویل: هلک خو نه یې چې داسې وویریدی.
بد بد مې د رضوان خواته وکتل او ومې ویل: بیځایه خبرې مه کوه ځم ویدیږم سبا کار لرم.

بغیر د نور خبرو د مانې څخه ووتلم او خپل کوټې ته ورغلم، اول مې خپل ګولې وخوړل او بیا بې حال خبل بر ځای پریوتم... چې خوب مې لیدو.....

منډې مې وهل او چغې مې وهل، خو هیچا زما غږ نه آوریدو عمه او نجیب راپسې و د هغوی ځهرې د خوګ او بدنونه جسم یې د انسانانو پشان و، د خولو څخه یې زګ بهیدل او زما پسې منډې وهل، دومره چیغې مې وه چې خوب کې مې احساس کو چې ستونې مې د ډیر چغو له لاسه زخمې شوی، سترې شوم خو د منډې وهلو څخه ونه دریدم، لځان څخه مې یو څه لرې یو نفر ولیدو چې مخ یې سم نه معلومیدو راته خو مخ یې د لمر پشان ځلیدو..

د هغه کس په لیدو بې اختیاره د هغه خواته ځم او هغه کس ته پنهاه وړم، عمه او نجسب رارسیړې خو د هغه کس په لیدو شاته ځې او تختې سر مې پورته کوم او خپل نجات ورکونکې ته ګورم زید....! هغه کس چې ماته پناه راکړل هغه زید وو؟ غواړم د هغه د غیږ څخه لرې شم خو د هغه سترګې د غوسې څخه تکې سرې کیږې او وینه ورنه په بهیدو شې...

د خوب څخه را وبینه کیږې زړه مې د ویرې څخه به تلوار درزا کوی، او نفس مې نه پورته کیږې د تږې احساس کوم د میز له سره ګیلاس اوبه راخلم او یو نفس به سر یې پورته کوم، لځان سره وایم: څومره ویرونکې خوب وو؟ د سهار آذان مې تر غوږ کیږې او زړه ته مې آرمتیا حاصله کیږې، اودس کوم او په لمانځه دریږم، او خپل ځان د خدای سره په خبرو او مناجاتو کې اخته کوم د کوټې په روښانه کیدو پوهیږم چې هوا روښانه شوی..

خپل ځان سم کوم او به هینداره کې ځانته ګورم، ځم د مانې خواته ټول د میز سره راټول شوی وه، ښه احساس نلرم د دوی سره په یو میز ډوډې خوړلو ته خو هغوی اجازه نه راکوی او هر ځل وایې زموږ سره یوځای ډوډې وخوره. عمه او مریم نن لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړی لاړشی سلام کوم او ټول بغیر له زید څخه جواب راکوی.

خاله فرشته- علیک سلام بچیه راشه دلته زما څنګ کې کینه.
مسکا کوم او د خاله فرشتې څنګ ته کینم، سبا ناری خوړل کیږی او هر یو خپل په کارو اخته کیږی چې اسما زما خواته راځې او کرار وایې: یوسف لالا د دوکان څخه ماته چپس او کاکو راوړی؟
په خندا ورته وایم: ولی نه کیږی ځم.

باغ پریږدم او د دوکان خواته ځم چې د کور څخه ډیر لری دی، دا کور یا هم بهتره ده ووایم دا ماڼې په یو ارامه او ساکته کوڅه کې شتون لری.

داسی چې یو دوکان یې لا شاوخوا نشته، دلس دقو تلو وروسته یو دوکان ته رسیږم هغه شیان چې آسما ویلې وه هغه اخلم، ځانته هم یو کاکو اخلم او خپل جیب کې یې ږدم او د کور خواته ځم ماڼې ته به ننوتلو خپل غږ پورته کوم او وایم: اسما چیرته یې؟

د دی څخه مخکې چې بیا ورته غږ کړم زید وینم چې د زینو څخه رابنکته کیږی، داسې ځان جوړ کړی سوک که خبر نه ویې فکر کوی زوم دی؟! زما خواته راځې او وایې: رضوان چیرته دی؟
یوسف- زه څه خبر یم ورشه بیدا یې کړه.

زما پدی خبره بد بد راګوری چې زه هم به جواب کې خپل اوږه ورته پورته کوم، آسما راځې خبل غوشتل شوی څیزونه اخلې او د مننې پر ویلو باندی ځې....

نن زید لاړو چین ته تر څو خپل شرکت ته نوی اجناس او مواد راوړی. یو میاشت تیره شوه او ما د زړه څخه د آرمتیا او خوشحالې احساس درلود ځکه زید نه وو چې کله ناکله مې په عذاب کړی، د زید د تلو وروسته عمه او مریم هم خپل کورته لاړه او سنګه چې د مریم حال ماته معلومیدو هیس ښه نه وه... بیچاره مریم .....

په باغ کې د لاله د ګلانو په کینولو بوخت وم، د سپرلې موسم هم رارسیدلې وو، څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتې زما د راتلو څخه تیرېږی خو ما تراوسه عادت ندی کړی پدی ژوند، د رضوان غږ راځې چې ناری وهې راته:

رضوان- یوسف راشه چې زید راغلو.
د هغه پشان په لوړ غږ وایم: پخیر دی راشې زه څه خدمت ورته وکړم، نه چې ډیر مې خوښیږی..
زما په خبرو رضوان خاندی او وایې: تاسو دواړو تراوسه آشتې نده کړی؟ تراوسه د مریم په موضوع د زید سره جنجال لری؟
یوسف- زړه مې د مریم لپاره سوزیږی خو اصل موضوع د زید کبر او غرور دی چې د بیچاره انجلی زړه ماته وی.

رضوان چې په ونې باندی تکیه وهلې وه ویې ویل: کاش ته ول ستا پشان وای، که جنۍ وایې ستا سره مې واده کو( رضوان دا خبره کوی او خندا ته شروع ورکوی)
یوسف- چا ویل چې هغه وخت ما ته تور مار کولې؟ اوښ دی په خوب کې وګوری پنبه دانه.

زما په خبرو رضوان خاندی او وایې: ته یو ځل جنۍ شه بیا وګوره په زوره درسره واده کوم.

د رضوان پدی خبرو په غوسه وریسې کیږم چې هغه مانې ته ننوځې، د هغه پسې زه هم داخلیږم چې په دهلیز کې په دری منه میلمنو سترګې لګیږی او ژر بیرته را وځم او لځان سره وایم: ای خاوری دی په سر شه تور ماره د ده له لاسه ماته حیثیت پاتې نشو.د خلکو لورګانې راباندی ولیدل..! خپل پدی خبره خاندم نه چې اوس زه هلک یم داسی وایم د خلکو لورګانې راباندی ولیدل زه خپل په فکرونو کې وم چې یو چا وویل:

زید- سترې مشې نکوی یوسف خان؟

ناساپه ځاې کې مې دریږم ای دا د زید غږ نه وو؟ یو همدی کم وو دی وخت کې کرار ورته وایم: سلام پخیر راغلې.
زید- همدغه وچ کلک سلام هوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل د دې خبرې په کولو رامخکې کیږی او ناساپه ما په غیږ کې نیسی، ټول پیښې د نور په تیز والې سره کیږی، داسې چې ماته د هیس کار اجازه نه راکوی زید کرار وایې:
ناځوانه د نیمې لارې ملګریه راپسې دیغ نشوی؟ تراوسه راڅخه غوسه یې؟

زه تراوسه د هغه پدې کړی کار باندی حیرانه وم خو ځان مې کنټرول کړو او لاس مې د هغه په ملا ووهې او ومې ویل: نه د اول څخه هم په غوسه نه وم، سفر پخیر تیر شو؟

زید خپل لاسونه خلاصه وی او زه یط د غیږ څخه وځم چې هغه په ځیر،ځیر راګوری او وایې: د یو میاشت وروسته دی هم ګیره را نغله؟ هیس بدلون دی ندی کړی.

یوف کوم او وایم: ښه نو څه؟ یو کال خو نه وو یواځې یو میاشت وه.
زید- سمه ده خو زما لپاره په ډیره سخته تیره شوه.
یوسف- خو سرچپه زمږ لپاره په ډیر خوشحالې او زبردست تیره شوه.

شیطانه مسکا کوم او خپل د کوټې خواته روانیږم، د زید د راتلو دوه ورځې تیریږی کوم خاص خبره نده شوی، ټول کورنې، فرشته خاله رحیم کاکا ټول را ټول شوی زه ډیر د مانې خواته نه ځم، خپل کوټه کې یم کله ناکله رضوان راځې مجلس کوی ټوکې کوی او ځې، نن د رضوان سره د باندې لاړو د شهر انجونې ګومره سپین سترګې شوی..!

نږدی و بیچاره وخوری ښایست پدی کورنی کې ضرور یو ارثې موضوع ده، ټول کورنې په ښایست کې کمې نه لرې، اسماء،مریم، رضوان او انجونې او هلکان د عمه او د خاله زامن د رضوان ټول شایسته او لوړ قدونه یې درلود، زید خو بیخې په ښایست کې وړی وه.

یو محلې ته ننوتو چې ما ته لږ لږ اشنا غوندی وه، د موټر څخه ښکته شو او د یو کاری ډبری خواته ځو رضوان د یو سړی سره خبری کول، زید او رضوان دواړه انجینران دی خو زیات یې په تجارت کې نوم باسلې وو، د رضوان خبری د هغه سړی سره خلاصی شوی زما خواته راغلو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان- یوسف نظر دی د دی ځای په اړه څه دی؟
یوسف- د څه لپاره دا ځمکه مو اخیستې؟
رضوان- د سمنټو فابریکې لپاره.

د هغه په خبره په پوره غور شاوخوا ګورم، ښه ځای دی ځکه د شهر څخه ډیر لری دی کرار وایم: ښه دی. مناسب ځای د سمنټ جوړه ولو د فابریکې لپاره دی ځکه د شهر څخه لرې دی، او ضرر یې بیچاره خلکو ته نه رسیږی.

***

دواړه د کور خواته روانیږو، د څلوېښت دقیقو وروسته کورته رسیږو بیحده زیات ستړی شوی یم. رضوان ته مخ اړوم او وایم: رضوان زه ځمه ستړي شوي یم غواړم ویده شم.
رضوانچ- ډوډی نخوري؟
یوسف- نا همالته به کوم څه وخورم

ناوخته راغلی وو او ډوډی هم رانه خوړل شوی وه، اوس د دی تور مار سره څوک یوځای ډوډی خوری ، د خپلی کوټي لور ته لارم د ډوډی خوړلو حوصله نه وه چای می تیار کړه خوشبختانه بیسکت او ککو می هم وه، په چای څکلو مصروفه وم چې زید یو دفعه یی او ورخطا را باندی راننوت یا (داخل) شو په لاس کي سګرت هم وه غړیی غیر نورماله او په غوسه وه..

زید- چیرته ورک وي؟ دا دری ورځی کیږي راغلی یم ماته هیڅ ګوري هم نا !ابیا څه شوي یوسف خانه! (یوسف خانه به جګ غږ وایې، د هغه پدی لهجې ډاره شوي وم.ډاره شوي وم خوو ځان می شاته نکړو او ومې ویل: اوله خبره، ستا پوري اړه نلري چې چیرته ورک وم ،دومه خبره ځکه دی لیدلو لیاقت هم نلري د باندي لارشه.

سګرټ یی خپل په موټی کي خاموش کړو سترګي یې د کاسو د وینو په شان شوي وه او لاس یې کلک موټ کړی وو، د زید پداسې لیدو نور لړ پاتی وه هملته سکته وکړم زه چیرته او دا ځناور زما دوه برابره دی چیریی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناساپه زید په لوړ غږ وویل: څه دي وويل ؟ زه ستا د ليدلو لياقت هم نلرم ؟ هغه رضوان يې لري؟ هان؟

د هغه په شان مې په جګ غږوويل: رضوان په تا شرف لري خودخواه مغروره زما په خبرو زيد له غوسی څخه قهقهه وکړه او ويې ويل: ښه نو زړه دی په مريم وسوځيده؟ يو طرفه قاضي ته ځی يوسف خانه..؟!

هيس ورته نه وايم چې زيد خپل لاسونه د ډيرو ،تورو وبينتانو کي ننباسي په دواړو لاسونو خپل وينتان کلک کش کوي،په زنګنو باندی په ځمکه کيني په جګ غږ ناری وهی او وايې: لعنتيانو ولی نه پوهيږيږی هغه آسما په شان ده ماته( لکه خور ) تاسو هيڅوک ما نه درک کوي مور مي زما سره سمي خبري نکوی ، پلار می ...ملامت کوي، رضوان راته نصيحت کوي، ترور می رانه زړه بد دی ته ولی يوسف؟ دی مينځ کي زما ګناه څه ده؟

دواړه چپتيا کوه په لړزانده غږ زيد بيا خبري پيل کوي او وايې: پخدای ، په پير او په پيغمبران زه نغوارم د هغي بت اوسيږم زه نغواړم زما عبادت يا پرستش وکړي پو هيږيږی اوکنه ؟؟ د هغي د مينی تاوان زه بايد ولی ورکړم؟ ما مجبوره کړي وه ماسره مينه وکړه؟ ولی بی ګناه می محکوم کوي فکر کوي زما زړه د تيږی زړه دی؟ نه سوځيږي وربانديي هان ؟

زيد خپل د خبري سره يوځای خپل موټ شوي لاسونه په ځمکی ووهل، چې ما حيرانه ورته کتل لځان سره مې وويل: دا هغه زيد دي چې د چا سره به يي سمي خبري لا نکولی؟ هغه زيد دي چې د چا څخه به يې لا غوښتنه هم نکوله...!!؟

ما زيد تل د زور ويلو په حال ليدلی وو؟ يعني دا مات خوړلي سړی همغه زيد دي يا زه..يو جدی غلط فهمی کی يم..؟زيد چې په زنګنو په ځکمی باندی ناست و د هغه په داسي ليدو ماته درد راغلو، زړه می په وسوځيده ، ربښتيا وايی زيد ګناه څه ده ؟
دا هغه انسان دی هغه کس دی غوښتلي يا نيغوښتلی زه يی د عمه د کور څخه وژغورلم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کورکي را پناه راکړه زما حق کی سړی توپ وکه هغه انسان دی مریم زړه په بایللی میئنه شوي وربانديږ،رښتیا هم زه يې نو ولی محکوم کوم؟ آیا مینه هم په زور کیږي..؟

کولی می نشو داسي حالت کي وګورم خو بیا هم د بت په شان ورته ولاړه وم ، هغه هم ځمکې ته بوکسان نیولی وه، خواته یی ورځم نیږدي کیږم ورته نارینه لاسونه يي په خپلو دواړو لاسونو کي کلک نیسم، تکی سری سترګي را پورته کوي او په کراره وايې: زړه دی رابانډی وسوځیده؟

لاسونه ته یی زور ورکوم او په کلکه ورته وایم: مکوه لاسونه دي شنه شول غټ سړی یی شل کلن ځوان خوو نه یی..!

زما په خبری هغه په ځیر باندی خپل شنه لاسونو ته ګوري چې د ډیر وهلو له لاسه زخمي شوې خو څه نه وايې..

یوسف- خپل ټول وینتان دي وشکول اوس به څوک خپله لور هم نه درکوي.

(په لاسونو باندی می وینتان ورته جوړ کوم هغه همداسی راته ګوري.زما ګوتو هغه وینتان خوښ شوی وه او وینتانو سری لوبي کولي په ډیر سخته می زړه تری صبر کړواو شونډو لاندي لاحول ولاقوه وایم،ولی شیطان ځانه لري کړم ؟ کله چي هوس په نامه مینځ کي څه نه وي شیطان کار څه شی دی؟ زید غږ دی ستونزه او دي فکر کولو نه وژغورلم ویې ویل:

زید- زما نه دي بد راځي ؟

د خپل فکرونو څخه راوځم او د زید سرو سترګو ته چې په سور والو کې بیچ ښکلایی څو برابره شوي،ګورم زید ماته د یو بې مور شوی کوچني ماشوم پشان ګوری، داسی چې کوم ګناه یی کړی وي او اوس خپل د جزا په تمه وي..اوس هم په سترګو کی غوسه ښکاري' لاسونه يي پریږدم او وایم: نه چا ویلی ؟

زید- چا ندی ویلي زه خپله پو هیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف- نو اشتباه پوی شوی یې، ولی به می ستا نه بد راځي..؟

زید جواب رانکړو لکه چې د خبرو حوصله یي نه درلود، ځان سره وایم !
ولی خپل ځان کنترول کولی نشی؟ولی خپله غوسه ځان باندی خالي کوي او ځانته تاوان رسه ویې هان؟ آرامه ورته وایم: پورته شه "کټ ته اشاره کوم) هلته کینه.

روسته له لږ ځنډ څخه پورته کیږی او زما څنګ ته په کټ کیني. چې زه دهغه لاسونو ته اشاره کوم او ورته وایم: درد کوی او که سوځیږي؟
زید- هیڅ یو.
یوسف- ولی په خپل غوسه باندی مسلط نه یی کولی دی شوو همدا خبري په آرامه راته ووایې..( او د زید د جواب ورکولو څخه مخکې مې وویل: چای یا قهوه ؟
زید- قهوه

دوه دانی ترخي قهوه تیاری کوم او کوټي خواته روانه شوم، په کراره مننه کوي خاموشې! بیا هم چوپتیا د کوټي فضا باندی حاکمه وه.. چې زید وویل: کولی شم دلته سر کیدم؟( په سترګو باندي بالښت ته اشاره کوي)

په سرمی ورته اشاره وکړه چې هوو. په یوه ساه یې  توله قهوه وڅکل او خالي پیاله یی د میز په سر کیښوده،خپل سر په بالښت باندی کیدی او اوږد ځملي زه یي څنګ ته وم زما لاس نیسې چې زه ورته حیرانه ګورم زید په کراره وایې: ګوتمی دی ښایسته  ده
یوسف- مننه یوځای رضوان سره می واخیسته.

پداسې حال کې چې لاس مې د هغه په ګوتو کې بند وه ویې ویل: ولی دی ماته اخستی نده ؟
یوسف- مریم درته اخستی وه هغه دی څه کړه؟ ګوتمی او دستبند وه .
زید- وا می نخستیل!
یوسف -ولی ځنګه ښایسته وه.
زید- نور دي څه واخستیل؟

د زید په خبره د ماشومانو پشان چې خبل د خوښې خرید یو چاته ښکاره کوی خپل زنځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې د کالو لاندې څخه ورته راباسم او ورته ښکاره کوم او وایم: دغه دی و ګوره دغه مې د رضوانه په پټه اخیستی( او په خندا ورته وایم: که لیدلی وای ضرور هغه تور مار هم اخیستو.

زما په خبرو زید مسکا کوي او زنځیر په لاس کې نیسي او وایې: ښه دی وکړل هغه تور مار ته ښکاره نکړی.

په خوشحالي وایم: ښکلی دی کنه؟
زید- ډیر ښکلې دی دا به ماته رانکړی؟

د زید په خبره په تلوار زنځیر خپل د کالو لاندې کوم او وایم: څه د خاله کور خو ندی چې درکړم تاته.

زما په خبری دواړه خاندو او زید وایې: ولی دی د سر څخه خولی نه لرې کوي؟ ژمې خو هم خلاص شوو.؟!

زید په لاس باندی زما د سر خولی لرې کوي، چې زه په تیز انداز ورته وایم: نه مې خوښیږي زما ویښتان څوک وګوري.

بدی خبری غواړم د زید څخه خپل خولی واخلم او به سر کړم خو هغه اجازه نه راکوی او وایې: مکوه یوسفه ګوره څومره ښکلی ویښتان لرې لکه ابریشم پشان نرم دی !

زید دا خبره کوی او زما په ویښتیانو کې ګوتې وهې چې په تروش تندی ورته وایم: عه زیده پورته شه بیخی دی زړه راته تنګ کړ ټول ویښتانچ دی راته وشکول لاس ندی توره ده ولا.

زما په خبرو زید په لوړ غږ خاندی او وایې: ولی غوسه شوي لنډیې صحیح ده نوري نکوم.

او بیا خپل لاسونه یې د سینه سره قفل کوي،زړه نا زړه وایم: نکیری لږ ورسره مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ګناه لري پخدای( مریم ورته یادوم)

زید زما خواته راګوری خوو څه نه وایي د څو ثانیو سکوت وروسته کرار وایې: د مهربانه او ښه والي نه می غلطه ګټه اخلي لیونی فکرونه کوي.
یوسف- ګوره یو څه درته وایم څناور کیږي به نه!؟

زید څه نه وایي چې زه نامطمینه په خبرو باندي پیل کوم او وایم: ولی دی نه خوښیږي هیڅ کمی نلري ښکلی ده ، تحصیل هم کړي او تر ټولو مهمه تاسره مینه لري

زما په خبرو زید یو ژوره ساه اخلی او وایې: درته می وویل د خور په نظر ورته ګورم نشم کولي..!
یوسف- خو یو ځل کوښښ وکړه ګوره چانس دی د لاس څخه ځی درته ویلي می اوسي.

زید- یوسفه انسان شه څه زور خوو ندی چا باندی (خپل په زړه وهي او وایې:دا لعنتی نه مني. زر واری می کوښښ کړی خو نکیږی هر ځلی په لیدو سره یې عذاب وجدان اخلم خو نکیږی!

هیس نور نه وایم د زید ټول خبري منطقي دی نو د خبرو او بحث بدلو لپاره وایم: ربښتیا هغه ښکلی فرخنده او هغه نوري ملګري څه شوي؟

د هغه شپه په یادولو باندی خاندم چې زید هم په خندا وایې:مرګ لیونی کړي وم هغه می بلاک کړي دي...

په مشکوکه انداز ورته وایم: څه یې ویل؟

زما په خبری زید خپل تیلفون راته نیسي. او وایې: واخله پخپله وګوره.

تلیفون مي ترې واخست، درې نامعلومې شمیرې وې، لومړی پیغامونه مي خلاص کړل(سلام څنګه یی ښایسته) د پیغام په لوستلو سره د خندا څخه شنه کیږم او زید ته وایم: ته ماته را وګوره، ستا کوم ځای ښایسته دی هوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبری زید وایې: زما د ښایست د لیدو لپاره د بصیرت سترګې غواړي،چې ته یې اوس نه لري..
په سر یې ووهم او ومې ویل: بې ادبه چنارګل بابا.

په تیز غږ باندې پیغامونو لوستل شروع کوم او وایم:(ولی جواب نه راکوې) (غرور له خدای سره ښه ښکاري) (زااا ورک شه خاوری دی په سر شه ستا او ستا دی.........)

د اخیری مسج په ویلو چې ماته یې کنځل کړی وه په حیرت وایم: عه عه دا څه وایی ؟؟ اوس ما څه کړي.؟!

دا ځل زید دومره وخندل،چې زه له خپل ځای څخه پاسیږم او وایم: مرګ خوله دی بنده کړه، ستا د لاسه بیاب بیابه شوم.ته و خدای اوس زه قاق روده یم؟
زید خپله خندا کنټرول کوی او وایې: نا هر چا چی ؤیلی هسی بد یی کړی خوله ورته ماتوم خپل ملګري لپاره!

ما وخندل او په عجیبه توګه ما په دې کور کې خپل غمونه هیر کړل. د زید په خبرو ورته وایم: نا اوس هم ستا لاسونه مات شوی دی.( او بل بلاک شوی نمبر ته ځم. چط لیکلی وه (سلام، څنګه یې، لوړ قدیه)، (ستا سترګو زما زړه وړی دی )، (حتا ستا غرور هم ښکلی دی،) واه، دا هم بلاک شوی دی.راځم دریم شمېړی ته.(ای تاته وایم که زما د ملګرو جواب د ورکړ تا او هغه جلي شکله ملګری ته د اور اچومه)

د دی مسج په ویلو بیا د چنار ګل بابا په خندا پیل کړو چې ما وویل: پاک خلک لیونی شوی جواب یې څوک ورکوې،او دوی بیابه کوی سوک؟

زید زما پوزه په دوو ګوتو راکش کوې. او وایې: غم مه کوو، ته لوی سړی نه یې، زه به پخپله یوه جلی درته پیدا کوم.

د هغه پدی خبره په خندا وایم: اول دی خپل غم وخوره، چی نور بوډا شوی،زه نوی شل کلن شوی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پدی خبره زید په حیرانتیا باندی سر د بالښت څخه پورته کوی او وایې: رییښتا ته د شل کالو یې؟

په ټوکو باندی خپل لاس د هغه په سر باندې کیدم.او وایم: ستا په سر قسم.
هغه زما لاس خپل د سر څخه لری کوی او وایې: ته ولې په ما قسم خورې، زه زر ارمانونه لرم،

په خندا ورته وایم:چنار ګل بابا، زه خو دروغ نه وایم چې ته به مړ شې، رښتیا، رښتیا زه د شل کالو یم.
زید- نو ته ولې ږیره نه لرې؟
یوسف- موږ کورنۍ همداسې یو، یعنی چې موږ ږیره نه لرو.

زما په خبره زید په فکرمند لهجه وایې: نو دا میراثي ده!
یوسف- دقیقاً

شپه نیمه ته رسیدلی وه، چې ما زید ته وویل: لاړ شه، ډیر ناوخته دی، زه ویده کیږم.
زید- زه به هم همدلته ویده شم، څه ستونزه ده!
یوسف- هله پورته شه، دا چې تراوسه مې اوس وزغملی یو شاهکار وو، لاړ شه ته خپله کوټه نه لرې؟
زید په خندا وایې: ښه زه ځم، ته ولې خپله قواره کږه کوی؟

زید پورته شو او د دروازې په طرف روان شو، د کوټې څخه د وتلو مخکې ویې ویل: زه یوه کوټه لرم، خو کوم ارمتیا او سکون چی زه دلته لرم، بل هیڅ ځای کې نه لرم،

زید دا خبره کوی او د کوټې څخه بهر ځي، او زه په ګډوډ فکرونو کې ډوبه کیږم یعنی زید دلته آرام دی؟عجیبه ده!

په همدې ډول یوه بله هفته تیره شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان- یوسف راځه، چې ډېر ناوخته ده.

د رضوان په غږ د موټر په لور منډه کوم، زید او رضوان دواړه په موټر کې ناست وو
زه په تلوار شاته سټ کې کېنم.او وایم: دومره بېړه لرې، فقط شوله سړېږی.
رضوان- هغه نفر ځی،اوس هم نیم ساعت ناوخته شوی.
یوسف- ښه ښه ډیرې خبرې مه کوه، حرکت وکړه!

نیم ساعت وروسته یو لوړی ودانی ته ورسیدو،له موټر څخه راووتو او رستورانت ته
لاړو، زید په جدي ډول وویل: رضوان، دیخوا راځه هلته ناست دی.

زه او رضوان د زید په طرف لاړو. هغوی تجارتی خبری کولې څومره صادر شول او
څومره وارد؟زما په مزاج ښه نه لږېدو دا بحث نو کرار مې وویل:زید زه ځم یو چکر
وو هم،ترڅو چې ستاسو خبرې ختمیږی،زه بېرته راځم.
زید- سمه ده، خو زر بېرته راشه!!

سمه ده مط وویل او د هغوی څخه لاړم د دوکانونو په کتلو بوخته شوم، ښه ځای دی چې
په کتلو کې دومره ډوبه شوی وم،چې د یو نفر سره ولږیدم او په ځمکه وغورځیدم. چط
هغه نفر وویل: اوبخښه! وروره ژوبل شوی خو نه یاست؟

د هغه کس غږ څومره آشنا دی، خو څوک دی؟ په تلوار  خپل سر پورته کوم، چې د مخام
سړی په لیدلو مې بدن یخ یخ شو کرار لځان سره وایم: سل.........یم! د هغه په سترګو
کې هم حیرانتیا ښکاره کیږی، زما لاس نیسي او د ځمکې څخه مې پورته کوی او په
حیرانتیا سره، هغه وایي:"یغم ....یغ ..ما.... ته خپله یې؟

زه هڅه کوم چې خپل غږ غټ او مردانه پشان کړم او وایم: نه تاسو تیروتنه کوی.

غواړم چې د هغه څخه وتختم او لری شم خو هغه زما لاس په ټینګه نیسی او به نا باوره
غږ وایي: یغما چېرته ورکه وی؟ دا څه حال دی،ولی دی د ځان څخه هلک جوړ کړی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سليم پدی خبرو پوه شوم چې هغه زه وپيژندلم؟؟ خدايه اوس څه وکړم سليم غوښتل، چې ما غيږه کې ونيسي خو ما په کلکه لځان څخه لرې کړو. او يو ځل بيا ناکامه هڅه کوم او وايم:تاسو تيروتنه کوی ورور، زه يوسف يم توبه خدايه عجيبه خلک دی..؟

خپل لاس مې د هغه د لاس څخه جلا کړو چې سليم بيا ټينګ ونيو او په لوړ غږ يې وويل: يعنی څه چې تيروتنه کوم؟؟ يوسف څوک دی؟( سليم زما لاس ته اشاره وکړه، چې غټ تور خدای خال وه، وربانډی او ويې ويل: له دی خال نه هم منکره کيږې يغما؟ له ويښتانو سره دی څه کړې ليونې جلی؟

د سليم پدی خبره پښې مې بې واقه کيږی هغه زه وپيژندم نور انکار کول فايده نلری په لړزېدلي غږ مې وويل: س... لي...م سليم پريده چې زه لاړه شم.

سليم- مرګ سليم، ته چېرته ځې؟ ته پوهېږې، چې له څومره وخته ستا په لټه کې وم؟ پوهيږی! د ډير تشويش او انديښنې څخه سل ځله مړ شوم او ژوندی شوم.
يوسف- پخدای هر څه چې پيښ شوي!زه يې درته وايم.
سليم- راځه کور ته ځو، کور کی بيا وايه،خدای دې وکړي،چې کوم غلط کار دی نه وې کړی، کنه هم تا وژنم هم ځان....

په لړزنده غږ ورته وايم: زه نه ځم! ستا سره هغه کور ته.!
:#شهاب
هغه زما لاس په ټينګه نيسي، او ما د هوټل د دروازی خواته کش کوی. او چيرته زما زور او چېرته د سليم زور؟ په زوره مې د ځان پسې کش کوی.......

- خيريت خو دی چيرته يی بيايی!؟
د زيد غږ وه چې په غوصه يی زموږ په لور کتل په زړه کې وايم:خدايه د بدبختي له پاسه بدبختي کاش د زيد په ځای رضوان وای اوس به ددی غم چيرته وړم..!

سليم- ته څه کاره يی؟ په کورني موضوعاتو کې کار مه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم دا خبره زید ته کوی او زما مټ کلک نیسي او ځان پسي مي کشوي مخکی له دی چی پوه شم چی څه وشول سلیم په ځمکه پروت وه! ټول خلک راټول شوي ول او موږ ته یی ردی ردی کتلي چی د زید په غږ ټول تیت اوپرک شول...

زید- خیریت دی فلم خپریږي ځی خپل کارونو پسي..

سلیم لا په ځمکه پروت وه، او له شونډو یی ویني رواني وي له ځمکی پورته کیږي او ماته مخ را اړوی او وایي: د همدی هلک لپاره د کور څخه تختیدلي وی؟( بیا چغی وهی: د همدی پخاطر وتښتیدی لعنتي!؟ هیڅ فکر د ونکړ چی پر موږ به څه تیریږي؟ ځواب راکړه یغما!

زید چی تر دی دمه غلی ولاړ وه په غوسه یی وویل:( ولی فکر کوم زید هیڅ حیران شوي نه وو؟ ولی یی غږ کي هیڅ حیرانتیا نه معلومیږی؟) څه رشته ورسره لري؟؟

زما د څه ویلو مخکي سلیم په بی ادبانه لهجه وویل: کله چي درسره تښتیده پوښتنه به دی کړی وه( زه لا د سلیم پدی خبره دردیدم چي هغه بیا وویل: مور مي رشتیا ویل چی دا ناروغه انجلی دی په درد نخوری، تا پدی کار دی زما د مور خبره په ثبوت ورسوله په رښتیا چی ذات دی خراب وه یغما!

ایا دا نو کیده چی چپه پاتی شم هان؟ هغه زما ذات ته سپکاوی کړي و،خو په کوم جرم ؟؟نه اوس یي وخت دی چی دردونه مي په ژبه راوړم ټوله کرکی ته مي په خبرو او سترګو کی ښکارندویه ورکړه نور راته اړین نه وه چي زید مي په راز خبریږي او که نه! هیڅ هم اړین نه ووپه لوړ اواز مي سلیم ته وویل:له کوم ذات په اړه خبري کوی سلیم؟ ستا ذات ښه دی؟ کله چي عمه لکه د سپي داسي وهلم هغه وخت چیرته وی ووایه؟ کله به یی چی یوه شپه هم بوډی نه راکوله چیرته وی؟

زه می د پلار او مور په مرګ ګرمه وم هان؟ ایا ما خپله وغوښتل چي تاسو ته پاتی شم او ستاسو غلامي وکړم ولی د خوله بنده ده؟هغه وخت چی موټر ووهلم چیرته وی ؟ګونګی شوي ځواب راااااکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليم هک حيران راکتل غوښتل يي چي زما په لور راشی خو لاس مي د مه راځه په نښان پورته کړو او ور زياته مي کړه: د عمه خبره ناروغي انجلۍ! تا پوښتنه وکړه چی زه چا په دغه ناروغی روږدي کړم؟ هان؟؟؟؟

اوښکي مي پرلپسي له سترګو څڅېدې! بيا مي وويل: اصلا کله چي نجيب د مزاحمت کولو کوښښ وکړو ته چيرته وې؟ کله يي چي غوښتل ما په هغه نجيب چی کار يی د همدوی په شان مردار دی د يوی نوکری په څير وپلوري چيرته وی؟
اوس دي غيرت را وپاړېدو هوم؟ پوهيږې؟د څه لپاره د مور پر وړاندې درېدلې؟ځکه چې د مينې دعوه دې کوله پۀ مادې د مينتوب دعوه کوله.خو ماته تل وړور وې او يې.

زما د انکار کولو وروسته دې ماته پام کول کم شول دا دې ذات دی ووایه؟ زه اړ شوم چې ستاسو هلکانو له امله دهلکانو په شان جامې واغوندم ترڅو د نجيب په شان د هلکانو ناپاکو نظرونو څخه خوندي اوسم، (د ژړا څخه مي سلګې پورته شوی او همغه حال کې مي وويل:چيرته وې؟ د عمه زو چي کله مي له بيخه قيچي کړل خپل ويښتيان د جبر او مجبوری څخه؟؟ ګونګی شوي هان ځواب راکه ووایه.!!!

په سختې مي ورته وويل: ماته د ښه ذات په اړه مه وایه تاسو ټول لکه د لاس ورغوی داسي پيژنم، (او خپل لاس ته اشاره کوم)

د سليم غږ پورته شو او ويې ويل: ګرانې يغما!؟ په خدای قسم چې له هيڅ يو هم خبر نه وم زه .....زه کاپيسا ته تللی وم کله چي راغلم ستانه مې احوال نه لرلو....
ويل يې د يوه هلک سره وتښتيده.....

د سليم په خبره لکه ليونيان پشان عصبي خنديږم اوښکو او ژړا آرمتيا او سکون نه راکولو بايد زړه مي تش کړی وايې په غوسه مي وويل: وتښتيدم؟ زه چې يو وخت مي لمونځ هم نه قضا کولو؟ زه چې حتا ويښتان مي تا په عمر کې کتلې نه وه، زه چي پدي موسم کی خولی په سرکوم ددی پخاطر چي ويښته مي ښکاره نشی زه وم چي څلور نيمي مياشتې مي د هلک په څير ژوند وکړو( ساه مي واخيسته او بيا مي وويل:خو تا څه! د خود غرضۍ لپاره د حماقت لپاره زما راز (اشاره مي زيد ته وکړه) ټولو ته وويل..

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم- جبران کوم یې په خدای چې جبران کوم یې دواړه یو لري ځای ته ځو قسم کوم

سلیم دا خبره وکړه او غوښتل یې چې ما له ځان سره بوځي، خو بیا هم زید غبرګون ښایی او وایې: لاس مه وه یوس... ( زید خپل خبره پری کوی او وایې:حق نه لرې چې په زور سره یې بوځې، یالا خپله لار نیسه او زه...

سلیم- ته څوک یې؟ مننه کوم د یغما د ساتلو لپاره زه اوس راغلي یم تاته ضرورت نشته.
بحث ته ور د ننه شوم او سلیم ته وایم: بیخي ډیــــــــر وروسته راغلې ډیــــــــر!

لاس مې په تیزی سره د سلیم د لاسه واخیستو چې هغه په غمژن لهجه وویل:یغما مه کوه دا سې کار زما سره زه درسره مینه لرم ولې نه پوهیږې؟ولې نه پوهیږې هــــــا؟؟؟

په غوسه ورته وایم:څو ځله ووایم زه یې نه لرم. او نور هم څوک د یغما په نوم شتون نه لري، زه یوسف یم! یوسف!
سلیم- یوسف! څه؟ کم عقلې؟له فکر دې ووځه!

( ملګرو نور به یوسف ته یغما وایو ځکه زید پوی شو هغه جنې ده نو ستاسو د آسانتیا لپاره په مکالمه کې به د یوسف لځایه یغما لیکو.)

یغما- ما نوره پریږده.. پریږده چې آرامه ساه واخلم.

او پرته له نور خبرو د دروازې لوري ته لاړم سلیم منډه را وکړه چې زید په یو سوک سره سلیم په ځمکه ووهې او دا ځل هغه زما پسې په منډه شو او ناری کړی: ودریږه یوس....

بیایې خبرې بندې کړې او ویې ویل: تاته وایم ودریږه...

په زړه کې وایم اه لعنت دې وي سلیمه، په تا لعنت دې وي.اوښکې مې پاکوم خدایه اوس چرته لاړ شم! ؟ سترګو می رضوان لټوه د زید موټر خواته ولاړ و خواته یې ځم او ورته ناری کوم چې هغه وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان- چرته وې لیونی ؟
یغما- هیچرته چکر مې وهو..!

زید ستړي تر موړ راورسیدی چې رضوان ورته وویل: په تا څه شوي ولې دې منډې کړې!

زید ماته را وکتل پرته له ځوابه لاړو په موټر کې کښیناستو موږ هم کښیناستو او موټر حرکت وکړو چې رضوان وویل: یوسفه ولې دې سترګې سرې دي؟ ته ښه یې؟

یغما- همممم ښه یم لږ سر مې درد کوي.
رضوان- ډاکترته لاړ شو؟
یغما- نه!

تر کوره هیچا نور خبرې ونه کړې، موټر ودریدو له دواړو نه زه ژر را ښکته شوم باید ودانۍ ته تللې وای، له زید څخه ډاریدمه..

فرشته خاله- سلام ښه راغلاست بچې.
یغما- سلام خاله جانې مننه تاسو هم ښه اوسئ
فرشته خاله- ښه شو چې را غلې تاسو ته په طمعه و ډوډۍ چمتو ده

په خندا مې سر پورته او ښکته کړو ټول د میز چار چاپیر را ټول شول،رحیم کاکا چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: زید زویه، کارونه څنګه دي؟ وادې خیسته هغه ځمکه؟

زید- هو پلار جانه کارونه یې پای ته رسیدلي دي!
رحیم کاکا- ډیر ښه.
فرشته خاله- د رضوان پلاره زما په نازولی فشار مه راوړه.
ِد فرشته خاله په خبری رحیم کاکا خاندی او وایې: سمه ده د رضوان موری.

رضوان د نیوکی په ډول وایې: موری خی زه دلته مولې یم خیر ده که زید ښایسته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رضوان په خبری ټولو وخندل خو زید مسکا هم ونکړه، خواره وخوړل شول د چای په طمعه نه شوم او خپل د کوټې په خوا مې ګامونه ټکني کړل....

کوټې ته د ننوتلو سره سم دروازه می بنده کړه، د ماخوستن لمونځ می وکړ جای نماز باندی د سجدی حالت می ونیوه او دومره می وژړل چی نور سترګو کې مې اوښکی پاتی نشوی! د ژړا په حال مې د خدای سره خبری شروع کړی.خدایه مګر زه ستا بنده نه یم زړه دی پر ما نه سوځیږی؟ بیا هم بی وار می وژړل!په خدای نور نسم کوی اته کلنی کی دی مور او پلار راته واخیستل بس نه و؟!

د عمه په منګلو کی دی واچولم بس نه و؟! شپې می په بد خوب پیل کولی بس نه وه؟! د نجیب مردار نظرونه بس نه و؟!نفس می بند شو او ژړا می زور واخیست!
خدایه مکوه !له ماسره داسی قسم تاب یی نلرم، دا ځل مړه کیګم مکوه داسی راسره نور زغملی نشم.تر سهار می وژړل، چیغی می ووهل، ځان می ووهه، خپل ویښتیان می وشکول، مور ته می غږ وکو او ومې ویل:موری راشه خپله لور دی وګوره سومره بیچاره ده!!

چیرته یی؟؟ موریــــــ پلاره راشه چی لور دی مړه کیږی پلاره ولی نه یی!؟ولی باید زه د کور سړی اوسم؟ پلاره زما اوړی ځومره توان لرم؟! قسم نسم کولې پلاره راشه او ما په غیږ کی ونیسه اړتیا لرم درته موری !!ستا محبت ته محتاجه یم!! نو ولی نه یاست؟؟؟!! خدایه!!! ولی غږ می نه آوری؟؟! ولی نګوری!؟ بیا می هم ژړا غږ پورته شو!

هیس سوک نه و چی مرسته وکړی راسره هیس سوک نه و چی ماته محبت او دلداری راکړی هیس سوک نه و چی پورته می کړی.بیا هم شپه وه تنهای وه او زه وم او بیا د ظالمې نړی زما یواځې توب راته په ګوته کړو،بیا هم پوهه شوم سوک نسته چی تکیه پری وکړم.او سومره کرکه لرم له دی پوهیدلو نه!!! خپل اوښکی می پاکی کړی او د کټ خوا ته می لاړم لاسونه می لړزیدل..

تریخ می وخندل لکه خپل تریخ ژوند پشان مې،خدایه!!! مننه حمله دی راولیږله شکر ګذاره دی یم مهربانی دی ده. لاسونه می کاږه شول خوله می زګ وکړل سترګی می

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادی حالت نه ووتل!په سختی می دوا وخوړه.نیم ساعت د مړ جسد غوندی پرته وم. له کاره پخو اولاسو سره،بی اختیاره اوښکی می د څڅیدو په حال زما تر غوږ ورسیدل او اخیره کې زما په نالې و ولیدل..!

شپه په ټوله بدبختی خلاصه شوه، په هینداره کی می ځانته وکتل رنګ می الوتی، و پړسیدلی سترګی پریشانه ویښتیان ،او په اخر کی وچی شونډی چی د وینو رنګ و.
سومره د مړو په شان شوی وم! لیونیانو غوندی می وخندل!! حمام می وکړو تور کالی می چی لومړی ځل اغوستی وا غوستل خولی می په ویښتیانو کی کیخوده کوم زنځیر چې د رضوان نه په پټه مې اخیستی په غاړه کړل، د خوشحالی تمثیل

می کو چی خاله فرشته او نور کورنی غړی راباندی پوه نشی، مانی خوا ته لاړم ټول ناست وه او سبا ناری خوړل په لوړ غږ مې وویل:سلام.....

ټولو په خوښی سره سلام جواب راکړو بغیر له زید څخه چی په ډوډی خوړلو بوخت و او بیخی راوه نه کتل، رضوان په خندا وویل:یوسف!!راځه دلته کینه !
موسکی کیږم او د رضوان څوکې خوا ته ځم او څنګ ته یې کینم.رضوان ماته ګوری او کرار وایی: یوسف! ولی سترګی دی سری دی ؟؟ولی پړسیدلی !؟

کرار جواب ورکوم: نه پوهیګم ! ماښام سم نه یم ویده شوی شاید همغه خاطر وی؟
زما په خبرو رضوان خپل سر بورته شکته کړو او په سبا ناری بوخت کیږی..ظریفه ترور زما سبا ناری راوړی لاس می اوږد کوم پتنوس تری اخلم او مننه کوم تری.
همدا چی غواړم ډوډی وخورم سترګی می په زید ولګیږد چی په مسخره نظر راګوری.......

یعنی زما او د رضوان خبری یې آوریدلې؟ خاوری دی په سر شه رضوان چې عزت دی ماته پاتې کړو دغه اوس پوښتنه وه چې ده وکړل؟ د سبا ناری وروسته ټول خپل په کارونو بوخت کیږی، زید او رضوان هم د همیشه پشان شرکت ته ځې رحیم کاکا مې نن ونه لیدو ضرور هغه وختی تللی وو؟ د باغ لاره مخ ته نیسم او د درختو به بلک کولو لګیا کیږم چمن اوبه کوم او د غرمه تر اذانه هملته ځان بوخت کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موبايل غږ پورته شو خپل دست کشي د لاسونو څخه باسم موبايل مې د جيب څخه راخلم د رضوان د نوم په ليدو خولې ته مې مسکا راځي، جواب ورکوم او وايم؛ سلام
رضوان- عليک سلام چيرته يې؟
يغما- باغ کې يم ولې کوم کار دی وو؟
رضوان- هو ورځه حمام وکړه خپل يو جوړه ښايسته جوړه کالي واغونده او زما کوټې ته راشه ربنتيا د شاه د لاری زما کوټې ته راشه سوک دی ونګوری.

په حيرانتيا وايم: ولې څه شوی؟
رضوان- افف څومره خبری کوی څه چې وايم همغه وکړه، او ژر خپل ځان را ورسه وه.

موبايل بنده وم او د ځان سره وايم، عجيبه ليونی خلک دی! خپل د کوټې خواته ځم حمام کوم او خپل نقره يې جامې اغوندم لږ عطر هم وهم، ويښتان مې وچوم او جامې مې تن ته کوم مانۍ ته ځم او د شا دروازی څخه ننوځم او مستقيم د رضوان کوټی ته ځان رسوم، دروازه وهم د رضوان غږ پورته کيږی: راځه.

کوټی ته ننوځم او د رضوان په ليدلو حيرانيږم د رضوان د خندا غږ پورته کيږی او وايي: هی څه دی ښکلی دی نده ليدلی؟
په ملنډې انداز وايم: ورک شه تور ماره فقط چې واده دی دومره دی په ځان ګوتی وهلې.
رضوان- ښه ډيری خبری پريږده وګوره څه مې راوړی؟
پلاستيک خلاصوی او د کاغذ په څير کوم څه بهر کوی، چې زه وايم:دا څه دی
رضوان- د چرګ کباب.
وريځې پورته اچوم او وايم: په کومه خوشحالی؟!
رضوان- همداسی زړه مې ورته شوی وه که نه يې خوری چې زه يې يواځې وخورم يوسف خانه!!

په هغه حال کې چې د رضوان د کټ په لور ځم په دروغي غوسې وايم: بد کوی چې يواځې يې خوری تور ماره..(دواړه خاندو او د ډوډی په خوړولو لګيا کيږو، څومره وږی وم چمن او بڼ کې دومره بوخته وم چې هير شوی مې وه د غرمې ډوډی وخورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- هی تور ماره ټول دی خپله زهر کړل خاوری دی په رنګ شه بس که نور.

رضوان په خندا وایی: ولی په غوسه کیږی لنډې واخله ټول ستا

موږ د خبرو په حال وو چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او، او زید په حیرانتیا موږ دواړو ته په کتو شو چې رضوان په ټوکو وویل: ستا برخه هم دی لنډې وخوړله

زید په جدی انداز وایی:مور وایی ښکته راشی ټول تاسو عالیجنابانو ته په تمه دی.

او ددی خبری په ویلو سره سم دروازه په کلکه بنده کوی، چې زه رضوان ته وایم: ده وویل ټول؟ مطلب څوک؟ بیا ټوله کورنی راټوله شوی،رضوان څوک راغلی؟

رضوان په شیطانی مسکا وایی: راځه ښکته لاړ شو خپله به یی وګوری.
څه چې پاتې ول په ډیر تلوار مې وخوړل چې رضوان وویل: موږ شوی
یغما- هو پخدای ډیر خوندور وه.

زما به خبری رضوان خاندی او موږ دواړه له زینو ښکته کیږو د هر قدم په ښکته ایښودلو د خندا غږ له صالون نه لا ډیر راځې،د ننوتلو سره سم می سترګی په یوه ډله خلکو او یو غټ کیک لګیږی،څلور کنجه کیک په تور او سپین رنګ،صالون یی څومره ښکلی سینګار کړی وه مګر خبره څه ده؟!دومره خلک ولی ټول شوی؟!

رضوان : چیرته یی؟
د رضوان غږ مې فکر لاهو کړو او کرار مې وویل: د کوم چا کلیزه ده؟

په هغه غږ کې چې خندا پکی څپې وهل رضوان راته یی وویل: همداسی خو ښکاری!
بد بد ورته ګورم او وایم:سړی غوندی خبری وکه شف شف نه شفتالو ووایه د کوم چا کلیزه ده؟
رضوان په خندا وایې : خپله دی پیدا کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان دا خبره کوی او د برق په چټکتیا راځخه لری کیږی،ترور او مریم ته مې پام کيږي په ورو ګامونو د هغوی په لور ځم او وایم: سلام ترور جانی!
ترور- علیکم زوی چیرته یی هیڅ زموږ احوال نه اخلې؟
په مسکا یی ځواب ورکوم: همدلته یم ترور جانی خو تاسو د 14 سپوږمی شوی يې
ترور خاندی او وایی: امان دی وی له تاسو ځوانانو هیڅ بند نه راځی.

یواځې په سر خوځولو او مسکا یی ځواب ورکوم او د مریم په لور ځم،د مریم په لیدلو حیرانیږم څومره ښکلی شوی وه له تور رنګ سره حتما د ټولو زړه وړی
کرار يي لور ته ګام اخلم او کرار ورته وایم: سلام خوری!!

نظر له نورو اړوی او ماته راګوری او وایې: علیکم السلام وروره ښه یی؟
په مسکا یی ځواب ورکوم: ستاسو په دعا...

لا می خبری خلاصی نه وی چی د چک چکو او اشپلاق غږونه په صالون کې خپاره شول مریم ته می وکتل لکه بت پر خپل ځای ولاړه وه آن پلک یی نه واهه او یواځې یی مخې ته کتل، د هغی نظر لوری نیسم او رسیږم زید ته په لیدو یې خوله مې خلاصه پاتی کیږی ظالم څومره ښکلی شوی لکه د مجلس سپوږمی مکمل یی تور اغوستی ول توره درېشي تور بوټان توره ګړی تور وینته او توری سترګې تور رنګ یی له سپین پوستکی سره عجب یورنګی کوله لکه چې دوی ټولو لاس یو کړی وه چې د مریم زړه ودروی مریم همداسی د زید په لیدلو غرقه وه زید چی په سترګو یی د چا پسی ګرځیده...! ټول د زید شاوخوا ته ټول شوی ول او ورته مبارکې یی ورکوله مریم په لوړ ګامونو زید خوا ته لاړه..

***

کیک پری کیږی او زه یواځې د یو کنج نه ټولو ته ګورم د چا په ولاړ کیدو می څنګ ته له لیدو لاس اخلم چې رضوان په خندا وایې: اوس پوهه شوی د چا کلیزه ده؟
په غوسی وایم: مړ شی رضوانه ولی دی له لومړی ونه ویل اوس ډالی له کومه کړم؟
رضوان- ښه نو یوسف جانه څه چې بدله لری ګله نلری حساب مو برابر شو او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړی زنځير ته اشاره کوی او وايی: اوس نو د چنار ګل بابا ځواب دی په خپله ورکړه رضوان دا خبره کوی او په لوړ غږ خاندی او د زيد خواته ورځی د هغه د تلو سره په زړه کې وايم: خاوری دی په سر شه تور ماره، ټول په خپل وار باندی زيد ته مبارکی وايي مريم د زيد خواته ولاړه وه او دواړو يو رنګ اغوستي ول ځومره هم له يو بل سره ښکلی ښکاريدل.!مريم خپل لاس اوږود کوی او په.لړزانده غږ وايی: کليزه دې مبارک آن.....ن شاء الله سل... ل کلن شی

زيد آن لاس نه ورکوی او په سوړ انداز وايی:مننه کوم مهربانی مو ده
مريم کرار خپل لاس موټې کړو او له يوې انجلی سره په خبرو شوه خو ټول پام يې زيد ته وه

آسما- يوسف لالا ته زيد لالا ته مبارکی نه ورکوی؟

راګرځم او تازه مې اسما ته پام کيږی ولې مې دا ټوله شېبه نه وه ليدلی؟ يو جوړه ژيړ رنګ کالې اغوستې وه ښايسته ښکاريده، يعنې ټول راغلی کسان په محفل کې ښايسته وه خو د هغوی په مينځ کې،رضوان، اسما،مريم يو خاص ښايست يې درلود او زيد خو د مقايسې وړ نه وو په ښايست کې.

په مسکا باندی جواب ورکوم: راځم اسما جانې.
اسما- راځه دواړه يو ځای ورته مبارکې ورکړو.

سر مې د سمه ده په توګه ښوره وم او د اسما سره يوځای د زيد خواته روانيږم، اسما د مريم خواته ځې او د هغې سره په خبرو او قيصو بوخته کيږی، زيد ماته بام کيږی او په خوله يې يو لويه مسکا راځې چې زه خپل ستونې صاف کوم او وايم: کليزه دی مبارک شه انشاءالله د سل کالو شې.

زيد کرار ککرار ځو قدم زما خواته رانږدی کيږی او په کراره لهجه داسی چې يواځې زه يې واورم وايې: عه عه يوسف خان ملګری داسې مبارکې ورکوی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تروش تندی وایم: نو څنګه ورکوی؟( بیا مریم ته په اشاره په طعنه وایم: د ځینی کسانو لاس نه نیسي شاید موږ د هغه شانتي مبارکي لایق نه یو؟ ( زید د مریم وړاندی کړی لاس خوشی پریخودلی وو هغه می ورته یاد کړو)

لا زما خبره خلاصه شوی نه وه چې به ناساپه حرکت کې زید زه غیږ کې ونیولم او په خندا یې وویل: خپل ځان د هغې سره مه مقایسه کوه، زما زړه، جسم، روح، غیره، لاسونه او هر څیز چې د روح او جسم سره مې تړاو لری د یو نفر دی او هغه یو نفر مریم نده !؟..

دا چنارګل بابا څه وایې؟ بلا دی دده د خبرو پسې شې، پر ما یې څه چې د چا مربوط دی، ولې یې زه په غیږ کې نیولی یم؟ اوس خو هغه پوهیږی چې زه جنی یم؟! زید خپل د خبرو د خلاصیدو وروسته زه خپل د غیږ څخه جلا کړم او ویې ویل: ملګری داسې مبارکې ورکوی.!

غوښتل مې یو داسې جواب ورکړم ترڅو دا خندا یې به خوله کې وچه شې خو تور مزاحم مار را ورسیدی او په لوړ غږ یې وویل: قدو جان هسی غوړ روغن داره مبارکي خو دی ورکړه.!

په مسخره توګه وایم: رضوان جان ځینې کارونه په خوښه یا نا خوښه توګه مجبور باید ویې کړی، کنه د بعضی کسانو حق دا دی چې خپل د ژوند څخه یې وباسې ډلیټ داسی نده زید خان؟!!

زما په خبرو د زید رنګ د غوسی څخه بدل شو او خپل غاښونه یې په کلکه یو پر بل وچیچل خو زما زړه یخ شو غشې مې په هدف لږیدلی وو، په زړه کې مې د ځان سره وویل: و دی خوړی ته بیا ما غیږ کې ونیسه چنارګل بابا د رضوان غږ پورته کیږی او وایې:

رضوان- څه وایې زه خو بیخی پوی نشوم؟
په مسکا باندی وایم: هیس.
رضوان- زه دا خبری پریږده دا ووایه زید ته دی څه ډالې اخیستې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان دا خبره کوی او مضره خاندی، ای فسادی خپل کار یې اخیره وکړو. په کراره ورته وایم: تا ورته څه اخیستی؟
رضوان د میز خواته چې د قیمتی ډالیو څخه ډک دی اشاره کوی او وایي: هغه وګوره یو برنډ او ښایسته ساعت.

ما د هغه ساعت پسې کتل چې زید وویل: اوس ستا د ډالي نوبت دی یوسف جان!
خپل ستوني صاف کوم او په کلکه وایم: اممم خبره داسې ده چې ستا ډالي زما کوټه کی ده بیا وروسته یې درته راوړم.

زما په خبر رضوان به لوړ غږ خاندی او وایي: ډاډمن یې چې ډالي کوټه کیده؟
یغما- بیخـــــی بیخـــــی زیات ډاډمن یم.

رضوان ریشخندی کول او زید خپل لاسونه د پتلون په جیب کی کیخودلی وه، او موږ دواړو ته یې بغیر د کوم خبری راکتل، نظر مې په مریم لګیږی زموږ څخه په لږ فاصله کې ولاړه وه او د زید په تماشا وه، د هغې پدی شانتې لسدو په زړه کې وایم: خاوری دی په سر شه مریم چې تا بیا ځان د زید به لیدو باندی ډوبه کړی، نه پوهیږم څومره د مریم د لیدو په حال کی وم چې زید په شیطنت باندی زما خواته سترګه ووهل او مریم ته یې وویل: مریم جانې ماته یو پیاله اوبه راوړی؟

د زید پدی خره د مریم رنګ یو دم و پریدی او په ماته ګوډه ژبه د ورختای یې وویل: ماته وایې؟
زید- هو دلته همدا یو مریم شتون لری،( بیا ماته یې مخ راوګرځه وو او په همغه شیطانه لهجه یې وویل: کنه یوسف جانه؟

مریم د ډیر خوشحالي له لاسه ورباندی لاره ورکه شوه، او به خلاصه خوله د خندا او خوشحالي وویل: په سترګو اوس یې درته راوړم.

او په منډه د آشپزخانې خواته لاړه ما او رضوان دواړو په حیرت زید خواته کتل چې د زید په خوله یو مضره خندا وه، رضوان په حیرت وویل: زید ته خپله یې؟ یا بدل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې؟ تا مريم ته"جان" وويل؟ او ورته و دی خندل؟ قيامت رانشي اوس؟!

مريم د باد په سرعت د يو پياله اوبو سره راغله، او ګيلاس يې زيد ته ورکو چې زيد ورته وويل: مننه.....

او زه د دروازی خواته ولاړم او نور مې دهغوی خبری وا نه وريدل، زيد څه پلان او هدف لری؟ د باغ خواته په يو څوکې کيناستم، آسمان نن شپه ولې دومره نيولې لګه زما د زړه پشان؟ جواب مې نه درلود خاموش شوم آسمان ته مې کتل چې د يو چا د پښو آواز مې تر غوږ شو د آواز پسی مې وکتل،.. زيد وو دوه پيالې چای او يو قاب کی لږ کيک په لاس زما خواته راروان وو د هغه په ليدو مې تندی تروش څو چې هغه په مسکا باندی وويل:

زيد- عه يوسف جان بغير د کيک خوړو را ووتلې مشکل نشته اوس دواړه يې يوځای خورو.

کيک او چای د څوکی څنګ ته به يز کيخودل او زما څنګ ته کينستې چې زه په تلوار پاسيدم او روان شوم چې د هغه په خبری ځای پر ځای و دره ولم، پداسې حال کې چې مخامخ درختې ته يې سترګې نيولی وه او د چای پياله يې لاس کی کلکه نيولی وه ويې ويل: مريم ښايسته شوی وه کنه يغما؟!

يغمـــا؟! د ډير وقت وروسته مې خپل نوم واوريدو ناشنا غوند وو راته، بيګانه ګې کوم د دی نوم سره، خاموشي ماته وم او وايم: مطلب دی ددی خبرو څخه څه دی؟ اصلا دا راته ووايه څه پلان لری؟
زيد د چای پياله په ميز کيږدی او په مسکا وايې: يغما هوښياره ده د يوسف په پرتله کنه؟ صحيح وايم؟( خپل څنګ څوکې ته اشاره کوی) کينه

په سل زړه نازړه او شک کينم چې هغه بيا وايې: د اول څخه مې ستا په انجلی توب شک درلود خو ډاډمن نه وم، د انجونو غږ، نازک لاسونه، جسم بدن دی حتا د خبرو انداز دی ټول د انجونو پشان وه خو فکر مې نکوی په دومره لږ عمر به دی و غواړی داسی کوم کار وکړی!؟( خاموش شو اسمان خواته يې سترګې ونيول او بيا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- خو خیر دا خبری اوس مهمه ندی، ماته کوم توپیر نکوی چې ته انجلۍ یې که هلک!
یواځې د انسان پشان به زما سره خبری کوی پوه شوی.!
یغما- مطلب؟
زید- مطلب ښکاره دی زه دی ناز او نخری نه اخلم هر خبره چې کوم بغیر د څه؟ چشې؟
ویلو څخه به یې منې. البته غلطه پوه نشې دا خبری ما درته غوښتل ډیر وقت مخکې وکړم
خو وقت او فرصت په لاس رانغلو نو فکر مه کوه چې ستا د راز پوهیدو لپاره داسی وایم.

په بیحده تروش تندی او کلکه لهجه وایم: هوی ورور چا ویلی چې زه ناز کوم؟ هغه هم پر
تا باندی؟
زما په خبرو دهغه لاسونه موټ کیږی او په غوسه ناکه لهجه وایې: اول خو زه دی ورور
نه یم دوهم دا چې ستا ناز د رضوان په سر چلیږی خو پر ما نه.

د هغه پدی خبره کنټرول مې له لاسه ورکړو او په لوړ غږ مې وویل: خپل ژبې ته پام
کوه! خپله پوهیږی څه وایې؟ رضوان زما د ورور پشان دی راته هغه ستا پشان خود
خواه او مغرور ندی، هغه خبر ندی چې زه هلک نه یم او د یو ورور پشان راته احترام
لری.

زید- که خبر شو ته هلک نه یې بیا څه؟ بیا هم آیا د یو ورور پشان ستا سره مینه کوی؟
یغما- د رښتیا په پوهیدو تاته کوم څه توپیر وکړو؟ کنه ویې نکړل! نو هغه ته هم کوم توپیر
نه کوی، او هو که ته دی خپله خوله بنده ونیسې هغه د کوم خوا خبریږی؟
:#شهاب
زید خپل لاسونه د تسلیم پشان پورته نیسې او وایې: بغیر له شکه زه کلک راز ساتونکې
یم.
یغما- خدای دی وکړی.
زید- دننه دی د نورو پشان زما خوله کې کیک رانکړو په تمه یم ( او کیک ته اشاره کوی
چې زه په غوسه ورته وایم: زور خو ندی نه یې درکوم، زړه مې نغوښتو و مې نکړو
اوس هم مجبوره نه یم.

زما په خبری هغه په لوړ غږ خاند او وایې: تخو نغواړی د مریم حالت خراب شی کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پدی خبره کړی ټول فکرونه مې صحيح ثابيتيږی او په مسخره لهجه ورته وايم: تر کومې اندازی ته رزيل کيدی شی؟ نه ګوری هغه بيچاره جنۍ د ډير مينې څخه ستا عبادت کوی، ړوند يې؟ ته حق نلری د هغې د احساساتو سره لوبې وکړی پوی شوی څه مې درته وويل؟

زيد- که زه ووايم زه د ډير مينې څخه د يو بل چا عبادت کوم څه؟

د هغه په خبره به حيرت و ته ګورم! يعنی داسی سوک شته چې د زيد زړه يې ځانته اخيستی ويې؟ نا امکان نلری؟ بی اختياره وايم: انشاءالله چې هغه کس دی ددری منه خاورو لاندی شی ترڅو تـ....

ناساپه احساس کوم چې غاښونه مې مات شول، خبره مې نيمه کې پری شول او د زيد خواته ګورم چې د غوسې څخه په سرو سترګو زما خواته راګوی او د ليونيانو پشان په چغو وايې: څه دی وويل؟ بيعقلې؟ ته يوځل بيا ووايه زه يې واورم؟!

بيحده ويريدلی وم کاش دا خبره مې نه وايې کړی کاش خوله مې ماته شوی وايې البته ماته هم شوه داسی ټک مې وخوړی، يعنی دومره ورسره مينه لری چې د هغی په اړه په يوه خبری زه يې وو هلم؟! په ويری باندی ورته وايم: ه.....ی...س...
زيد- يو ځل يواځې يو ځل بيا داسی خبره وکړی خپل د ځان څخه ګيله وکړه نه زما څخه( او به چغو وايې: پوه شوی؟

د ډير ويری څخه يواځې ورته سر ښوره وم، درنه خاموشی زموږ مينځ کې ښوره شوه هغه خبری نه کول او ما د تلو جرئت نه درلود د بت پشان ناسته وم چې هغه وويل: خپله دی وغوښتل که د انسان پشان کيک دی راکړی وايې نه دی وهل خوړل او نه هم د مريم شپه خراب کيدل.

هغه دا خبره وکړل او د مانې خواته روان شو پوهيدم چې زيد ټوکې نکوی او د ربښتيا د هغې بيچاره ګې شپه ورخراب کوی؟ نه نشم کولی پريږدم داسی کار وکړی په تلوار د هغه خواته ځم چې تراوسه د حرکت په حال کيدی، د لاس څخه يطنيسم چې دريږی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



راګوی په ورختا یې وایم: سمده هر څه چې ته وایې.

هغه خپل لاس زما د لاس څخه کش کوی او وایې: درته ویلی مې نه وه چې بر به ناز نکوی؟!
یغما- پخدای ناز نه وو یوائې...یوائې...یوائې...
زید- یوائې څه؟
یغما- هیس.
زید- اخیری ځل دی و اوسیږی بل ځل همغه کار کوم چې وایم یې.
( ژر ژر خپل سر ورته خوځه وم، د میز خواته ځو دواړه په څوکې بیرته کینو د کیک قاب په لاس کې راخلم قاشق کومه ده؟ لکه چې زما په خبره د ویلو څخه بغیر پوی شوی ویې چې ویې ویل: په لاس یې راکړه..

د کیک یو کوچنې برخه خپل په لاس جلا کوم او پداسې حال کې چې لاس مې په ښکاره باندی لړزیدو، شرمیدم په سل نه زړه د هغه او په زحمت کیک مې د هغه خولې کی کیخودو چې هغه سرګې پټې کړل او ویې ویل: امممم

چې ما په زړه کې وویل: مرررررک امممم زهر دی شه، په ستونې کیدی بند شه، ما لا ورته ښیرا ویې کول چې هغه سترګې خلاصې کړی او ویې ویل: څه دی وویل؟
یغما- ما؟ نه څه باید ووایم؟ نوش جان دی شه.

زید کومه خبره نکوی او زما پشان د کیک یو ټوټه راخلی او زما د خولې خواته یې نیسی په حیر ورته ګورم چې هغه وایې: څه ړدی ړدی راګوری ویخوره.
یغما- خپله یې خورم.
زید- خلاصه کړه خوله دی.
په غوسه ورته وایم: ومې ویل خپله یې خورم.

زید هیس نه وایې او راګوری ناساپه په هغه بل لاس یې زما خوله د څلور کلن ماشومانو پشان ونیول او کیک یې په زوره زما خوله کې تخته کړو او په خندا یې وویل: خوند یې وکړو..؟
یغما- مرګ یې خوند یې وکړو ټول مخ دی راته په کیک ولړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- راشه پاک یې کړم درته.

او بیا یې خپل په لاس زما خوله پاکه کړه او ویې ویل: دا دی پاک شو اوس کومه دی زما ډالې؟
په حیرت وایم: ډالې دی؟
زید- هو.

ځنګه وکړم چې بیا لیونی نشی؟ چوپتیا می اختیار کړه او ډیر په عاجزانه ډول می وکتل ورته شاید د تیږی په شان زړه یی راته وسوځیږی.

زما پداسې کتلو هغه وایې: ندی ده اخیستې؟
یغما- پخدای خبره نه ومه چې نن ستا کلیزه ده.کنه ضرور مې درته یو څه اخیستل هغه تور مار زما سره چل وکړو کنه ما درته اخیستل.
خاندی او وایې: توپیر نکوی په بدله کې یو بل څه راکړه.

په حیرانتیا می وویل:لکه څه؟
زید- د غاړی زنځیر دی.
یغما- چېشـــــــــــــــې؟(په غصه مې دوام ورکړو: فکر یی هم ونکړی.
زید- چیشې دی چی واوریدل.
یغما- سهار درته یو ښایسته ډالی اخلمه سمه ده ؟
زید- نه همدا غواړمه راکوی کنه؟

د هغه پدی ضد باندی په زړه کې وایم: د موټر د ټیر لاندی شې زیده اور واخلی زیده، جنازه دی راشه زیده، انشاءالله د نن شپې څخه تیر نشې زیده،ویده شې بیا رویښ نشې لخیره " ههههه دا یو دوه ښیرا وی ما وریسې کړل هسی عصاب یې راخراب کړو بخشه کوی"

په کراره ورته وایم: نه کیږی له دی زنځیر څخه تیر شې؟
په جدی لهجه یی وویل: نه همدا غواړم.
یغما- او ففففففف راشه وایخله ګدایګره وړی سترګی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خاندی او وایي:څه وکړم خوښ شوی می دی.

په غوسه باندی ورته ګورم او په زحمت باندی زنځير ختا کوم او به تروش تندی د هغه خواته نیسم او وایم: هوممم واخله.

زید خپل وربځي پورته کوی او وایي: همداسي یی واخلمه.ډالي همداسي څوک ورکوی؟
یغما- هو څه رنګه یی ورکوئ نو؟
زید- ته یې راته په غاړه کړه.

دهغه پدی خبره بیا مې خوله د حیرت څخه خلاصه پاتی شوه، نن شپه به ده څه شوی؟ په هوښ خو دی؟ بی اختیاره می لاس پورته کړو او په تندی می ورته کيښوده په حیرانتیا یی کتل راتهراو زه ورته وایم: تبه هم نلری چې اپلاتط ووایي؟!نو په څه دلیل فکر کوی چی زنځیر به زه درته په غاړه کوم؟!

په همغه حیرت باندی زید وایي:لاس مې نه رسیږی ژبه مه وه ژر یې راته په غاړه کړه.
یغما- که ونکړم؟
زید- بیا پو هیږې نو.!

د هغه پدی خبره د غوسی څخه تکه سره کیږم او په زړه کي بنه کنځل ورته کوم،په زړه مې زنځیر د هغه د لاسه څخه واخیستو چې هغه په خندا راوکتل چي جواب کی ما ورته بد بد وکتل او زنځیر مې ورته بند کړو.

یغما- هوممم وشو.
زید- افرین.

زنځیر یې لاس کی ونیو او په ځیر یی ورته وکتل چې ما وویل: که پو هیږدمه چی دومره دی خوښ شوی دی وختی مې درکوی.!

هغه جواب رانکړو خو ثاني په ځیر ،ځیر زنځیر ته وکتل او بیا پرته له کومی خبری له ځایه پاڅیدو او ویی ویل: هیر نکړي ته ماته هماغه یوسف یی.یوا‌ځي لږ ادب کولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت لری.

آیا دا ځما د پوښتنو ځوابونه ول؟ ولې یې غیږه کی ونیوله؟ځکه څه ورته یوسف ومه.ولې دا کارونه کوی ؟خپل په نظر ما ادب کوی؟ یو راحته نفس مې وویستو څه ښه ده جلی توب می په مخ نه راوړی.حتا په پټ راز می نه تهدید کوی.هر څومره چې مغرور او خود خواه دی بیا هم زه وربلندی باور کولی شم،همدا چی جلی نه یمه ورته یوه دنیا خبره ده.په ذهن می هر رنګه پوښتنې راتلل.

خدای دی لاس مات کړه چنارګل بابا بی وهلو دی ځما خوله راماته کړه.لاس خو ندی توره ده توره.کوټې خواته می ولاړمه له ځان سره می وویل: هوا ښه شوې خپل د وېښتانو غمه می وخورمه.نور نشمه کولی خولې په سر کړمه.پرته له زید نه نور چا ځما ویښتان نه وو لیدلی.وروسته له لمانځه نه د خوب نړي ته تللی ومه.چی د وحشت له دنیا نه کمه نه وه. سهار 7 بجی ول لمونځ قضا شوې وو مجبوره شومه قضایی می را وګرځه وو.

د تل په څیر سبا ناری لپاره ودانی ته ولاړمه.سبا ناری د رضوان په توکو مو وخوړل. نن جمعه وه او ټول په کور ول.رضوان ته می باید ویلي وایې؟! د رضوان د کوټې خواته ولاړمه او دروازه مې وټکول چې هغه وویل:راشه.

داخل شوم او ومې ویل:د وېښتانو ماشین لری رضوانه؟
زما په خبری هغه سر د موبایل څخه پورته کړو او په حیرانتیا یی وویل: د ویښتیانو د اتو کولو یا وچ کولو؟
په حیرانتیا مې وویل: خاوری دی په سر شه انجلی خو نه یی چی دا شیان لری.

زما په خبرو رضوان وخندل او خپل غږ یې د ښځو پشان کړو او ویې ویل: یوسف خانه جهیزیه( د ناوی کور) می مکمله ده.زما سره واده نکوی؟ دومره ښایسته انجلی یم زما د ښایست مثال به په دنیا کې پیدا نکړی.

د رضوان په خبرو خاندم او ورته وایم: ندی کوم ته د سکاره غوندی تور یې..
د دی خبری وروسته دواړه خاندو او زه ورته وایم: غواړم ویښتان می لنډ کمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوړ غږ یی وویل:ولی؟ته ښکاره کړه وپښتان دی ځه وګورم ما بیخي ندی لیدلی.
یغما- اړتیا نشته ته هر څه وګوری ووایه لری ماشین کنه؟
رضوان- نه لومړی وښایه راته ژر کوه.

لاس یې راوچول او خولی یی راته وویستلو او په حیرانتیا یی وویل: بی عقله ولی دی تر اوسه دا وینتان پټ کول ؟اوس یې هم کم کوی؟!
په غصه مې ورته وویل:رضوانه ډیر خبری مکوه لرې ماشین او کنه کار لرمه؟
رضوان- زما د ویښیتانو ماشین خراب شوې زید یی لری( بیا کرار وایې:نکیږې لنډ یی نکړی؟

یغما- نه ولاړ شه له زید څخه یې راته راوړه.
رضوان- نه راوړم.
یغما- نه راوړی؟
رضوان- نه
یغما- خپل خوښه دی ځمه ترور ته وایمه هیر شوې خو د ندی ؟

دا خبره کوم او کرار کرار د زینو خواته ځمه چې رضوان په غوسه وایې: یوسف خدای د ونه وهه چې ما ګوابنه ویې، ما یو ځل سګرټ ووهل او کنه تا بدبخته ولېدلم اوس مې نه ایله کوی...

یغما- وخت نلرمه ژر راوړه!
رضوان بد بد راوکتلو او د څو دقیقو وروسته ماشین په لاس زما خواته راغلو او لکه ماشوم پشان یې وویل: نکیږې لنډ یی نکړی.؟
یغما- ومی ویلی نه اوس دا واخله د استعمال طریقه یی راته وښایه.

رضوان زړه نا زړه د ماشین چل راته وښودو،ماشین مې واخیستو او خپلې کوټې خواته لاړمه.ماشین په لاس هینداری ته ولاړه یمه.د هینداری مقابل کس ته په لیدو می غم تازه شو.زړه می په خپل حال وسوځیدو او ومی ویل: ضرور قسمت همدا وو.
ماشین می روښانه کړو او اوښکی می بی واره روانی وو.ولی دا اوښکی خلاصون نه لری..؟! هر شپه د سیل په شان روانې یې .ولی نه وچیږی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېښتان مې لاس کې نیولي او لکه غنم له بیخ نه یې و هم، شاوخوا مې ماشین شوی ویښتان نیولي او زه په سرو سترګو هینداری ته ګورم، د بې ویښتانو کس کې غرق کېږمه بهتره ده ووایمه شوټا شوې کس په هینداره کې...

په لاس باندی هینداره لمس کوم او خاندم، د ژړا څخه په نیولي غږ په هینداره کې د ننه کس ته وایم: یغما تا په کومه نحس ورځ پښه ودی نړی ته کیخودل؟؟؟ خپل د ځان څخه بل کوم بدبخته دی لیدلی؟؟؟ لګیا وم ځان سره، خپل د تقدیر او خپل د خدای سره مې ګیلې او شکایتونه کول د 12 کالو د شکنجې او زجر پوښتنه مې ورڅخه کول چې ناساپه دروازه په کلکه خلاصیږی، زید ساه ساه وهلو باندی کوټې ته را داخل کیږی..

د هغه د حال څخه معلومیدو چې د مانې څخه تر دی ځای منډی وهلي، لاس یې د دروازی په بند پاتې بغیر له کومې خبر راګوری کرار وایې: څه کار دی وکړی خپل د ځان سره؟

نه پوهیږم ولی خو احساس کوم زما په لیدو د زید قدمونه ولړزیده، ولی باید داسی شی؟ ضرور زه غلطه پوه شوم؟! کرار کرار زما خواته راځي ولي لاسونه لړزیږی؟ په سل نه زړه زما د سر په پوستکې لاس کشه وی او وایې: ولې؟ یغما؟

نه پوهیږم څه ورته ووایم ورته ووایم د دی لپاره چې نه مې غوښتل ویښتان مې څوک وګوری؟ د دی لپاره چې نور خولې نشم په سر کولی ځکه؟! پداسې غږ چې کوښښ کوم عادی اوسیږی وایم: ډیر ویښتیان مې نه خوښیږی

زید کرار وایې: ندی خوښیږی؟

نه پوهیږم ولی نن زید دومره کرار او مهربانه دی؟ او زما سره مهربانی کوی؟ طوفان هم مګه آرامیږی؟ په خندا ورته وایم: هو خو.( خپل سر ته اشاره کوم او وایم: ښایسته ښکارم؟ ګنجې؟

هیس نه وایې تراوسه یې لاس زما په سر دی، د ختا کارو ماشومانو پشان ورته وایم: ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښکاری زید؟ نور هم بدرنګ شوم؟

بی حرکته ولاړ دی کرار د هینداری مخکې په څوکې کینې او خاموش کیږی، فکر کوم هغه هم زما پشان په فکرونو کې ډوب دی آرامه غږ یې آورم چې وایې: ویې وهه.
یغما- څه؟
زید- زما وینتیان.

حیرت مې کړی دومره حد چې مغز می د هیس کار دستور او فرمان نه راکوی، یعنې زید زما لپاره خپل وینتیان غواړی ووهې؟ مغز می راته وایې: خیال پلو مه وه ضرور یې زړه دربادی سوځیدلې! پدی فکر په تروش تندی ورته وایم: ضرورت نشته ماته زړه سواندی وکړی.
زید- ویې وهه.
یغما- نشم کولې.

خاندی داسی خندا چې د هر څه پشان ده خو د خندا پشان نه وایې: خپل د دی څنګه ووهل؟( دا ځل په کلکه وایې: ویې وهه.
یغما- د ښکلا څخه دی کم کیږی مریم زړه مات کیږی.

غمژن او زړه نیولې زما خواته راګوری او ویې: هغه ښکلا چې د یو نفر په نظر رانشې په څه درد خوری؟ نخوری؟!

څه وایې؟ یعنی امکان لری سوک زید وګوری او د ښکلا تعریف یې ونکړی؟ آیا داسی سوک هم شته چې د زید ښایست یې و زړه ته ننوځې نه؟؟ د ځان سره وایم: ضرور هغې د زید زړه مات کړی( مطلب مې هغه وه چې زید دهغې په سر زه وهلې وم) خپل ګوتې د هغه په وینتیانو کې وهم سومره نرم د کوم شامپو څخه استفاده کوی؟ څه فرق لری زه خو ګنجې یم شامپو څه وکړم؟ څو دقې وینیان اړوم را اړوم او بیا ماشین روښانه کوم او د هغه د تور او ښایسته وینتیانو په وهلو شروع کوم..

د څو دقو وروسته زید هم زما پشان ګنجې کیږی خاندم او لځان سره وایم د دی وروسته ورته د چرګ سر ناری وهم خو د حق څخه تیر نشو دا ښر د وینتیانو څخه بغیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدی ګنجې سر هم ښایسته او زړه راښکونکې وو البته د ورور له نظره، بدی فکر مې خاندم چې هغه خپل مخ زما خواته را تاو کوی او وایې:

زید- زما ګنجې سر خندا لری؟ چې ته خاندی؟
په خندا ورته وایم- سم د دی مافیا کسانو پشان شوی یې د چرک سر
هغه هم خاندی او وایې: چاته دی د چرګ سر وویل؟
ځانته او هغه ته اشاره کوم، هغه بغیر د کوم خبری را ګوری او وایې: که خبر وایې ستا د خندا سبب کیړی ډیر وخت مخکې مې وینتیان وهل.

په ده باندی نن څه شوی؟ ضرور احساساتې شوې دا چنارګل بابا نه د هغه وهلو او خبرو څخه یې او نه هم د دی مهربانې او نرم خوی څخه ما بیخې دا چنار ګل بابا سم ندی پیژندلی تراوسه.

زید- ویښتیان دی ددی لپاره کم کړل ترڅو خلک یې ونګوری؟
یغما- نه...
زما خبره یې پریکړل او ویې ویل: دروغ مه وایه
غټ نفس اخلم او وایم: خپله بهتره پوهیږی نو ولې پوښتنه کوی.

هغه څه ونه ویل او مخامخ هینداری ته په کتو شو، نن موږ دواړه زړه نیولی وو زه د تقدیر څخه خو نه پوهیږم زید د څه څخه خفه دی؟ خاموشې ماته وم او وایم: له کوم ځایه خبر شوی؟( مطلب مې دا چې زه خپل ویښیان وهم؟)
زید- دا مهمه ده ؟

ما ځواب ورنکړ، موږ دواړه غلی وو، او یواځې د ساعت ټک ټک اوریدل کیده، زړه مې عجیبه د ژړا آرمان کړی وو، هغه شی چې ما ډیر نفرت کاوه هغه زما په سر راغله،همیشه مې بدې راتله چې په ما څوک زړه وسوځوې.

خو اوس ټول ماته د په زړه سواندی نظر راګوری،حتا زید...کاش زما یو ورور وای، یو څوک چې ما پرې تکیه کولای شو، نه کیږې چې رضوان یا زید زما ورور وی؟؟کیږی؟ زه په ټیټ غږ زید ته مخاطب شوم او ومې ویل: زید کولی شې چې ورور په څیر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غېږه کې ونیسي،لکه اسماء په څېر یا رضوان په څېر....؟

له سترګو څخه مې د اوښکو څاڅکي وڅاڅیدل، زید چې په ژور فکر کې و، ورو یې سر پورته کړ، څوکۍ یې شاته کېښود او ودرېده.او په ارامه غږ یې وویل: د ورور بشان نه خو د یو مهربان دوست پشان، ته خپله هم خپل ځان لپاره یو سړی یی، ډیر سړی د دی وخت د نرانو څخه.

څومره دا جمله زما لپاره چې لځان څخه ورکه وم آرامه کونکې وه. ځان سره وایم چې کاش هېڅکله مجبوره شوی نه وایې چې ځان څخه نر جوړ کړم کاش ماهم یو مرسته کونکې او ملاتی لرلی، جینکو په شان مې نازونه غوښته، غوښتل مې له دی دنیا نه بې خبر اوسم..زید خپله غیره خلاصه کړه،او ماته یې اشاره وکړه! او ویې ویل: راځه چرګ سره

ما د اوښکو په منځ کې په لوړ غږ وخندل، زید زما په یو قدمې کې ولاړو وو،ګناه په غاړه اخلم او د هغه غېږ ته پناه وړم، کرار زما په شاګ لاس وهې زموږ د قد تفاوت زیاد وو شاید 30/25 سانتې زه د هغه تر اوږی رسیدم،زه آرام وم، لکه څنګه چې د له اوږو څخه مې یو درونډ وزن پورته شوی وی،ما خپل سر پورته کړ، یو ګام شاته ځم، او هغه خندا سره ما ته وکتل.

زید- راځه بهر ځو،
یغما- ونې ته اوبه ورکوم!
-زه عمران ته وایم هغه به اوبه ورکړی ته ژر تیار شه.

موږ بحث کاوه، چې رضوان راغلو،زموږ په لېدو وچ ودرېده،سترګې یې توپ په څېر شوی، زما او د زید په لېدو په لوړ غږ یې وخندل او ویې ویل:مرګ په تاسو دواړو څه شوي؟
زید په خندا وویل: ولی! ښایسته شوی یو!
رضوان- ها زیات ښایسته شوي یاست د ښایست مجسمو
یغما- خا نو تاته ولی بیا زور درکوی؟
رضوان ماته داسی بد بد ګوری چې زیده وایې: په هر حال، زه او یوسف بهر ځو، ته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورړ سره ځي؟
رضوان- چېرته ځی؟
زید- د کباب خوړلو لپاره.
رضوان- هو ولی نه ځم، صبر چې زه مې تیلیفون او بټوه راواخلم.

رضوان لاړو د هغه په تګ زید وویل: پټو لري؟
یغما- هو لرم ولې؟
زید- راوړه.
الماری څخه تور پټو راخلم،او زید طرف ته لاړم او وایم: دا دی واخله.
زید- راشه دلته.

د هغه په خبره مخامخ ورته ودریږم، زید پټو زما د سر څخه را تاو کوی لکه د عربانو په څېر او وایي: اوس ښه شوو،بهر خو همداسی نشی تللی.

زه د ښیښې مخې ته ودریدم، وقعاً ښه معلومیږی د ځان په لیدو په خندا وایم: لکه د فلم هلک شوم ولا کنه زید!
زید په خندا وویل: هو صیب.
د الماری په طرف ځم،د کالیو منځ څخه فولادی پټو راخلم، څه چې مې زیات لرلو همدغه خولې او پټوګان وو.

یغما- دا واخله ته هم وتړه!
زید خاندی او پټو اخلی پټو تاو کوی او ماته وایې: ښکلی شوم!
په خندا ورته وایم: بد نه یې.
زید- هو نو تاته خو رسیدلې نشم لنډۍ..
په جعلی غوسه کې ورته وایم: هووی چنار ګله، زه لنډۍنه یم، 168 سانتي چېرته لنډۍ وې هوم ؟

سترګې کږی کوم، چې زید په لوړ غږ خاندی او وایې: ولی خپل ځان داسی کوږ اوږ کوی؟راځه اوږده چې ناوخته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کور نه بهر کیږو،د کباب پخولو په طرف حرکت کوو، رستورانت چې خلاصه فضا درلود، ځینې خلک یوازې راتلل او ځینې کورنۍ یا ډلې راتلل، ټولو په حیرانتیا باندی ما او زید طرف ته کتل ،البته چې زیات یې زید طرف ته کتل، د ځوانانو یوه ډله رستورانت ته راننوتل کله چې دوی غوښتل تیر شي.دوی زموږ میز ترڅنګ ودریده،

چې یو له دوی رضوان څخه په حیرت پوښتنه وکړل: اوبخښئ دا عربان دی یا اورپایان؟؟؟
مخکی له دی چې رضوان جواب ورکړي،څنګ کې ملګري ولاړ وو وویل:
احسان: ستا عقل چیرته دی؟؟ د عربانو رنګ تور یا غنم رنګه وي،نو دا حتماً اروپایان دي!

ما او رضوان ډیر په سختي خپل ځانونه کنټرول کړی وو چی د بم په شان د خندا څخه منفجره نشو زید هم حیران حیران دوی طرف ته کتل،رضوان په داسي غږ سره چې خندا پکې څپی وهل وویل: ملګرو دا زما ورور زید دی،یعنی د افغانستان څخه دی.

هغوی حیران حیران کتل،ما او رضوان په خندا شو، زید چی خپل غږ صاف کړ او په خندا یې وویل: ستاسو د ټولو په لیدو خوشحاله شوم!
هغه هلک چې احسان نومیده وویل: بیشکه موږ هم خوشحاله شو زید جانه.

زید یوازې خپل سر وخوځاوه، هغوی لاړه زه او رضوان هم له خندانه تک سره شوي وو! زید پ جدي توګه ووېل:ولې څه شوی چی د بیزو په څېر تک سره شوی یې؟او موږ دواړو کنټرول له لاسه ورکړو او په لوړ غږ مو خندل، رضوان خواته ګورم وایم: په خدای د زید په وړاندی موږ د تور سکرو(زغال) په شان معلومیږو،هیڅوک زموږ طرف ته نه ګوری.

رضوان په خندا وایې:ربنتیا وایی مجبوره نور موږ د دغه( اشاره زید ته) یوسف د زمانې سره چیرته لاړ نشو کنه زموږ بازار خراب کوي !
د رضوان په خبره زید هم په آرامه خاندي او شونډو لاندي څه وایي خوو اوریدلي کیږي نه ګارسون ته غږ کوي، سفارشونه ورکوي او په تمه کینوو زید مخکي د څخه ډوډی جوس راغوښتي وه، د رضوان غږ پورته شوو او ویې ویل: یوسف افسوس پر ویینتیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی.. د وېښتانو سره داسي ښه ښکاره کېدی لکه شوخه جلی پخدای که ته جلی و اي ما به ضرور ځانته کولی( رضوان دا خبره کوی او په خندا کیږی

چې زه په زړه کې ورته وایم ای خاوري دي په سرشه دا ژبه دي هیڅ دریږي نه دی وېښتانو خبره د کوم ځای شوه؟ د رضوان په خبره جوس د زید په ستوني کي بند شوو او په ټوخي شروع وکړه،زید د ټوخي په حال کې په کلکه لهجه وویل: بد به وکړي چې ته یې ځانته کوی.. د خبرو کولو په چل هم نه پوهیږ. غټ سړی یی دا نو څنګه خبره ده..

رضوان د زید مشر ورور دی،خو هر وخت رضوان د زید د کشر ورور پشان خبه منې او یو بل مینځ کي راحته دي.

رضوان- ته ولی وحشې شوي چنارګل بابا ته وايي همدا اوس هغه ربښتیا جلی وی او زه یی ځانته کوم.؟؟
یغما- غلی شه تور ماره ته څه ربښتیا زه دي کوم خیال پلو مه ووهه.
د رضوان د خندا غږ پورته کیږي او وایې: ته جلی شه بیا وګوره ...!
د خبري د بدل کولو لپاره وایم: ای دا ډوډی څه وخت رسیږي
ګارسون ته غږ کوم: وروره نیم ساعت کیږي ناست یوو ډوډی رسیږي اوکنه؟

بیا هم د تور مار غږ پورته شو: یوسفه یو خوو ته هیڅ نه مړیږي
لور ته یی کاږه کاږه ګورم او ورته وایم: تا ته ولی زور درکوی ستا له جیب یې نخورم زیدی روپی ورکوي کنه زید جانه؟؟
زید چې تراوسه پوري آرامه وه او خبري نکولی په خندا باندی سر پورته او ښکته کوی او وایې: هغه خبرو ته غوږ مه نیسه دو هډوکي پاتی یی هرڅومره څه غواړي وخوره.

د څو شیبو روسته کباب یی راوړ په آرامه فضا کی خوړل کیږي،زید بیاهم چوپ دي نپوهیږم ولی ؟ډوډی خوړل کیږي ، دري واړه پورته کیږو مخکي دي تللوونه یوه کوچنی جلی په تیزي زموږ لور ته راغله په جګ غږی یې وویل: کاکا کاکا !

دري واړو ورته ګورو کوچني جلی طلایي وېښتان او سمندر په شانی غټي سترګي درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډو وهلو څخه ښکاره کېده ساه یې بنده بنده کېده یعنی ستړي وه، زید ته یې وویل:
کاکاجانه کولی شي داواخلی؟ ؟

لاس مخته کوي او یو ګل او کاغذ ورته نیسی،بیچاره زید زموږ خواته ګوري
جلی۔ خیر دی کاکاجانه دا واخله کنه خور می غوسه کیږي.

زید په خندای د هغه کوچني جنۍ مخکې په زنګانه کیني او ورته وایې: کاکا دی درنه
قــربان شې خور دي چیرته ده ؟ ؟

جلی یو لږي میز ته اشاره کوي او وایې: هغه ده کاکا جانه هغه جلی چې شنې سترګې او
سره کالی لري.

زید کوم میز ته چې جلی اشاره کړی وه ور وګوري او کوچني جلی د لاسه څخه نسئ او
وایې: راځه ورشو
ما او رضوان یواځي ورته کتل.
جلی د زید لاس نیسي او په خندا ورسره د میز خواته ځې، د هغږی تلو ته ګورم زید چې
هغه میز ته ورسیدو هغه د سروکالیو جلی پورته شوه، زید د کوچني جلی لاس پریږدي،
ګل او نامه د میز په سر کیدی نیو هېږم هغوی مینځ کي کومي خبری وشوي چې د جلی
رنګ ثانیه په ثانیه بدل کیده

رضوان ته مخ کوم او ورته وایم: څه نیکبخت د دی زید چې د ټولو پام ځان ته ګرځوي او
دومره غوښتونکی لري.
رضوان په خندا وایي: لیونیه دا نو ستا په نظر نیکمرغي او خوشحالي لري؟ هغه نه
پوښتنه وکړه بیچاره زړه یې د وینو ډک دي، زید د ځان ښودلو ښایسته هلک یم دا کارونه
نه خوښیږي.

یغما۔ عجبه ده! هغه درک کول هم مشکل کار دی؟
پام می نه وه زید خبري کله خلاصی شوي؟ زید زموږ لور ته راوان وه
رضوان په ریشخند ورته وویل: زید جانه د خاستګارانو او مرکو حساب دي درته معلوم
دی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید په کلکه لهجه ورته وویل: ایلاتې مه وایه رضوانه.
غږ می صاف کوم آرامه ورته وایم: څه یې درته ویل؟
زید- هیڅ شی.
یغما- اوووهی څومره ناز کوي ته ووایه په اندېښنی شوم !

زید هیس ونه ویل او د تلو لاره یې غوره کړل، دري واړه په آرامه زید موټر ته راوان شوو،رضوان ریشخندی کوي کله دستمال رانه کش کوی کله په اوږه باندی زما اوږه وهله، زید په غوسه ناکه لهجه ورته وایې: بس دی ماشومان خوو نه یاست انسان په یو دبل څخه لار شي.

خپل ځان زموږ مینځ کي ځای کوي یو ځای موږ سره روانیږي،رضوان په سترګو راته اشاره کوی زید باندی څه شوي؟ او زه مې اوږی پورته اچوم او د زید سره یوځای روانه کیږیم او وایم: هووی چنارګل بابا چیشته غوسه یی ؟
زید- نه یم غوسه.

په توکور ورته وایم: د وریندارې سره دی جنګ کړی؟
دي خبري سره می زید حرکت څخه دریږی او مخامخ راته مخ کوی او په کلکه لهجه وایې: وریندار‌ه دي څوک ده ؟
یغما- د خدای یوه بنده!
زید په غوسه وایي: یوسفه اعصاب راته مه خراپ کوه
یغما- ولی اوس ماڅه وویلې ؟
زید ژوره ساه اخلي بیا وایي: آخر ځل دی وی زما مخکي وریندار‌ه وایي
:#شهاب
حیرانه حیرانه ورته ورګورم دا انسان ولی په یو سور ندی !
یغما- ولی ؟ ستا ښځه خو زما وریندار‌ه کیږي( مخ رضوان ته کوم او وایم: کنه رضوانه؟
رضوان خپل سر راته خوځوي او وایي: رښتیا وایی ولی غوسه کیږي بیا دي زړه په چاباندی ډک دي؟ک

زید زما لور ته بد بد ګوري او په جګ ګامونو باندی موټر خواته ځي،خدایه بیا د ده پیریانان راغلل؟ ترکوره ،پوري هیچا خبری ونکړل، د هلیز ته ننوتلو فرشته ترور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما هلته وي رحيم کاکا نه وه هغه تاشکند ته تللی وه

فرشته ترور په خندای زموږ ښه راغلاست وکړو او ویې ویل: ښه راغلی راځي دلته کيني
آسما هم روسته فرشته ترور نه وايې: پخير راغلي.
آسما د زيد سر ته پام شو په حيرانتيا او لوړ غږ وايي: ولی دی ويښتان وهلي په خدای ځومره افسوس دی.

فرشته ترور هم فکر کيږی او وايې: د مور ګرانه دی فصل کيدی ولی ويښتان خراب کړي؟

خوشبختانه د هيچا ماته پام نشو ځکه زما ويښتان مخکي هم چاليدلی نه وه؟
زيد په آرامه غږ وويل: موری اورد شوي وه په تکليف وم وسره.
فرشته- ښه دی وکړل زويه هسې نظر کيدی.

آسما د زيد خواته ورغله دستمال يې د سر څخه لري کړو او ويې ويل: کاش پريښودی وي ښکه ورسره ښکلی ښکاره کيدی ..
زيد په خندا ورته وايي: خير ده خورجاني همداسی کل نياتی کيږم بيرته راځي ويښتيان مې...

بحث خلاصيږي خادم چای راوړي په چای ښښلو بوختيږو...
رضوان غږ کوي: يوسف هغه غاړکۍ دې راښکاره کړه انځور يې اخلم!
يغما- ولې؟
رضوان- د ځان لپاره هم همداسي جوړوم!
زيد لاس مخکی کړ او دکاليو له لاندې يې غاړکۍ را وييسته او رضوان ته يې وويل: دا اخلې رضوانه؟
رضوان د غاړکی د ليدلو سره سم په بالبنت باندې پرما يې ګزار وکړو..
يغما- هي؟ ولې ګزارکوې؟ووزې؟ ؟
رضوان- له مانه پټ د زيد سره ملګرتيا کوې انسان پلورنکيه!ولې دې غاړکۍ دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنارګل ته ورکړه؟ زمانه خو دې ښه په پټه اخیستې.

زید په جګ جګ آواز وخندل د غوسې په شان رضوان ته وایم: ټول ستا د لاسه دي که تا هغه شپه ډالې ډالې نه وای کړی زه به نه اړ کیدم چې غاړکی مې ورکړې وای
زید په خندا کې وایې: رضوان جانه کینه مه کوه هرومر زه ورته ډېر ګران یم.

ناساپه مخامخ وایم: دروغ وایې هیڅ یو مو راته ګران نه یاست.
رضوان وخندل او ویې ویل: ته څومره مخامخ ویونکی یې! یوسفه!
زید- زړه زړه ته لاره لری.(زید دا خبره وکړه او صالون یې پرېښودو)

ماهم د شپه په خیر ویلو سره خپل کوټې ته لاړم تیلیفون ته مې زنګ راغی نا پیژنده شماره وه په نه زړه مې جواب ورکړو:بلې!
وروسته له لږ چوپتیانه د یو چا غږ پورته شو: یغما.!!!!

ددې نوم په آوریدو مې بدن کې مې یخنۍ ونیولو لاسونو مې په لړزیدو پیل وکړو په لړزانده غږ مې وویل:ت...تاسو؟
-یغما موبایل مه بندوه سلیم یم هیله کوم غوږ شه.

باید ځان له لاسه ور نه کړم هغه هیڅ هم نه شي کولی کلک او جدي وایم: زما شماره دې له کومه کړه؟
سلیم- د رضوان د ملګري څخه مې واخیسته
یغما- څه وایې زر ووایه کار لرم.
سلیم- نه غواړې چې بیرته راشې؟ قسم کوم هر څه جوړه وم. یو چانس را کړه

په لوړ غږ وایم: ولې نه پوهیږې؟ زه نوره یغما نه یم په خدای چې نه یم هر څه بدلون کړی حتا احساس مې د ژوند څخه مې خوښه یم پریږده چې ژوند مې وکړم
سلیم- ولې د مور تیروتنې مې زه وګالم؟دومره بې انصافه یې؟

یغما- وګوره سلیمه تاته انجونی کمې نه دي زما شا پریږده.
موبایل بند کوم او څو دقیقې سترګې پټې نیسم نه پوهیږم په خیالۍ نړۍ کې څه وخت ډوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او خوب وړې وم...! د سهار د لمانځه په اذان وېښېږم لمونځ کوم او د بڼ په لور ځم، تر اوه بجو د ګلانو د بوټو په سمبالولو بوختيږم هوا روښانه کيږي د ځان سره وايم: شکر خلاصه شوه ..

د ودانۍ په لور ځم خو هيڅوک وېنښ نه وو يوازې فرښته خاله هلته ناسته وه.
يغما- سلام خاله جانې!
فرشته خاله چې د قرانکريم په تلاوت لګيا وه سر را پورته کوي په مسکانده ډول وايي:
عليکم سلام وېښه شوې بچې؟
يغما- هو خاله جانې رضوان او زيد چرته دي؟
فرشته خاله- ويده دي ورشه را وېښ يې کړه.
يغما- په سترګو

د زينو خواته په پورته کيدو ځان سره وايم: اوس کوم يو را وېښ کړم؟ د زيد د کوټې د زينو تر خوا وه او د رضوان خخه خو ګامه لرې.نو اول به چنارګل بابا را وېښ کړم ښه ده، په زينو پورته ځم چې د اسما غږ اورم په خپل ځای ودريږم.

اسما- وګوره مريم ځان مه بايله په ځان وژنه هيڅ هم نه سميږي( لږ چپ پاتې شول او بيا پيل کوی: زيد خو زموږ نه ته ښه پيژني د زور خبرې نه مني.

د مريم غږ مې نه اوريدو ځکه لود سپيکرې نه وې! اسما له لږ چوپتيا وروسته بيا وويل:
مريم جانې ولې نه پوهيږې؟ مينه په زور نه ده لالا مې څه ګناه لرې؟؟ ته دې په دغه کارونو هغې ته ډېر آزار ورکوې ايا همدا مينه ده؟؟؟

بيا هم لږ چوپتيا غوره کوي او په ستړي ډول وايي: افففف مريم ته يواځې خپلې خبرې کوې تاته ولې د نورو خبرې اړينې نه دي؟يواځې يوه خبره دې کلکه نيولې ده، چې زه مينه ورسره لرم..! لکچې دا بسنه کوي ...؟؟په دغه مينځ کې د زيد نظر څه کيږي. هاان؟؟؟

بيا چوپتيا غوره کوي، اسما ژوره ساه باسي او په نرم انداز وايي: مريم صدقه دې شم خورمې ژاړه مه هيڅ کمښت نه لرې! لوړې زده کړې دې کړې دي ښايسته يې د هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اړینه داده چې ښه کورنۍ لري، ځانته او نورو ته آزار مه ورکوه کیدای شي قسمت مو همدا وي هیله کوم!

د اسما غږ نور نه آورم په سوچ کې غرقیږم هر څوک ستونزه لري خو ډول ډول.
د مریم ستونزه اودرد یې هیڅ دی که همداسي نه ده؟ًاو یا هم کیدای شي مینه مې نه وي تجربه کړې او یا هم دهغه درد زما د درد او غم څخه لوړ وي؟ په هرحال د خلکو کورنۍ موضوع ګانی ما پوری اړه نلري.

زید هم حق لري زور نه دی مجبور نه دی چې په ځور دغه پیوستون ته غاړی کیږدی.
ورو ورو د زید د خوني خواته ځم ور خلاصوم،لومړۍ خپل سر دننه کوم او هرخوا ګورم ،نه ښه ده امن شته دی څوک نشته! زید ویده دی او په لاس کې یې یو څه د انځور په ډول دي؟! ولې یې خونه د لوګي څخه ډکه ده سترګې مې سګریټو په نیمه سوو ټوټو ولګېدې ای په رنګ دې خاورې واوړه کم عقله ولې سګریټ وهې؟ افسوس دې په ځوانۍ..

پوزه مې نیسم او د خوني کړکۍ خوشي کوم د زید د تخت خواته ورځم لکه د د درې کلن یا څلورکلنو ماشومانو په څیر ویده و، ورو ورو وایم: زید پاسیږه لماسپښین شوی دی.

غږ یې ونه کړو شیطان راته وسوسه وکړه په سوچ کې شوم.مرۍ مې تازه کوم او په زوره غږ کوم: زیییییییده پااااسیییږه.
زما په چغو بیچاره یو ټوپ کوي او ماته ګوري.
د هغه پړی شانتې پاسیدو زه په خندا وایم: ودې خوږه لکه انسان داسې خو نه را ویښیږې...

انځور ته مې پام کیږي او په تیزي د انځور په لوري ځم په خندا وایم: وریندار ده چنارګله؟ مخکې له دې چې انځور وګورم د زخمي زمري په څیر راباندي حمله کوي او له متې نه مې نیسی په عصبی غږ وایي: چا درته وویل چې زما کوټې ته راشه؟ ما درته نه وه ویلي چې وریندار وریندار مه وایه بیعقله؟

د لاس زور یې زیاتوی مخ مې له درد نه غونج کیږي او په کرا غږ وایم: لاس دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوشکوه وحشی خوشی مي کړه
زید- په کوم حق زما شخصی شیانو کي ګوتي وهي؟( په سترګو یی هغه انځور ته اشاره کوی او په غوسه یی رانه اخلی)
په لوړ غږ وایم: وخوړل شو؟ وړي ګدایګره بنه کوم بیا یی هم وایم وریندار........وریندار صحی شو..؟!

لاس می په هغه حد کلک نیسی چی فکر کوم هډوکي يي مات شول
غابنونه یو پر بل چیچې او په غوسه يي وویل: یو ځل بیا ووایه؟

وډاریدم او په کرا غږ کلمه په کلمه مي وويل: و ر ی ن د ا ر... " هههه وويريدل بيا هم وايې دا د ضددد یغما"

په سرو سترګو راګوری خپل ازاد لاس د ځپیري په نیت پورته کوي چي زه می سترګي پټوم، ځپیري ته په تمه کیږم چي په نه باور لاس مي خوشي کوي
او پر ځای یی ما لکه سپک ځیز له کوټې نه بهر اچوي، تر څو چی په خود راتللم له کوټې نه می بیرون تشریف درلوده او ور یی په کلکه بنده کړه،د ور د ویشتلو سره سم د کوم ځیز د ماتیدلو غږ راځي چي د زید له غږ سره یوځای وه ورخطا مي ور خلاصه کړله سترګي مي په زید لګیږی چي په ځمکي ناست دی او د لاس نه یی وینی بهیږي...!

په لوړ غږ وایی: بهر ووځه
په ډار ډار یي خواته ورځم او کرار وایم: د لاس نه دي ويني بهيږي؟!
د ملنډو په ډول خاندي او وایې: زړه دي وسوځیده ها یغما؟ ( په لاس کی کینګل کوي او وینه يي له لاسونو بهيږي تقريبا یی خواته منډه کوم او هغه شیشه په لاس کی کینګل کوي او راته خاندي لاسونه ته يي لاس اچوم او وایم: روانی خوښي يي که لاس نه دی ويني بهيږي.

زید فقط کتل په سختی می ورته لاس خلاص کړو،لعنتی ځومره یی ژور پري کړي وارخطا وم نه پوهیدم څه وکړم هر وخت مي چي وینه لیدله بی حاله کیدلم

د رضوان په چغه د ور په لوري مي وکتل: زیددددد

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید بی له کومی خبری خپل سر د تخت په اړخ کیښود، خداي دي وکړي چي فرشته ترور نه وي خبره شوي.رضوان زموږ په لوري منډه کړه او په وارخطايي يي وويل: څه شوي؟ يوسفه هله منډه کړه د اوليه مرستي صندوق راوړه

ښکته مي منډه کړه بی له دی چی فرشته ترور ته خبر ورکړم صندوق مي پيدا که او کرار پورته لاړم، که فرشته ترور خبره شوي واي هرومرو يي فشار پورته کيدو
ځان مي د زيد کوټي ته ورسوه او پانسمانونه مي رضوان خواته ونيول او ومی ويل:دا دي واخله.

رضوان صندوق واخيسته او د ويني په پاکولو بوخت شو،د زيد خواته کينم اوس يی هم تخت ته تکيه کړي او سترګي يي پټي دي رضوان په اندیښنی وويل: ليونيه! څومره دي ژور پري کړي بيا ولی وحشي شوي يي؟

زيد خپلی سترګی خلاصوي او ماته ګوري رنګ يي لکه ګچ سپین شوي وه جوړ لاس يي نيسم او په ژړغوني غږ وايم: ښه يي؟
لاس مي کلک نيسي او کرار خپل سر زما پر اوږو کيږدي

رضوان- زيد پورته شه چی ډاکټر ته لاړ شو ډير ژور پري شوي وينه يي نه ودريږي کيدای شي کوک وخوري..؟!
د رضوان خبره تاييد کوم او زيد ته په کټلو وايم: ريښتيا وايي پورته شه چی لاړ شو وګوره څومره وينه تري بهيدلي..؟!

هيڅ څه يي ونه ويل چې زه رضوان خواته مخ اړوم او وايم: ورشه ظريفي ترور ته ووايه چي راشي کوټه پاکه کړي زه زيد ښکته بيايم.

رضوان سر د سمده په نيت ښوروی او د ور په لور ځی، چې زه ورته غږ کوم او وايم: ګوره فرشته ترور خبره نشي د شا ور څخه يی درولم.

رضوان بيا سر وښوره ويې او ولاړی، زيد ته په کټلو وايم: هله پورته شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی پاتی کیږي ځان سره وایم ضعف یی نه وي کړي؟ اوږه یی ښوروم او ناری ورته وهم: زید ښه یې؟ خبری وکړه.
سر یي زما پر اوږې سم کړ او لاس یي راته کلک ونیوه،پوه شوم چي ضعف یي ندي کړي خو که همداسي کینو حتما ضعف کوي کرار وایم: بیا یی نه وایم سمده اوس نو پورته شه چی لاړ شو.

خپل سر پورته کوی او په ځیر ځیر راته ګوری چې زه په تلوار وایم: په قران که نور ورته ووایم اوس پاسیږه( مطلب د نه ویل همغه ورسندار لفظ..)

زید خپل سپین وچې شونډی وخوځه ول او کرار یې وویل: وعده کوی چې نور نه وایې؟
په تاور سر خوځه وم او وایم: وعده ده.

پاسیږم او زید د لاس څخه نیسم په سل زور او زحمت باندی پاسیږی، لاس یې په دسمال کلک تړم، او کرار د زینو خواته زم د شا له دروازی وځو ترڅو فرشته خاله زید په داسي حال ونګوری، د رضوان د موټر خواته روانیږو شکر فرشته خاله خبره نشوه.

رضوان موټر کې ناست وو د شا دروازه خلاصه وم او زید بیا خپله کینم چې رضوان مخ راګرځه ویې او وایې: زید وروره‌مې قربان دی شم ښه یې؟ د کمزورتیا احیاسا خو نه کوی؟
زید- ښه یم رضوان حرکت وکړه.

رضوان موبایل راخلې او یو چاته زنګ وهې او وایې: ستانکزی ته ووایه رضوان د زید سره راځې لاس یې ډیر پری شوی ..... هو څو دقو کې در رسیږو.

خپل پام د رضوان څخه اخلم او زید ته ګورم، لاس مې ورنه کلک نیولې خو تراوسه وینه بند کیږی نه، هغه خپل سر د موټکړ په سیټ تکیه کړی او سترګې پټې دی. کرار ورته وایم: زید دلته کیږده سر دی (او خپل اوږی ته اشاره کوم څو دقې بی خبری راګوری بیا سر ښکته کوی او زما پر اوږه یې کیږدی، تر شفخانې یو هم خبری نه کو، فکرونو کې ډوبه کیږم، ولې تر دی حده په غوسه شو؟ بیچاره زید د ګچ پشان سپین شوی شونډی یې وچ کلکې شویچ لږ وینه خو یې له لاسه ورنکړه، شفخانې ته رسیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو کوټې خواته ځو زموږ د داخليدو سره سم ډاکټر پاسيدو او د رضوان خواته راغلو زه زيد د کټ خواته وړم، زيد مې په کټ وځمله وو چې ډاکټر وويل: سلام خيرت خو دی؟

رضوان غټ نفس اخلي او وايي: خپله خو يې ګوری د لاس څخه يې ډيره وينه تللی ده.

زه په خلاصه خوله دوی دواړو ته مې غوږ نيولی؟؟؟ ( هغه ځکه چې دا ناول فارسی دی او ملګرو ډاکټر او رضوان پښتو خبری کوی خو موږ ټول پښتو ژباړلی کنه فکر وکړی فارسی ژبه کی ناساپه پښتو..!؟) ډاکټر د رضوان په خبرو سر وخوځه وو او د زيد د لاس په ليدو شو، او بيا په افسوس يې وويل: هلکه ډير دی ژور وهلې!

ډاکټر يو سيروم د زيد په لاس کې وهې او شروع کوی د هغه د لاس په پانسمان کولو باندی، بايد داسې ووايم د هغه د لاس په ګنډلو باندی، تل د داسی ضحنو په ليدو مې حال خراب کيدو مخ ګرځه وم او د رضوان خواته ځم وايم: ښومره ښايسته دی پښتو خبری کول له کوم ځای دی پښتو زده کړی؟

رضوان د زيد څخه نظر اخلي او ماته په خندا وايي: د پلار لخوا پښتانه يو...!؟ زما پلار دوه قوم څخه دی مطلب زما د پلار مور تاجيکه او پلار يې پښتون وو.

په حيرت باندی ورګورم نو ولې زه تراوسه نه وم پوه شوی؟ زما د حيرت به ليد  رضوان خاندی او وايي: زما د نيکه د وفات وروسته زموږ کورنې کې په پښتو باندی خبری کول کرار کرار ورک شو، زما پلار زما انا يعنی خپل مور ډيره ورباندی ګرانه وه نوو ځکه خپل د مور لهجه کوی البته پښتو زموږ ټول کورنی زده ده، خو کور کی ټول فارسی خبری کو.

زيد خواته اشاره کوم او وايم: هغه هم پښتو زده؟
رضوان کرار خاندی او وايي: زموږ ټولو مينځ کې زيد ښايسته پښتو لهجه کوی سم د اصل پښتانو رقم.

د رضوان د خبرو وروسته ځان سره وايم: ښه نو ښه دا د ښايست سر چينه چې د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورني کیده دا اصل کې د دوی د نیکه څخه ورته پاتې! خپله رحیم کاکا پدی عمر باندی تراوسه د ښایست نښې نښاني په څهره کې معلومیږی، نو مطلب ویلی شو دا د پښتون د قوم ذاتی ښایست دی اوس چې بل قوم هم یوځای شوی دوه متفاوت نسلونه خرابات یې کړی" هههه بخشه کوی خو د ربښتیا هم خرابات دی"

د رضوان غږ زه د فکرونو څخه وویستم: ته پېښتو خبری کولی شی؟
یغما- ای داسی کم او زیات خبری کولې شم.
د ډاکټر په غږ زموږ خبری خلاصیږی: زید خانه اوس سنګه یې؟

زید په خندا او سر ښوره ولو، ځواب ورکوی، د زید لاس څلور کوکه خوړلی دی، یو ساعت شفخانه کې وو ترڅو د زید د لاس سیروم خلاص شې رضوان لاړو او جوس یې ورته راوړو خو هغه ونخوړو، بیخی خبری نکول لکه چې ګونګې شوې وو؟ رضوان د زید اوږه ونیول او تر موټره یې ویوړو بیا موږ شاته څوکې مې کیناستو

او رضوان موټر وانې کول په کراره غږ رضوان ته وایم: رضوان فرشتې خاله ته څه ووایو؟
رضوان- نه پوهیږم ولای مجبور ستا کوټې ته یطیو څو کنه ادی داسی وګوری فشار یې آسمان ته پورته کیږی، داسی د جنازی په شان.
یغما- اممم شه خبره کوی.

جوس د زید خولې ته نږدی کوم او وایم: واخله لږ وڅکه.
بیا هم هیس یې ونه ویل چنارګل لیونی ژبه خو دی نده پری کړی چې خبری نکوی؟ بیا جوس خولې ته یې نږدی کوم او وایم: ستونې دی وچ شوی لږ وڅکه.

د لږ کتو وروسته سر ښکته کوی او ټول جوس نوش جان کوی، رضوان د موټر د هینداری څخه زید ته کتل او ویې ویل: زید ولې خبری نکوی؟ څه شوی؟ یا چا درته څه ویلې؟ وروروې؟
زید په وچ غږ وویل: نه ستړی یم.

زید دباندی په کتو و چې پر اوږه یې وهم او وایم: زید؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر یې زما خوا راوګرځه وو او ویې ویل: ها؟
یغما- یو شئ په پښتو ژبه ووایه.
په بې حوصله انداز وایې: حوصله نلرم.
یغما- رضوان ته ورته ووایه.

رضوان خاندی او په شیطنت باندی وایې: زید جانه یو ترنم خو وکړه.
زید لږ چپ پاتې کیږي.چې زه په عاجزی سره وایم: هیله کوم..

زید ځو دقیقې زما سترګوته کتل او په چټکی سره یې سر وا ړولو او بهر ته ګوري..!
لږ چپ کیږي او خپل مری تازه کوي او وایي:

ربه داسې لیونې شوم
په یو خیال باندې میېن شوم
زه ډوبیږم سمندر کې
په یو لعل باندې میېن شوم!!

خوله مې خلاصه پاتې وه احمق څه یو ښایسته غږ لري! د ځان سره وایم خدایه! ډیر بې انصافه یې یوه بنده ته دې هر څه ورکوې او نور له هر څه محروم کوې!

د رضوان غږ مې واورید چې ویې ویل: څنګه وه یوسفه زمزمه؟ ؟
یغما- ډېر ښایسته وه ..!
زید ته مې پام ور اوړي چې ګورم په خیالونو کې ډوب دی اوستړی هم دی.
تر وادنی پورې زموږ یو بل سره خبرې نه کیږي.د زید غږ مې همداسې په غوږونو کې مې پاتې و او ګډیدو.! نه پوهیږم څه وخت کورته ورسیدو رضوان موټر یو څه لرې ودرولو او ویې ویل:

رضوان- یوسفه ته زید درسره بوځه زه مور خواته ځم او بیا د خوراکي موادو سره درځم تاسو هم د باغ له لوري لاړ شی!
زید ته مې مخ کړ ومې ویل: تللی شی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر خوروي او حرکت کوی زه زید پسي وم نه پوهیږم سنګه وغورځېده هیڅ پوهه نشوم ورمنډه مي کړه او ومي ویل: خاوری د په رنګ شه زید خو انسان غوندي وو ایه چي نشم تلی ولی د څوارلس کلنو انجونو غوندي ناز کوی غټ سړی یی نور بوډا کیږي او نازونه د نه خلاصیږی! لاس یی ګورم ښه وه ژوبل شوي نه وه.
ژوبل شوي خو به نه یی؟

دا چنارګل راته ولی داسی ګوری؟ کرار وایي: نه.

په زحمت یی پورته کوم ښه و کوټه باغ ته نژدی وه دروازه خلاصوم او خوني ته دننه کیږم ښه وه خونه مي منظمه وه تخت د زید لپاره خالي کوم او د تخت په سر پری وځی او د ښي لاس سنګل په سترګو ایږدی چي زه وایم: سر خو دی ګرځي نه؟
سر ښکته او پورته کوي چي بیا وایم: ویده نشی درته سوپ پخوم هغه وخوره او بیا ویده شه.

د پخلنځي په لور روانیږم ښه وو یخچال کي بعضی شیان ول. وروسته له شل دقیقو سوپ تیاریږي پتنوس اخلم او خوني ته دننه کیږم او وایم: ویده یی؟
زید- نه
یغما- ښه ده.
د تخت په سر کینم او پتنوس د زید مخ ته کیدم او وایم: وخوره
په ځای کی کیني او پتنوس په لور ګوری چي بیا وایم: خوړلی یی شی؟

زما په خبره زید خپل سر د نه په معنا ښوره وی، تازه مي فکر کیږي چي ښي لاس یی ژوبل کړی پتنوس د میز په سر کیدم او لوښي لاس کي اخلم د زید په لوري ځم او تر څنګ یی کینم او وایم: حال دی سنګه ده؟؟
په ارامي سره وایي: ښه یم.

د سوپ قاشقه یی خولی ته وړاندی کوم: هه واخله.
د ماشومانو په څیر یی خوله خلاصوله او سوپ یی خوړه
خندا مي راغله او وایم: زید بیخي د ماشومانو په څیر یی هسی دی قد اوږد شوی ولاا..
زید ورځي پورته کوي او وایي: سنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- هسې ډوډۍ د وخوره.
زید د سوپ د خوړولو وروسته ویده کیږی.

***

د باغ په لور ځم څو ورځي شوي وي چي صحي او پوره اصلاح مي نه وه کړی کار مي تقریباً دری ساعته ونیول،زړه کي مي تیریږي چي زید به ویخ شوي نه وی؟ کار پریږدم او د کوټې په لور ځم کرار دننه کیږم چي ویخ نشی،د خونی دروازه کراره خلاصوم ګورم چي لا ویده دی،لستوني یی بډ وهلی وو،کیڼ لاس یی د سر لاندي او ښي لاس یی په خپو ایښي وو،د کیڼ لاس ځنګل ته یی متوجه کیږم شکاری شوي وو لکه دپیشو د پنجو شکاری.

ور د زید خواته ځم او کرار خپل لاس د هغه په ځنګل کشه وم چي د زید تندی تروش کیږی، زما فکر هغه ته ندی او د هغه خوږ لاس ته ګورم، ضرور کله چي غورځیدلی داسي شوی رواني تل ځان ته زیان رسوی د زید کټ ته نږدی په څوکې کینم. او د ملت عشق کتاب په ویلو بوختیږم د وخت د تیریدو په فکر کی نه وم
د دروازی غږ د دی سبب شو چي نظر د کتاب څخه واخلم، رضوان کرار وویل:

رضوان- یوسفه یی؟؟
د دهلیز په لور ځم او وایم: هو یمه راشه
رضوان دننه راځی او ورسره خوراکي مواد او ځیګر یی راوړي ول کرار یې وویل: زید سنګه ده؟
یغما- بد ندی ویده شوي.
په فکر کی ډوب شو او کرار یې وویل: ډیر وخت شوي وو چي داسي نه لیونتوب یې نه کو.

په حیرنتیا سره وایم: یعني مخکی هم داسي شوی وه؟
رضوان- زید په نورماله توګه بنه ندی کله چي غوسه کیږي نو داسی کیږی کنترول له لاسه ورکوی خو ډیر وخت شوي وه چي داسي غوسه شوي نه وه، اخر ځل یی پنځه کاله مخکی وو هغه هم د مریم د جرګی له امله....

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقريباً يو ساعت مو د زيد اړوند خبري وکړي رضوان زيد ته اندیښمن وه...
رضوان- يوسفه زه بايد لاړ شم پلار مې زنګ وهلی وو بايد شرکت ته ځان ورسوم!
ته خو زيد ته متوجه يې نو؟!
سر مي ښکته پورته کوم او په اطمينان سره وايم زړه: زړه دی بيغمه ورور جانه!
رضوان مننه کوي او ځی..

د کوټې په لور ځم چیرته چي اوس زيد ځان ته ځای خوښ کړی، ګورم چي ويخ شوي او که نه! دروازه ورو خلاصوم اه سومره دروند خوب ته تللی کم او زيات درې نيم ساعته شول! نه چي څه پرې شوي وی! ورو يې ښنګ ته ورځم او ورته غږ کوم:
زيد...!

ويخ نشو او بيا ځلي غږ کوم: زيد پاخيږه بايد يو څه وخوری!

ددی خوب سنګه دروند ده بيا غږ کوم:زيد (په لاس يې خوروم سترګی يې خلاصوي او زه وايم: ويخ شوی؟
سترګی ځبيخی او پورته کيږی
يغما- لاس خو به دي درد نکوی؟
زيد- نه ښه دی.
يغما- ډوډی خوری؟
زيد- وږي نه يم.

د پخلنځي په لور ځم ځيګر مي ورته پوخ کړ يو ګيلاس د منې اوبه چي مخکي مي ورته خکلی وی په پتنوس کي مي کيښودل او د خوني په لور مي روانيږم، زيد اوس هم د تخت په سر ناست وو او بهر يې کتل زما شتون ته يې فکر شو او ويې ويل: وادي نه وريدل ومي ويل وږي شوي نه يم.

ما پتنوس د هغه ښنګ ته په ميز کېښوده، او ومې ويل: رضوان ويل، چې بايد وخوری، چې رنګ دی بېرته خپل ځاي ته راشي.هغه بېچاره،درته په اندېښمن دی!
په رشخند وايي:فقط رضوان زما په اړه اندیښمن دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يغما- که خاله هم تاسو په دی حالت کې ووينې،هغه به هم اندېښمنه شي!
زيد- او ته څنګه؟ يواځی رضوان او خپلې خاله په خاطر زما خدمت کوئ هوم؟

زه د هغه څنګ ته کېناستم، دسترخوان خپلو پښو باندې هوار کړم، ډوډی او کړايې ورته مخکی کېدم او وايم: زيد ته ښه يې؟ ته ولې د ماشومانو په څېر خبرې کوئ، معلومداره ده چې په اندېښنه کې يم!

ګوله راخلم او د هغه د خولې خواته يې وړم او وايم:واخله وخوره شپې ته باېد کور ته لاړ شې چې خاله به حتماً اندېښمنه وي! ستا پدی جنازی شکل رنګ بيچاره خاله باندی د زړه حمله راځې که و دی ګوری.

د څو ثانيو وروسته زما نيولې ګوله خوله کې کوی، او زه پرلپسی څو ګولې ورکوم او زيد زما په ليدلو کې غرق دی! نه پوهېږم ولې دا ليونی داسی راګوری؟! بيخی سترګی پټه وی لا نه.داسی نه چې زما دی وژلو پلان جوړوی..!؟

ځان سره وايم: وای وژل هغه هم د زيد د لاسه څومره به دردونکي وي! خدايه، ما سره مرسته وکړئ، خدايه، زه يو نيمګړی خوبونه لرم!  په دی سوچ  مې خندل، لېونی دومره ظالم نه دی، وګوره بې وزله، خپله د جسد په څېر شوی! خواړه يې پای ته رسيږي،د منو جوس ورته ورکړم،چې هغه يې په يو ساه وڅکل!

د ژبی لاندی يو شئ وايې خو زه يې نه آورم! دسترخوان په پتنوس کې کيدم،او د پخلنځي په لور ځم، ځان سره وايم: پخدای دا هلک پاک ليونی شوئ،افسوس په دی ځوانیخپل ځانته چای کيدم، چټل (مردار)(ناولی)لوښي منځم،او پخلنځي راپاک کوم، اوبه جوش شوي او د هيل داره چای چمتو کوم،له پيالي سره  زيد پسی لاړه شم په صوفه کې ورته مخامخ کېنم، تر څو چای دم شي.

زيد- ولې هلته ناسته يې دلته راشه زه هم چای څکم.
يغما- چای ستا لپاره ښه نه دی،چې ټوله انرژي به درته وسوځوي!
زه خپله پيالە ډک کړم او يو څه وڅښم،
زيد- فقط زما قصه کې يې راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته يې څه پريده چې مړ شې رواني چنار ګل، په دی حال کې، زه په شيطانت وايم،

يغما- زيد خان شرط لرم!
زيد په حيرانتيا ماته ګوري او وايي: ووايه!
خپل ستونی صاف کوم او په مظلومانه ورته وايم: ته ما ته زمزمه کوئ؟
هغه هم په حيرانی راګوري او وايي:نه په بدل کې راته بيا څه رسيږي!
چای ته اشاره کوم او وايم: هيل داره چای چې په خپلو جادويي لاسونو،هممم
ځومره خوندور دی، چې مه کوه پوښتنه!
:#شهاب
زيد ورو وخندل او ويې ويل: سمه ده، لومړی ته راشه دلته کينه!
خپل څنګ ته اشاره کوئ زه د بريا په موسکا سره پاڅيږم،
ترموز او پياله ويسم او مېز په سر يی کيدم او وايم:صبر چې پياله درته راوړم.
لا قدم مې هم نه وو ايښی، چې زما لاس کش کړ ،او په څنګ کې وغورځيدم...

يغما- اې د چرګ سره، بيا څه وشو؟ځم چې پياله درته راوړم، ترموز په سر خو نه ځکل کيږي او يا که ته يې ځکی؟؟

زيد زما پياله اخلی او يو غړپ کوی او وايي: ضرور نه دی همدا يو دانه هم بسنه کوي،بي له هغه هم په لاس کې نشم نيولي.

پياله زما طرف ته نيسی.چې په حرانتيا ورته ګورم او وايم: سومره ته بی سترګو بی حيا يی زه د چا په خوله وهل شوی پيالې څخه چای نه ځکم.

زما پدی خبره زيد بيا د غوسی څخه سور کيږی، او زه وويردم چي هسی نه داځل د پيالي لځايه زما مغزی رامات نکړی، زيد کرار وويل: يعنی زما په خوله وهلو ستا پياله مرداره شوه؟

تلوار کوم ددی څخه مخکې چي ليونی شې پياله يی د لاس څخه اخلم او ځکم يې او وايم: نه ولې مردار شي توکې مې کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په کار او خبرو زيد پوهاوي وخندل خو څه يې ونه ويل چې ما ورته وويل: ښه اوس زمزمه وکړه البته پښتو سندره!
زيد منتظر راګوري چې زه وايم: داسي مه راګوره تا خپله وويل زمزمه کوی.
زيد خپل سر خوځه ويې او يو ژوره ساه اخلي او وايي:

ستا د سترګو بلا واخلمه جانانه زما وه
د زړه قراره راشه مهربانه زما

ستا د سترګو بلا واخلمه جانانه زما
وه د زړه قراره راشه مهربانه زما

جانانه راشه په خندا شه
جانانه راشه په خندا شه

توله وفاشه چي پوره مى شي سوالونه وه جانانه زما
وه زړه قرار راشه مهربانه زما

جانانه ستا په جدايى کي
لکه مجنون سربه زنګون ژړا کومه وه جانانه زما
وه د زړه قراره راشه مهربانه زما

داسي په غږ کې ډوبه شوي وم هيڅ پوه نشوم څه وخت سندره خلاصه شوه، ولی دومره غږ کی درد وه؟ داسي سندره ويلی چې انسان فکر ورته وکړي غږ يی د حنجره څخه نه بلکي د زړه څخه راوځي، زيد په زير زير ماته کتل خپل ځانته راغلم او چک چکي می ورته ووهل او ومي ويل: واه واه خدای ته وګوره دا غږ دی پټولو دي هوم !

خپل سرلاندی اچوي هيڅ نه وايي، نيو هېږم دي ورځو کي په کوم دليل باندی دومره پريشانه خاموش دي!؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرار ورته وایم: زید کوم مشکل لري ماتي ووايه لکه يو دوست، اصلا ته ولې هغه خبری سره دومره ماته غوسه شوي؟وګوره په غوسه کیدو هیڅ شی نه جوړ کيږي
کولی شوردواړه لکه دوه عاقله او پوه نفرانو پشان يو بل سره خبري وکړو يا رضوان ته ووایه دا رقم حرکات دي بی دليله نه دي!

مخکي لدی چي زید جواب راکړي زما د تلفن غږ پورته شوو...؟

ای خاوري دي په سر شه، بی وخته مزاحم ، لږ پاتی وه د زید نه خبري اوباسم !
شمیره می ولیدله وډاره شوم خو اول ځل په شان نه..! شمیري ته می کتل دوه لارو کي پاتي شوم جواب ورکم یا نه ؟

زید جدی وويل: څوک دی ؟
زړه نا زړه می ورته وويل: سليم
زما په خبره په لوړ غږ يي وويل: بلندګو وهه(لاوډسپیکر)

څو دقي حیران پریشان ودریدمه او بیا مي لوډسپیکر ووهه جواب مي ورکړو.
سليم- يغما جانی اوري ګراني؟ بنه يی؟ هغه بل واری زما خبري خلاصی شوي نه وي، ولی دی بند که مبایل؟
تیزه می ورته وويل: څه وايي؟ څه غواړی؟

سليم- دومره رانه بيزاره يی؟
يغما- وخت نلرم بند کوم.
تيز وايي: راځه منطقي فکر وکړو خيرده زما خبروته سم غوږ ونيسه.
يغما- اورم.
سليم- تر آخر عمره پوری همداسی غواړي ژوند وکړي؟ دیته فکر دی کری که يو ورځ دربانډي هغوی پوی شي څه به وايي درته؟ فکر کوي تابه قبوله کړي؟ یا به لکه يو بې ارزښته شي پشان د باندي به دی واچوی؟ ؟

د سليم خبري لکه تيرو پشان زما په زړه او روح لړيدی،خو هغه نه خاموشه کیدو او ويل يې: آيا فکر دی کړی هغه فلم هلک( مطلب زید) نيو هيږی ته جلی يی ؟؟باور وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ځانونه ناکاره اچولی ته څه کوم فکر ورته کوي ډیر تیز، هوښیار دي......
لږ چوپتیا نه روسته ادامه ورکوي:مانه غفلت وشو سمده قبوله می ده ! خو بیا هم پوهیږي آخره عمري پوري درته انتظار کوم! مینه می یوه ورځ دوه ورځي نده ! لس کاله کیږي په تمه دي یم یغما لس کاله پوهیږي ته نپوهیدی زما میئنه دی درک کولی نشوه کوچني وی بی پروا وي سمده زما او ستا د عمر ډیر توپیر دی خو باور وکه بغیر له تا زه نشم کولی ژوند....

هره شپه به یوازي ستا دی لیدلو په آرامان کورته درتلم یوازي په دي آرامان ستا غږ واورم د لري نه پام مي درته وه ترڅو مور می درد درنکړی خو بیا هم غافله شوم بیا می هم خپله سزا تر یو حده ولیده،غرور می مات شوو کله می هغه شان ولیدی (یعنی هلک )فکر کوي ماته اسانه وه؟

سلیم خاموشه کیږی او څومره پدی ورځو کي ما د خاموشي د کلمې څخه بد راغلی!؟ د لږ چوپتیا وروسته سلیم بیا وايي: که ته یی ومني او زما سره راشي لري ځای ته ځوو ،یواځي ته او زه ، ته کولی شي تحصیلاتو ته دي ادامه هم ورکړي...

زید موبایل رانه واخیستو او په غوسه یی ورته وویل: سلیم یی؟ هر څوک چې یی! تا بد کړي چې غافل شوي وي. اوس هم ناوخته ده یغما دلته خوشحاله ده نور ونه وګورم ورته مزاحمت وکړی پوی شوی؟!( پوی شوی خبره په غوسه ناکه او لوړ غږ وایېک چې د سلیم غږ هم پورته کیږی: تا پوری هیس اړه نلري ځان څخه د شلمبو مچ مه جوړه وه، یغما ځانته کورني لري، کوم خیالونه په سر لري وباسه دا فکر مه کوه چې پیسه دار یې او د خلکو په قول باندي جذابه او ښکلی یی کولی شی یغما دي خپله کړي؟( سلیم خاندی او وایې:

سلیم- ګوره؟ یغما لکه نورو انجونو پیسی پرسته، او بت پرسته نده حتا درته ګوري هم نه زړه دی بیغمه کړه د فلم هلکه..( سلیم خاندی او بیا وایې: ماتیږي لکه ښیښه ماتیږي هغه وخت بیا نه جوړیږي؟ اوس هم وخت شته زړه یغما ته مه ورکوه لکه نوم پشان یغما کې ډوب کیږي...

د سلیم په خبرو خوله مي د حیرت څخه خلاصه پاتی شوه،دا لیونی احمق څه وايي؟ ؟ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري زيد پوري څه آره لري؟ په آرامه کيناستلم مي بنه ونه بلل او موبايل مى د زيد د لاس څخه واخيست او ومي ويل: روسته خبري کوو.

په زړه کي وايم خاوري دي په رنګ شه سليم خير خو دی راونرسيدو يواځي شر او جنجالونه دی رارسيږی، داسی وايي لکه چي زيد هم دده منحوس پشان دی،داسي خبري ورته کوي احمق! موبايل بند کوم زيد خواته ګورم رنګ يې سور شوی، خپل زخمي لاس ته زور ورکوی، داسي کلک زور ورکوي چي سپين لاسونه يي په سور رنګ بدليږي، او همداسی ادامه ورکوله حتما د زخم کوکونه يې شکيدل..؟!

خپل په يو لاس د زيد لاس نيسم او کوښښ کوم کرار يي کړم او ورته وايم: زيد هغه سليم...(د زيد په نارو او چغو خوله مي بنده شوله په غوسه وايې: نوم يې مه اخله !!

د هغه په داسي چغو حيرانه پاتی شوم،رضوان هم نشته اوس څنکه وکړم!؟ کوښښ کوم کرار يي کړم او ورته وايم: سمده نه يې اخلم آرامه اوسه.
په دواړو لاسونو د هغه لاس نيسم کوښښ کوم ګوتي ورته خلاصی کړم چيرته خلاصيږي هغه ګوتي داسي کلکي نيولی دی، کرار ورته وايم: ګوره هغه بد کړي ته يی جدی مه نيسه هغه فکر کوي هر څوک ليونی هغه په شان دي سمده آرامه اوسه !

بيا هم خپل لاس ته زور ورکوي لکه کوڼ چي وي او زما خبري نه آوری، دا ځلی که وينه ورڅخه لاړشي ژوندي نه پاتی کيږي زما زورونه بی ګټي وه اخير ورته په غوسه وايم: پخدای زيده دا ځل لاس دی وينه وکړی، کور پريږدم او ځم! ماشوم خوو نه يی غټ سړی يی ولی ضد کوي!

نيو هيږم ولی داخبره می ژبه ته راغله فکر می وکړو شايد لږ ورته ارزښت ولرم !
زما په خبرو د هغه د لاس زور کم شوو آرامه يی لاس خلاص کړ، بانسمان کي وينه ليدل کيده بايد ورته بدله کړم، به غوسه ورته وايم: کله چي مريض يی ، رواني يی ولی داکتر ته نه ځی..؟

په الماری کي می پانسمان درلود، الماری څخه پانسمان راخلم او رواني خواته راوانيږم،په غوسه باندی لاس ځان خواته راکش کوم او وايم: لاس دی راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید حیران راته ګوري، نه پوهیږم ولې زه دومره غوسه شوې وم؟ زخم مې ورنه د سر نه پانسمان کړو خپل د لاس څنګله یې هم زخمې کړی وه، په غوسه ورته وایم: ګوره دا هم زخمې شوی تا سره تل باید یو څوک وي تر څو ستا څخه ساتنه وکړي.؟

هیڅ نه وایي یوائې لکه ګونګیانو راګوري،مرحم (بټ نوټ د ملحم نامه وه) د بیک څخه راخلم د زید چپ لاس په احتیاط باندی نیسم او هغه ځایونه چې زخمې شوي ورته غوړه وم

زید- له ماغوسه یی ؟
جواب نه ورکوم چې هغه بیا وایې: یغما ؟
خپل د په اوریدو تندی مې تروش کیږی او وایم: یوسف یم.
زید- هغه ته( مطلب سلیم ته) یغما یی ماته یوسف یی هان ؟

د زید پدی خبره ځان سره وایم: توبه خدایه دی د ربښتیا لیونی شوی سلیم ربښتیا وایی باید د دي ځایه لاړه شم؟! کرار ورته وایم: لاړشه نور خپل کوټې ته هوا تیاره شوي.

زما په خبره زید په ریشخند خاندی او وایې:ځم.... ځم ....
دا خبره کوی او زما د موبایل خواته ځې زما موبایل خپل جیب کی اچوی؟ په حیرت ورته ګورم زما تلفن سره څه کار لري؟ ورپسی غږ کوم او وایم: اووی زما مبایل چیرته وړي؟

په همغه مسخره لهجه وایي: څنګه بیا دی زړه دی هغه بدقواره بدرنګ سره خبري وکړي؟

د زید پدی خبره په حیرت ورګوم! دا اوس څه وایی؟ بد قواره بدرنګ؟ سلیم ته توهین کوي؟ اصلا سلیم مهم نده ولی یو انسان ته باید توهین وکړي! خپله ښایسته دی داسي خو نه کیږی چې ټول دی ښایسته وي؟ دی شایسته دی ځانته دی حق نلری نورو ته سپکاوی وکړی، په څه شي مغروره دی ؟ خپل په قواری یا پیسو باندی؟
سلیم خبري مې مغزو کی پورته ښکته کیږی، زید حق نلري یو چاته سپکاوی وکړي په لوړ غږ ورته وایم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- بد قواره؟ په کوم ځای دی نازیږي زیده ؟ لوړ قد باندي؟یا تورو سترګو؟
یا قلمي پوزه ؟یا سپین والي باندي؟یا ثروت باندي؟ په کومو یو یې داسې مغرور یې؟ که دا ښایست ستا قیمت ویې نو په یوه روپی لا نه ارزي..

زید په تروش تندي او ترلی وریځو راته ګوري، ځوک یی په قیصه کیدی زه هیڅ ورته نه د ده څخه ځان ورک شوي او زما په سر بورته شو بووو...

زید- بده درباندي ولږیده؟ یا شاید...
د زید خبره و رپری کوم او وایم: زما موبایل راکړه ستا ندی رضوان راکړي.
زید خاندی او وایي: زه په یوه روپی نه ارزم ؟هغه ارزي؟ نو خبره شه ډیر خلک شته چې زما عبادت کوی د ډیر مینې څخه...

د زید پدی خبره په پسخند ورته وایم: پوهیږی ولی؟ ځکه کره (معیار) د عبادت یی ستا ښیره( ښایست ) ده یا هم ستا شتمنی چې دواړه یی د وخت په تیریدو له منځه ځیر خو اصل مینه او عبادت باید ددی ځای څخه ویې( خپل زړه ته اشاره کوم.)

زما د خبرو خلاصیدو وروسته زید موبایل زما خوا ته راچوی اوخپله ځی،بیا کوم لیونتوب ونکړي؟ خپل جواب خپله ورکوم ماته یې څه؟ که د عصابو تکلیف لري علی اباد ته دی لاړشی وی....

کوټه منظمه کوم او ویده کیږم،یوه هفته کیږي زید می لیدلی ندی رضوان سره هم سمي خبري نکوم،سلیم خبرو ته می فکر کوه رښتیا وایی آخره پوري نکیږیګ دا راز پټ وساتم. ژوره ساه می واخیسته داسي فکرونه له ذهن نه باسم،رضوان سره باید خبري وکړم نکیږی یو دم لارشم !

کالی می بدل کوم ویښتانو باندي لاس وهم ویښتیان مې اوس لږ رسیدلی د ستمال سر څخه راتاو کوم او د مانی خواته ځم، نن شپه ترور مریم هم راغلی ده ځکه رحیم کاکا د تاشکند څخه بیرته راغلی وه،خدای وکړي زید د بیچاره مریم سره سمي خبري وکړي! زړه نا زړه دهلیز ته ځم او وایم: سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول په خندا جواب راکوي څم د رحیم کاکا ته لاس ورکوم جوړ پخیر ورسره کوم او وایم:
پخیر راغلی کاکا جانه ...
رحیم کاکا- ژوندي اوسي یوسف جانه ښنګه یی ؟
یغما- مننه کوم کاکا جانه ستاسو د برکت ښه یم تاسو ښنګه یاست ؟

رحیم کاکا- ژوندی اوسي زویه.

د مریم مور دي فرشته ترور ښنګ کې ناسته وه هغې ته هم وایم: سلام ترور جانی
زما په غږ هغې په مسکا راوکتل او ویې ویل: علیکم سلام ښه یم زویه ته ښنګه یی
یغما- مننه ښه یم!

خبري می وسره بندي کړي مریم خواته ورغلم د آسما سره په کیسه کولو لګیا وه زما په
لیدو اسما وویل:سلام یوسف لالا
یغما- علیکم السلام
مریم- سلام وروره ښه یی؟
یغما- علیکم خورې مننه ښه یم ته ښنګه یی؟
مریم- مننه

هغوی یواځې پرېږدم او د یو کوچ په سر کېنم، دا مریم ښومره ښکلی شوی ورځ په
ورځ ښکلی کیږی په رښتیا چې ښکلی او با حیا نجلی ده افسوس یی!!( ګران وجدان مې
بحث ته داخل کیږی!یغما چاته بی انصاف وایی؟؛ لکه چې خپله ډیره با انصافه یی!!نو
سلیم څه؟! هغه هم 10 کاله ستا انتظار وکړ نو د هغی فرق له مریم سره په څه شو!؟ خپل
وجدان ته وایم:ډیر فرق لری مریم مېنه ده او زید هم پوهیږي او بل ځکه چې زما له
جنس نه ده زړه می ورته سوځیږی...

مګر زه د سلیم په مینه باور نلرم او د مریم په ښېړ په پیسو هم نه یم مېنه !اووو ځان ته
دې په دی خبرو دوکه مه ورکوه دواړه په یوه کښتي کې یی نشی کولی هر وقت چې
وغواړی زید قضاوت کړی که داسی وی اول دې ځان محاکمه کړه وروسته هغه !!ولی
می دی خبری ته فکر نه وه شوې چې مینه په زوره نه کېږي زه لا خپل د وجدان او فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په جنجال وم چې د رضوان غږ پر خود کړم:!)

رضوان- سلام یوسف خانه.
یغما- علیکم السلام
رضوان: چیرته ورک وی؟
یغما- همدی خوا کې یو.

رضوان راځی او زما څنګ ته کیني چې ورته وایم: زید څنګه ده؟
رضوان- ښه ندی بهانې کوی خدای دې وکړی چی نن شپه بیا ګلان ونه کړي.
ډوډی تیاریږی خو زید تر اوسه کور ته ندی راغلی،په ارامی ډوډی خوړل کیږی میز تول کیږی او د چای تیاری نیول کیږی،رحیم کاکا شیږنې او ځینې ډالی له تاشکند نه راوړی وی د چای د څښلو وخت کی وو چې زید راغی او ټولو ته یی سلام ورکړه رحیم کاکا ته غیږه ورکړه او یو سه یې وویل چې خبریما وا نه وریدل..

ترور د زید په لیدلو خوشحاله کیږی او ښکل کوی یی،د زید او رضوان بختورې ده تول خلک ترور لری او زه هم ترور لرم دا ترور چیری او زما ترور چیری...! بیا هم د ترور د نوم په راوړلو می د زړه داغ تازه شو زید د مریم خوا ته ولاړ او سلام یی وکړ

چې زه رضوان ته وایم: رضوان د مریم پلار څه کار کوې؟
رضوان- معماری شرکت لری.
چنارګل زموږ خواته راغی او زما او د رضوان تر منځ کیناست .رضوان په اعتراضی ډول وویل: اووو سړیه نور ځای قحط وه چی راغلی دلته کښیناستې؟
زید- خوند یی په همدی دی کنه یوسف خانه؟

هیڅ می ونه ویل او واتن مې زیات کړو، ټول بوخت ول او زه هم د مریم په لیدلو بوخته وم ولی دا نجلی دومره مینه ده؟ولی د زید په لیدلو هرڅه له یاده وباسی؟
خپل موقیعت له یاده وباسی خلک هیروی؟! یعنی مینه داسی یو څه ده؟ په رښتیا مریم زید لکه بت عبادت کوی ؟

د زید په غږ د هغه خواته ګورم:د بت عبادت لیدل لری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زید پدی خبره ورته وایم: کاش چی ستا پر ځای یی خدای عبادت کوه هرومرو کرامت ته رسیدله..
زما په خبری زید خاندی او وایې: ولی دی دومره زړه ډک دی؟
یغما- تاته اړه نلری.
زید- د سړی پشان غږیږه حوصله نلرم.
بغیر له ځواب ورکولو پورته کیږم او رضوان ته وایم: یو څو دقیقی راشه کار لرم درسره.

رضوان پورته کیږی او زید راته بد بد ګوری د چمن په لور ځم او په چوکی کیږنم
او وایم: رضوان زه باید لاړه شم؟
په حیرانتیا وایی: چیرته؟
یغما- دنده مې پیدا کړیی
رضوان- تنخا ( معاش ) دی کم دی ډیروم یی درته! نور ووایه؟!

یغما- نه ستونزه دا نده هلته مې یو خپلوان دې.
رضوان- یوسف تړکی کوی؟
یوسف- نه جدی یم یواځې می غوښتل ته خبر اوسی.
رضوان- چا درته څه ویلې؟
یغما- نه ولی راته څوک څه ووایی!
رضوان- تللی نشی.

رضوان دا خبره وکړل او مخکی له دی چی زه ځواب ورکړم د دهلیز ته لاړو، زه ورپسی ورځم د زید ترڅنګ کینی زید یی غوږ کی کوم څه وایی او رضوان یی لنډ ځواب ورکوی، د رضوان ترڅنګ کینم او کرا وایم: ماشوم کیږه مه ولی په غوسه یی؟

رضوان ځواب نه راکوی وروسته له لږ کیناستلو پورته کیږم او خپل د کوټې په لور ځم،دوا می خورم حالت می دی ورځو کی ښه ندی! شپه ښه تیریږی د سهار لمونځ کوم او د بڼ (باغ) په لور ځم، په مسکا ورته ګورم! ښه ساتنه می تری کړی وه هغه ګلان مې چې کرلی ول شنه شوی ول او ځینو یی یواځی سر (نوی راختلی ) کړې وه وروسته د بڼ د لیدلو د مانې په لور ځم صبا نارې خوړل شوی وه رضوان د دفتر په لوری روان وه او زید له زینو راښکته شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمه ای رنګ کالې يې اغوستې وه، دا بلا وهلی حتما غواړی د لمر په څېر ځان ښودنه وکړی!

د مولانا شعر می ذهن ته راغی:

تا که سرو از شرم قدت قد خود پنهان کند!
تا زبان اندر کشد سوسن که تو سوسن تری!

خپل په دی شعر مې خندا راغله خدای دې ما ونه وهې بيخی می د مينانو په څير ورته صفت وکړه، سترګی می د زيد نه رانغاړم او د رضوان په لوری ځم کرا ورته وايم:
رضوان په کار می بيم.
رضوان- پرون شپه می وويل همغه يوه خبره ده.
يغما- ما درک کړه.

رضوان هيس ونه ويل او بيا يی هم د غوا په څېر سر ښکته واچوه او لاړه په تمه وم چې شپې بيرته راشی، يوه اونۍ تيره شوه خو رضوان آن اجازه نه راکوی چی ورسره خبری وکړم نن اتمه ورځ ده بايد ورسره خبری وکړم ما پوری اړه نلری چی منی يی يا نه! د دهليز په لور لاړم خو رضوان نه معلومېده د حويلی په لور لاړم رضوان په موټر کې ناست وه ورمنډه می کړه او د موټر ښيښه می په ګوته ووهله ماته يی پام کيږي او ښيښه ښکته کوی...

يغما- رضوان چيری ځی؟
رضوان- يو ځای کې کار لرم
يغما- ما هم بوځه موټر کې خبری کوو.
رضوان- پورته شه.
مخکی سيټ کې کينم او موټر حرکت کوی او رضوان وايې: ووايه اورم.
يغم- ولی غوسه يی تورکيه!
رضوان- ومی ويل خبره دی وکړه.
يغما- صبا ځم
رضوان : په سلامتيا تنخا( معاش ) دی له ظريفی ترور نه واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله مې خلاصه پاتې شوه په دا رضوان څه شوی؟ خبره مې خوله کې پاتې شوه
موټر ودریده او رضوان ښکته شو او رضوان ماته وویل: کینه بیرته راځم.
وروسته له څو دقیقو نه رضوان په ورخطا یې راځی او په سرعت حرکت کوی
چې زه په ورختای وایم: څه شوی رضوانه ولی وارخطا یی؟
رضوان- زید...!
په تشویش وایم- زید څه کړی؟

رضوان په غوسی وایی: شل ځلې می دی لیونی ته وویل چې له دې میرمنې سره په
نرمی چلیږه خو زما خبره هیڅکله نه منې.
مخکی ښیښه ته ګورم چې رضوان وایې: موږ خاري لعنتی....

رضوان دا خبره کوی او سرعت زیاتوی یو موټر زموږ مخې ته ودریږي نږدی وه چې
ټکر مو کړی وای چې رضوان بریک ونیوه پنځه قوی سړیان ښکته کیږی او زموږ
خواته راځی،رضوان ښکته کیږی او مخ ماته را اړوی او وایې: ښکته نشي یوسفه د موټر
ور وتړه (بند یی کړه) هر څه وشول ښکته نشي پوه شوی؟؟؟

د موټر کیلي یی زما خواته راواچوله د بید د ونې پشان د ډیر ویری څخه لړزیدم...
رضوان د پنځو سړیانو په وړاندي؟اصلا انصاف ندی رضوان د هغوی سره خبری کولی
چی یو یي ټیلفون راواخیست او رضوان ته یي ورکړ تقریبا 20 دقیقی تیری شوي وي
چي یو موټر راغي ودریده یوه ښځه تري ښکته شوله چي سر تر پښو پوري یي تور کالې
اغوستی ول، مخ یې له دې ځایه نه ښکاریده......

د هغه پنځه سړیانو څخه یو یی رضوان ونیوه او موټر ته یی ننویست، په سرعت ښکته
شوم او منډه مي ورواخیستله او په چغو می وویل: رضوانه!!!!!!!
واړو شیږ نفرو ماته راوکتل ښځي زما په لیدو په نری غږ وویل: رضوان جانه فکر می
نکوه چي څوک مل ولری!
رضوان په هغه حال کي چي خپل غږ یې د غوسي څخه کنټرول کوه ویې ویل: مرسل له
هغی سره کار مه لره پریږده چی لاړ شی میلمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځې څیره چې نوم یې مرسل وه په توجه ګورم،یوه ښځه تقریبا څو دیرش کلنه په ښکلې څېره خو دا چیری او مریم چیرې! مرسل په خندا وايې: اول دا چې مرسل نه میرمن رستمی؟! او دویم دا چې ستاسو مېلمه زما مېلمه ده ښه میلمه پالنه ترې کوم.

خپل یو کس ته وایې: مسعود ددې ښاغلی موټر یو سم ځای ته یوسه( د موټر کیلی زما د لاس څخه اخلی او موټر روښانه کوی، ما او رضوان خپل موټر ته پورته کوی او یو نامعلوم ځای په لور مو بیایی...

رضوان په غوسی وایی: ومی نه ویل مه ښکته کیږه بیعقله..!
یغما- خو ته یی بوتللی..
رضوان- وړلم چې وړلم تا باید زما خبری ته غوږ نیولی وی .

نور یی هیڅ ونه ویل وروسته له نیم ساعت نه موټر ودریدو او موږ دواړه ښکته کوی او یو کور ته مو بوځی مرسل په نری غږ وایی: ښه راغلاست زما د غریبی کور ته.

هیڅ څوک خبری نکوی چې مرسل بیا وايې: کینی نابلدې مه کوی.
زه او رضوان په یوه توشکه کینو رضوان مرسل ته په کتلو وایی: ګوری زه پوهیږم چې زید څه ویلی خپله ښه پوهیږي حق لری چې قرارداد له منځه یوسي، خو ته داسې نشی کولای موږ سره داسی وکړی.

د رضوان په خبرو د مرسل د خندا غږ پورته کیږی او وايې: دومره اسانه ده؟ (دا ځل په غوسی کلمه په کلمه وایی: زما ستونزه قرارداد ندی...! زه . زید . غواړم پوهیږی که نه؟ هیڅوک نشی کولای زما غوښتنی ته نه وایی هیڅوک!
رضوان ـ لکه چې زور ده؟ خپل شخصی مثلې کورنی کوی مه عجب خلک یی!
مرسل ـ درې ورځې کیږی ورته زنګ وهم خو ځواب نه راکوی ته وو ایه څه وکړم؟ آن نغواړی راسره خبرې وکړې زه د نورو نجونو په څیر یی پینو ته نشم لویدلې!
رضوان په بی حوصلګی وايې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان- آیا پوهیږی ستاسو تر منځ څو کاله عمر کې واټن دی؟ 5 کاله له زید نه مشره یې ولی منطقي فکر نکوی؟
د رضوان په خبره مرسل خپل زړه ته اشاره کوی او وایی: دا په منطق نه پوهیږي څه کمې لرم؟
رضوان- خپله دې زید ښه پیژنی له اول نه پوهیدم د څه لپاره دې دا قرارداد ومنه مګر غلطی دې وکړه. خپله دې هم ښه پوهېدی زید ښه انتخاب ندې، پوهېدی هېڅ انجلی ته نه ګورې ولی توقع لرې ته استثنا ووسی؟

مرسل غلې وه وروسته له لږ خاموشی نه یی وویل: که پلار مې پوه شی زید مړ کوی وی!
د هغې په دی خبره ناساپه زه وایم: ته خو نغواړی چې ستا پلار زید مړ کړی کنه؟
مرسل ماته راګوری او په خندا وایی: یو یې انجلی ته نه ګورې(زید یاده وی) او بل(مطلب رضوان) یی انجلې هلک کړې او لځان سره یی ګرځوي عجب!!!

د مرسل په خبره مې لړزه وجود ته راغله یعنی مرسل پوهه شوی چې زه انجلی یم؟ نه دا امکان نلری ...!!

رضوان په لوړ غږ وایی: تا پوری اړه نلری چې سوک څه کوی هر څوک پوه شه قبر یی تول کړې دا عشق مشق مووو...؟!
مرسل خاندی او وایې: یعنی ته په دې انجلی مین یی رضوان خان..؟!
رضوان- هو ستونزه لری؟ ډیره له تا ښه ده!
دا ځل مرسل په غوسی وایی: د خولې په خبره دی پوه شه که اوس د زید ورور نه وای یو جوړ غاښ به دی په خوله کې نه درلوده!!!!!!

مرسل خپل د خبرو په دوام زما په لور په کتلو وویل: نوم دی څه دی؟
پوهېدلم ددی لپاره چی رضوان ددی ښځی مخکی کم رانشي او صفایي ورنکړی داسی وایی کنه هغه له کوم ځایه پوه شي؟ هر ډول چی وی نباید رضوان دروغجن ثابت کړم
رښتیا وایم هر څه چی کیږی نور بادا باد!!
یغما- یغما!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خبره مرسل په ملنډې مسکا وايې: يغما جانې ستا کورنې پوهيږي چې ته له دې سره ګرځې؟
د همغې په څېر په ملنډو خاندم او وايم: ستا خپله کورنې پوهيږي چې موږ دی ددې 5 نفرو په مرسته دلته راوستلی يو او يو هلک خواستګارې کوی هوم؟

زما په جواب د رضوان په خوله نرمه مسکا راغله چې مرسل په غوسې وويل: ډيره دې ژبه اوږده ده مګر فرق نکوی زه يې درته پريکوم!!!
او مخ رضوان ته په اړولو وايې: رضوان جانه دا نجلی نن شپه زموږ ميلمنه ده
هغه دوو نفرو ته چې زما خواته ولاړ ول اشاره کوی چې رضوان په غوسی وايی: په دويم ځل وايم خپلې شخصي شخړو کې دی موږ مه رامنځ ته کوه!

رضوان دا خبره کوی او لځايه پورته کيږي ما له لستونې نيسی او ځان خواته يی کش کاږي، د ور په لور ځو چې دوه نفره زموږ مخی ته ودريږي او مرسل وايې: چيرې لخيږه؟
رضوان سخت ځواب ورکوی: خپل د ژوند په لور!
مرسل په ملنډو خاندی او ماته اشاره کوی او وايې:ژوند دې زما مېلمه ده ته تللی شې (
مرسل راځی او ما له لاس څخه نيسی چې زه به ورخطای رضوان ته وايم: رضوان يو څه ووايه..!

رضوانه له ډيرې غوسی لاسونه موټې کړی ول،له لستونې می نيسی او خپل شاته می پټوي دا ځل دوه نفره د نفرانو يی زموږ په خوا راځی او نږدی کيږی....

احساس مې وکړ چې نړۍ پای ته ورسيده.
په ويره سره وايم:رضوان ورته ووايه چې رانشي ماته نږدی..

رضوان غلی پاتې شو، ورو مې وويل داسې چې يوازې رضوان يې واورئ:
رض...ضو...ان م.... زه زه د ربښتيا...انجلی يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره ستونزمنه وه زما لپاره دا اعتراف! احساس مې وکړ چې ټوله نړۍ زما په زړه او روح باندی کېښودل شو! هغه ټول فکرونه مې خراب شو! اصلاً،زما په اړه څه فکر کوي!؟رضوان بې حرکته پاتې شو په حيرت سره چې غږ يې پټ نه و، هغه هم زما په خير وويل: څ....ه څه؟ټوکې کوې يوسف!

ما خپل سر دوه طرفه وخوځاوه، معنا دا چې نه! هغه دوه کسان په دوه قدمه کې موږ ته راورسېدل، چې رضوان په وارخطا وويل: سمه ده زه به زيد ته زنګ ووهم.
مرسل بالښت ته تکيه وکړه او ويې ويل: افرين زنګ ووهه.
رضوان خپل ټېلېفون راواخست او زيد ته يې زنګ وواهه:هلو چيرته يې زيد؟ ....( د دغه ځای ادرس ورکوی او وايې: ژر راځه، ناوخته نه کړی.
:#شهاب
ټول کېناسته يو نفر چای راوړی مرسل په خندا سره وايي: يغما جانی،په زړه يې مه نيسه چې سمه ميلمه پالنه مې ونشو کولای،که رضوان ضد نه وايې کړی او اول يې زنګ وهلی وی نو داسی به نه کېده، بيا بل ځل ان شاءالله،په سمه توګه ميلمه پالنه کوم.

د مرسل په خبرو په زړه کې ورته وايم:مړه شې د ميلمستا سره دی،بې حيا ښځې!
او بد بد ورته ګورم،ځواب ورته نه ورکوم! چوپتيا حاکمه شوه! يوازې د چای څښلو غږ اورېدل کېده،رضوان په ژور فکر کې تللي وو او څه يې نه ويل!
د دروازې غږ راغی،فکر کوم چې زيد راغلو..!؟څو شېبې وروسته زيد په دروازه کې راښکاره شو،زموږ په ليدو حيران شو.

مرسل پورته شو او د زيد خوا ته لاړ او به خوشحالي وويل:پخير راغلی، زيد خان، موږ ميلمانه لرو (او زموږ خوا ته اشاره وکړه! له لږ چوپتيا وروسته د زيد غږ پورته شو او په حيرت يې وويل:دلته څه خبره ده؟
رضوان په قهر وايي:اغلې مرسل څخه پوښتنه وکړه!

د رضوان په خبره زيد دغوسی څخه غاښونه چيچې او د مرسل په لور ګوري! او پوښتنه کوی: رضوان څه وايي مرسل؟

مرسل په خندا د يو توشک خواته اشاره کوی او وايې: کېنه چې خبری وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید زړه نا زړه د رضوان ښنګ ته کيني. او وايي: اورم.

مرسل ماته اشاره کوی او وايي: نه پوهېدم چي رضوان خان کوژدن لري!
زيد سترګي تر اخر حده خلاصی شوي. چي رضوان په قهر باندی وايي: تا پوری اړه نه لري،او ضرور هم نده چي ته پوهه شي، اصلی موضوع ووايه.
مرسل- زيد ته پوهيږي چي مينه.........

مرسل خپله خبره پای ته نه وه رسولي، چي زيد په غوسه وويل: نه، زه نه پوهيږم، په دي بي ارزښتي موضوع په خاطر دی موږ تر دی ځای را کش کړو؟ نه غواړم چي بيا دا موضوع را مخکی کړئ(او بيا د رضوان خواته مخ را اړوی او وايي: پاسيږه.

مرسل د زيد په غوسه ويريدلي ده او هيس نه وايي بواځي د زيد خواته ګوری، نه پوهيږم ولي فکر کوم د مرسل سترګو کي اوښکي دی؟ کله چي وايي: خو زه ستا سره مينه لرم ته نشي کولي ما رد کړی.

زيد په مسخره توګه د مرسل خبره تکرار کوی او وايي: ته نشي کولي ما رد کړی؟. ولي نششم کولي؟ ايا ما تاته کوم اميد درکړی وو؟ نه نو مي درکړی. ايا ته کوم خاص پورته والي لری بغير خپل د پلار د پيسو ښخه؟ نه ني لری. نو بل ځل ونګورم د داسي يو بی ارښت موضوع لپاره زما کورني ته مزاحمت وکړی پوه شوی؟

مرسل په لوړ غږ وايي: زيد خان دا خبره په دومره آساني نه خلاصيږی.
زيد- ته دا راته ووايه چي کله شروع شوی وه؟( مرسل خاموش پاتي کيږی او يواځي زيد ته دوه سترګي نيسي چي زيد وايي: پاسيږی چي په کافي اندازه مو وخت بيځايه لاړو.

د زيد په خبره دری سره د دروازی په خوا روان شو او مرسل مو هملته هک حيرانه پريخوده، زيد زموږ ښخه په تلوار خپل د موټر خواته ځي، چي د دومره وقت وروسته رضوان خپل چوپتيا ماته ويي او کرار وايي: رښتيا وه؟
کرار وايم: هو.
رضوان- زيد خبر دی؟
يغما- امممم هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د هو په جواب رضوان په ۱۸۰ درجې سرعت باندی زما خواته مخ راګرځه ويې
ا په غوسه وايې: بې شکه ستاسو مېنځ کې يو زه بيعقل تشريف مې درلود.
په تلوار وايم: توضيح درکوم پخدای زيد هم تازه خبر شوی د اول څخه خبر نه وو(
رضوان هيس ونه ويل او د موټر خواته لاړو زه يواځې د موټر شاته سيټ کې کيناستلم
زيد د رضوان خواته ګوری او وايې:

زيد- مرسل څه ويل؟
رضوان په بې حوصله توګه زيد ته موضوع وويل تر کوره هيس خبره زموږ مينځ کې
ونشول کور ته د رسيدلو څخه مخکې ما رضوان خواته مخ کړو او ومې ويل: بخښنه
غواړم مجبوره وم کنه ستاسو د زوره ولو قصد مې نه درلود.

رضوان په داسې حال کې چې دباندی کتل په نيولې غږ يې وويل: ولې مو زه خبر نکړم؟
کرار وايم: نه مې غوښتو چې سوک خبر شې زيد هم توکلې خبر شو، ځکه مې تاته د تلو
خبره وکړه.

زما خبره بوره شوی نه وه چې زيد داسې ناساپه بريک کړو، چې زه د مخ د چوکې سره
لږيږم چې زيد په حيرت باندی خپل مخ زما خواته راګرځه ويې او وايې: چيرته ځې؟
يغما- د سليم سره ځم.

زما په خبری زيد بيا ليونې شو او ويې ويل: د چا سره؟؟؟
د هغه په داسې لهجه پوه شوم چې بايد خاموشې اختيار کړم کنه بيا ليونې کيدو، رضوان په
خفه لهجه وويل: اوس دا سليم يې لا سوک دی؟

د رضوان پدی خبری مې ورباندی زړه وسوځيدی، بيچاره حق لری چې خفه اوسيږی د
هيس شئ څخه خبر نه وو، ژوره ساه اخلم او وايم: غټه کيسه لری دلته ويل کيږی نه هر
کله چې کورته ورسيدو درته وايم.

زيد په بيحده تيز سرعت باندی روان کيږی، دباندی ګورم او نه پو هيږم کله ورسيدو
کورته، دری سره د موټر څخه ښکته شو او زه د چمن خواته روانيږم او هغوی ته وايم: دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاي د ماښې څخه بهتره دی نغواړم بل سوک راباندی خبر شئ.

دری سره په چمن کې کینو اول څو دقې ټول خاموشه و تر دی چې رضوان وویل:
آورم.( غټ ساه اخلم او د الف څخه تر یا ټوله کیسه ورته کوم رضوان په حیرت باندی راګوری او وایي: نوم دی یغما ده؟
یغما- هو.
رضوان- غواړی لاړه شې؟
یغما- هو خپل د عمه د زوې سره ځم.( دروغ مې وویل سلیم بیخی خبر ندی، خو مجبوره وم دروغ ووایم زید چې تراوسه کرار ناست وو په لوړ غږ یې وویل: بد کوی چې ځې مګه ستا زړه دی لیونې جنی.

اه دا زنځیری لیونی نور نو بیخی خپل د حد څخه اوړی د هغه پشان په لوړ غږ مې وویل:
په تا باندی هیس اړه نلری ورځه خپل ژوند ته ورسیږه، نور خلک هم ژوند کولو ته پریږده البته که بیا کوم ګل ته اوبه ورنکړی.

د دی خبرو وروسته تازه پوه شوم چا ته مې کړی؟ وی بیا ما د زمری د لکی سره لوبې وکړل خاوری دی په سر شه یغما.. زید زما خواته حمله کوی خو شکر رضوان زما څنګ ته ناست وو هغه زید کلک نیسې او ورته وایې: زید څه کار کوی آرام اوسه!

زید په داسې غږ چې کوښښ کوی کنترول یې کړی وایې:ګوره رضوانه څه وایې ماته وایې تا پورې اړه نلرې؟ښه غوږ ونیسه یوسف ( په غوسه خاندی او وایې:نه اوبخښی یغما ترځو ما اجازه در کړې نه وې پښې دې باندی کینودای نشئ ! پخدای قسم که وغواړې ماسره لوبې وکړې ژوندې دی درته دوزخ کوم.

زید دا خبره کوی او په پښی باندی چوکی وهې او ،لرې اچوې ، ماښی لور ته ځی، ما او رضوان دواړو حیرانه حیرانه زید لور ته لیدل

یغما- رضوان دا بیا ولی وحشې شو؟ زما تلل څه اړه په چنار ګل بابا لری!
رضوان - نپوهیږم پخدای څو میاشتې کیږې ډیر تو پیرې یې کړې.
یغما- اوس ښه شوو همدا یو روانې مو کم درلودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان خاندي په ټوکي باندی کيني او وايي: ته اوس رښتيا ځی؟

يغما- هو فعلا کومه ستونزه نشته سليم وايي تا خپلی ترور کړه کندز کی هلته دی وړم
رضوان- دلته آرامه او خوشحاله نه يی ؟
يغما- نه ډيره خوشحاله او آرامه يم، خو بيا هم ټول خبري شي هغه وخت بيا ښه نکيږی
رضوان- زه می پلار او مور سره خبري کوم هغوی نه زړه ټول ونيسه.
يغما- همدومره مهرباني مو بس ده تورکيه ..

زما په خبری رضوان خاندی او وايي: دا کنځلی دی او خبري کول دي د انجونو په شان وه چټی پوی نشوم لنډی..
زه هم خاندم او وايم: بيخی هلکانو په شان شوي يم انجوني نه يو شانتې شرميږم هيڅ مه وايه!

زما په خبری رضوان په لوړ غږ خاندی او وايي: د همدي لپاره دي ويل وروړمی يا خورمی حيا دي وکړه (کوټي ته اشاره کوی کله چي غوښتل لکه هلکان ملګرو په شان ما سره شوخي او ټوکي وکړي ښکلکول غيږي نيول.په سر باندي می خبره ومنله چې
رضوان بيا وويل: په هر ډول چې وي هره خبره چې ده د دی ځايه تللی نشي فعلا قيد کي يي!

يغما- رضوان انسان شه زيد کم دی تا هم شروع وکړه.
بد بد مې ورته وکتل چې رضوان وويل: بی انصافه کيږه مه ، عادت می کړی تاسره کولی نشی موږ همداسی خدای ته پريږدی او لاړشی.
يغما- ځلور طرفه دي ډک دی( مطلب کورني خپلوان لري )
زما مطلب اخلي جدی کيږي او وايي: هر څوک خپل ځای لري(بيا په شيطنت باندی وايي: او هو هغه انجوني زما شاه نيسي.

د رضوان د خبری په مطلب پوه شوم په کراره مي ورته وويل: سمده پوه شوم ښايسته يي ورور.

دا خبره کوم او د کوټي خوا ته ځم چې رضوان غږ کوي: په هر حال يغما زه د زيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف یا حریف کیدای نشم ښه به وي تللو فکر دی د هغه مرغه پشان سر څخه اوباسي .
د همغه ځای څخه ورته غږ کوم او وایم: بیابه ګورو....
رضوان- په یاد ولره زید رواني تکلیف هم لري حتا یو میاشت بستري هم وه.

نور مې د رضوان خبرو ته توجه ونکړه دروازه می خلاصه کړه او ځان می په کټ ختا کړو څومره ستړي ورځ وه، سهار یا بل سهار ضرور ځـــــــــــــم ..سهار تر ناوخته ویده وم نيکبخته جمعي ورځ وه، حمام می وکړو سپین کالي په ځان کړل د ستمال می په سر وتړه مانۍ لور ته راوان شوم، ښه ده ټول ویښ دي حتما چای به هم خوړل شوي وي،ځکه هر څوک په خپلو کارونو بوخت دی

ټولو ته سلام کوم هرچا واوریدی جواب يې راکړو مریم او موری هم تللی ندی !
رضوان خپل لپتاپ کی کار کوه،مریم آسما خپل مینځو کي بوختي وي عمه خاله هم باندی بوختي وي رحیم کاکا هم نه وو، چیرته به تللی وی.؟! سترګو می زید باندی ولګیدی نوي ورزش څخه راغلي وه ورزشي پطلون او شین بلوز په ځان کړي وه ویښتان هم لږ لږ رسیدلی وه ولی پرون شپه پام می ویښتانی ته یی نشوو عجبه ده ولا !

سیده پخلنځي په لور ځم ترور نه یو ګیلاس چای راغواړم چای په تمه کینم ترڅو آماده شي باید د تللو لار وسنجوم نن ټول کورکي دي نکيږی همدی سوچ کی وم، چې د مریم چیغو غږ پورته شوو، ورخطا دهلیز لور ته ځم ګورم رضوان او آسما خاندی او زه پوهيږم هرڅه ښه دی.

آسما په خندا وايې: خاوري دي په سر شه مریم، پلاستیکي موږک وه زموږ پوزه دي پریکړه.

ژوره ساه اخلم پخلنځي ته ځم چای همدلته څکم نیمه کارونو خوا ته می راوانیږم جمعه هم تیريږي شنبه ورځی سوچ کوم لار به شم مانۍ نه؟ نیوهيږم څه وخت خوب وړی وم سهار چای لپاره مانۍ لور ته ځم ټولو سره په خندا چلن کوم چای په ټوکو او شوخي باندی څکوو زید اوس هم راسره خبري نکوی نن می آخره ورځده دلته نو نغواړم څوک رانه خفه اوسيږی! ده آشتی کولو په مقصد پورته شوم او د زید خواته لور ورغلم، پام می دهغه غاړي زنځیر ته کيږي زما زنځیر ساتلی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- چنار ګل بابا؟.
سترګي را پورته کوي زیر زیر راته ګوري چې ورته وایم: خفه یی زما څخه؟
هیڅی ونه ویلی سری ښکته که دوسیو باندی مصروف شوو، چې بیا مي وویل: اووو هی تاته وایم انسان په شان راسره خبري وکړه نووووو..

زید- څه ووایم ؟
څنګی ورسره کینم په خندا ورته وایم: ښه ښه خبری وکړه لکه ووایه آشتی یوو؟!
زید- نه نه نه...
د دروغو په غوسه ورته وایم: ولی چرګ سره؟
زید- ځکه چې ډیر مې ځوروي.

حیرانه پاتی شوم دا څه وایي زه یی ځوروم؟ په خندا ورته وایم: تا وحشې زه بیچاره ځوره ولې شم؟؟
زما په خبره زید خپل زړه ته اشاره کوي او وایې: وحشیان هم زړه لري یا نلري ؟
زما روح آرامه نه پریږدي یغما؟!

دا بیا ولی غمجن شوو ؟ په کراره ورته وایم: فلسفه مه وایه آشتی کوي یانه
زید- نه
یغما- خاوري مګه ستا په زړه ده؟ په زوره آشتي کوم دی.
زما په خبره زی لږ شانتي خندا کوي چې زه خپله کوچنی ګوته ورته نیستم او وایم: آشتی؟

څو دقیقی زما ګوته ته په خندا ګوری او وایي: آشتی خو بل ځل دي نبخښم.
په خندا ورته وایم: هو سمده.
پورته کیږم د باندی خواته ځم چې د زید غږ د تللو مخه مې نسئ او وایې: یغما

هیچکس کاش نباشد نګهش بر راهی.
چشم بر در بود و دلبر او در کند !

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیرانه شوم دا دوبیتی زما پوري آره لري؟ زید په همغه جذابه خندا ماته یی لیدل! چې ما ورته په خندا وویل: هلوووو نفر دي غلط کړی زه یغما یم !
زید- یوائینې کوم شئ چې ټول حواس می ورته سم دی او پوهیږم همدا ده، چې ته یغما یې.

زید دا خبره کوی او خپل دوسیه اخلی او ځې! په حیرت باندی د دباندی خواته حرکت کوم ولی فکر کوم زید بدلون کړی یوازي ماته؟! څلورو خواته می ګورم رضوان می سترګو ته نه راځي اه هغه دی بیګ په لا د زینونه څخه راکښته کیږي
غږ ورته کوم: او تور زغاله.

زما به هغه هغه راګوری او په خندا وایې:ړنده یی دومره زیادچ ښایست نشې لیدلی.
په خندا ورته وایم: هر چا چې تاته ښایسته ویلې ضرور زړه یې درباندي سوځیدلي.
رضوان- فلسفه مه وایه ناوخته کیږي ووایه څه دي ویلی !
یغما- هیڅ غوښتل می خداپامانی وکړم.

رضوان- خدای پامانی؟
یغما- هوکنه شرکت ته ځی.!؟

زما په خبری رضوان ژوره ساه اخلي او وایې: فکر می وکړو..(خبره نیمه پاتی کوی او وایی: خدای پامان.

زید او رضوان لاړل اوس د آسما نوبت شوو جیب نه می ککو راباسم او دهغې خواته ورځم او ورته وایم: آسما راشه ککو واخله.
بیچاره حیرانه راته ګوري او وایې: لالا دا دی ماته راوړي(ککو ښایی)
په مسکا ورته وایم: هو زما خور جانی راشه واخله.

آسما د ماشومانو په شان خوشحاله کیږي او ککو رانه اخلي، کوم لیک می چې پرون شپه لیکې وه ځان سره تکرار وم"اوبخښی بی خبره درنه ځم خو مجبوره وم هیله منده یم چې ما درک ګړی ډیر ښه وختونه مو یو د بل سره درلودل په هر ډول چې وو د هرڅه لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړی مننه کوم ښه والي مو نه هیروم."

لیک د رضوان د کټ په سر باندې کیدم خپلي کوټي په لور ځم، شپې می بیګ جور کړي وه لاس کي راخلم د بڼ په لور د باندی دروازی ته رسیږم، ښه ده نګهبانانو او د دروازی چوکیدارن چاسره کار نلري!کوځه په غټو غټو ګامونه باندی پریږدم تکسی نیسم موټر هډی خواته حرکت کوی....!؟

مسافر برۍ موټر خواته حرکت کوم کندز ناری وهي، وروسته د ډیرو پوښتنونو او معلومات څخه یو موټر ته بورته کیږم او په څوکي کینم، دا به کله ډک شي؟ ضرور شپه ته رسیږم، داسي نشئ دلته راشي رابشی؟ خپله خپل جواب ورکوم"نه کاکا بیکاره خلک خو ندی چې زما پسې شي خپله کار لري"40 دقیقی په تمه پاتیږم موټر ډک کیږي یواځي څو دانی خالي چوکی پاتی دی..

مبایل ته می زنګ راغی جیب نه راباسم د نوم په لیدولو حیرانه کیږم
زید زید زید... یعنی خبرشوی ؟ نه هغوی خوو 6 بجي کورته راځي اوس خو 2 بجي دي!
دا خبري ځان سره تکرار کوم ځان ته تسلي ورکوم ! او زړه نا زړه مبایل ته جواب ورکوم: بلي

د زیا د غوسی غږ پورته کیږي: کوم دوزخ که یې؟
څه ورته ووایم اوس؟ په هر ډول ربښتیا وایم ورته، هغه پوري اړه هم نلري:موټر کې.
زما په جواب د زید غوسه ناکه غږ بیا پورته کیږي: یغما دعا کوه لاس می درته ونه رسیږی..لعنتی بی خبره ځی یوازي لیک موږ ته پریږدي هان؟موږ ستا د خندای یو؟ اوس چیرته یی ؟

یغم- درته می وویل موټر کي یم کندز لار کي..
د زید د غوسي څخه ډک د ساه اخستلو غږ راځي او بیا وایي: هر چیرته چي یی په خپله خوښه موټر نه ښکته شه څه می درته وویلی پوی شوی ؟
یغما- نه پوه نشوم..

زما په خبرو زید په غوسه خاړدی او وایي: پوی نشوی؟ سمده خپله دي وغوښتل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید دا خبره کوی او مبایل بند کوی، خدای وکړي دا څو دانی څوکي هم ډک شي موټر بنیبنې ټک ټک زما پام ځان ته اړوی..

-کاکا جانه ژاولي اخلي(ساجق)
لس افغانی ورکوم او ژاولي اخلم،څکه استرس او ویری کم والي لپاره ژاولي خوله ته کوم! روسته له لږ ځنډ څخه موټر حرکت کوي، اه خدایه شکر دی نیو هېږم څه وخت ویده شوی وم موټر ودریده د موټر په دریدو ما سترګي خلاصی کړی، څه شوي څه خبره ده؟ ولی موټر ودریده؟

یو پولیس موټر ته پورته کیږي موټر تلاشي کوی او په ځیر،ځیر ټولو ته ګوری بیا په جګ غږ وایي: په دی موټر کي یوسف څوک دی؟
یو سړی پاسیږی او وایي: مهرباني وکړئ زه یوسف یم.
پولیس مبایل ته ګوري او ورته وایي: نه تاسو هغه نه یاست، بل کوم یوسف دلته حضور لري!

دا ځل زه پورته کیږم او کراره ورته وایم: زه یوسف یم.
زما په خبره پولیس یو نظر خپل مبایل ته ګوري بیا ماته ګوري او وایي: ښکته شه..!
کراره ورته وایم: ولې څه می کړی په کوم جرم باندی ما ښکته کوي؟ زه باید کندز ته لاړشم !

پولیس- یو ساعت لپاره زموږ میلمه یې.
نامطمینه د موټر څخه راښکته شوم، یوځای پولیس سره ودریدم چې پولیس په مسخره لهجه باندی وویل: د هغوی د کور څخه دی غلا کړي؟
دا څه وایي؟ په حیرت باندی وایم: د چا د کور څخه؟

پولیس- ښاغلی غضنفری.. رحیم غضنفری..؟!
یغما- نه تېروتنه مو کړي کولی شي تلاشي وکړي!
پولیس- صبر وکړه اوس خپله رارسیږي.
یغما-څوک رارسیږي !!
پولیس- وبه ګوري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم نوم چې ذهن ته می راغلی دی ټول بدن راته د ویری څخه لړزوی (زید ) نیم ساعت ډیر استرس سره تیرشو روسته د 30 دقیقونه څخه یو موټر چې ډیر د زید موټر سره ورته والی درلوده راورسیدی،احساس می وکړو نور په ځکمه باندی ننوځم
داځلی می حتما مړه کوي..
ولی؟
څه هدف لري؟
ولی ما په زور باندی ځان سره ساتی؟

زید لوړ قد ښکاره شوو چې د موټر څخه راښکته شو، اووو هووو ، دا ولی دومره غوسه دي! بلا می ورپسی وي وایم څنګه ښکلی شوی ده رواني لکه..ګنګتسرانو پشان که مریم یی وګوري نو ضرور خپل د بت لیوني کیږی..!

خپل دا بیځایه فکرونو ته وایم: مړه شي پدي شرایطو د مرګ او ژوند کي ته د هغه چنار ګل بابا صفت او تحسین کوي! زید نیږدي راغی لږ پاتی وه زړه می د سینی څخه دباندي راوځي..

پولیس-سلام غضنفر صایب !
خاور دي په سر شه چاپلوسه (پولیس ښایی)
زید- علیکم سلام څنګه یی الیاس؟ پلار دي ښه ده !
اوسي خوند وکړو دوی د مخکي څخه یو بل پیژني دي ته وایي طالع! پولیس په با ادبانه لهجه وایي: شکرر ښه دی ستاسو په مهرباني.

د جوړ پخیر او ستړی مشي وروسته هغه الیاس نومي پولیس لاړو، او زید زما خواته راتاو شوو پداسي حال کي چي کوښښ یي کو خپل غږ د غوسي څخه کنترول کړي ویی ویل: راځه.

په کلکه ورته وایم: زه تاسره هیڅ ځایته نه ځم.
زید- ګورم ګورم ګورم( دا خبره کوی او زما لاس په کلکه باندی نیسي او د موټر خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې په کش کولو د ځان سره وړی چې به غوسه ورته وایم: خوشې مې کړه رواني زه ستاسره نه ځم، زور خوو ندی ؟

زید- هو زور دی ...

همدا یوه خبره زما سوال جواب وه ؟ بیا یې په تیزي د موټر مخکې سیټ ته واچولم خپله هم کیناسته او په ډیر سرعت باندی هغه ځای څخه یې حرکت وکړو چې ما وویل:ودریږه وایم دا لعنتی موټر دی و دره وه...

او بیا په سوکانو باندی د زید اوږه وهم او په لوړ غږ ورته وایم: درته وایم موټر و دره وه، زه نغوارم تاسره لاړه شم ولی نپوهیږی!

زید زما دواړه لاسونه یی په خپل یو لاس کی ونیول او زما په څیړ یې په لوړ غږ وویل: غلی اوسه ما مه اړ (مجبور) کوه چې لاس او پښې دی وتړم لیونی انجلی!
د موټر سرعت یی زیات که وډاره شوم چې ټکر ونکړو په دی اندازه یی سرعت زیات وو چې فکر مې کاوه په هوا کې روان یو..

یغما - زید لیونی شوی یی سرعت دې کم کړه زه ډاریږم!
د مخکی نه په لوړ اواز چغی کړی: هو لیونی شوی یم تا بی عقلی زه روانی کړم!
او د موټر د شترنګ په وهلو یی شروع وکړه پخدای دا روانی دی د خولی لاړی می په ډار تیرې کړی او کرار می وویل: ما څه کړي ته له اول نه همداسی روانی وی غواړم خپل د ترور کور ته لاړه شم نپوهیږم تاته څه اړه لری؟؟؟؟؟

زید غټه ساه واخیسته او ویې ویل: اړه لری ډیر هم اړه لری (او مخ په اسمان یی په لوړ غږ وویل: یا الله وینی دی 20کلنی نجلی څوک په لوبو کړی...زید چې ټول یی په ساز نڅیدل اوس باید ددی ماشومې په ساز وناځی؟! ډیر عجیب حالت دی راته لیکلی منننه لاس دې درد ونه وینی منندوی یم درنه.

زید آن له ما نه هم ډیر د خپه کسانو په څیړ یی خبری کولی ګواکی یوه نړی غم یی پر شا دروند والی کاوه، د هر کلمې په راوتلو یی له خولی درد مې ورته احساس کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زيد څه درد لری! څو مياشتې شوی حس کوم يی خو د زيد ددی خپګان لامل مې پيدا ونشو کړی،دومره د خپل ژوند په ستونزو کی غرقه يم چې د زيد موضوع باندې مې سر نه خلاصيږي! خو ضرور زما درد او د زيد درد له ځمکې تر اسمان يو د بل سره فرق لری..

سرعت يی ډير زيات وه له لومړې هم دومره ښه ارتفاع يی له کرار تللو سره نه درلوده په لړزه او زاری کونکې غږ می وويل: زيد هيله کوم سرعت دې کم کړه زه ډاريږم!

يو نظر يی راوکتل ګواکی زما د لاسونو لړزه ته يی پام شو سرعت يی کم کړو! غټه ساه اخلم، په يو ځای لکه ځنګل غوندې کې يې موټر ودراوه يواځی يو يو کور هغه هم ډير لری په سترګو کيدل په کراره وايم: دا کوم ځای دی؟

زيد ښکته شو او زما په لور راغی ور يی خلاص که او لعنتی زما مټه(بازو) يې راته په کلکه ونيوله او له موټر نه يی ښکته کړم په لوړ قدمونو هغه کوچنی کور په لور روان شو غږ ورباندی کوم: زيد خوشی می کړه لاس دی را خوږ کړو.

خو چيرې اوريدونکی غوږونه! د کور ور يی خلاصه کړه او زه يی د کور دننه لکه د فوټبال توپ واچولم چې اخ مې پورته شو: اخ لاس مې!!!!

ور يی وتړو او په ګلدانی چې د ميز په سر وه حمله يی وکړه په ديوال يې وويشتله او چغی يی کړی: نه وو می ويلی له ما سره لوبی مکوه؟. نه وو می ويلی ژوند دې درته اور ګرځوم هاان نه وو می ويلی؟ چيرې دی هغه هرمونی؟؟؟؟؟
څوک يې ښوده؟ ډاره شوی وم او همغه لړزانده غږ وايم: څوک يادوی؟؟

زيد په غوسه خاندی او وايې: څوک يادوم ؟ د ترور زوی دی!
آن نوم يې ورته نه اخيسته؟! په تروش تندی ورته وايم: تاته يی څه؟ تاته څه اړه لری؟ زه ځان ته ژوند لرم ولې نه درک کوی؟
هيڅ څه يې نه ويل يواځې په غوسه يی قدم واهه او په همغه غوسه يې وويل: لاړه شه د سترګو له وړاندې مې ورکه شه لاړه شه!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره وایم نه نن شپه نه ډاریږم باید دا مسئله حل شی،له ځمکې نه پورته شوم او مخې ته يې ودریدم او وایم: ښه غوږ شه زید خانه زه مريم یا مرسل نه یم چی ستا پسی مړه ووسم زه...ی غ م ا یم یغما! نشی کولای په ما امر وکړی له هر چا سره هر چیری چې وغواړم تللی شم پوه شوی؟

پوه نشوم څه وخت د زید یی لاس پورته شو او زما په مخ راښکته شو، د زید سینه ښکته او پورته کیدله او زه لا تراوسه د څپیړی په حیرت کی پاتی وم..؟! خولې مې د ويني خوند کاوه! د زید غږ پورته کیړی: آن که وشی د الماسو په بیه دې اخلم پوه شوی څه وایم؟

انسان نو څومره زغم لری؟ اصلا د څو حیرت او تعجب زغم په ورځ کې لری!! هغه هم د ترور په وینا ناروغه(مریضی) نجلی لکه ما هوم؟؟ بیا هم عصبی حمله! لاسونه می په لړزیدلو شول له دیوال مې ونیوه. او کرار په ځمکه کیناستم کرار کرار می لاسونه او پښې د عادی حالت نه ووتل! په ګیلو مې ځان سره تکراروله یا الله دا څنګه تقدیر دې چې زما لپاره دې لیکلی هر ځای ته ځم له بدبختی او غم پرته څه نه وینم!

مګم زه دی بنده نه یم په کومه ګناه زه ددې سزا لایقه یم!! نو ولی زما لپاره خدایی نه کوی؟؟؟د چا ګناه دی زما په حساب لیکلې؟څومره باید ددی نه کړی ګناه سزا ورکړم؟12 کاله بس ندی؟کیدای شی د تورپیکی تر سپین کېدو می!!
خپل په همیشني کار کی غرقه وم ګیله کول له خدایه له تقدیر نه چې دومره ډېر درد یې راته لیکلی! زید په وارخطایي زما په لور منډه واخیسته!

زید- یغما .....یغما ښه یی؟
کرکه لرم له دې عصبی حملی نه چې دومره می بی ځواکه کوې! د لاسونو په بند کې یی وم او زه بدبخته آن د مخالفت توان می نه درلوده په سختې می کلمه په کلمه وویل:
در........ن....ه ......کر........ک....ه....ل..ر.......م
هڅه مې وکړه د غیږې له بند نه یې ځان وباسم خو شوني وه ؟؟
زید چیرې او زه چیرې! زما جیبونه یی خالي کړل له نیکه مرغه چې دوا می هماغلته ایښی وه ګولی(دوا) یی راته راکړه او وروسته له لنډ مهال نه لږ په حال راغلم او په غوسی مې وویل: خوشی می کړه اخر ځل دې وی داسی راسره کوې نشی کولای هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت وغواړی داسی وکړې!

کرار يې خپل د لاسونو بند خلاص کړو د ستونی مرې بې ښکته پورته کیدله کرار يی وويل: ته بې نه ټاکی چې باید څووم ځل مې ووسی!!
دواړه غلی وو چې زید بیا وويل: وګوره انجلی زه دې مین نه يم چې په تللو دې خپه شم ددی کار لامل می ته خپله بې ځکه عادت نلرم چې ځوک هغه هم بیا ستا په څېر و ه نجلی مې په خبری باندې خبره وکړی یا يې هم ناګاره(نادیده) ونیسی
او اوس چې دومره غواړی لاړه شی نو زه په مخه دې ښه صبا سهار لاړه شه!

په هغه حال کې چې بوې کوټې ته ننوته په ملنډو يې وويل: هان هیر می شو چې درته ووایم نن دې ترور راغلې وه او ګواښ يی ورکاوه. صبر څه يې ويلی؛؛ په همغه ملنډو ډکه لهجه يی وويل ( د دولت له مامورينو سره راځم او شکایت کوم چې زما ځوانه لور دې تښتولی) نور که خپله هم وغواړی کورته راتلی نشی.
:□#شهاب
د زید په خبرو لاسونه می یخ شول او نړی مې په سر وګرځېده! ترور مې زید کره راغلی وه؟ نه شونې نده نو هغې آدرس یی له کوم ځای نه کړې!
په لړزیدونکی غږ می وويل: توکی کوی کنه؟ هغی ادرس له کومه کړ؟
زید- نه ډیر هم جدی يم او دا يې دويم ځل دی چې زموږ د کور شاته راځی

د څه ويل؟دويم ځل؟ په حیرانتیا وایم: لومړی ځل کله راغلې وه ؟ولی دې راته ونه ويل!!
په بی حوصلګی یی وويل: دوه اونی مخکی ام ستا د ترور( کندوز) کور ته هم تللی وه!

زید د کور ادرس دقیق وويل نو دروغ نه وايی؟! په کراره وایم: له کوم ځایه پوهه شوی زه دلته يم؟
زید- ښکاره ده چې د ترور زوی دی احساساتی شوی او زموږ نوم يی ورکړی ترور دې هم زموږ کور پيدا کړې وه.

په فکرونو کې ډوبه شوم يعنی کندز ته هم نشم تللی؟ اوس باید څه خاوری په سر واړوم؟
په لړزیدونکی غږ می وويل: او..س ...څه...وک...ړم؟
زید خپل لاس په ویښتو کی تیر کړ او وی ویل: نیو هیرم سهار یی په اړه خبرې کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې وويلې او د کوټې په لور لاړه! په فکرونو کې ډوبه شوم يعنی که کندز ته تللی وای څه به شوی وای؟ پيدا کولم به؟ د نجيب د نوم په راوړلو می لاسونه يخ شول!
نه ! نشی کيدلی چې بيرته هغی دوزخ ته لاړه شم.

توله شپه وينه کيناستلم خوب مي سترګو ته رانغی په واړه دهليز کې د زيد راويښ کيدلو ته په تمه ناسته وم وخت ډير ورو تيريده يا هم زما لپاره هو لاړ وو؟ په هره سختی چی وه سهار شو او روښنايي په دهليز کې خپره شوه، لږ ځنډ وروسته زيد له خوب نه ډک راووته زما په ليدو يې په حيرانتيا وويل: توله شپه دی دلته تيره کړه؟

په سر خوځولو می ځواب ورکړه هيڅ يی ونه ويل او حمام ته لاړه،وروسته د مخ او لاس د مينځلو نه بې موټر خوا لاړه او يو پلاستيک يی له ځان سره راوړه پلاستيک يی زما خواته کينود او يو بسکويټ يی ځان ته واخيست په هغه حال کې چې د بسکويټ سر يې خلاصوه راته يې وويل: که غواړې چې د ترور کور ته دې لاړه نشي نو زه يوه لاره لرم.

په بی سا غږ مې وويل: څه لاره؟
د ور په لور لاړه او په امر کوونکي غږ يې وويل: يو څه وخوره په لاره کي خبري کوو!!!!

زيد لاړه او زه د يو نړي سوالونو سره يوازې پاتې شوم،يو جوس او بسکويټ مې په تلوار او په سرعت وخوړه او د زيد د موټر په لوري لاړم سيده مخکې کيناستم په وارخطايي مې وويل: اورم ووايه

زيد موټر روښانه کړو او پداسې حال کې چې مخکې کتل ويې ويل: په کلی کی مې د ملګري کور..(خبره يې پاتی شوه او وروسته له لږ ځنډ نه يې دوام ورکړو: خپل ملګری مې مړ شوي خو مور او خور يې هلته دي که وغواړې هلته تللی شي يوازې يوه ستونزه ده!
يغما- څه ستونزه؟
زيد- کلی خپلی ستونزې لري او داسې دي هلته نشم بوتللی هرومرو پوښتنه کوي څوک ده؟ زه څه ووايم؟خور خو يې هم راته ليدلی نو يوازې يوه لاره پاتې..!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- کومه لاره؟
زید په نه زړه وویل: کوژدنه مې ده..؟!!
د زید د خبرو په اورېدو ښاخ مې ویستل، زه ؟ یغما؟ د زید کوژدنه؟ هههههه څه بې معنا فکر نه پوهېدم چې په رښتیا څه ووایم؟ زید په رښتیا زما لپاره غیرت او نر توب کړی البته که عصبی کېدل،زما د متې (بازو) نه شکول ، او د پرون شپې څپېړه په نظر کې ونه نیسم!

حتما هغې ته هم سخته ده ولی باید لکه ما غوندې نجلی خپله کوژدنه معرفی کړی!
کرار ورته وایم: نه شونې نده خپله مې یوه لاره لټوم اصلا نه کیږی چې په دی کالیو کلی ته لاړه شم هان؟

خپل لاسونه یې په شترنګ کلک ووهل او ځواب یې راکړو: یعنی دومره درته سخته ده چې زما په نوم ووسی!؟(دا لیونی څه ویل اصلا خبره دا نه وه. هماغسې جدی یې دوام ورکړو او ویې ویل: ورستی لاره یې همدا ده خپله خوښه دی هر چیری چې غواړی رسوم دی!

چیرته باید لاړه شم؟ اصلا کوم ځای هم لرم تللو ته؟ بیا هم تقدیر زه په لوبو کړم کور یې ودان! غلی وم ځکه څه مې د ویلو لپاره نه درلودل.
زید- څه فکر کوی؟
غټه ساه اخلم او وایم: هر څنګه چې خپله غواړې هماغسې وکړه هېڅ ځای د تللو لپاره نلرم!
زید- سمده نو ځکه باید درته د نجونو کالی واخلم!

مخالفت مې ونکړ اصلا په کوم مخ مې مخالفت کړی وای؟د یو کالو پلورنځي څنګ ته یې موټر ودراوه او دواړه ښکته شولو.وروسته د پلورنځي د لټولو نه زید په خپله خوښه راته کالی، ټکری او ځینی نور توکی واخیستل ځینی ډالی یی هم واخیستې حتما د ملګری د کورنی لپاره یې وی.وروسته له څو دقیقو نه موټر ته راغلو بی غور یی وویل:کالی دې موټر کې بدل کړه

خپله ښکته شو او لاړه ښه وه د موټر ښیښې توری وی او له بهر نه نه ښکاره کیده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زیار مې خپل کالی بدل کړل عجیبه حس مې درلوده وروسته له دومره موديٍ له بهر نه نجلې شوی وم د شرم احساس مې درلوده! ټکری می په خپل وینتو چی اوس رسیدلی ول واچوه....

په مخکې هینداره کې ځانته ګورم، ښه ښکاریدم، خو څهره مې راته عجیبه ښکاریده همداسې خپل په کتو بوخته وم چې د موټر دروازه خلاصه شوه، زید راته په کتو شو وشرمیدم څکه نور یوسف نه وم د شرم څخه مې سر ښکته واچوې او خپل په ګوتو باندی به لوبو کولو لګیا شوم. د زید لاس کې یو خلطه وه هغه یې زما خواته ونیول، چې مجبوره ما ورته وکتل او ومې ویل:

یغما- دا څه دی؟
زید- خپله یې وګوره.

خلطه مې د لاس څخه واخیستل او خلاصه مې کړه د ننه یې یو قوطي وو! قوطي چې مې خلاص کړو د یو چلې( د کوژدی ګوتمې) په لیدو مې په حیرت باندی ورته و ویل: دا د څه لپاره دی؟
زید- چله ده په ګوته یې کړه د کلې خلک پدی خبرو او شیانو کې ډیر حساسه دی.

د ګوتمې په کتلو کې ډوبه شوم څومره ښایسته ده په سپینه طلا ډیزاین شوی وه او ډیر ښایسته معلومیده زه همداسی د ګوتمې په کتو وم چې زید په خفه لهجه وویل: یو هیرم درته سخته ده د دی ګوتمې په ګوته کول خو بله لاره نشته.
یغما- مننه په زحمت شوی دا ډیره ښایسته ګوتمې ده.

زید هیس ونه ویل او موټر یې روښانه کړو زیات او کم یو ساعت وروسته کلې ته ورسیدو، څومره شین او سمسور ځای دی! ښایسته ختې کورونه پکې بیحده ښایسته ښکاریده، د هغه کورو په لیدو وم چې موټر و دریدو، ښکته شو زید موټر قفل کړو او یو ماشوم ته یې د موټر د حفاظت دنده ورکړه، زما په خیال نور د موټر لاره نه وه پنځه دقې پیاده مزل مو وکړو تر دی چې یو کوچنې او ښکلې کورته ورسیدو...

کور مخکې یو کوچنې خو ډیر ښایسته باغچه شتون درلود زید دروازه ټک ټک کړه د لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنډ وروسته د عمر پخې ښځې آواز مو تر غوږ شو چې ویل یې: سوک دی؟
زید- زید یم مور جانې.

دروازه ډیر ژر خلاصه شوه او ښځې د زید په لیدو سترګې د خوشحالي څخه وپرقیدی په یو ښایسته مسکا یې زید په غیږ کې ونیو او ښکل یې کړو او ویې ویل: پخیر راغلې زویه.

زید په خوش اخلاقي جواب ورکړو، هغه ښځې زه هم غیږ کې ونیولم او مخ یې راته ښکل کړو او ویې ویل: پخیر راغلې لورجانې.
یغما- مننه خاله جانې خوش حال اوسیږی.
خاله جانې په لوړ غږ ناری کړل: حسنات لورې راشه زید لالا دې راغلې.

زه حیرانه پاتې وم چې دا کورنې ولې دومره د زید سره صمیمی او راحته دی؟ تر دی حده چې پوښتنه یې لا ونکړل چې زه سوک یم؟ یعنې دومره په زید باور لری؟ یو ښایسته ځهری ولا جنې په تلوار د کوټې څخه را ووتل او زموږ خواته راغلل زید ته یې لاس ورکړو او ویې ویل: پخیر راغلی لالا جانه کور کې خیرت وو؟

زید- خیر یوسې خور جانې شکر خیرو خیرت وو ټول ښه وه.
جنې چې نوم یې حسنات وه زما سره یې ستړی مشې وکړل او زما مخ یې ښکل کړو، خاله ما او زید د کوټو خواته دعوت کړو د کینستلو څخه وروسته خاله وویل: زید زویه نه یې را پیژنی؟ ( مطلب یغما)

زید خپل ستونې صاف کړو او کرار یې وویل: کوژدن مې ده مور جانې.
د زید په خبره خاله جانې په خوشحالې وویل: نکاح مو تړلې ده؟
زید- هو.
خاله- دواړو ته دی مبارک وې کله کوژدن شوی زویه؟
زید- هغه بله هفته ټول کارونه ډیر په تلوار وشول، یواځې نکاح مو وتړل وخت ونشو تاسو خبر کړم مورجانې، انشاءالله واده مې جبران کوم

د زید په خبره خاله په خندا وویل: دا نو څه خبره ده زویه تاسو خوشحال اوسیږی همدغه موږ ته بس دی، یو مور نو خپل د اولادو د خوشحالې څخه بغیر نور څه غواړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید په مسکا باندی مننه وکړل، ځومره د دی کورني سره نرم او مهربانه دی! زید د لږ خاموشي وروسته وویل: مور جاني یو څو وقته مو په زحمت کو، کورني تللی سفر ته د یغما کورني د پخوا څخه په خارج کې وه یو دبل سره کورني اړیکي لرو، یغما د چکر لپاره دلته راغلي وه ټول کارونه ناسایه وشول، پلار مي د سفر تیاري نیولي وه چي متاسفانه ما او یغما ونشو کړی لاړشو، نو ځکه دیخوا راغلو ځکه ددی ځای څخه

بل کوم داسي ښایسته ځای مو نه ولیدلی پدی هیله چي ستاسو د زحمت سبب جوړ نشو. خاله- استغفرالله زویه خپل کور مو دی، تاسو رحمت یاست موږ ته ما او دغه انجلی( مطلب حسنات) دلته یواځي یو د یغما جاني په اوسیدو خوشحالیږو زما د لور بشان ده راته.

زید یواځي خپل سر ښکته او پورته کوی او مننه کوی، د څو دقو وروسته د باندې وځي او یو چاته زنګ وهي کله چي خبرې خلاصي شو بیرته کوټې ته راننوتي او زما څنګ کي کیناستي، حسنات د لاس مینځلو اوبه او دسترخوان سره کوټې ته راننوتل ما غوښتل ورسره مرسته وکړم خو اجازه یي رانکړل.

ډیره وږې شوې وم سهار چي یو جوس او بیسکیټ مي خوړلي وو تراوسه مي نور هیس نه وخوړلي، حسنات ډوډې راوړل او موږ ټول په یو دسترخوان ډوډی خوړلو ته کیناستو، د رښتیا هم خوندوره ډوډی وه زما په ډیر ټینګار حسنات اجازه راکړل ترڅو دسترخوان ورسره ټول کړم، دسترخوان مو ټول کړو او د چاې ترتیب مو برابر کړو د همغه اول څخه د حسنات مینه مي زړه کې وولیده، ساده او انجلې وه..

چای مو راوړو او د چاې په څکلو لګیا شو د څو دقو وروسته د حسنات غږ د کوټې خاموشي ماته کړه او ویې ویل: وریندارې که چاې دی څکلې وې نو راځه تاته باغونه او چیني در ښکاره کړم.

د وریندارې د نوم په آوریدو مي عجیبه احساس پیدا کړو نه پو هیږم درک کولې مي نشو چي بد دی که ښه؟ په مسکا مي حسنات ته وویل: حسنات جاني کولې شي یغما راته غږ کړې داسي هوسا یم او پاتي شوه د تګ خبره نو باید ستا د لالا څخه اجازه واخلم..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زید ته به تمه شوم چې اجازه راکوی کنه؟ په هر صورت اوس د هغه د کوژدن په نوم مې پیژنې نو نغواړم کوم ستونزه ورته جوړه کړم، د زید خواته ګورم او کرار وایم: د باندی تللې شم؟
زید خپل د پیالې چاې څخه یو غړپ کوی او وایې: هو تللې شې خو ناوخته نکړی.
خپل چاې مې ژر وڅکې او حسنات ته مې وویل: راځه چې ځو چاې مې خلاص شو.

حسنات په خندا وویل: څومره ته تلواری یې وریندارې.
په دروغجن خفه او قهر وایم: بیا دی وویل وریندار؟!
زما په خبری حسنات په تلوار وویل: وبخښه نور نه وایم.

کرار د حسنات په اوږی وار کوم او په خندا ورته وایم: اه جنۍ ته سومره عاجزکه یې!
توکې مې درسره کول خو که یغما راته ووایه د ملګرتیا احساس کوم درسره( د دی خبری وروسته یو ست ګه د حسنات خواته وهم چې حسنات په خندا وایې:

حسنات- ډیره شوخه یې بیچاره لالا به مې ستا له لاسه څه کوی!؟
د حسنات په خبره زید خپل سترګې ښکته نیولې وه او زما په نظر د خندا څخه سور اوختې وو، خپل په نوکانو یې چونګارې کوم چې یو متره لځای څخه توپ وهې داسی چې یوائې هغه یې واورې ورته وایم: و دی خوړی بیا خاندی!!؟

بغیر لدی چې د زید د جواب په تمه شم د دروازی خواته ځم او وایم: حسنات راځه نو.
حسنات د دوه غټ ټکریانو سره زما خواته راغله یو دانه یې تور او بل خاکستری رنګ ټکری مو په سر کړل او د بهر خواته مو حرکت وکړو، حسنات هم زما پشان شوخه او خون ګرمه انجلې وه ډیر کم وخت کې یو د بل صمیمی ملګرې شو، د ډیر ګرځیدو راګرځیدو وروسته حسنات وویل:

حسنات- یغما څنګه دی کلې خوښ دی شو؟
یغما- هو پخدای ډیر مې خوښ شو ښایسته ځای دی خاصتاً ستاسو کور.
د خبرو په حال کې و چې زما ټکری د سر څخه مې ختا شو، ډیر وقت کیدو چې نه وو مې په سر کړی نو ځکه نابلدی می ورسره کول تیکری مې بیرته خپل په سر سم کړو د سر پورته کولو به حال کې مې سترګې په یو ځوان هلک ولګیدی، زموږ خواته یې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې نیولې وه حسنات ته کرار وایم:

یغما- حسنات وګوره هغه هلک سوک دی؟
حسنات کوم خوا ته چې ما اشاره کول ګوری، د حسنات په کتلو هغه هلک به تلوار خپل مخ اړوی، چې حسنات وایي: ها دا خو د کلي د خان زوی دی، د چکر لپاره دلته راغلي ولې دی پوښتنه وکړل؟
یغما- هیس همداسې راځه لاړشو ناوخته شوی مورږ تراوسه چینه نده لیدلی.

دواړه د کور خواته ځو تقریبا د ماذدیګر مونځونه قضا کیدل چې کورته ننوتلو او د ماښام د ډوډی تیاری مو ونیول، زید هم کور کې و د کله څخه چې راغلي و سم خبری نکول په نظر مې قهر دی؟ کله ناکله نظر یې پر ځان ګورم خو نه بوهیږم د دی کتلو او سترګو تر شا څه خبره ده؟

خاله جانې وویل چې قابلې پلو پوخ کړو، نو یو د بل په مرسته مو قابلې پلو پوخ کړو د دیګ سر مې پورته کړو خوندور بوی مې تر پوزی شو: اممم څه روغن داره او سم راغلي کنه حسنات؟
حسنات- هو ډیر سم پخه شوی، اخیر چا پوخ کړی؟( ماته اشاره کوی)
چې زه وایم: ځان نو کم مه راوړه دواړو یو ځای دا شهکار کړی دی.

دا خبره کوم او دواړه په خندا کیږو، دسترخان اچو او ډوډی راوړو په آرامتیا کې ډوډی خوړل کیږی خاله جانې زیات زمورږ د دیګ صفت او تعریف وکړو خو زید یواځې "مننه" وویل د سترخان مو ټول کړو او د همیشه پشان چای مو راوړل، د چای څکلو وروسته خاله شه شپه مورږ ته وویل او خپلې کوټې ته لاړه.

د زید د خوب ځای مو د میلمانو په کوټه کې تیار کړو او ما او حسنات هم د خاله کوټې ته لاړو، شپه خپل په ټول آرامتیا سره تیره شوه سهار چې کله پاسیدم نو د کلي یو رواج سهار وخته پاسیدل او د چاې څکل په بیلا بیل وختونو کې ځانګړی ډول دشپې لخوا! حسنات چای کیخودلې وو او په تمه و چې دم شي د خاله غږ مې واوریدو چې ویل یې:

خاله- یغما لوری.. زید زوی راویښ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- سمه ده خاله جانې.
د زید د کوټې په خوا راونه شوم ویده وو کرار مې وربانډی غږ کړل: زید راوېښ شه.
راوېښ نشو غوږ خواته یې نږدی شوم او په چیغه مې وویل: هوی چنارګل پاسیږه سهاری دی.

توپ وهې او د خوب څخه پاسیږی چې زه په خندا ورته وایم: خو د انسان پشان نه راوېښ کیږی مجبور خپل په طریقه دی راوېښ کړم.
زید بد بد ماته راګوری او ددی څخه مخکې چې کوم څه ووایې زه په تلوار د خاله او حسنات خواته تختم، د سترخان مو واچو او د سبار ناری مو وکړو، شیدی د پنیر سره عجیبه خوند وکړو د ربنتیا هم وطنې لبنیات ځانته خوند لری او هیس شئ ځای ته نشې رسیدلې.

د تولو څخه اول زه د دسترخان څخه پاسیدم او د کور مخکې د باغ چه ګکې به خوا ولاړم څه د پاسه شل دقې هلته بوخته وم چې د یو چا د پښو غږ مې واوریدو..
زید- زه باید لاړشم.
د زید غږ و مخ مې د هغه خواته اړو او وایم: ولې؟
زید- نن په شرکت کې جلسه لرو او مور مې هم په تشویش شوی راته.
یغما- سمه ده پخیر لاړشی.

بله خبره مې د ویلو لپاره نه درلود، څه مې ویلې وایې چې مه ځه؟ ولاکه بیخې ورته دا ووایم، زید یو څو دقې په فکر کې راته ولاړ وو، خو څه یې ونه ویل او ولاړی زه هم ورپسې شوم د خاله او حسنات سره یې خدای پاماني وکړل او د دروازی خواته راون شو زه هم تر د وازی ورپسې ولاړم چې کرار یې وویل:

زید- بل هفته راځم څه ته خو اړتیا نلری؟
یغما- نه مننه خاله جانې او رضوان باندی زما سلامونه وایه.!

خپل سر یې وخوځول او لاس یې جیب ته کړو دری زره افغانی یی راته وویستلو او ماته یی ونیولو ما پیسو خواته لیدل..
یغما- څه وکړمه پری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيد وويل: چيشی ته چي ضرورت شو واخله درته پری.
يغما- خپله پيسی لرمه ضرورت نشته.

پيسی يی ځما لاس کی کيښودلو پرته له د چی کوم څه ووايي له دروازی څخه ووتلې په لوړ غږ می وويل: الله پامان.
ځواب می وانوريدو ځکه چی هغه تللی وو.خونی ته ولاړمه حسنات ګندنه پاکوله .لستوڼی می پورته کړل او څنګ ته يی کیناستلم او ومې ويل:چيشی پخوو آغلی حسنات..
حسنات- آشک

په خندا ورته وايم: ورور خو دی ولاړو چاته يی پاخه کوي ماته؟
حسنات ما پشان په خندا شوه او په څنګل يی ووهلمګراو ويې ويل: ليونی اوس خو ته ځما د ورور د سر تاج يی لکه هغه پشان راته ګرانه يی.

د حسنات په خبره په حرت ځان سره واسم:د زيد د سر تاج؟هههههه څومره جالبه حسنات خبر نلري چې هغه ځما د وينو تږی دی! ځواب می ورنکړ چی حسنات دوام ورکړي. او ويې ويل: خدای پامانی مو وکړه؟
يغما- هو.
حسنات- يغما يو پوښتنه در څخه وکړم غصه کيږې خو نه راته؟
په مسکا می ورته وويل: نه ګلی ولی غصه شمه سل پوښتنی وکړه.
حسنات په نه زړه وويل: ولی وينتان دی د هلکانو په څير دی.مطلب ولی واړه دی؟؟
لکه چي پخوا دی ګنجي کړی وی.!؟!

پو هيدمه بوه ورځ به دا پوښتنه رانه کوی.ځکه زمونږ په فرهنګ او رسم کی اوږده وېښتان د جلی ښايست او زينت دی معلومه ده چې لنډ وينتان پوښتنی لاندی راوړی ولی ځه مجبوره ومه همدومره کافی نده؟ په دروغو مسکا می وويل: هو ګنجي کړی مې وه ځکه سوځيدلی وو.
حسنات په حيرت وويل: ولی سوځيدلی وو؟
ژبی لاندې می ځان سره وويل هغه ورځ می چی وينتان شوټا کړل لوی غم می په زړه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- کیدای شې د هغی ورځې غمځپلی واقعه ونه وایم؟
حسنات ځما لاسونه واخېستلو په مسکا یې وویل: هو ګرانې که نه یې وایې هیس ستونزه نشته هر څنګه چې ستا خوښه ده.
په مسکا می بسنه وکړه او خاموشی مو اختیاره کړه.د ګنډنې پاکول خلاص شو او وړه مو هوارولو. وروسته له نیم ساعته نه اشک تیار شول.یوائی پاخه کول یی پاتی شو.

یغما- حسنات لوبیا دی پاخه کړی؟
حسنات- هو هغه ځما مور پاخه کړی.
یغما- سمه ده اوس خو وخته ده! شپږدې او کوچ لاتراوسه ندی هضم شوې، راځه اول به جاري وکړو وروسته به اشک به پاخه کړو څه وایی؟
حسنات- هو ولا رښتیا وایی لا تراوسه وخته ده ځه دا پخلنځي کې ایږدم او راځمه.

حسنات وروسته له څو دقیقو راغله او پا کاری مو پیل کړه تر غرمی پوری د پاکاری او باغچی ته په اوبو ورکولو بوختې وو.وخت ډیر په تیزې تیږېدو حسنات سره می ښه حس درلوده .لکه یو خور پشان!

د حسنات غږ پورته شو: پخدای له لوږې مړه شومه.بس ده نو.
په خندا ورته وایم:ښه سمه ده خیتوری.
یو دیګ اوبه مو په ګاز کینودل او تیار شوی اشک مو پکی خوشې کړو.وروسته له پنځلس دقیقو څخه تیار شو حسنات ته وایم: هله قابونه راوړه!
حسنات قابونه راوړی په چکه باندی شاوخوا جوړ کړی وه.

په احتیاط مو اشک په قابونو کې واچول او حسنات ته می ورکړ.لوبیا دنیا( ګشنیز).نعنا.باندی مو تزیین کو.په هیجان می وویل: واه واه څومره مزه داره ښکاری.
حسنات- هو نو اخر چا پاخه کړی دی.
یغما- چوپه شه همدا خبری د زده کړې دی هاااا!؟؟
دواړو وخندل او دسترخوان مو هوار کړه.
یغما- حسنات ترور راغله؟

حسنات- هو لږ مخکی راغله لاسونه مینځې راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترور په تيکرى باندى لاسونه وچ کولو حال کې خونى ته راننوتل په مسکا مى وويل:
ستړې مشې ترورى ښه راغلاست.!

ترور- عليکم السلام لورې خوشحاله اوسى.
دسترخوان په ليدو ترور په مسکا وويل:واه واه د دواړو لاسونه درد ونکړى.
ما او حسنات يو بل ته سترګه ووهلو او خوړلو ته مو پيل وکه، رښتيا هم ډيره خوندوره وه حسنات په پخلى کې استاده وه.!دسترخوان مو ټول که ترور ويده شوه او مونږ لوښى ومينځلو. څلور ورځې کيږى چې د زيد څخه خبر نشته او څه ترور کره يمه ورځ راته په خوشحالى تيريږې.ترور رښتيا هم ډيره ښايسته او مهربانه وه.

هره ورځ مو حسنات سره په کلي کى قدم وهلو.ولې جالبه ده هماغه هلک چې اول ورځ کې مى ليدلى وو هره ورځ د سترګو لاندې راځى.او هره ورځ يى وينمه.
آيا دا کوم اتفاق ده که قصدا داسى کوى ؟نپوهيږمه.

يغما- حسنات نن به ګودر ته ځو.
حسنات- سمه ده ځو يو څو دقيقې صبر وکه.د مور پينى مى چاپى کمه.
د حسنات خبره په سر ښوره ولو تاييد کوم او همله کينم،چې د څو دقو وروسته حسنات و ويل: مور مى ويده شوه راځه چې ځو اوس.

پورته شومه او تيکرى مى په سر کوه چې حسنات وويل: هله نو جلى ته څومره سسته( کراره) يى
حسنات ته مى کاږه کاږه وکتلو او د هغې د خولې چل مې وکړو او به ټوکو مې وويل:
څومرررره سسته يى جلي!
حسنات په خندا وويل: لېونى څه بد خبره خو مى نده ويلى.
يغما- سمه ده ډېره خبرې مکوه .

دواړو ګودر خواته حرکت وکو بيا هم هماغه هلک ته مى پام شو.حسنات بغير لدى چې هغه هلک ته پام وى د نږى بيخبره ديخوا اخوا ګورى.له موقع نه مى کته واخيسته او حسنات ته مى وويل: پينې مى په درد شو ته څه زه کراره کراه درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- سمه ده دواړه به کرار کرار لاړشو.
یغما- او جلی ژر څه ځومره خبری کوی څه راځمه.

حسنات سر وخوځو او خپل د ګامو سرعت یې زیات کړو او لاړه شاته می وکتل هلک لاهم ولاړ وو. شاوخوا می وکتل چې څوک نه وی.کله چې د خلکو نشتون نه مطمنه شومه.په غصه هلک خواته لاړمه هلک رنګ د ویری څخه سپین شو خو ځان یی له لاسه ورنکړ.په غصه می ورته وویل: وروره خیرت دی؟ولی ما څاري ها؟
هلک چی ژیړ ویښتان یی وو او آسمانی رنګ سترګی چې اوس د نزدی څخه سم راته ښکاره شول هیس داسی نامې جذابیت او ښایست یی نه درلوده آرام یی وویل:

هلک- وبخښې چی ستاسی د خفګان لامل شومه خو د یو خیر کار لپاره غواړمه له کورنی سره ستاسې مزاحم شو.

د هغه هلک پدی خبره په حیرت مې په زړه کې وویل:هیییییی ژیړ میړی څه وایی خیر کار؟یعنی ریباری ها؟؟چا لپاره ضرور حسنات لپاره ها؟

یغما- وګوری محترمه وروره زما ملګرې خپله کورنی لری هر وخت غواړې کولی شې راشې ضرور کور مو هم لیدلی..؟
هلک په بنده بنده ژبه وویل: نه تاسی یوه نشوې ستاسې لپاره په جرګه درځم که مناسب ګڼې.!

له ډیری حیرت څخه نړدې و په زوره خندلی وایې دا ژیړ میړې څه وایې؟یا الله وبښې زما مطلب رشخند وهل ستا پر بنده ندی.یواځی ټوکې کومه جدې یی مه نیسه.جدی می ځواب ورکړو: نه مناسب نه بولمه په سلامت...

په غټو قدمو مې ګودر خواته حرکت وکړو کاشکی ګوتمی می ورته ښودلې وایې خاورې په سر می هیر مې شو. ګودر ته ورسیدمه د حسنات په لیدلو می زړه ارامه شو.
یغما- حسنات.
حسنات- دلته یمه راشه ..

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحسنات خواته ورغلم د هغی څنګ ته کښینستم اوپښی می اوبوته وردننه کړی
حسنات- یغما ته ښه یی؟ ولی دی رنګ داسی اوښتی دی؟
په کرار او د کلمی په ډول می ورته وویل:هو ښه یم فکر کوم فشار می کښته شوی.
حسنات په وارخطایی وویل: راځه چی کورته لاړشو راولاړه سه.
یغما- نه ګلی ښه یم دیخوا اوبو سره نوره هم بهتره کیږم.

څو دقیقی نوری هم هغسی کښینستو خو دهوا په تیاره کیدو سره د کور په خوا روانې سوو! شپه تیره سول اوسهار هم د همیشه په رقم لبنیات وطنی و غوړو سره تیر سو،خاله او حسنات راسره ډیری اموختې شوی دی او وایی: چی مخکی له تا کور خوشحالی نه درلوده همیشه ارامی وه! خو ستا په راتګ کور کې خوشحالې او شیطنت راغلې.

دوی ورځی نوری هم تیری سوی کومه خاصه پیښه نه سول رامینځته صرف د شین سترګی هلک مور په مرکه راله زما لپاره چی هغه د خاله له طرفه جواب سول په دا دلیل چی زه کوژده سوی یم..! دکوژدی کلمه ډیره راته ناشنا او عجیبه ده هههه کمه کوژده هممم؟؟

حسنات- یغما راسه چی پزه دی سوری کړم میخک په پزه که ضرور درسره شه معلومیژی..؟
زړه نا زړه وایم:نه پوهیږم ولا ستا په نظر راسره به شه معلوم سی؟؟ ستا سره خو ډیرشه معلومیژی.
حسنات- هوو لیونی مخ دی ګیردې دی پوزه دی هم وړه او تیزه سر لری ښایسته معلومیږې.

خپل دځان سره می جنګ دي چی ویې کړم کنه؟؟ اخیر وایم هرڅه چی وسو وایم: سمده مقصد ډیر درد ونکړی کنی وژنم دی حسنات!!!
حسنات وخندل او په خندا کې یی وویل: سمده راسه کښېنه.

زړه نازړه کښینستم سترګی می پټی وی اولاسونه می موټ کړل، د ستنی په داخل کیدو می چغی کړی او ومی ویل:اخ مړه سوم،خاوری وخوری حسنات مړه دی کړم مړه سي حسنات- وګوره یغما تار ونه کارې ښه؟؟ یوه هفته وروسته یی بیا لرې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يغما- ښه سمده پوه سوم!!!

هيندارې ته مخامخ ودريدم اوخپل ځان ته مې په هينداره کې وکتل،تور تارمی دپزی سره ښه معلوميدی زما د سپين پوست سره خوند کو.
حسنات- دلته د همسايگانو کورته يوه انجلی راغلی داسی ښايستی نکريزې کوی چی څه درته ووايم،راځه چی ولاړی سو چی مور دواړو ته نکريزې وکړی سمده؟؟

داول څخه مې نکريزې خوښی وی خو عمه اجازه نه راکول،د هغه وخت په يادولو باندی مې ژوره ساه واخيستل او حسنات ته می وويل: سمده راځه ولاړی سو!!
:□#شهاب
مور.دواړی خپل نکريزوته حيرانی سوی وه،د کوچنيانو په رقم مې په شوق وويل: وگوره حسنات څنگه ښايستی سوی دی کنه؟؟
حسنات هم زما په رقم وويل: هو پخدای دير دی د لاسو سره شايسته معلوميژيی.
په خندا ورته وايم: ستا د هم شايستی معلوميژی زړه وا نه چويی..؟!

دواړی د کور په طرف روانيږو او د نکريزو لپاره صبر کو چې وچې شې دخاله غږ راځې چې وايې: انجونو څه وخت مو نکريزی وچيری چې زيد رارسيږي چای اماده کړی !!

دزيد د نوم په اوريدلو خوشحاليږم ځکه وروسته له يوې هفتی راتلی،په دا يوه هفته کی زياتره وخت خاله ته زنگ وهی خبری يی کولی خو زما پوښتنه يی هم نه کول ليونې چنارگل بابا. د ځان سره وايم:صحی دی چی تليفون می مات سوی وه خو که هغه غوښتلی وايې بيايی د خاله په تليفون راسره خبری کولی سوی؟ ددی په يادولو چی ضرور د خاله،رضوان او اسما احوال ماته راوړی بی دليله مې پرشونډانو خندا راځی چی هر څنگه سی دکورنی په رقم وه!

زمور ده دواړونکريزی وچی سوی او مور خپل لاسونه پريوله؟اوبه ايږدو ترڅو د زيد دراتگ تروخته جوش سی،چای اماده کيری اويو قاب گوشت فيل( يو شانتې کورنې شيرنې ده) چی تيره شپه ما او حسنات پخ کړی وه اماده کو يی..وروسته له يوه ساعته ده دروازی غږ راځې حسنات په لوړ غږ وايی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- یغما ورسه دروازه خلاصه کړه ضرور ورور مې راغلی دی!!

په غټو قدمو ده دروازې طرف ته ځم ټکری مې پر ویښتانو نیم پر سر کړی او په لوړ غږ مې وویل: څوک دی؟؟
دزید سټړی غږ راځی: زیدیم خلاصه که.

دروازه خلاصوم د زید لوړ قد په دروازه کې ښکاره کیږی،د زیدپه لیدو می زړه ته د خوشحالی احساس په حرکت کیږی لکه وروسته له څو کلونو چی می په یو بیګانه ځای کی یو اشنا شخص لیدلی یی،د یوی هفتی کې مې درد او غوسه بیخی هیره سول په خوشحالی می وویل: سلام ښه راغلی.

زید ارام وویل: خوشحاله اوسی .
د زید لاس کې څو داني خلطي وه چې ما یې دلاسونو څخه واخیستل او اشپزخانی ته ځم او وایم: حسنات ورور دی راغې چای ور وړم.
حسنات- سمده

هغه پټنوس چی مو مخکی تیار کړی وه هغه اطاق ته وړم! زید او خاله ناست وه فکر کوم په سټړی مشې او احوال اخیستلو مصروفه وه..

چای وړم او د پیالو په ډکولو مصروفه سوم چی په دی وخت کی حسنات راغله او د زید په لیدو یې وویل: سلام ورور جانه ښه راغلی.
زید په خندا جواب ورکوی: خوشحاله اوسی.

د چای ډکې پیالې د زید او خاله مخکې ایږدم او ځان او حسنات ته هم چای اچوم. زید ډیرسټړی په نظر راتلې چای په ارامی وڅکل شوی څینی وخت می دزید کټل احساس کوو اویا هم شاید زما وهم وو؟ چې فکر مې کوی هغه راګوری؟ د ماښام د اذان غږ زموږ د ټولو غوږونه ونازول خاله پاسیده چی اودس تازه کړی، حسنات ګیلاسونه ټول کړل او ولاړه !!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زید خواته ګورم چی پر بالښت يې تکيه وهلې او وايم:کور کی خيرت وه خاله،رضوان او اسما ښه وه؟
زيد لږ ځان سم کړو او په کرار غږ چی په تکليف اوريدل کيدو ويې ويل: شکر ټوله ښه وه رضوان هم سلام وايو.

په خندا وايم: عليکم سلام
زيد چی زما په لاسونو کی يی سترګی پاته ويی، په خندا يی وويل: نکريزې ديې کړی دی؟؟؟
په خندا می وويل: هو!! بيخي می له هيره ووته درته ښکاره کړم !ته وګوره سنګه ښکاري ؟؟

دی خبري سره سم زيد خوا ته لاړم او لاسونه می د هغه سترګو مخکې ونيول چې هغه په موسکا باندی زما لاسو ته کتل،لاس يي زما پر لاسو کی کيخود او نکريزي کتلی سر يی ښکته کړو او ويې ويل: ډير ښايسته شوی!

د زيد خبري لا ختمه شوی نه وه چی حسنات راغله،د حسنات په ليدو لکه ماشومانو غوندي په خوشحالي می وويل: حسنات راشه نکريزي دی لالا ته ښکاره کړه !
حسنات بيچاره تکه سره شوه خو، بيا هم راغله کيناسته ځنګ ته می! لاسونه می ورته په هيجان سره زيد خوا ته ونيول، او ومی ويل: وګوره ښکلی دي؟!
زيد په خندا وويل: ده دواړو د ښايسته دي!

ساعت ته می پام شو، او په ورخطا می وويل: حسنات لمونځ قضا شو !!!!!

او زر جيګه شوم !! د لمانځه وروسته د شپې ډوډی تياري مو ونيوله، زيد خپل تيلفون کی بوخت و حسنات دستر خوان راښور کړو! ټول په ډوډی خوړلو کی بوخت و چي د حسنات غږ پورته شو: يغما لالا می خبر دي!!!
ومی پوښتل: د څه نه ؟؟

زيد ډوډی خوړل بس کړل او په تمه شو چې حسنات څه وايي؟! حسنات په شکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



انداز  وویل: همغه نه!!!!
بعد له څو شیبو مې ذهن کار وکړو او د سترګو په اشاره مې پوهه کړه چې (ونه وايي )
ځان سره می وویل که څه هم زید پوری اړه نلری چې مرکه رازي یا نه رازي راته
....خو بیاا هم بد خلق دي همدلته وحشي ګری ونکړی!! هر څنګه وی د کوژدنې په حیث
یی دلته یم په غوسه وایم:

یغما- حسنات جانې!!! د ډوډی پر وخت خبري کول ښه کار نه دي.....
حسنات خپل اوږي پورته کړی او په شیطانت یې وویل: سمده ما پوري اړه نلرې چې
درته مرکه راغلې.

زید چې مړي په خوله کی ایخې وه په ټوخي پیل وکړو، د اوبو ګیلاس می لاس کي
ورکړ، او حسنات ته می بد بد وکتل، خاوری دی په سر شه،، په دی بي زنجیره خوله
وس ضرور و چي ته دا خبر وکړی هاااا!!

زید په ډیر زیار او جدیت وویل: حسنات سوک په مرکه راغلي ؟؟
حسنات چی پوهه شوه چي څه ګلان یې کرلې! نو په ډار یی وویل: هیس سوک ټوکي می
وکړی لالا جانه ...
زید: سم ځواب راکړه !
حسنات په ډار وویل :د خان صیب میرمن د وریندار پسی په مرکه راغلي وه خو مور می
رخصت کړه!!

مخکې له دي چي د زید غږ لوړ شی ترور جانې وویل: حسنات درته می نه و ویلي چي
ورور ته دی مه وایه؟! هیس په خبره نه یي ته انجلي.. د خدای په قهر نسي ته ډوډی دی
خپل په ورور پر زهر کړه ،،،
زید په ارامه وویل: مور جانې هیس خبره نده زه ځم د باندی لږ تازه هوا واخلم ...

زید پاسیږې او د کور نه وځي حسنات ته ګورم او وایم : ودي خوړه لیونې!!!
حسنات پاسیږې او څه نه وايي ښکاریده چی خفه شوه څه می ونه ویلي نور، تقریبا شپه
نیمایي ته ورسیده خو زید رانغي ترور او حسنات ته مي وویل تاسي ویده شی زه پټمه
کیږم زید ته چي راغي درازه خلاصه کوم ورته..خبره 12بجو ته ورسیده لږ لږ اندیښمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم !!غوختل مي ترور ويينه کړم چي، دروازه خلاصه شوه ......

په ورخطايي دروازې ته لاړم مخکې له دې چې پوښتنه وکړم سوک دی! دروازه مې خلاصه کړه د زيد په ليدو مې ارامي احساس وکړ! خو په غوسه مې وويل: ساعت ته دې کتلي؟! نه وايي چي خلک به راته اندېښنه کووي؟!

تازه مې مخ ته ورته پام شو چي سومره ستړي دی؟! ستړګي د وينو غوندې سرې شوې وي کوم څه خو به نه وي شوی !؟ له دراوزې لري شوم ترڅو زيد کور ته دننه شي زيد يو پلاستيک سره کور ته دننه شو او د ناستي کوټې ته لاړو بې له کوم خبري زه هم ورپسې ورغلم په ارامه مې وويل: زيد خيرت خو دی؟ ولي ستړي ښکاري؟
زما په شان په ارامه وويل: سردرد يم!!

پاسيدم او پخلنځي خوا ته ولاړم خواړه مي ګرم کړل او دستر خوان سره لاړم کوټې ته زيد بالښت ته تکيه کړي وه ،،او لاسونه يي په سترګو ايخي و نيوهيګم ولي خو د زيد مقابل کي احساس د مسوولیت کوم ؟! شايد!!! ددي لپاره چي دومره ډيره لاره يي زما لپاره راغي؟! په دي حالت کي چي هيس خپلوي ورسره نلرم!!!
دا دومره مرسته دي يو پردي کس لپاره ډير نده ؟!تر څو چي توان لرم بايد جبران يي کړم !!

يغما- جيګ شه ډوډي مي راوړي.
لاسونه يي سترګو نه لري کړه پټنوس خوا ته وکتل او ويې ويل: ني خورم وږې نه يم!
خوا ته يي کيناستم او دستر خوان مي هوار کړو او کرار مې وويل: ماښام دی هم څه ندي خوړلی هله وخوره وس !!
خو هغه بيا هم پروت و او ارامه وويل: يغما ستړي يم پريده وروسته يي خورم !!!
زړه نا زړه وايم: زه درته خوله کي درکړم؟ زما له لاس نه خوري؟

زيد اول حيرت کوی خو څو شيبي وروسته د حيراني پر ځاي موسکا وکړه او سر يي د هو په معني وښورو،پاسيږم او لاسونه مي وينځم ،،او راځم ترڅنګ يې کينم بسم الله وايم،،، او مړي د زيد خولې ته نيسم!! ماشومانو غوندي خوله خلاصه کړه او مړي وخوړه همداسي يو قاب خواړه وخوړل بيچاره سومره وږي وو؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موسکا مي وويل: دا يعني وړي نه وي ؟!
ورو يي وخندل او هيس يي ونه ويل ....

دا چنار ګل بابا ولي داسي آرامه شوي؟ دسترخوان توله وم زيد خپلو لاسونه باندی خپل په سر زور ورکوه چې زه ورته وايم: اوس دی هم سر درد کوی؟
زيد- همم هوو.
يغما- ګولی دی خوړلي؟
زيد- هو.
يغما- بيا ولی ښه نشوی؟
زيد- نپوهېږم.
يغما- زه چاپي کړم سر دي هووم؟

زيد- خوب نه درځي؟
يغما- اوس فعلا نه.
زيد- که په زحمت کيږي نا سمده !!

بالښت څخه تکيه اخلي چې زه تلوار کوم پورته کيږم د خوب ځای ورته سمه وم او ورته وايم: راشه دلته څمله که ويده هم شي خپل ځای که ويده شي.
زيد- يغما اول راشه دلته کينه.
په مشکوکه انداز ځم او ښنګ ته يي کينم چې زيد کوم خلطه چې راوړی وه خلاص کړو او د شړنګ شړنګ غږ مې واوريده...؟
يغما- دا څه دي؟

زيد: تاته او حسنات ته مي بنګړی راوړی..!
اووهی دا اوس زيد دي؟؟ خدای خير کړي موږ ته يی بنګړی راوری! په خندا ورته وايم: رښتيا؟
زيد په خندا باندی سر لاندي پورته کوي.پلاستيک په تلوار د لاس څخه يي اخلم او وايم: وګورم کوم رنګونه دی راوړي ؟
زيد- کوم رنګونه دي خوښ کړی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنګړی پلاستیک ښخه را باسم یوه لیچه تور رنګه وه ، دومه لیچه شینی
رنګه وه، دریمه لیچه سور رنګه وه ، څلورمه لیچه آسماني رنګه وه، څلوره لیچې
راوړې په هیجان ورته وایم: اووو څومره ښکلی رنګونه دي راوړي بیشکه دي وی کوم
یو زما دي؟ ؟
کراره وایی: زما په خوښي لاس کوي؟ ؟
حیرانه کیږم د د دومره مظلومانه لهجې ښخه؟ کرار ورته وایم:وګورم ستا ذوق څنګه
دي؟که خوښ مې شول بیایی په لاس کوم.

زید خاندی او وایې: سره بنګړی او شنه بنګړی می تاته راوړي نور اختیار لري هر کوم
چې ستا خوښ شول.

بنګړوته په ځیر،ځیر ګورم او وایم: خوښ می شول دا نور بنګړی تور او آسماني رنګونه
دي حسنات.
بنګړی راخلم غواړم لاسونه ته می واچوم لاس می نسئ او وایې: راکړه زه لاسونه ته
دي اچوم ځان زخمي نکړي!

دا نن شپه څه وربانديِ شوی بیخی سر چپه شوي ده! عجبی کارونه کوي؟! کرار ورته
وایم: ضرورت نشته زه خپله کولی شم !
لاس می تر جلا کوم چې زید په کلکه لهجه وایي: یغما دوه دقیقي آرامه اوسه.

زید په ډیر فکر یو یو بنګړی می لاس ته کوی، او زه خپل لاسونو ته ګورم چې په
نکریزو او بنګړیو باندی سینګار شوی،اه څومره ډیر وخت خپلي جلی توب نړی ښخه
لري شوی وم 12کاله عمه می هیڅکله اجازه نه راکوله ځواني جلی پشان ژوند وکړم
تیر ژوند په یادول ژوره ساه اخلم ! سترګي پورته کوم پام مې‌ي زید ته کیږم زما په شان
په ځیر،ځیر زما لاسونو ته ګوری، د کوټې د فضا د بدلون لپاره وایم:

یغما۔ هله نو پورته شه اوس ناوخته شوی ده حسنات بنګړی سهار ته ورکوم.
زید خپل سر لاندي پورته خوځوي او خپل ځای کی اوږد ځملي بالښت څنګ کې ورسره
کینم او د سر په چاپي یا مساژ کولو یې پیل کوم،زید مبایل ته زنګ راځي چاپي کولو
ښخه لاس اخلم په تمه کیږم جواب ورکړي! موبایل د جیب ښخه راباسي د موبایل صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم ته ګوري او خاندي !

زید- سلام رضوانه.

د رضوان د نوم په اوریدلو زید پشان زه هم خاندم خوو کرار او په پټه خاندم او کرار زید ته وایم: سپیکر ووهه!

زید خپل سر پورته ښکته کوي او لاوډ سپیکر وهي! په کوټه کې د رضوان لوړ غږ اورېدل کېده!

رضوان- علیکم السلام پخیر ورسیدی!!
زید- هو څو ساعته کیږي چې رارسیدلی یم!!
رضوان- یغما څنګه ده؟
زید- ښه ده سلام وایي!!

له دې پرته د رضوان د ځواب په تمه شم،زید لاس نه تلیفون په حمله راخلم او وایم: هلوو تورکی څنګه یې! کور کې خیرت دی!
زما د غږ په آوریدو رضوان په خندا وایې: ای ناځوانه اوس زموږ خبر هم نه اخلی !
په خندا ورته وایم: په دی خاطر چې مهم نه یې!

زید ورو وخندل او رضوان په دروغجن غوسه وویل: سمه ده ما خو درته ډیر په زړه پوري خبرونه لرل کاغذ پیچه! خو خپله دی ونه غوښته،ماته یې څه!!

ما خپل غږ آرام کړ او ومې ویل: الا ما ټوکې کولې، ښایسته ورور مې، خدای دې ستاسو په کور کې برکت واچوي،خدای دی درته ښایسته ښځه نصیب کړی،خدایه...

خبره مې په خوله کې پاتې شوه چې رضوان د خندا شخه په لوړ غږ وویل: مکاری کېدړی لومړی دی څه وویل تورکی هاااان؟؟؟

زید په کراره وخندل چې ما بیا رضوان ته وویل: ته په ټوکو نه پوهېږې! ووایه،راته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیخی په اندیښنه کې شوم!!

د رضوان غږ لوړ شو: زید ووایم!!
زید خندا ودریده!! او په کلکه لهجه یې وویل: رضوان مغز مې مه خرابه وه!شپه ناوخته ده لاړ شه ویده شه!

هاا یعني خبره چنار ګل پوري اړه لري؟ رضوان بیا په خندا وویل: نه باید یغما هم خبرې شي!

لږ پاتې وو چې اندیښنه له امله مړه شم؟ د زید له خولې مې خبره واخسته او په جدي ډول مې وویل: وایې که نه!!! یا ضفات دی درته وړاندې کړم، ګرانه ورور هوم؟؟

رضوان په خندا وایې: وایم وایم، بې له هغه هم زید رانه لری دی لاس یې راته نه رسیږې ( پتمه شوم د رضوان خبرو دوام ته رضوان خپل غږ صاف کړ او د جنګو غږ په څېر په نرۍ غږ یې وویل: الا خوری چې یو کس ته مرکه (خاستګار) راغلي زموږ کورته او زما پلارته یې ویل..
په حیرانتیا وایم: چا پسی؟؟؟
رضوان په همغه نرۍ غږ وایی: ښاغلي زید پسی!!!

سترګې مې د حیرت څخه د توپ په څیر شوی،او خوله مې تونل په څیر خلاصه پاتې شوه! د څو ثانیو وروسته حیرت مې خلاص شو او په قهقهه سره خاندم په داسې حال کې چې ما خپله خندا کنټرولوله چې خاله او حسنات له خوبه راویښ نه شي! پام مې شو چې زید بغیر د حرکت څخه په عجیبه انداز ماته راګوری،ما زید لور ته وکتل، بغیر د سترګو رپولو ماته زیر شوي وه! په خندا ورته وایم: ریښتیا وایې؟؟! څوک راغلی!!

رضوان- په خدای، رښتیا وایم، مرسل پلار راغلی و!
یغما- رحیم کاکا بیا څه وویل!؟
رضوان په خندا وویل: کاش چې ته وی،پلار مې سم تک سور شوی وو! زما مور ته یې ویل فرشته زمانه سرچپه شوي،خلک جلی پسی مرکه (خاستګاری) کوي،او دوی زما زوی پسی راغلل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خندا څخه تکه سره شوم! زيد تليفون زما له لاس څخه کش او په جدي ډول يې وويل: رضوان بالاخره راځم خو، اوس لاړ شه مړ شه (ويده شه) پرته له دی چې ځواب ته به تمه شي تليفون په پرې کوی!

زه په همغه خندا سره وايم: زيد ميره درته کو،چې له تا څخه خلاص شو!

هغه څه ونه ويل او د ګونګيانو په څير يې کتل! خو ولې يې څه ونه ويل؟ که بل وخت وای، زما ژبه به يې را پرې کړې وايې ما خپل ستونی صاف کړو او د هغه د سر په چاپی کولو مې پيل کړو، خونه له خاموشی ډکه شوه!

په کرار وايم: مريم څنګه ده؟
هغه زما په لور سر پورته کوي او په مسخره موسکا سره وايي: آغلې يغما،په هر چا پسی دی زړه سوځې، پرته له مانه.
يغما- بنه څه شوی په تا باندی،چې زړه مې په تا وسوځوم هوم؟؟روغ جوړ يې شکر!

زيد- ته څه خبره يې چې څه دلته تيرېږی( اشاره خپل زړه ته کوی)
په خندا ورته وايم- مئيني شوې خو نه يې چنارګل بابا؟
زيد په غمژن مسکا وايي: بت پرسته شوی يم يغما ...!( ژوره ساه اخلي او وايي: حال مې خراب دی، هره شيبه د هغه د عکس په کتلو ويديږم، کار مې ګرځيدلي د هغې عبادت کول خدای ته په دومره نژدی والای ويريږم چې غافل او بی خبره نششم خپل د رب څخه.

يو اځې ورته ګورم نه پوهيږم ولې مې زړه غواړی چې زيد خپل خبرو ته دوام ورکړی؟ يعنې دومره راته دا خبری د زيد د خولې څخه راته حيرانونکې او په عين حال شيرنه دی؟!

زيد زړه څخه يو اه باسي او بيا وايي: يغما ډوبيږم کيږم داسي هم پدی درياب کې ډوبيږم چې هيس سوک مې د ويتلو توان نلری، بغير د هغې څخه ..! يعنې هغه پريږدی چې زه ډوب شم؟ آيا هغه زما د ژغورلې هڅه نکوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زید خبرو ته هک حیرانه یم راته عجیبه ده دا خبری آوریدل د زید څخه،! هغه زید چې د هغه په یو اشاره باندی ټول خلک نخیږی، وس دومره ناتوان شوی چې زما مخکې د اعتراف ژبه یې خلاصه کړی..!؟

په خندا وایم: ستا بت څوک ده؟ آیا هغه تاسره مینه لري؟
زید په غمجنه لهجه وایي: نه هغه هر چا سره مینه لري بغیر زما نه !
کراره غږ ورته وایم: نو څه ګټه لري د داسي بت عبادت؟؟
کراره غږ وایي: ګرانی مئین کسان د ګټې پسې نه ګرځي..

یغما- او که هغې هم د مئینې لپاره لځان بت درلود بیا څه؟
زید- پوهیږم چې نلري ډاډمن یم،که بیا هم بت ولری نو زه یې ورته ماته وم !

د زید په دي خبرو اورلیدو می ځان ورپیدی لرزه راباندي راغله زید حال لیدلو ته ګورم کولی شي هرڅه وکړي!یعنی دومره مینه ورسره لري؟ نیکمرغه جلی ده

یغما- میني لاره داسي نده؟که د رښتیا زړه څخه ورسره ولري بیا د هغی خوښي لپاره ځان څخه تیریږی!
زید- ویل یې اسانه دي شاید هرڅه نه به تیر شم،حتا ژوند څخه مي خو د هغې څخه نه تیریږم، یعني کولی نشم ، ناممکنه د، یواځني شئ چې دلاسته راوړلو لپاره یې حریص او بیتابه یمم هغه ده او بس.

په خندا ورته وایم: فلسفه مه وایه بت پرسته....!
زید- څومره ښه بت لرم زه سومره طالع منده یم

ولی داسی عجبه احساس راته پیدا شوو د زید د خبرو په اوریدلو؟ هغه ناپیژنده جلې سره مې بخیلی او حسادت پیدا شو ناساپه، چې داسي نشئ زید زمانه غافله شي! اول خدای بیا زید زما کلکه پناهګاه ده، که دی نه یې څنګه مشکلات به راباندي راشي..؟! چوپتیا کوم ځکه کومه خبره دي ویلو لپاره نلرم، چې زید ادامه ورکوي او وایې: د چا مرکه راغلې وه څوک وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بنده بنده ژبه وایم: هیڅ څوک
زید- یغماااا!!
یغما- افففف اوریدلي به دي وی د کلي د ملک ښځه راغله وه.
زید- ته چیرته لیدلی وي؟
بی اختیاره ورته وایم: زوی لیدلی وم هغې لیدلې نه وم..

زما په خبري زید په تلوار خپل په ځای کې کیناست او ویې وویل: څه دي وویل ؟ چا لیدلی یی؟؟

تازه پوخ شوم چې ګل ته می آوبه ورکړي خوو پدی حال کې مې د زید ځورول مې مغزو ته راغلل او په شیطاني خندا مې ورته وویل: زوییی!
زما په خبره د زید تندی تروش څو خو ما به همغه شیطنت وویل: داسي شنی سترګي لري هیڅ پوښتنه مه کوه داسي ښکلی سترګي وي ای ای نو، کله چې ویل یې مرکه درلېږم تندي باندی د خولو سیلاب وه.

زید ته مې توله کیسه وکړل د الف نه تر یا ما خندل او هغه سترګو رپ لا نه وهې، او همداسي رکتل! نه پوهیږم کله مې لاس د هغه په قوی لاس کې بندی شو؟ او هغه په غوسه ناکه لهجه وویل: لکه چې خوښ شوی د ده ؟ته ما ده څه لپاره راوستی یی؟ د ساعت تیرولو لپاره هوم.؟

ای وای دا بیا وحشې شوو زید وضعیت نورماله نه وه زه ولی بیعقله شوم ورسره می شوخي وکړه، د دی لپاره چې خبره نوره خراب نشي زر ورته تسلیمه شوم او به کراره ورته می وویل: پخدای قسم هغه زما ورور په شان دي توکې می کول( زما پدی خبری د زید لاس زور یو څه زما د اوږی څخه کم شو او په همغه تروش تندی وویل:

زید- یغما پخدای قسم که و دی وینم یو غلط قدم واخلې ژوندی دی په ځکه کې ښخ کوم!
ژوره ساه اخلم کوښښ کوم ځان کنټرول کړم اوس څه ورته ووایم غټ جنجال جوړیږي نو ځکه کرار وایم: خپله ښه پوهیږي چې زه داسي جلی نه یم چې په غلطه لار باندی لاړه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- پوهیږم، پوهیږم بیا هم پدی خلکو باندی باور نلرم ستا مسولیت ما سره دی، بیا هم هوښیار اوسه غلطه لاره خوښه نکړي کنه بیا نووو...( زید ترڅو خبره خلاصوله زه پورته شوم دروازه می بنده کړه ترڅو حسنات او ترور خوب نه راویښ نشي!

نور می صبر خلاص شوي وه داسي کیږي نوو دا زید خبري تولي تیر پشان وي آرامه اوسم ورته هومممم؟؟ ورتاوه شوم د هغه پشان په غوسه ورته وایم: کنه څه ؟؟؟ اووو څه وشول؟ ښه خوو یي ؟؟ په کوم حق باندی دا خبري ماته کوي؟؟ سمده مرسته دي راسره وکړل پناه دي راکړه، خوو په دي معنا نده چې زه ستا په قید یا بند کي اوسم..

زما په خبرو د زید غوسه نور هم زیات کیږی او لفظ په لفظ به کنټرول شوی غږ د غوسي څخه وایي: ځکه، چي ته زما کوژدنه یی،اوس پوه شوی په کوم حق باندی دا خبري تاته کوم ؟؟
په غوسه ورته خاندم او وایم: زید خان فکر نکوی خپل په دروغو او نقشې کې زیات مخته ځي؟ زه ستا کوژدنه نه یم دا یواځي یو نقشه ده پوهیږي یوازي نقشه ده.

زید د زیات غوسي څخه په کټ،کټ خاندی او وایي: نقشه؟ چا ویلی چي نقشه ده؟ زما په نوم دی چله په لاس ده ( بیا خپل لاس هم پورته کوي او وایي: وګوره دا هم چله ستا په نوم زما په لاس کیده ؟ نقشه بیا کومه ده؟

ولی تراوسه زما پام د زید په لاس چلې نه و شوی؟ په کراره ورته وایم: ویده شه ؟ بی خوبه شوي یی هر رقم چټیات وایي ( غوښتل می پورته شم زما لاسي یې کلک ونیوی او ویې ویل: سهار ته ځان تیار کړه مولوي راولم چې زموږ نکاح وتړی رضوان هم پوهیږي...!

د نکاح د نوم په اوریدلو زړه می حرکت څخه پاتی شو !نکاح دا کلمه زما مغزو کی زنګ وهل پیل کړو نکاح...... نکاح......نکاح...... په کراره ورته وایم: ټوکه دی خنده داره نه وه !!
زید په کلکه وایي:تراوسه ما ستا سره ټوکي کړي چي دا یې دویم ځل وي؟
په رپیدلی غږ وایم: زیده ټوکې کوي؟ د څه نکاح؟ پخدای ما بد کړی نور ستا سره ټوکې نکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره کوم او کوښښ کوم ترڅو لاس مې د هغه د لاس څخه جلا کړم خو هغه داسې کلک نیولی وه چې د ختا کسدو نوم یې نه اخیستو.

زید- یغما.. زه ټوکې نکوم همدا مې آخره خبره ده ! نکاح...

نه پخدای زید په کلکه و لکه مخکې پشان غوسه و او دی چې کومه خبره وکړی په ربښتیا هم هغه کوی په نیولی غږ ورته وایم: خپل د مور او پلار په سر قسم خورم نور څه نه وایم پخدای بد مې کړی سمده !
زید- یغما اعصاب راته مه خراب کوه آخري خبره مې همدغه ده.

غوښتل مې زید قانع کړم نو په کراره مې ورته وویل: کورني به دې څه وایي سوچ دې ورته کړی؟ سمده زه ستا د لاس نانځکه یم،ځکه کورني مور او پلار،نلرم پوښتنه مې وکړی ته خوو یې لری؟ کورني ته دی څه جواب ورکوي؟ مریم به څنګه شي ؟ یواځې د یو ضد لپاره زما او خپل ژوند مه تباه کوه، تا خو همدا اوس وویل چې بت پرست یې، نو هغه جنې به څنګه شي؟ جواب راکړه.

د هر خبرې سره، مې اوښکې لکه سپینې مرغلرې پشان د سترګو څخه راوانی وې چې زید په لوړ غږ وویل: وه لعنتی ژاړه مه ! مه ژاړه یغما قسم درکوم د هغه چا په سر باندې چې تاته ډیر ګران دی پخدای نور ستا د اوښکو طاقت د نلرم په پیر په پیغمبر نور طاقت نلرم.

زید خاموشه کیږی خو زما بدبختې اوښکې چیرته وچیدی؟ زید ستونې صاف کوي په نیولې غږ په سختې او زر تکلیف باندی وایې:زما بت ته یې .، ستا عبادت کوم ولی دومره بیعقله یې ؟ ولی نپوهیږی؟ ؟ په کومه ژبه درته وایم هـــا؟ ؟ولی زما د سترګو څخه نه پوهیږې لعنتی؟ ولی زما درد نه ګورې؟ باید هرڅه په خولی باندی درته ووایم؟

کله ناکله سترګې د ژبې څخه زیات خبری کوی او مقابل نفر پوه وی، خو ته بیعقله زما د سترګو په خبرو پوه نشوی....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي خبرو په اوريدل چې ظاهره کې الفاظ وه خو ماته د توپک د مرمې پشان وه يو دم هک حيران وم ورته چې زيد بيا وويل: فکر کوي زه اول څخه نه پوهيدم ته جلی يی ؟؟ نپوهيدم ځان څخه دی هلک جوړ کړي؟ نپوهيدم د کور څخه تبنتيدلی يی !
ستا په نظر زما په تندی باندی بيعقل ليکل شوي؟ ؟خبري وکړه، دا لعنتی اوښکي پاکي کړه.

زه د زيد خبرو ته بی حرکته لکه بت پشان پاتې وم چې هغه بيا وويل: زما يی په مريم څه؟ مريم خپله هوښيار جلی ده هغه د اول څخه پوهېدله چې زما په نظر کې هغه ما ته د خور پشان ده لکه آسما! کورني می ما درک کوي د ټولو مخکې زه درېږم ته يوازي ما ومنه ما قبول کړه.

اوس هم زما لاس د زيد په لاس که بند وه، هغه خپل هغه بل لاس خپل لړ شانتي رسيدلی وينتانو کې کش کوی او په ډير عاجزه او مظلومه لهجه باندی وايې: د الله په پاک ذات باندی قسم کوم نور زغملی نشم پخدای نور نشم پټ کولې دا مېنه او ليونتوب د غرور په پلار دی لعنت وي! زه هم انسان يم پخدای انسان يم تر کله وزغمم هاا؟؟

آيا زه دومره د دی بدبختيو لايق يم؟؟ تا زه څو، څو ځلي خپل په بې خبری باندی مړ کړم يم؟؟ آيا ته پوهيږي کله چې ته ماته نګوری زه زره، زره له مينځه ځم.( اشاره خپل مخته کوي او وايې: آيا لړ دی هم زما سترګو ته فکر نشو او دا دومره مينه دی و نه ليدل؟؟؟

زيد د ليونيانو پشان شوي وه، وار په وار يې پوښتنی کول زه په ځمکه باندی بی حاله ناسته وم، اوښکی می په مخ باندی راوانی وي ځان سره په جنګ کې وم يعنی زيد اول نه پوهيدی چې زه جنې يم؟ ولی هغه ورځ سليم وويل ته جلی يی زيد حيرانه نشوو؟ ولې زه هلته پوه نشوم چې زيد پوهيږی؟ ولی هغه وخت چې سليم راته وويل: ته څه فکر کوي چې زيد بيعقل او نه پوهيږی؟ ولی هلته د سليم د خبری په معنا و نه پوهيدم؟ولې د زيد د کارونو څخه پوه نشوم؟ ای لعنت دی پر ما وي..

ولې هغه وخت پوه نشوم چې ده زما په خاطر خپل وينتان پريکړل اخير ولی زه پوه نشوم کله چی يې هغه شعرونه ويل، ولې نه پوهيدم؟ اصلان ولی له جنون او ليونتوب چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندي درلوده نه پوهیدم؟خـــــا نو ددی پخاطر یی د وریندارۍ له نوم سره حساسیت ښوده!؟

زید دا دومره وخت له ماسره مینه درلوده او زه نه پوهیدم؟ یعني دومره په خپل تیر ژوند او ستونزو کي غرقه وم چي د زید مینه مي نشو لیدی! ټول خاطرات مي لکه د فلم له سترګو تیر شول! د دلایلو، سیلاو مي په زړه او مغز کي څپی وهي! ذهن مي له کاره ووته او د هیڅ کار تاوانایی نه درلوده، ددی خبرو زغم راته ډیر سخت وه لاس په تیزي سره له لاسه یی کشوم او د دروازی په لور ځم،د زید غږ پورته شو!

زید- یغما! دا د ښه په غوږونو کي ونیسه، که زما نشوی نو د بل هیڅ چاا به هم نشي خبره اوسه!

په لوړو قدمونو له خوني څخه اوځم او د خاله او حسنات د خوني په لور ځم خوني ته له ننوتلو سره په آرامه ساه اخلم! په ځای کی می غځیږم او د زید خبري مي ځان سره تکرار کړی ( پوهیږي چی په دی ناخبره دنیا کی د زه څو ځلي وژلي یم)
(پوهیږي چی ستا د هری اوښکي په تویه ولو وژل کیدم) (ایا په کافي اندازه ستا سترګو کی نه یم) ژوره ساه اخلم او ځان سره په فکر کی کیږم ولی مي د ویری احساس ونکړو؟ ولی خپه نشوم ؟ اصلاً ولی مي زید څخه بد رانغلل؟؟

کله چي سلیم راته وویل مینه درسره لرم و ویریدم، خفه شوم، بد مي تری راغی تر دی چی په لیدو یی لاسونه مي متي کیدل! شپه له ټولو فکرونو او عجیبه حسونو سره تیره شوه سهار د ازان په غږ پاڅیدم حسنات او خاله مي هم پاڅول خاله په خندا سره وویل: لوری ورشه زید هم پاڅوه چی لمونځ قضا کیږی.

زړه می درب درب کوو، زه زید پاڅوم خو په کومو سترګو؟؟ د تیری شپی په یاد ته راتلو سره می غومبري سره شول چي بیا هم د خاله را غږ کړل: یغما لور وا دي نه وریدل؟
یغما- دا ده لاړم.

زړه نازړه د ناستي خوني ته ځم دروازه ورو خلاصوم لومړی مي سر دننه کوم ګورم چي ویخ دي که نه؟ هو د مصر شهزاده ویده ده!! ورو ورو یی خواته ورځم او په ارامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ورته غږ کوم: هیبی پاڅیږه لمونځ قضا کیږی!

زید حتی شور هم نه خوري نوم مي نشو اخيستی ځکه شرميدم بيا هم لکه د مخکی غوندي وايم: هیبی نه اوری؟
افففف د دی خوب څومره دروند دی! په ګوتو مي د ولو مينځ کی ووهه او په ارامي مي وويل: زيد!؟
د زيد غږ پورته شوو او په خندای يی وويل: زيد د صدقه شه.
يو متر مي له ځای ټخه والوتم، او په غوصه مي وويل: ولی د اوله ځواب نه راکوه؟؟

زيد- ځکه چي زه هیبی نه يم زيد يم او بله دا چی داسی غږ د راته نه وه کړی!
بيا هم رنګ مي له حيا سور اوړي او په لوړو قدمونو د دروازی په لوري ځم!
زيد ورو خاندی او وايي: ستا له حيا قربان شم ګلی!

داسي حس می کولو لکه ذره ذره اوبه کيږم او په ځمکه ننوځم...
زيد- يغما که کوم وخت مړ شوم او ته راته داسي غږ وکړي نو شايد بيرته ژوندي شم!

په تيزي سره له خوني وځم،او شرمناکه خندا مي په مخ خوره وه...ولی خاندم؟؟؟ هسی نه چي....نه نه امکان نلري هغه راته يوازي يو ملګري دي له دی ډير څه نه ...
موږ له دوه مختلفو قطبونو يو امکان نلری فکر کول يی هم په اړه خطرناکه ده زه حتی نه پوهيږم چی مينه څه ده؟او نه پوهيږم چی دی خندا ته څه نوم ورکړم!؟ د ميني له نوم څخه ډيره لري وم!

مينه يوه ناپيژندل شوي کلمه وه زما لپاره! زما لپاره چی هيڅکله مي هم تجربه کړي نه وه! زه چي په تيارو او کرکه کی لويه شوي يم! زه چي وجود مي د له درد او کرکه ډک دی، کيداشی د ميني کلمه له دومره دردونو سره وپيژنم هوم؟ زړه می لکه تيره وه! کلک او يخ،!نورمال کيدل يی وخت او طبيب ته اړتيا لری! له دی هر څه سره فکر نکوم چی زړه خپل حريم ته د ميني د ننوتلو اجازه ورکړی!

له دی فکرونو سره می ځان ته ظاهراً ډاډګيرنه ورکړه! له فکرونو ځان باسم او حسنات سره د چای په تيارولو بوختيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- اووووو دا بنګړي دی له کومه کړي و جینی؟؟
په خندا سره می وویل: بخیلي مکوه لالا دی راوړي البته ستا حق یی هم نده هیر کړی!

حسنات په خندا شوه او ویې ویل: رشتیاا؟؟ وایه زما حق چیرته ده
یغما- اه وجینی سومره شله یی دا دی راوړم یی درته.

پاڅیږم او د الماری په لوري ځم بنګړي راخلم او حسنات خواته راځم او وایم: هه واخله
اوس له دیری بي قراري له وجه مړه نشی!

حسنات بد بد اوکتل او کڅوړه یی واخیسته په حیرانی یی کڅوړه خلاصوي او بنګړي
دانه دانه لاس کي اچوي او وایې:یغما ښه ښکاری کنه؟
په خندا مي وویل: ډیر زیات
حسنات- خو له تا ډیر نه !
کرار یې چونګاری کوم او وایم: لیونی..
حسنات په لوړ اواز غږ وکړو او ویې ویل: لالا راشه چای تیار ده

لږ وروسته زید له تورو جامو او په غاړه یی هغه نقره یی دسمال وه چی ما ورته اخیستی
وه،خوني ته دننه شو، د زړه ضربان مي داسي تیز شول چی فکر مي کوه زړه می له
سینی وځی لومړی ځل وه چي زید په وطني جامو کي ګورم ښکلا یی سل چنده شوي وه
ځان ته مي فکر شو خدایه د څه بلا راباندی لګیدلی ده؟؟
مخکی خو داسي نه وم؟؟؟

ایا د شپې خبرو زما ذهن خراب کړو؟ یا د پخوا څخه زما ذهن کې دا خبری وه او ما
ځانته د ویلو جرئت نه درلود؟ سترګې مې ښکته اچوم او د سبا ناری په خوړلو پیل کوم
چې زید کرار وایې: یغما هغه قیماق راکوی؟

پداسي حال کې چې سترګي مي ښکته دی قاب زید ته ورکوم چې هغه یې په مسکا رانه
اخلې او مننه کوی، چې حسنات وایې: لالا کوم ځای ځې؟؟
زید- نه ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- ما او ورینداره ځو چینې ته تاسو هم راځې؟
زید خپل چای غړپ کوی او په مسکا باندی د حسنات جواب ورکوی: ښه خبره ده راځم لږ به شاوخوا هم وګورم.

حسنات جونګاری کوم او کرار ورته وایم: ای خاوری دې په سر شه بیا دی ګلان وکرل.؟
حسنات- اخ څه مې کړی؟
یغما- ومې نه ویل وریندار راته مه وایه ها؟ دویم دا چې که د خان زوی په لاره کې زید وګوری بیا څه کوی؟
حسنات خپل به خولې لاس ایږدی او کرار وایې: وی خاوری مې په سر شه بیخې مې لیاده وتلې وه.

مور لا خبری کول چې زید دبیرون څخه غږ وکړو: زه د باندی تاسو ته ولاړیم ناوخته نکړی راشې.
حسنات کرار وایې: سمه ده لالا.

زید ځی زه او حسنات فکر کی پاتی کیږو په هرحال اوس څه چې کیږی هغه به وشې، خپل ټکری راخلو او د باندی ځووو، زید مور څخه مخته روانیږي زه شاوخوا ګروم چې د خان زوی راپسی نه ویې، چشمه ته.... ورسیدو ما آرامه ساه واخسته.

زید- تاسو دواړه هروخت دلته راځې؟
حسنات څخه زه زر جواب ورکوم: نه کله کله راځوو.

زید سر خوځوي او هیس نه وایي زه حسنات خپلو کیسو کي ډوبه کیږو دنیا څخه بی خبري اوسیږو روسته د لږ وخت تیرولو څخه سترګي پورته کوم او دوه شنی سترګي ګورم لاس او پښي مې شروع کوي په رپیدلو مخ حسنات خواته کوم آرامه ورته وایم: حسنات هغه ده راغلي پخدای چې زید یې اوس مړ کوی .

زما په خبرو حسنات بیچاره ګې ورخطا کیږي او وایي:یغما اوس څنګه وکړو؟
یغما- هیس یوازي خدای دی وکړي چې د زید ورته پام نشي.!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيد زمونږ ښخه لږ لري ناست وه حسنات ته وايم: هله ورشه لالا ته دي ووايه ناوخته شوی.

حسنات په تيزه پورته کيږي زيد لور ته ورځي چې زه په زړه کې هغه د خان زوی ته وايم: خاوري دي په دا بدرنګه قواره شی نن زمونږ تعقيبول ورځ وه شله انسانه

د زيد او حسنات په ليدولو چې زما خواته راتلل لځايه پورته شوم،کالی می د خاورو ښخه ټکوم دری واړه د کور په لور حرکت کوه هر قدم سره شاته ګورم
ځان سره آرامه وايم: پخدای مونږ تعقيب کوي اوس زيد حتما پوهيږي!
تيزه تيزه ځم حسنات وايي: اله يغما ويې ليدو پخدای وليدو زيد هغه شين سترګي هلک وليدو

زر شاته می ګورم زيد ولاړ و او د ملک د زوی خواته يې کتل په ورخطايي سره حسنات ته وايم: ته ځان کور ته ورسوه زه زيد درولم

حسنات هم بغير د هو يا د نه د جواب ښخه په تيزه روانه شوه زه زيد لور ته ورغلم په تيز قدمو ځان زيد ته رسوم او وايم: زيد ولی ولاړ يی؟ راځه کنه ناوخته شوی.
زيد غوسه ناکه لهجه وايي: ته لاړه شه زه درځم.

د زيد لاسونه موتی کيږي او غوښتل يې چې هغه شين سترګي هلک ته ورشي چې زه په ورخطای د زيد موتی شوي لاس خپل لاسونو کې نيسم چې هغه د تلو ښخه پاتيږي او کرار کرار خپل موټ شوي لاس خلاصه وې او ګوتي زما د لاس ګوتو مينځو ښخه تير وي کلک زما لاس نسئ.

او پداسې حال کې چې کوښښ يې کوی غږ زيد کوښښ کوي خپل د غوسې غږ کنټرول کړي وايي: همدا هلک دی؟؟؟

مخکې له دی ښخه چې زه جواب ورکړم هغه هلک زمونږ خوا ته راغی، او د زيد سوال بی جواب راښخه پاتی شو. هغه هلک خواته می کتل زيد زما د سترګو نظر تعقيب کړو او د هغه هلک په ليدو يې زما لاس بيحده کلک ونيو، بيعقله انسان کله چې زمونږ ښنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېدو په جګ غږ باندی وویل: دلته څه خبره ده؟ خیرتی ده کلي که داسي لاس په لاس کرځیږی!!

زید غاښونه وچیچل داسي چې ما یې لا د غاښونو چیچلو غږ واوریدو او په تشویش باندی مې وروکتل د غاړه رګونه یی د باندی راوتلي وه د ډیری غوسه څخه مخکي له دي چې زید څه ورته ووایي زه خپل آزاد لاس د زید د لاس څخه تاوم کوم او په غوسه ناکه لهجه هلک ته وایم: او لاً خبره تاپوری اړه نلري چې زه د چا سره ګرځیدم دومه خبره دا جناب زید خان زما کوژدن دي!

او بیا خپل او د زید لاس چې کلک یو د بل سره قفل دی د ثبوت په توګه پورته کوم او خپل دواړو چله ته اشاره کوم او وایم: کوژدن مې دی تاسو ووایه کومه ستونزه لري محترم وروره؟

هلک رنګ والوته او په آرامه وایي: د همدی لپاره دی زما مرکه رد کړل؟
نور هلته دریدل مې جایز و نه بلل که یو دقه نور پاتې شوی وایي ضرور دغه بیعقل انسان د زید په لاسونو مړ کیدو نو په تلوار هغه هلک ته وایم: وروره خپل احترام وساتي.

دا خبره کوم او زید په کشه ولو کشه ولو ځان پسي د کور خواته وړم، زید هم د ماشومانو پشان زما پسي دی کله چې ډادمنه کیږم چې د هغه ژیر میږې د نظر څخه لری شوی یو د زید لاس خوشي کوم، او کوښښ کوم خپل لاس د هغه د لاس څخه جلا کړم خو هغه زما لاس نور هم کلک نیسي چې بې حوصله ورته وایم:

یغما۔ خوشي کړه لاس مې.
چې زید په خندا راته وایي( څومره دا بشر خنده روی شوی د قیامت علامه نه ویې؟)
یوځل بیا ووایه؟
یغما۔ څه ووایم؟
زید۔ همغه خبره چې دی څو دقې مخکې وکړه.!

پوه شوم چې کوم خبری ته اشاره کوی خو ځان ناګاره اچوم او وایم: یاد ته مې نه راځي چې څه مې ویلي واوسیږی؟ لاس مې خوشي کړه چې خلک مو ګوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيد- پريږده چې ووينې تول بايد خبرشی چې ته صاحب لری.

په غوسه ورته وايم: زه څيز نه يم چې صاحب ولرم او هغه خبرى هم جدى مه ګڼه يواځی ددی لپاره وی چی جنګ جوړ نشی پوه شولې؟؟؟

لاس می خوشی کوی خپل لاس پورته کوی او په خپلو ګوتو دری ځلی خپل زړه وهی او وايې: يغما له هر څه سره لوبی کوی وکړه خو له دې سره لوبی مه کوه!
د هر څه زغم لرم غير د ستا له تيټ نظر نه! آن بی رحمی دی هم ښکلی ده!
د ځان په بيه يی اخلم!

غلی کيږي! لکه بت ولاړه وم او هره کلمه چې د زيد له خولې څخه راوتله لکه د اور مرمی می په زړه لګيدله

زيد- د ټولو نازونو وړونکی دی يم مګم!!!!! که لږ پوه شم چی رانه لری کيږی هغه وخت نور زيد شتون نلری! په غرق کيدو می تول غرق کوم تول آن بت می!!!!

خپل د تکری(څادر) څنډه می د غاښ لاندی نيسم او په سترګو می شاوخوا ځير کوم! کله چی د خلکو له نشتون نه ډاډه کيږم په لوړ غږ وايم: مګم خپله دې نه ويلی چې مينه په زوره نه کيږی؟که زور وی نو ولی دی د مريم مينه ونه منله؟

زيد خپل سترګی کلکی تړی او وايې: يعنی ته......
خبری ته يی نه پريږدم او په پوره بی رحمی وايم: هو زما لپاره يواځې يو عادی ملګرې يی همدومره! ته هم ښه ده چی بيرته ښار ته لاړ شې.....

زيد په خپل يو لاس باندی ديوال نيسی داسی ښکاری چی د دريدو توان نلری او کرار وايی: کور ته لاړه شه.....

پوهه شوم چی بايد کور ته لاړه شم کنه وضيعت خرابيږی، په لوړو ګامونو د کور په لوری ځم چی غږ يې پورته کيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



به خدا کافراگربود به رحم آمده بود !
زآن همه ناله که من پیش تو کافر کردم !
(استاد شهریار)

پښې مې په ځمکه میخ شولی وروسته له لږ ځنډ نه مې خپلې لارې ته دوام ورکړو له کوم وخت را په دی خوا دومره بی رحمه او کلک زړه شوی یم؟نه، نه زه ګناه نلرم تقدیر مې زړه په داسې سختۍ ټاپه کړی دی قفل یی دومره کلک دې چې غیر له بنه پوه کوډګر نه بل څوک یی د خلاصولو وړتیا نلری!ناورین دلته دی که خپله هم وغواړم قفل یی نشم خلاصولی،ځکه کلی مې ورته د تیارو په سمندر کې ورکه کړی!

زما د رسیدلو سره سم حسنات راباندې حمله وکړه او په وارخطایي یی وویل: ولی مو دومره ناوخته کړه؟ چیرې ده لالا مې؟
غټه سا اخلم او وایم: غلی اوسه هیڅ ندی شوی لالا دې هم لاړه چېرته یی کار درلوده!
حسنات غټه سا اخلی او وایی: شکر د الله چې څه ندی شوی ما وېل اوس به یو نړیواله جګړه شروع وی.

خپلې اوړی پورته اچوم او د پخلنځي په لور ځم یوه پیاله سړې اوبه په یوه سا ښنم ورځ د تل په څیر زما او د حسنات په ټوکو او رشخندی سره د ترور د غوسه کیدو تیریږی او هوا تیاره کیږی! شپه شوه او زید لاتراوسه ندی راغلی ډار او اندیښنه مې راپه زړه شوه!

یغما- حسنات ترور څه شوه؟
حسنات- نیوهیږم هرومرو اودس کوی!
یغما- سمده

ترور ته په تمه کیږم چې راشی!! ترور جاي نماز په لاس کوټې ته راننوځي، جای نماز خپور کوی او خپل لمونځ کوی! په تمه کیږم چې لمونځ یی خلاص شی!
لمونځ یی په ډیر ځنډ خلاصیږی او جای نماز ټولوي د چای د ترموز په لوری راځی او خپله پیاله تری ډکوی!

د ترور په لور چې په چای ښنلو بوخته وه ځم څو ځلی د کوم څه ویلو هڅه کوم مګم ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



می راسره نه ملګری کیږي آخر په ډیر زیار په ټیټ سر او شرم وایم: ترور جانی زید نه راځی؟
ترور آرامه مسکا کوی او وایي: زما لیونی لورکی په دی کی د شرم څه خبره ده؟ نه کار ورته پیدا شوی وه ښار ته لاړه هرکله چې کار یی خلاص شی بیرته راځی!!!!

د ښار د نوم په اوریدو می زړه له غم نه ډک شو یعنی زید لاړه؟! مګم تا خپله همدا نه غوښتل؟؟ غټه سا اخلم او د موضوع د تغیرولو لپاره وایم: زه څم د خوب ځایونه جوړوم! ت
رور په مسکا سر پورته ښکته کوی! پورته کیږم او څه می چې ویلې ول کوم یی د هر شپی په څیر زه او حسنات د یو بل تر څنګ ویده کیږو! حسنات ژور خوب ته ځې! هڅه کوم خپل فکرونه لرې کړم مګم شونې ول؟ خوب مې له سترګو کډه کړې وه د سهار تر لمانځه ویښه وم ! پورته شوم او لمونځ مې وکړه ترور او حسنات می هم پورته کړل چې خپل لمونځونه وکړې چې قضا نشی!

ورځ په سټریا او نه زړه شروع شوه!د هیڅ څیز حوصله مې نه درلوده. هغه رنګه چې حسنات هم پوهه شوی وه او اخیر ویې ویل: یغما ښه یی ؟ نه چی د لالا پسی می خفه شوی یی !؟
په سختې مسکا کوم او وایم: نه ګرانی یواځی د سټریا احساس کوم لږه ویده شم ښه کیږم.

حسنات مي په حالت پوهیږي او له ډیرو پوښتنو ډډه کوي دوه اونی تیریږي دوه اونۍ مګم زید آن زما پوښتنه هم نده کړی! لکه چی په پوره ډول یی له یاده ویستلی یم!هر ځل یې د نوم په اوریدو زړه می بې واره درځیږی! د لیونتوب او کارونو په یاد ته راوړلو یی خندا می په شونډو میلمنه کیږی! نپوهیږم څه می په لیونی زړه شوی!
مګم په دې ښه پوهیږم چی د پخوا په څیر په خپل ځای کی ندی! د حسنات غږ د خیالونو له نړی نه رابهر کړم.

حسنات- هوی نجلی بیا څه شوی؟
یغما- هیڅ څه باید وشی؟
حسنات خپلی اوږی پورته اچوی او وایی: نپوهیږم خو داسی ښکاریده چې په دی نړی کی ونه اوسی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربښتیا يي ویلی د حق خبری ځواب نه درلود! غلی کیږم! د څه په یاد راوړلو بی واکه وایم: ربښتیا حسنات ستا ورور ولی مړ شو ؟؟
حسنات لومړی په حیرانتیا راوکتل او ډېر ژر حیرانتیا ځای غم ونیوه او په غمجن غږ یی وویل: په یوه پیښه کي مړ شوی!
کرار وایم: الله دي وبخښي نه می غوښتل خپه دی کړم ګرانی!
حسنات د غم ډکه مسکا کوی او وایی: کومه خبره نده ګرانی هغه څه دی چي تېر شوی!

دواړه د بڼ ګلونو ته ځیر کیږو چي حسنات دوام ورکوی او وايي: لالا می او زید دواړه ډیر خواږه ملګری ول ډېر له سکه ورونو آن یوه ثانیه له یو بل نه نه لری کیدل هره جمعه زید زموږ کور ته راته د ښوونځي له وخت نه یو بل سره ول.پلار مي په ماشومتوب کې له لاسه ورکړی وو،ارسلان په همغه کم عمر د کور سرپرست شو د زید په مرسته د کور له عهدی وته دوه ورونه می درلودل ارسلان او زید!

کوچنی او خوشحاله کورنی وو.خو تقدیر هر څه په بل مخ کړل هر څه!!(غټه سا اخلی چی اوښکی یی رانشي او بیا وایي: یوه شپه ارسلان زنګ وکړ چي د ملګری واده یی ده او له زید سره ځی کیدای شی چی شپی رانشي!(حسنات بیا غلی کیږي مګم دا ځل یی اوښکی په مخ لاره پیدا کوی په ژړا وایی: یغما وروسته له هغي ارسلان بیرته رانغی څلور کاله شول د کور لاره یی پیدا نکړه لاړه چي لاړه!!

سلګي یی پورته شو او اوښکو یی لکه سیل په مخ لاری وکړی او په ګریوان یی څڅیدی، غیږ می ورکړه تسلي می ورکوله او د هغي په شان زما اوښکی هم په مخ بهیدلي په سختي یی دوام ورکړو او ویې ویل: وروسته له واده نه ارسلان د زید موټر واخیسته او چلوه یی سرعت یی دومره زیات وه چي د موټر کنټرول یی له لاسه ووته او موټر کندي ته وغورځیده.

ژړا یی د خبرو کولو توان واخیستو او په زوره زوره یې وژړل خپل دغمونو په اندازه یې وژړل ما هم ورسره سم وژړل خو یو څه مي ښه درک کړل هر څوک د خپل په اندازه غم لری هیڅوک بې‌غمه او هوسا ندی! کله چي اوښکو یی د بهېدو نه زړه وښکوه ځان یی زما له غیږ نه جلا کړه او په بند غږ یی وویل: په هغه پیښه کي ارسلان ځای په ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ شو خو  زید دوه اونۍ په کما کی وو وروسته له دې چې په هوښ راغی او خبر شو چې ارسلان مړ شوی دی..

حالت یی خرابیږی او څلور میاشتې ځان په تیاره کوټه کی بندوی نه له چا سره خبرې کولې او نه له کوټې نه بهر راوته! د زید لالا حالت له مورږ نه بدتره وو! په ډیرو ستونزو خپل عادی ژوند ته بیرته راغی د هغې پیښی نه وروسته زید زمورږ د کور سرپرست شو هره اونۍ یا هره میاشت زمورږ احوال اخلی!

اوښکی می پاکوم او د حسنات مخ ښکولوم او ورته وایم: پوهیږی مورږ تول داسی قیصی لرو چې په ذات کې ډیری غمجنې دی خو ښه والی یی په دی دی چی هر څه تیریږی او نه پاتې کیږي!باید قوی ووسو.....

حسنات خپلی اوښکی پاکوي او په مسکا وایی: مننه زړه می سپک شو ډیر وخت شوی وه چې ژړلی مې نه ول!
لاس یې نیسم او کینښ کاږم یې او ورته وایم: هرکله کولې شې چې زما سره دی دزړه درد شریک کړی
حسنات- یغما وعده راکړه چې هیڅ کله می لالا نه غمجن کوی! پخدای د بل ورور د له لاسه ورکولو طاقت نلرم!

یواځې د سر په ښورولو بسنه کوم لا ګرم په قیصو کې وو چې ډیر ورته والی یی د غمجن قیصو ته درلوده وو چیچ د ترور غږ پورته کیږی: انجونو چیرته ورکی یی راشئ چې میلمه لرو!!

زه او حسنات په حیرانتیا یو بل ته ګورو او له بې نه ښکته کیږو ځان سره فکر کوم چې حتما زید راغلی او په چټکتیا ځان د ناستی کوټې ته رسوم! همدا چې غواړم ننوځم سترګی می په رضوان لګیږی وروسته له یوې مېاشتې یی وینم! رضوان ماته پام کیږي او په مسکا پورته کیږی او راته وایی: وریندار جانی بیخی دې هېر کړی یو

لومړې ځل ده چې د وریندار کلمه په اوریدو می خوښی په زړه کې څپې وهلې لاس می په تکری وهم داسی نه چی ویښتان می ښکاره شی د رضوان په خیر یی په مسکا ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوم: سلام رضوان ورور ښه راغلاست رحیم تره،ترور جانه،اسما ټول ښه ول؟
رضوان- هو هو ټول ښه ول سلام یی ویلی!
یغما- علیکم سلام. ولاړ مه پاتی کیږه کینه درته چای راوړم

په همغه مسکا سر ښکته او پورته کوی! له کوټې نه وځم! او د پخلنځي په لور ځم!
حسنات د چای په تیارولو بوخته وه! چې ما ورته وویل: وه نجلی تا ولی سلام ورنکړ هوم؟

غریبکې داسی خیز واچوه چی نږدی وه ترموز تری وغورځی.
حسنات- مرګ نه وینی چای تیاروم لیونی؟
په خندا ورته وایم: ښه مقصد رضوان زما لالا دی فکر دې اوسه چی ښه یی خدمت وکړی کنه بیا لالا دی ژوندی ژوندی درته پوستوم( مطلب زید)

د حسنات رنګ الوځی او په بنده بنده ژبه وایي: ځ..... ه.... معنا؟
یغما- ټوکی می کولی چی اوس یو ځل مړه نشي.
چای تیاریږی او دواړه د کوټې په لور ځو! پتنوس په ځمکه کیږدم! چې حسنات رضوان ته وایي: سلام ښه راغلی!
رضوان- علیکم سلام خورجانې.

د حسنات خیری ته ګورم فکر کوم د خورجانې کلمه یې په زړه ښه ونه لګېده پیالی ډکوم او په ټولو باندی ویشم! ترور او رضوان سره خبری کولی او کله ناکله د دواړو د خندا غږ پورته کیده رضوان دلته هم خپل کار کړی تورکی هههههه د حسنات فکر ګډوډ وو! کرار مې ورته وویل: حسنات کوم څه شوی خورکی می؟

حسنات- نه کوم څه باید وشی؟
یغما- ښه ته دا پریږده دی تورکی ته وګوره چی دلته یی هم ځان ته ځای جوړ کړی
حسنات کرار وویل: کوم ځای یی تور دی؟
حیرانه ورته ګورم ځینی ځیزونه می تر پوزې کیږی هیڅ نه وایم او د رضوان او ترور په لوری ګورم! رضوان په مسکا راګوری او وایي: ځنګه یی میرمن یغما؟
کرار وایم:ښه وم ستا په لیدو می ټول ښه والی لاړه تورکیه!!!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان به خندا وایې: ولی ما څه کړی؟
ترور پورته کیږی او د الماری څخه د یخن دوزی کالی سره له عینکو راخلی او له موږ نه لږ لری کینی چې رضوان بیا وایې: ربنتیا د انجونو کالی او ټکری درسره ډیر ښکلی ښکاری!
په مسکا وایم: مهربانی مو ده (مخکی له دی چی رضوان څه ووایی زه ورته وایم: ولی دی حسنات ته خورجانه وویل هوم؟

رضوان حیران ماته راګوری او وایې: یغما ښه خو یي؟ څه مي باید ویلي وي؟!
خپلي اووړې پورته کوم وایم: ما پوري اړه نلري زه وریندار غواړم!
رضوان- سمده زید ته به یي وکړو ته به هم وریندار پیدا کړی.

د رضوان پدی خبره د د ترور اوحسنات نه په پټه چونګاری کوم یې چي رضوان یو جانانه ټوپ وهې او زه ورته په غوسه وایم:احمقه زید یي ورور دی تا یادوم تورکې یه !

رضوان کرار خاندی او وایې: ښه دا چا ویلي چې زه ستا ورور یم ؟!
مظلومانه مي وویل : یعني نه یي؟! ګوره زید دي حسنات لالا ده ته زما لالا شه سمده...
داسي خایسته جلي درته پیدا کړم چي ستا دا تورکي توب په خپل خایست پټ کي!!
دا خبره کوم او خاندم چې رضوان هم زما سره یوځای خاندی او وایې: جلي تا دا دومره ژبه له کومه کړي ها؟!
په دروغي غوسه وایم: فلسفه مه وایه راته ووایه لالا مي کیږي او کنه؟

رضوان- اول څخه نه وم ؟!
ریښتیا یي ویل رضوان له پیل نه لکه ورور زه حمایت کو په موسکا وایم: وي!
له جیب نه یي یو څه راباسی او ما خوا ته نیسي او وایې: واخله دا د زید امانت!

بیا دي زید نوم په اوریدو طبیعت مي ګډوډ شو، پاکټ مي تري واخیست او خلاص مي کړو! په مینځ کي یو حلقه یي طلایي میخکي و. په شونډو مي موسکا راغله !
رضوان- څه شی دې ته ماته راښکاره کړه!!
یغما- نه ... نه... تا پوري اړه نلري ریښتیا زید ولي رانغي ښه خو ده ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان يو غړپ چاي وڅکه او ويې ويل: ښه دي يو څه کارونو کې بوخت دی همدي ورځو کې به راشي !

يغما- ډيره ښه ده ته ترڅو وخته دلته يي ؟!
رضوان- نن ځم بيرته فقط راغلم ستا احوال واخلم ارامه خو يي دلته ؟
يغما- هو خوشحاله يمه ..
رضوان خاموش شو داسي لکه چې غواړی يو څه ووايې خو زړه نا زړه ويې؟ په کراره ورته وايم: رضوان غواړي څه ووايي راته؟

زما په خبری رضوان سر ښکته پورته کړو او ويې ويل: وايم خو په دي شرط چي خواشيني نشي خو دلته نه کيږی.

د رضوان د خبرو څخه پوهه شوم چې ښه خبر مې په تمه ندي ترور ته مي وکتل او وايم : تروري که ستا اجازه وي رضوان ورور ته باغچه ښکاره کړم؟!
ترور سترګي له کميس لري کړي، او تل په خير يي په موسکا وويل: لوري خپل کور د ددی اجازه ته اړتيا نسته!

دواړه پاسيدو او لاړو رسيدلو سره سم وايم: وايه اورم يي ..!
رضوان د لږ زنډ وروسته وايي: ترور او ترور خاوند دي راغلي و شرکت ته!
(د ترور نوم اوريدو سره وجود مي يخ شو په لرزي مي وويل: ولي راغلي ول؟ څه يي ويل؟

رضوان- ډير چټي اوبيکاره خبري!
يغما- لکه؟
رضوان لويه ساه واخيسته او ادامه ورکړه: وي ويل ( پوهيګي له يوي تختيدلي جلي سره محکمه سه کوي شاهد لرم چي هغه ناروغ انجلي تاسو سره ده بل ځل پوليسو سره رازم)

حس مي وکړو دي سنګسار ميدان کي يم او دا خبري هغه تيږي دی چي په بي رحمي مي په روح لګيدل د تختيدلي انجلي نوم په اوريدو مي ستوني ډک شو ،، خو دي پوليس نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي پر ځان لرزه راوسته د ترور خاوند او نجيب سر و کار يي له پوليسو سره دي او ډير ملګري لرل دي برخه کي.. کرار وايم: ښه بيا؟
:□#شهاب
رضوان- زيد د هغوي جواب ورکړو کاش ليدلي دي واي سنګه رنګ والوتو د هغوي !!
(د زيد نوم په اوريدو مي خوښي زړه ته راغله پوهيدم نه پرېږدي د ترور لاس مي ماته ورسيږي رضوان په هيجان وويل: زيد ورته وويل: يغما زما قانوني ميرمن ده نکاح خط لرو واي په حال مو چي که دي ناموس خبره مي حوزي ته مخ ته کړي.د ټولو حوزو د اخيستلو توان لرم او فکر مه کوي چي له ناوړه کارو بار مو خبر نه يم ښه به دا وي چي خپل لار ونيسي او لاړ شي ماسره لوبې مه کوي قطعا ظالم ګټونکي يمه.

رضوان په خندا بيا وويل: ليوني داسي جدي خبرې کولي چي زه لا و ويريدم څه ورسيږی ستا ترور او ترور خاوند ته دی.
يغما- بيا څه وشو؟؟
رضوان- هيس لاړل خو ويل يې چي دا خبر دلته نه خلاصيږی.تشويش مکوه هيس سوک تا کوم کار ته اړ کولي نشي چي ستا پکي خوښه نه وي. په ياد ولره داسي يو ورور لري چي د غر په شان ستا شاته ولاړ دي

د رضوان خبرو ته موسکي شوم او ومي ويل: مننه پوهيږم
چې رضوان په شيطانت وويل:او هوو يو همدا رنګه ليوني کوژدن زيد خان( او بيا زما چلي ته اشاره کوي)

سومره دا جملي سره له دي چي دروغ وه بيا هم راته خوښي او زړه راښکونکي وه کرار مي په سر ووهه چي د دواړو دي خندا غږ پورته شو، چې رضوان په خندا وويل:
ولي مي وهي فقط دروغ وايم؟!
يغما- ليونيه.
رضوان- عع عع بي تربيه خلک خپل ورور ته ليوني وايي؟

ددي بشر په سپين سترګي سره مي عادت کړي دې په خندا ورته وايم: چوپ شه توره کيه وس چي لالا مي شوي نو آيا د رينتياو څخه سترګي پټي کړم؟
رضوان- لکه د څه رينتيا؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



يغما- دا چي ته ليوني يي، يا تورکي يي، يا بدرنګ يي، ته و خداي د رېښتيا نه ستړګي پټې کړم ؟!

يچاره رضوان سترګي توپ غوندي غټي شوي! او په شيطنت يې وويل: بيزو خور ته مي تلي يم!
يغما- چوپ شه ما غوندي ښايسته خور..!؟
دواره په لوړ غږ خاندو چې رضوان وايې: يغما يو څه وايم! خوو ورخطا نشي سمده !

اوه خدايه نده خلاص،نن لپاره بس نده ربه؟په ډار مي وويل: ووايه!
رضوان- زيد ټپي شوي و!
زړه مي له سيني نه ووت، زيدا! زما بت پرست!! په بنده ژبه مي وويل: سنګه ؟! سنګه دي وس؟!
رضوان- تشويش مکوه اوس ښه دي مرسل ليونتوب وکړو خو خداي ورحميدو

د مرسل نوم په اوريدو مي د کرکي احساس وکړو داسي چي احساس مي وکړ چې نړي کي له هيچا نه د مرسل په اندازه کرکه نشم کولي په ورختاى وايم: رضوانه د انسان غوندي قصه وکړه څه شوي دي !

رضوان- لږ صبر وکړه وي(دوام يي ورکړو: زيد له کوم وخت نه چي ته دلته پريخودي ،او خپله ښار ته راغي خفه او پريشان و. او بعد له دي چي د مرسل پلار د وصلت لپاره مونږ کور ته راغلو نو د زيد پر ذهن يو بله د غوسي څپه راغله او د ډير غوسي څخه يې مرسل ته زنګ ووهه او سه يي چي په خوله راغله مرسل ته يي وويل ...

په بل سهار يي مرسل د شرکت قرارداد د فسخ کولو په پلمه زيد دفتر ته وغوخته زيد نا خبر له هيس لاړو همدا چې دفتر ته ننوتو ناساپه مرسل دروازه بنده کړه او تيکري لري کړو( د خبرو دی ځای کي رضوان په هيجان وويل: يغماا بيخي فلمو غوندي شوي و احمقه ښځه خپل ويښتان يې ګډوډ کړل،او زيد ته يي ګواښ وکړ که زما د واده وړانديز ونه مني، نو ټولو خلکو کيدی رسوا کوم ټولو ته وايم چي زيد ما باندي تيري کړي.

هغه وخت مجبور يي له ماسره واده وکړي ښه به دا وي چي په خپله خوښه واده راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومني زيد هم چي وکتل چي دا ليوني ښځه هر څه کوي شي نامردي نده کړي او ګلدان يي راخيستي او خپل سر يي پري وهلي!! مرسل هم د زيد وينو ډک سر په ليدو ورخطا کيږي او امبولانس ته زنګ وهي! سر يي سو کوک وخوړل احمق ډير کلک يي ځان وهلي و.

هک حيرانه مي د رضوان خوا ته کتل هيس مي باور نکيده په نباوره انداز وايم: څه وخت دا کار شوي ؟
رضوان- تقريبا شپږ ورځي مخکې!
يغما- اوس ښه دي ؟!
رضوان- هو ښه دي خوو جنون وهلو غوندي شوي!

ژوره ساه اخلم او وايم: رضوان غواړم ورسره خبري وکړم زنګ ووهه ورته.
رضوان تيلفون راوباسو او زيد ته يې زنګ ووهې زنګ تلو خو هغه نه پورته کوی. چې
رضوان وويل: زما په خيال کار لري وروسته به زنګ ووهو !
يغما- نه نکيږی بيا زنګ ووهه!
رضوان تيلفون ما خواته نيسي او وايي:واخله سومره چي زنګ وهي ووهه ورته يو ځل يي چي زنګ جيګ نکړو يعني نغواړي خبري وکړي سل زله زنګ ووهي نه جيګ کوي

تيلفون مي په زور واخيست او باغچي بل خوا ته لاړم تقريبا دري ځله مي زنګ ووهه خو پورته يي نکړو! څلورم ځل لپاره مي زنګ ووهه لږ زند وروسته په غوسه يي جيګ کړو او ويې ويل: رضوان خو چي لومړي ځل مي ځواب درنکړو پوه شه کار به لرم څه وخت ته سړي کيږي؟!
کرار مي وويل: س ... سلام!!

زما د غږ په آوريدو يو دم خاموشي خپره شوه حتي د ساه اخيستلو غږ مي ورته نه اوريده بيا مي غږ وکړو: زيد! اوري؟!
څو شيبو وروسته د زيد غږ راغلو: ښايستو مي !! ته يي؟ يغما مي!!

د دې خبری اوريدو سره لاسونه مي لرزي ته پيل وکړ له خبرو پاتي شوم غومبري مي سره شول، غوګونه مي ګرم شول چې زيد بيا وويل: مينه مي، ای زما مغروری مينې مي نه وايي چی له بيلتون نه دي مړ کيږم؟حق کي مي دومره ظالمه مه اوسه ! غږ پسی دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفه شوي يم خبري وکړه ای بې رحمې

په لرزانده غږ مي وويل: ښه يي زيد؟ رضوان وويل سر دي مات شوي او کوک خوړلي دی
د زيد د خندا غږ راځي او بيا وايي: مه وايه چي خپل ملګري ته انديښمنه شوي؟هو ښه يم او مړ نشوم، سر مات والي مي هم ښه شو، خوو څه چي تا مات کړل هغه به سنګه شي ؟!
حقا چي له درد يي مړ کيږم !!( مطلب د زړه درد او مات کول)

سومره دا بشر د لفظونو په کارولو کي ماهر و! له هري خبري سره يي زما زړه راته په نښه کو په کراره ورته وايم: سمده خوشحاله شوم چي ښه يي ضرور کار لري !
خداي پامان !
د موبايل بند کولو مخکي د زيد ښايسته غږ مي تر غوږ شو چي ويې ويل:

ګفتی به تو ګر بګذرم از شوق بمیری
قربان سرت بګذر وبګذار بمیرم

زيد- مګر ستا له پرستش نه بغير بل کوم کار راته پاتي !
يغما- قطع کوم يي !
زيد- مکوه!! زما له ماتولو دي څه لاس ته راځي مغروره خايستو مي !!ووايه؟!

د زيد په غږ کي عجيبه غم پروت و، داسي چي هر لفظ يي غږ ورته بدلولو ستوني مي ډک شو دي اوښکو باران مي له سترګو وڅڅيد د زيد دي داسي خبرو تاب مي نلره نيوهيږم دا حس څه دي چي زه پري اخته کيږم؟خو دومره پوهيږم هر څه چي دی ما لپاره نا اشنا اونوي دی دا حس..! دا زه نه وم چي زيد مي رد کړو زما تقدير او زما تريخ تير وخت و چي هغه يي رد کړو دا ځل تنها زه نه بلکه زيد يي هم په لوبه نيولي و عجيبه دردونکي او ويجاړوونکي لوبه!!!!

د يو شئ د مات کيدو غږ راغي خو زيد غږ رانغي! ورختا مي نارى کړل ورته: زيد!!

يواځې د نا منظم نفس اخيستلو غږ مي ورته اوريدو، لومړي د اوښکو قطره مي پر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وڅڅیده ،،، دا لعنتي اوښکي د څه دي؟ لعنت دي پر ما وي چي همیشه درد او مشکلات جوړوم !! بیا مي غږ وکړ:زید!؟

د هغه د غږ په اوریدو مې ډیره نرمه هوا زما پدی کلک د تیږو پشان زړه ولګیده !!

زید- جان !! نفس مي ووایه؟
خپل ژړا مي کنترول کړه او وایم: زه باید لاړه شم کار لرم!
زید- ریبنتیا امانت درورسیده؟
یغما-هو ښکلي و مننه...
زید- ستا په اندازه نه هغه ورځ تور تار نکریزي او بنګړیو سره زړه راښکوونکي شوي وي که دا میخکي په پوزه کړي په لیدو دي ضرور لیوني کیږم.

ورو یي وخندل غمجن یي وخندل هیس سوک پوه نشي زه پوهیږم د زید دا خندا هر څه کیداي شي پرته له خندا!!! حتي توکي هم ویرونکي وي په غوسه مي وویل: ترور راته غږ کوي باید لاړه شم ښه وخت..پرته له دي چي ځواب یي واورم تیلفون می بند کړو دا تشویش او دا د زړه درزا مي یعني څه ؟ دا اوښکي څه تعبیر کړم ؟!

خدایه!! داسي خو به نه وي چي زه هم ورو ورو د زید په درد اخته کیږم؟ هسي نه قفل وخت مات شوي وي او زه خبره ونه اوسم !ویریږم ، ویریږم دا چي هسي نه دا ځل داسي ځمکي ته وغورزیږم چي بیرته د پورته کیدو توان ونلرم او نه هم غرور مي اجازه راکړي چي په ځمکه پاتي شم !!

خپل د اوښکو ډکي سترګې پاکوم او د رضوان خواته ځم رضوان د بڼ د ګلانو په کتلو کې ډوب وو چې ومې ویل ورته: رضوان موبایل دی واخله.
رضوان د ګلانو د کتلو څخه لاس اخلې او په همیشنې مسکا باندی وایې: څومره ډیر مو خبری وکړل؟!

خپل اوری پورته اچوم او په دروغجنه مسکا وایم: هو هغه ځکه چې د کور د حالاتو په اړه مې ورسره خبری کول.
رضوان- اها نو دا خبره ده..؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا ورته وایم: هو توره کې همدا خبره ده.
رضوان په دروغجنه غوسه وایي: بلا او توره کې هیس انسانیږی نه، دومره لاره ستا لپاره راغلم اخیرم توره کې راته وایي؟!

یغما- ټوکې کوم اصلاً ته د مصر یوسف صحیح شو؟
رضوان خپل څهره مظلومه کړل او ویې ویل: نه هغه د زید لقب دی.
خپل سترګې اړوم او په شیطانه لهجه ورته وایم: ښه ده چې خپل پوهیږی! اوس هم ځان راته کوږ اوږ کوه مه، همدغه قواری باندی د دې شکر اوباسه او صبر وکړه بغیر له کوم شک څخه چې خدای د صابر خلکو مددګار دی.

دا خبره کوم او په خندا کیږم چې رضوان وایې: بلا بلا ته اوس دا بیزو پشان خندا ته یې وګوره.
په داسې حال کې چې د زینو خواته تلم وایم: اوس قهر مه کوه راځه زه خپله درته یو جنې پیدا کوم غم مه کوه.

رضوان یواځې په خندا باندی خپل سر ښکته پورته کوی او څه نه وایې، ترور ډیر تینګار وکړو ترڅو رضوان پاتې شې خو هغه و نه منل او کار یې بهانه کړو او د غرمې ډوډی خوړلو وروسته لاړو، د رضوان د تلو وروسته مې حسنات ته فکر شو هغه تراوسه خپل فکرونو کې ډوبه وه کرار ورته وایم:

یغما- حسنات څه شوی؟ ولې دومره په فکرونو او سوچونو کیدی ډوبه یې؟
حسنات کرار وایې: نه پوهیږم لږ مریضه یم د تبې احساس کوم.
خپل لاس د هغې په تندی ایږدم تبه یې نه وه؟ کرار ورته وایم: حسنات تبه خو نلری.

حسنات جواب رانکړو او د کوټې خواته روانه شوه؟! شپه بیا راورسیده او آرمتیا یې زما په وجود کې خپره کړل، خو ډیر د دی آرمتیا څخه تیر شوی نه وه چې بیا همغه خوب ولې دا یو خوب زه پرلپسې توګه باندی وینم؟ زما خوبونه بې تعبیره نه پاتې کیږی همغه خوب وو....

منډی می وهل او چغې می وهل، خو هیچا زما غږ نه آوریدو عمه او نجیب راپسې و د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی څهرې د خوګ او بدنونه جسم يې د انسانانو پشان و، د خولو څخه يې زګ بهيدل او زما پسې منډې وهل، دومره چيغې مې وه چې خوب کې مې احساس کو چې ستونې مې د ډير چغو له لاسه زخمې شوی، ستړی شوم خو د منډی وهلو څخه ونه دريدم، لڅان څخه مې يو څه لرې يو نفر وليدو چې مخ يې سم نه معلوميدو راته خو مخ يې د لمر پشان ځليدو..

د هغه کس په ليدو بی اختياره د هغه خواته ځم او هغه کس ته پنهاه وړم، عمه او نجسب رارسيږی خو د هغه کس په ليدو شاته ځې او تختې سر مې پورته کوم او خپل نجات ورکونکې ته ګورم زيد....! هغه کس چې ماته پناه راکړل هغه زيد وو؟ غواړم د هغه د غيږ څخه لری شم خو د هغه سترګې د غوسې څخه تکې سرې کيږی او وينه ورنه په بهيدو شې...

د خوب تعبير ........

زما پيدا کول د سليم لخوا، د عمه پيدا کيدل، او اخيره کې د زيد مينه ليونتوب او جنون سم د خوب پشان مې واقع شول، خدايه خپله رحم وکړه. د رضوان د تلو دری ورځې کيږی، سهار د تل پشان د چای او سبا ناری په خوړلو تيريږی نن د حسنات حال ښه دی خاندی ټوکې کوی.

حسنات- يغما پاسيږه چې د باندی لاړشو يو چکر ووهو بيخې مې زړه تنګ دی.
يغما- سمه ده لږ صبر وکړه خپل ټکری راوخلم.

په تلوار د کوټې خواته ځم چې سترګې مې په ترور لږيږی چې د يو شې دګنډلو په حال کيده کرار ورته وايم: ترور جانې ما او حسنات د باندی ځو اجازه شته؟
خاله په مهربانه مسکا وايې: هو لور جانې لاړشې خو ناوخته نه کړی او زر راشې.
په خوشحالې ورته وايم: په سترګو.

ټکری مې خپل په وينتيانو باندی چې اوس لږ زيات شوی لکه د ماشومانو د وينتيانو په اندازه راکش کوم، او د حسنات سره د کور څخه وځو شکر د هغه ورځې څخه وروسته ځو ځله د باندی چکر ته راغلې يو خو هغه ژير ميږی مې ندی ليدلی د باغونو او شنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



درختو په لیدو وو دواړه چې د لیوه په غږ د هغه ښایسته سمسور طبعیت څخه مو نظر واخیستو چې د حسنات ویریدلې غږ مې وا وریدو:

حسنات- یغما زغله دا سپي ډیر وحشی او لیوني دی پخدای موږ دواړه یو ګوله کوی.
د حسنات لاس کلک نیسم او وایم: شور مخوره، اول خو سپي ندی او لیوه دی، دویم کرار اوسیږه.

حسنات د ویری څخه رپیده زما حال هم دهغي څخه بهتره نه وو حسنات په همغه لړزانده غږ وویل: دا د خان د زوی سپي دی دا د ندیم سپي دی.
یغما- حسنات درته وایم لیوه دی، لیوه او نادیده.

خاوری دی دده په سر شي خپله کم وو لیوه یي هم پیدا شو، لیوه په لوړ غږو زموږ خواته رانږدی کیدی او هر ثانیه نږدی وه چې موږ دواړه به هغه غټه خوله او تیره غاښونو و داړی!

حسنات- اوس هر څه چې دی پر موږ یي څه؟ مهم دا ده چې موږ دواړه یي په خوله کې ځایږو.

د حسنات لاس کلک نیسم او خپل سترګي پټه وم! د لیوه د را رسیدو په تمه یم چې د شپیلقي او بیا د یو چا غږ آورم لیوه د غږ کولو څخه خاموشه کیږی او نور مې غږ وا نه وریدو، سترګي مې په نوبت خلاصه وم اول چپه سترګه بیا راسته سترګه د خان د زوی په لیدو چې اوس بوهیږم نوم یي ندیم دی بد احساس پیدا کوم د ندیم په لاس کې د لیوه د غاړی زنځیر وو او دوه سترګې زما مخ ته نیولي وه، د ګناه احساس کوم

د زید غوسه ناکه خو په عین حال مې مظلومانه څهره مې سترګو مخ ته راغله نه پوهیږم ولې خو زید ته مې د وفادای احساس درلود، خپل په ټکری باندی مخ مې پټه وم او وایم: مننه وروره خو بل ځل شاید په وخت ونه رسیږی نو دا سم یي در کنترول کړی.

د حسنات لاس کلک نیسم او د هغه ځای څخه ځم د حسنات غږ بورته کیږی او وایي: یغما مړه دی کړم لږ په کراره توبه خدایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- ډېرې خبرې مه کوه که لالا دې خبر شي دا بیعقل مو بیا لیدلي زموږ دواړې پېنې قلم ماته وې او نور ولاکه د دباندې مخ لا وویني، فکر دی ونیسه چې د خولې څخه دې خبره ونوځي پوه شوې؟

حسنات د کشک پشان خپل د خولې زنځیر د تړلو تمثیل کوی او وایي: زه بد وکړم چې بیا دې دا غلې تکرار کړم، خو یغما د بیچاره ګې رنګ و الوتي کله چط تا ورته وویل: مننه وروره. هههه

د حسنات په خبره دواړه خاندو خپل په ښنګل باندې دهغې تشي وهم او په خندا وایم: مېړه..!

په ټوکو او خندا ځانونه کورته رسه و، ډوډې وخوړل شوه او کرار کرار شپې خپل د تیارې لمنه خپره کړه د شپې د راتلو څخه ویرېدم چې بیا هغه منحوس خوبونه ونه وینم..

***

خوب مې لیدو چې یو سمسور او ښایسته ځای کې یم، وینتیان مې تر ملا رسیدلي وه د باد په هر څپې مې وینتیان په نڅا کیدل، کالي مې شین رنګ درلود سم د آسمان د رنګ پشان روانه وم روانه وم نه پوهیږم کوم نادرکه خواته روانه وم؟ هیس سوک زما څخه بغیر نه وه، د سیند په لیدو مې سترګې د خوشحالي څخه ړنا کوی، د سیند خواته روانیږم سیند ته تر رسیدلو مخکې د ترور کورني وینم تول هلته وه حتا سلیم او نجیب!

ټولو راته په شیطانه او مضر خندا راکتل ناساپه سلیم زما پسې په منډو شو د یو وحشي ځناور پشان زما پسې وو، زه هم په منډو کیږم او سیند اوبو کې ننوځم د سیند اوبه مې تر ستونې رارسیدلې وه او داسې احساس مې کو چې یو سوک د سیند د لاندې څخه ما د اوبو تل ته کش کوی! په سیند کې د ډوبیدو په حال وم چې د زید دردناکه چغې او سلګې مې تر غوږ شول!

مخ مې ګرځه وم او زید په هغه حال کې لیدو باندې مې زړه د درد څخه زره زره کیږی، زید د رضوان په لاسونو کې و او کوښښ یې کوی ترڅو خپل ځان د رضوان د غیږ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلا کړی، داسې لکه چې یو زنداني د فولادی زنځیرونو د مات کولو کوښښ کوی خو د هغه ټول هسې بی فایده وه. رضوان همغسې کلک زید نیولې و او مخ یې د اوښکو د ځاځکو ځخه ډک و، زید نه ژړل خو داسې چغې وهل چې د هر انسان زړه یې په درد راوړو..

زید- یغمـــا مه ځـــــــه....( دا اخری لفظو چې وا مې وریدی د یو چا په د لاس په ښوره ولو په ویری باندی د خوب ځخه پاسیږم، خاله او حسنات په تشویش راګوری او وایې: لورجانې ښه یې؟ بد خوب دی لیدو؟

د خبرو توان مې نه درلود یواځې د سر یو ښوره ولو د هغوی جواب ورکوم، نه پوهیږم بیا څه مې په انتظار کیدی چې دا یو هفته پرلپسې دا خوب وینم؟
خاله- د سهار مونځ پر قضا کیدو دی هله لوری پاسیږه خدای دی یاد کړه چې هغه دی هم یاد کړی.

د خاله خبری مې ذهن کې ګرځې" خدای یاد کړه چې هغه دی هم یاد کړی! د لږ کیناستلو وروسته پاسیږم اودس او مونځ مې کوم او بیرته له سره ویدیږم، سهار د حسنات او خاله په غږونو له خوبه راپاسیږم.

حسنات- موری که لاړه نشم پخدای زړه مې پرق چوی.
خاله- وه جنۍ په کراره اوس یغما راویښه وی بیچاره ګې ټوله شپه بد خوبونه لیدل او چغې وهل.
حسنات- موری څه کیږی خیر دی لالا ته مې ووایه.

پاسیږم او خپل ځای ټوله وم د حویلې خواته روانیږم
خاله- ضرورت نشته لالا دی خپله زر کارونه لری نور هسې یې ولې په تکلیف کوی!؟
په لوړ غږ وایم: حسنات څه شوی؟
حسنات زما په لیدو په خوشحالې زما خواته راځې او وایې: وریندای خیر دی ته ورته ووایه.؟
یغما- حسنات وایې او کنه؟ څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- د خاله د زوی واده مې په شهر کېدی خو ادی مې اجازه نه راکوی لاړشم.
یغما- کله دی؟
حسنات- همدغه دری ورځې وروسته.
یغما- خاله جانې پرېږده لاړه شي سات یې تیرېږی.
خاله- لوری لاره لرې ده، د چا سره لاړشي؟ زید زوی هم کار لری.
د دی څخه مخکې چې زه کوم جواب ورکړم حسنات وایې: موری ته راکړه موبایل دې زه خپله د لالا سره خبری کوم.

خاله موبایل د حسنات خواته نیسې او وایې: واخله شله جنۍ.

حسنات د ماشومانو پشان ذوق کوی او د زید نمبر ته زنګ وهي، د څو ثانیو وروسته زید جواب ورکوی، حسنات د موبایل لوډسپیکر وهي او وایې: سلام لالا جانه ښه یې؟
زید- علیک سلام خورمې شکر خپله ښه یې مور جانه او یغما ښه دی؟

د زید د غږ په آوریدو داسې د دیغت احساس کوم لکه چې په کلونو کلونو می چې غږ ورڅخه نه ویې آوریدلې!

حسنات- هو لالا ټول ښه دی صدا غږ آوری او سلام درته کوی، ربښتیا لالا جانه کله راځې لخیره؟
زید خپل غږ صاف کوی او وایې: نه پوهیږم! ولې کوم ستونزه راپیښه شوی؟
حسنات- دری ورځې وروسته د خاله د زوی واده مې دی شهر کې( حسنات خاموشه کیږی چې زید په خندا وایې: هو خبر یم عابد راته زنګ وهلې و راځم هر څه ته چې اړتیا لری ماته ولیکه راواستوه ترڅو ځان سره یې درته راوړم.

حسنات په بیحده خوشحالې په تلوار وایې: لالا یواځې تاسو راشې نور هر شئ پوره دی، ربښتیا وریندارې کالې نلری، که یو جوړه کالې خپل په خوښه ورته راوړی نو ډیر به ښه شې.( خاوری دی به سر شه حسنات ما ولې به دی مینځ کې راکشه وېې؟)
زید- سمه ده دوه ورځې وروسته راځم.

حسنات- پخیر راشې لالا نور دی نو وخت نه نیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيد- خدای پامان.

ورځ په خوشحالۍ او د حسنات په ټوکو او خبرو تيره شوه بيچاره ګې بيحده خوشحاله وه، هې ويل يې ډير وخت کيږی خاله دوی مې ندی ليدلي خپل د خاله د لورګانو سره يې د مجلسونو خبری کولې ناساپه يې وويل: پوهيږی يغما، هلته د واده ورروسته يو بله شپه هم خلک د ناوی په کور کې شپه تيره ويې، دومره خلک راځې چې مه وايه..

ټول ورځ حسنات د واده ته ځو واده ته ځو په ويلو د ماشومانو پشان زما ورځ هم خوشحاله تيره کړه، شپه بيا هم خپل د منحوس بد خوبونو سره تيره شوه کرار کرار د زيد د راتلو وخت رانږدی کيدو او زما زړه خپل په ځای کې کرار نه درلود، د هغه خبری څخه چې ويريدم همغه مې په سر راغلې وه.

حسنات- پاسيږه يغما د کور کارونه ژر سره خلاص کړو چې څلور بجې بايد شهر کې و اوسيږو.
خپل په لاسونو خپل سترګې مښلم او په دورغجنه غوسه وايم: افففف حسنات ليونې دی کړم داسې خوشحاله يې لکه چې ستا واده ويې؟
حسنات په خندا وايې: انشاءالله هغه به هم لخيره ووينې.

د کور کارونه مو په تلوار خلاص کړل او د زيد راتلو ته په تمه کيناستلو چې حسنات وويل: وګوره يغما ساعت دری بجې شو خو تراوسه مې لالا ندی راغلې، کوم شئ نه ويې شوی..؟
يغما- ليونې خدای دی نکوی لږ صبر ولره.

حسنات خپل سر ښکته او پورته کړو او خپل په فکرونو کې ډوبه شوه، نيم ساعت نور هم تير شو خو د زيد څخه هيس خبر رانغې کرار کرار په تشويش کيدم ورته او غوښتل مې د خاله څخه پوښتنه وکړم چې د حسنات غږ راغې: ورينداری راشه چې لالا مې راغې.

اه ټول بدن مې د بيد د ونې پشان لړزيده! زړه مې بيا د نورمال حالت څخه ووت! ګامونه مې کرار شول ټکری مې په سر سم کړو او په کراره قدمو د حويلې خواته روانه شوم.!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید مې ولیدې خپل بت پرست مې ولیدې، څومره بدلون یې کړی وو! د ګیرې سره څومره زړه راښکونکې او جذاب شوی و! ویښتیان یې زیات شوی وه او یو څه خپل د پخوا حالت پشان شوی وه، بیحدت زیات خلطې په لاسونو کې وه خپل په زړه کې وایم: خاوری دی په سر شه حسنات هغه خلطې خو یې د لاسونو څخه واخله! په غتو قدمو د زید خواته چې د حسنات څنګ ته ولاړ دې ورځم او وایم:

یغما- سلام پخیر راغلې.
زید د حسنات څخه مخ راړوی او کرار وایې: علیک سلام خیر یوسې.
نږدې کیږم ورته او د لاسونو څخه یې خلطې راخلم او وایم: حسنات ورځه چای کیږده.
حسنات- سمده اوس یې ایږدم.

خلطې په لاس د کور خواته راونیږم زید هم په ارام ګامو راپسې و، کوټې ته داخل کیږو او هغه په یو نالې کینې چې زه کرار ورڅخه پوښتنه کوم: کور کې خیرت و؟ تول ښه وه؟
زید خپل ستونې صاف کوی او وایې: شکر تول ښه وه.

و مخ ته یې څیر کیږم د کوک نښان یې په تندی پاتې و، زړه مې غوښتو خپل په لاس د تندی هغه برخه یې لمس کړم خو کلک زنځیر مې په لاسونو کې اچول شوی و په نوم د مذهب، حیا، غرور، د هغه سر ته اشاره کوم او وایم: د سر حالت دی سنګه دی؟

زید په غټه مسکا جواب راکوی: ښه دی.

حسنات چای راوړی او په ذوق او شوق باندی د پلاستیک خلطو خواته ځې، زه زید ته په یو پیاله کې چای اچوم چې هغه کرار وایې: یغما!

دا زما نوم څومره ښایسته غږ کوی؟ داسې چې زه لا خپل په نوم مینه شوم! کرار ورته وایم: ها؟

هغه هیس جواب رانکړو داسې لکه چې ګونګې شو او خپل الفاظ یې وخوړل، حسنات غږ پورته کیږی او وایې: لالا کومه دی د وریندارې کالې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید و دوه پلاستیکو ته چې یو د بل څنګ کې وه اشاره کوی او وایې: په شین پلاسیتک کې د یغما او هغه بل کې ستا کالې دی.

د حسنات خوله د خندا څخه خلاصیږی او اول زما کالي د پلاستیک څخه راباسي، حیرانه شوم د زید د انتخاب څخه

اوږد لیمویې رنګه کالي چې اوږد والی زما د پښو د بنده پوري وه لستوڼې هم ښایسته دیزان درلوده نیمه او خلاص وه لستوڼي او یخن باندی، په غمويو ظریفه دیزان داره جوړ شوي وه، خپلو کالو په کتلو ډوبه شوي وم چې د حسنات هیجانه غږ پورته شو: واوووو څومره انتیک دي ورینداری ته به د مجلس سپوږمی شي.

په شیطاني لهجه ورته وایم: بخیلی مکوه خپل کالي دي وګوره څنګه دي!

زید مورږ دواړو ته په نرمه خندا راکتل حسنات خپلي سترګي په ناز باندی تاوه وي او خپل خلطه خلاصه وی! اوو یو د بل نه ښکلی دی حسنات کالي ډیر ظریفه انجونو پشان وه! شنه رنګه پنجابی وه لمنه باندی غمي کارول شوی وه لستوڼط هم ساده وه خوو ډیر ښکلی ساده جوره وه!

یغما- و ګوره زما د کالو څخه ستا کالي ښکلی دي شیشکی !

زما او د حسنات د خندا غږ پورته کیږی او په نور خلطو باندی مصروفه کیږو هغه کي هم ښایسته چپلې د کالو د رنګ سیټ جوړه وه، حسنات په خوشحالی او خندا چې بیحده شوق پکې و زید ته وایي: لاسونه دی په درد نشي ورور جانه په زحمت شوی.
زید په مسکا ورته وایې: څه زحمت دنده مې وه، ورځي ځانونه تیار کړي چې ناوخته کیږي!

حسنات خپل په لاس خپل تندی وهي او په خندا وایي: هوو پخدای ربنتیا وایی یغما هله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته شه ځانونه تیار کړو !
یغما- سمده ته دي خپل کالي واخله کوټې ته لاړه شه.
مخکی لدي چې حسنات کوټې ته لاړه شي زید ورته وویل: حسنات اول زما کالی،
واسکټ دستمال راوړه،بیا دي خپل کار وکړه.

حسنات په سترګو وایي او خپل د کالو خلطه اخلي او په منده د کوټې څخه وځي چې زید
په کراره ماته وایي: خوښ دي شول؟
یغما- هو ضرورت نه وه! هسې چټی ځان دومره په زحمت کړی.

یو غړو چای څکي! او د دی څخه مخې چې ماته کوم جواب راکړی حسنات د زید کالي
راوړی او کوټې ته راځې، او زید یواځې کرار وایي: زحمت نه رحمت دی.

د زید په جواب یواځې سر می لاندي پورته کوم او د ځای څخه می پورته کیږم او وایم:
سمده که کوم څه ته دي اړتیا شوه ماته غږ وکړه!
زید- په سترګو.

د هغه پدی خبره د ډیر حیرت څخه مي سترګي خلاصې پاتې شوه! یعنی دا اوس زید
وویل په سترګو؟! یو څو ثاني مي په خلاص سترګو د حیرت څخه وروکتل خو زر می
ځان راټول کړو او دروازی خواته لاړم چې زید راپسې غږ کړو: یغما ډیر آرایش او
فیشن ونکړې.

د زید خبره په غوږ نه نیسم او د کوټې څخه وځم، حسنات آرایش باندی مصروفه وه!
آرامه ورته وایم: حسنات ما خوو آرایش ندی زده اوس څنګه وکړم؟!
حسنات- وی د وریندار څخه مي صدقه شم دومره ساده ده خپله درته ارایش کوم داسې
آرایش درته وکړم چې ټولو خلکو خوله درته وازه پاتې شي!

په خندا ورته وایم: بیشکه بیشکه اوس می په درد وخوړلی!
حسنات- ښه سمده ډیری خبري مه کوه ته دط کالي په ځان که زما فیشن خلاص کیږي بیا
ستا نوبت..

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمده وایم او اول مې مخ او لاسونه مینځم په تیزه حمام ته ځم مخ لاسونه صابون باندی مینځم! روی پاک راغلم مخ لاسونه وچ کوم کوټې خواته ځم ! حسنات هم خپل آرایش خلاص کړي وه کالي مې په ځان کوم کالي مې ځان که داسي جوړ وه لکه چې زما په ځان ګنډلي شوي وي مخ حسنات خواته کوم او ورته وایم:

یغما۔ حسنات ته وګوره څنګه ښکاري!
حسنات مخ زما خواته را ګرځه ویي او سترګي زما پر کالوی بندی پاتی کیږی او حیرانه غږ باندی وایې: خاوري دي په سر شه یغماااا بیخی لکه شهزادګی غوندي شوي وظالمی..

محترمانه تعظیم ورته کوم او په مسخره لهجه ورته وایم: مهرباني کوي زما اغلې خپله هم ډیر ښایسته تشریف لري دلته .

حسنات هم زما په شان خاندی او په ریشخندی لهجه وایې: راځه کینه دلته موږ باندی شپه شوه.

مخامخ ورته کینم او حسنات په ځیر،ځیر زما مخ ته راګوری، داسې لکه چې غواړی کوم نقاشي او رسمای ډیزان کړي روسته له لږ ځند څخه آرامه او زړه نا زړه وایې: یغما وریځي دي ډیر ښکلی دی لکه کمان که لږ جوړ یي کړی بغیر د کوم مبالغې څخه ښایست والي دي سل برابر کوي! که ستونزه نلري درته جور یې کړم وریځي دي؟

په کلکه ورته وایم: نه ضرورت نشته !
حسنات۔ خیر دی د لالا جان په خاطر اجازه راکړه.
بد بد خواته یی ګورم او په کلکه ورته وایم: لیونی دومره خبره باندی سوک د ورور خاطر او نوم مخته مخته کوي؟
حسنات مظلومه راته ګوري او وایې: اوس اجازه راکوي کنه؟
یغما۔ سمده آرمان دي په زړه پاتی نشي غوا.

حسنات د خندا څخه په ډکه خوله زما د وریځو په جوړه ولو لګیا کیږی،10 دقیقی تیری شوی خو تراوسه حسنات لګیا وه اخیر په بې حوصله لهجه ورته وایم: اوففف څه کوي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دری ساعت؟ خو زړه دی راتنګ کړو(غوښتل مې هینداره راواخلم چې حسنات اجازه رانکړه او ویې ویل: آغلي محترمی لطف کوم صبر ولري هروخت مو آرایش خلاص شي بیا خپل ځان وګوری.

بی حوصله انداز باندی جواب ورکوم:وه انجلۍ تا څومره خبري زده دي پخدای.

حسنات جواب نه راکوی او خپل په کار بوخته کیږی، آرایش 20 دقیقی وخت ونیوه چې زما د اعتراض غږ مې پورته شو: افففف حسنات بس ده نور ستړي شوم!
حسنات په خندا وایې: دغه دې خلاصه شو د سپوږمې پشان شوي.
په مغروره انداز ورته وایم: اول نه همداسی ښایسته وم.

حسنات په خندا وایې: دا ستا دومره باور په ځان زه مړه کړي یم!
هینداره راخلم او مخ ته مې نیسم مخامخ نفر ته حیرانه شوم( یعنی خپل ځان ته )
کمانی وریځې،جوری شوي سترګي تور خط باندی ، سور رنګ شونډی، ګلابي غومبري...څومره مې توپیر کړي؟! بلکل ناوی په رقم شوي یم!

یغما- حسنات آرایش ډیر ندی؟ لږ به یي پاک کړم؟
حسنات خپل سترګي لکه بداخلاقو ښځو پشان را تاوي کړي او په غوسه یې وویل: غلی شه کوژدنه یی باید مجردو انجونو نه توپیر ولري.
مظلومانه ورته ګورم او وایم: خیر ده

حسنات- نه ...نه .. دا پریږده اوس درته وینتان جوړه وم
یغما- څنګه یی جوړه ویچ؟ خوو ساده سم دی.؟!

حسنات داسې بد بد راوکتل چې پوه شوم باید خوله مې بنده کړم، حسنات اوتو ماشین ساکټ که ورکوی! او زما د ویښتیانو په کتلو لګیا کیږی زما ویښتیان یې ښکته پورته کړل او ویې ویل: یغما څومره ښه نرم وینتان لري ډیر زر زر لویږي؟

د حسنات په خبره زه هم خپل ویښتیانو ته ګورم رښتیا وایې په یوه نیمه میاشت کی زما ویښتان ډیر اوږده شوی وه اول ورځ دلته راغلي وم لږ وه! په کراره ورته وایم: حسنات

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیونی دی کړم کار دی زر خلاص که، سترګي دي هم داسي چپي چپي مه راته کوه،
هسې سترګې دی بیا همداسی پاتیږي ولاکه دی بیا څوک درسره واده وکړي!

زما په خبره حسنات په لوړ غږ خاندی او وايي: ولی غوسه کیږي بداخلاقي په سترګو
نور درته چپ چپ نه ګورم ته خوشحاله.

اوتو راخلی او زما د ویښتانو سرونه راته قاط کوي،" زما په نظر ورته توني کول وایي
ههههه پیر صیب مو دومره تکړه دی" ویښتانو کار می زر خلاصیږي اسپری هم وربانديو
وهي څکه زر خراب نشي، د کار خلاصیدو وروسته حسنات وايي: اوس پورته شه کار
دی خلاص شوو

ویښتان می هینداره کی ګورم ربښتیا هم ښایسته شوي وه، اوږده غاړه می زیاته ښکاره
کیده په خوشحالي ورته وایم: مننه کوم ګراني په زحمت شوي.
حسنات په خندا وايي: مقصد نظره نشي ..
په خندا ورته وایم: دومره هم نه ! ربښتیا ترور نشته! چیرته تللی؟
حسنات- صبر وکړه راځي د ګاوندي کورته تللی، ربښتیا کاشکی می درته د پوزه میخک
اخستی واي دا تور تار داسي بد ښکاري تول فیشن یې درته خراب کړي!

پورته کیږم د الماری څخه هغه قوطعی راخلم چې رضوان راته راوړي وه او حسنات ته
وایم: واخله دا می پوزه ته کړه.(حسنات قوطعی زما د لاس څخه اخلي او وایي: دا دی د
کومه ځای کړل څرمخکی ؟
یغما- غلی شه ډیری خبري مه کوه! کار دی وکړه!
حسنات په خندا وایي: ښه صایب.

حسنات تور تار د پوزی څخه می لري کوي او د سرو زرو طلا حلقه راته اچوي او
وایي: اوس بیخی پوره شوی.
ورته خاندم ښایسته تکری ویښتانو باندي حلقه رقمه جوړه وم او وایم: اوس ستا نوبت شو.

اوتو راخلم خپل ویښتان پشان ورته قاط کوم، تراوسه نیمایي کړي می نه وه چې د زید غږ
پورته شوو: یغماااااا وه یغمااااا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- ها؟؟صبر وکړه درغلم( حسنات ته مخ کوم او وایم: حسنات نور ته اوتو کړه ځم ګورم لالا دی څه وایي!

حسنات دسکول ته لاس کوی او عطر راباسي او ماته په نیولي وایې: راشه عطر ووهه

یو هیړم مخالفت ورسره وکړم آخر هم په زوره راته عطر وهي نو مخالفت می ونکړو او عطر می ووهل، چې د زید غږ بیا راغلو: یغمااا
یغما- دغه دی درغلم ځومره ورخطا یی وی..
حسنات ته مخ کوم او ورته وایم: دا وروور دی ستا پشان ضدی دی.
حسنات- یغما نوره ورځه چې زما مغزه دي وخوړله شاید بیچاره درسره کار لري توبه!

یغما- مرګ توبه! څنګه خپل د وروور شکایت دربانديي بد ولړیده غوا.
حسنات ژبه راباسي او آرامه خاندي په تیز قدمو باندی د ناستی کوټې ته ځم پاک یاد څخه می وځی حسنات زه رنګمالی کړي یم! (یعنی آرایش راته کړي.)

کوټې ته داخله شوم او دوه توري سترګي د حیرت څخه هک حیراني راته پاتی ویې، د زید په حیران نظر تازه مي خپل سر او شکلک ته فکر شو،ای خاور دي په سر شه، خدای می مړه کړي، الهي تباه شم اوس حتما وایی ماته ځان بنایي داسي کار کوي! ځانته مي زړه کې ښیراوی کول چې د زید په سم کتلو مې تول فکرونه له سره والوتل!

سپین کالي په ځان وه،تور واسکټ، تور دستمال. وطني کالي وه اوسی ویښتان هم ډیر شوي وه، د زید د کتلو څخه مي په سل زحمت سترګي واخیستل او خپل ټکری مي پر ویښتیانو جوړه کړو او کرار مې وویل: کوم څه دي پکار وه !

زید په همغه حیران نظر راګوری او خپل سر د نه پشان ښوره ویې، څو دقې همداسې هک حیران راګوری، د څو دقو وروسته د هغه حیران حالت څخه راوځې او آرامه خپل لځایه پورته کیږي زما خوا ته راځي له حیاء څخه می غومبري ګلابي رنګ څخه سره رنګه ته بدل کیږي

زید- یغما سترګي دي راپورته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرم چې نېوهېږم د کوم ځای څخه ماته راغی سترګي مي کرار ور پورته کوم چې
زيد وايي: درته ويلی مي نه  وه آرايش مکوه هومممممم !
يغما- پخدای حسنات راته شله شوه قسم درته کوم ما آرايش کول زده ندی !

زيد را نيږدي کيږي او  لاس زما د ويښتانو خواته اوږد کوي چې زه ورڅخه لري کيږم او
وايم: مکوه
زيد- د چا په اجازه دی خپل وريځي جوړی کړي؟

اوس څه ورته ووايم؟ يواځني جواب مې چې ذهن ت  راغلو ورته مې وويل: حسنات
وکړل..!
زيد په کلکه لهجه وايي: تا ژبه نه درلوده ورته ويلې به دي وه نی جوړه وم ؟ زما بدبخت
مخته خو دی دری متره ژبه ده!(غلی شوم ځمکی ته مې کتل، چې هغه کرار وويل: فکر
مي نکوه هغه حلقه چې ما درکړي وی په پوزه کړي!
يغما- ښه ده چې پوهيږي! نور څه مي نه درلود يوازي مجبوری څخه مې په پوزه کړی.

زيد- ډير ښه اوس به يو بل شي هم د مجبوريت څخه غاړی ته کوی آغلي يغما..!
زيد خپل د خبری سره سم خپل لاس و جيب ته وړی او يو زنځير راباسي او زما د سترګو
خوا ته نيسي د سپوږمي چاپ پري و يا بل ډول ووايم څوارلسمه سپوږمي وه !د سپينو
زرو غاړه کي وه! په حيرانه لهجه ورته وای:

يغما- دا د څه لپاره؟
زيد- دا د دي لپاره چي ته په غاړه کړي!
يغما- چا ويلي زه دا په غاړه کوم؟
زيد- ما !
يغما- هغه وخت ته سوک و  اوسيږی ښاغليه؟!
زيد کرار خاندی او وايي: اينجانب زيد د خايستو مي خاوند (يغما خاوند )

ټول وجود مي د يو خاص احساس نه ډک شو يا که دروغ ونه وايم له غروره ډک شو،
کرار ورته وايم: زيد مننديه به دی و  اوسيږم چې خپل خيالات او فکرونه په ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانوړي!

زید زما لاس نیسي او تاو کوې مې او وایې: زه خیال نه وینم، خیال جوړه وم اوس هم ارامه ودرېږه!
یغما- په هوش یې څه کوي؟ که ترور یا حسنات راشي !
زید- رادي شي نو پردي خو نه یې کوژدنه مې یې! یا نااا ښځه مې یې...!

پوهیدم داخبري زما د غوسه کولو لپاره کوي ! وینتان یې راته واړول، او غاړه کي راته ورو په غاړه کي کړه! مړوند یې راته ونیوه او تاوه کړم، حیرانه ورته مخامخ ولاړه وم چې زید په خوشحالي وویل: دا ده اوس پوره شوي زما سپوږمي.
وشرمیدم او سر مي ښکته کړو او په کرار غږ مې وویل: دا خبري ماته نه دي جوړي شوې که نور په خوله رانوړي ښه به وي.

د زید غږ بدل شو او د هغه څو شیبو مخکې آرامتیا پکي نه معلومیده کله چې ویې ویل:سومره زما خبرو ته په بې ارزښت نظر ګوری یغما! پوهیږي دا خبري له کوم ځایه کیږی؟( خپل یخن یې لږ خوشي کړو او خپل زړه ته یې اشاره وکړه او ویې ویل: له دي ځایه پوهیږي یو ورځ همدا کس چې ستا پر وړاندي ولاړ دي هو همدا زه بدبخته دا د عشق او عاشقي خبرو باندی مي ریشخند او توکې وهل،یو ورځ ما هم دا خبرو ته دروغ ویل خو ستا خبری راته د مرګ حکم لری،

کله چې ته زما خبرو ته دومره بي ارزښته ګوري... انصاف ندی په هیس مذهب کي انصاف ندی !!

د زید هر خبری زما روح راته ټپي کول زید حالت خراب وو خو زه هغه کس نه وم چې وضعیت یې ورته ښه کړم، په ډیر زیار او خپل د زړه او احساس خلاف مې ورته وویل: ښه پوهیږي خوو،بیا هم ماشومانو غوندي چلند کوې! ښه پوهیږې! چې زموږ اړیکه لکه ورځ او شپې پشان ده حتي په افسانو او قیصو کې لا دا دواړه یو بل سره ندی جوړ شوی، ښه به دا وي، همغه زید شي کوم چي دا خبري په ملنډو او توکو نیسي.

زید په درد وخندل د هغه پدی دردناکه خندا مې که ووایم زړه توټي توټي شو نو اغراق به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې نه ویې کړی، خوو چاره مې نلرله نمي شو کولي زید ځان سره عادت کړم کله چې پو هیږم زما منزل چیرته خلاصیږی ...!

زید- خایستو مې د دي زید او هغه زید کي ځمکه او اسمان توپیر دي ولي نپو هیږی!؟ ولي ړنده شوي یي؟ هغه زید مغروره و وفادار نه و ازاد و عاشق نه و بت پرست نه و په اسمانونو کې ګرځیدی.خو دا زید خپل ټول غرور ستا د پښو لاندي کړی وفادار دي هغه بت ته چي پو هیږي ډیر سرکش دي،بندی شوي دی په هغو سترګو کي چي لا ګوري هم نه ورته دا زید مبین دي د جنون ترحد پوري تر عبادت پوري لړ. څه ډیر مجنون له اصلي مجنون څخه دی.

مجنون د مینې په لاره کې خپل هیس څه له لاسه ورنکړل پرته له خپل د غرور څخه خو زه څه؟ما د غرو علاوه خپل جلال مي هم له لاسه ورکړو هغه زید چي ټولو د هغه پر وړاندي ګونډی وهلې او زاري ګاني ورته کولي نن خپله خپله د یو ډبرو د زړه والا مخکې په ګونډو دی او په زاري ورته کوی، بغیر له شکه چي مینه مي د زم زم د اوبو غوندي پاکه ده.....

دا زید بت پرست دی سپوږمي مي بت پرست! او دا زید د ځمکي په اخری ترینه نقطې کي قرار لري!!ګمان مي هم نکوی چي یوه ورځ به داسي راشي چي زه دی د چا په مقابل کي داسي ماتیږم...!

د زید په خبرو مې بیا دا لعنتي اوښکي د سترګو څخه په بهیدو شول، سومره تقدیر میله ما پورورږي دی دا ځل یي سخته لوبه په لار اچولي خو قسم خورم په هغه ذات چي عبادت یې کوم دا ځل اجازه نه ورکوم زما بد قسمتي دي د زید ژوند خراب کړي ډوبیږم خو نپریږدم زید هغه سمندر کي ډوب شي کوم کي چي زه ډوبه شوم.. موږ هغه حالت کې و چې د حسنات غږ راغې:

حسنات- یغما په خدای ناوخته شو راشه دا چپلکې دي په پښو کړه( حسنات کوټې ته د داخلیدلو سره سم سترګې پرما او زید ولګیدي او په خوشحالې وویل: ماشاالله سومره ښکلي جوړه بیخي یو بل ته جوړ شوي یاستي.لالا ته راکړه تیلفون دي یو عکس خو مو واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسنات پدی خبره په خوله مې ورته هیس ونه ویل خو په سترګو مې چي څه کنځلي وې
حسنات ته مي وکړل خوو هغه کله پوهیده د سترګو په کنځلو! او خبره یي منله؟ نااا هغه
ډیره سپین سترګي له دي خبرو څخه وه.
د حسنات په خبره د په خوله مسکا یي خپره شوه او ویې ویل: دا ده واخله
حسنات تیلفون واخیست او ماته وویل: وریندار ته هم دا چپلکې واغونده چي د قد توپیر مو
کم شي..

مرګ دی کم شي لیوني په زړه کې مې حسنات ته ښه کنځلو وکړل خو کرار مې
وویل:حسنات جاني خوګي نګوري واده ته ناوخته ده واده به تیر شي درنه
زید چي خپله موسکا د پټ کولو کوښښ کو ویې ویل: نا هیس ناوخته نده لس دقو کي مو
رسوم نور وایه؟!
حسنات په خندا وویل:افرین لالا

په زړه کې مې حسنات ته وویل:مرګ افرین
حسنات- هله نو وریندار ..!

په غوسه مي خپل لمن راټوله کړه غوختل مي تیته شم ترڅو چپلې په پښو کړم چې زید
پرینخودم خپله په ګونډو شو چې ما په تلوار وویل: زید څه کوي بده ده.
زید- حسنات ته وو ایه خور مي بده ده زما کار؟ هومم؟
حسنات- نا لالا دیر ښه ده.

او ورو یي وخندل سومره دا خنده رویه شوي؟ ځان سره په زړه کې وایم: حسنات ادم
فروشې خاینې تاسره به وروسته زه ګورم په ملنډو بیا د هغه خبره ځان سره تکرار که وم:
نا لالا ډیر ښه ده.زید زما د چپلکو بندو تړلو کي بوخت و او ما مي خپل لمن پورته نیولې
وه د مو بایل د کمری ترق او تروق شروع شو چي د حسنات له واه واه سره یوځاي و !

په غوسه مي وویل: حسنات نګوري څه کوي لړ صبر خو وکړه ولې عکس اخلې؟
زید خاندي او پورته کیږي او وایې: دا ده خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شرم نه لبلبو غوندي تکه سره شوي وم!!! زيد زما خوا ته ودريد او بيا هم دي کمري ترق تروق د اکس اخيستو پورته شو چې ما به غوسه وويل: اه ..بس دي نو فقط چې مودلينګ وي؟!

زيد زما له ملا يې لاس تير کړو او زه يې د ځان خوا ته کش کړم او ورو او په ښکلي انداز يې وويل:ژوند مي پرېږده خپل کار وکړي فکر نکوم داسي شايسته شيبه مي بيا په لاس راشي.

لاسونه مي د زيد د ډير نږدی والي څخه يخ کيږي او خوله مي بنده شوه، چې حسنات وويل: وريندار د لالا لاس مي ونيسه بيخي لکه بت ولاړه يي!
د حسنات پشان په ريشخند وايم: وريندار دي لالا لاس مي ونيسه بيخي لکه بت ولاړه يي!
ستا لالا دی که زما هوم؟ راشه خپله دي لاس ورنه ونيسه!

د زيد او حسنات د خندا غږ لوړ شو.زيد زما يو لاس نيسي او بل لاس مي خپل د ځان نه تاو کوی معترضانه داسي چي فقط خپله يي واوري وايم: زيد مکوه خپله پوهيږي نامحرم يي او پدی هم پوهيږي چې زه سومره پدی خبرو کې حساسه يم هيله کوم د حد څخه دی مه تيريږه.

زيد ما غوندي کرار وايې:

گفتی نظر خطاست،تو دل ميبری روا است؟!
خودکرده جرم و خلق گنه کار ميکنی.؟!

زيد- ته په دی خبرو هم پوهيږی؟ خپله ګناه دي ده! ما څو ځله درته وويل چې راځه حلاله نکاح وکړو، څه هم که زمونږ نکاح زما لپاره په يو مقدس ځاي کي ترل شوی(او اشاره يي خپل زړه ته وکړو او ويې ويل: هيس سوک مانه بغير حتي حق نلري درته وګوري ته فقط زما لپاره يي حتي که د ايمان په قيمت مي هم ختم شي!!

او پدی خبری هم پوهه شه زه داسي سړی نه يم چي په حرامو او حلال پوه نشم په ژوند کي مي پرته له تا هيچا ته ندي کتلي او ته په دي ښه پوهيږی له مانه..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زید پدی خبره یو تصویر می د سترګو مخ ته راغلو، کله چي مریم کلیزه کي خپل لاس زید ته اوږد کړو او زید د هغې لاس رد کړو او زما د طعني په جواب کي چي ومط ویل ورته: ښه بیا سرقم مبارکي ورکوي هممم!؟ یاد مي شو!!! د ځیني خلکو لاس نباید ومنل شي .. زید راته ویلي وه: غلطي مکوه ځان له هغي سره مه پرتله کوه زما زړه مي غیږ مي لاسونه مي او هر څه چي جسم او روح پوري مي اړه لري یواځي یو کس پوري اړه لري چي هغه کس په هیس حال کي مریم نده! نو هغه کس زه وم؟!!!!

لا د دی خبری په حیرت کي وم چي د حسنات غږ پورته شو:افرین همداسي ...
یغما- مرګ افرین بس دي نوو.

بعد له څو عکس اخیستلو لاسونه مي د زید د څخه جلا کړل او دروازي خوا ته لاړم چې ترور سره مخ شوم زما په لیدو ترور وویل: ماشالله نظره نشي لوري صبر وکړی زه درته اسپیلني راوړم او تاسو ته یې لوګي کړم.

ترور لاړه او اسپیلني راوړه تولو ته دود کړو او ویې ویل: خداي مو وساته بچیانو،،ماشالله دري واړه ډیر ښایسته شوي یاستي.
حسنات په موسکا زید ته وکتل او ویې ویل: څو لالا؟!
زید خپل دستمال سم کړ او ورو یې ویل: سمده راځي خوو غټ تیکري په سر کړی!

او د دي خبري په ویلو سره د دروازي خوا ته لاړو ما او حسنات د زید په خبر غټ تیکري په سر کړل او ترور سره د دروازي خوا ته لاړو زید دروازي ته تکیه کړي وه او اسمان ته یي کتل زمونږ په لیدو جیګ شو او موټر خوا ته ولاړه، زید پسي مونږ هم ولاړو زید شاته دروازه د موټر مونږ ته خلاصه کړه او ویې ویل:

زید- مور جاني تاسي مخکي کیني پریږدی دا دواړی شاته ارامې کیني ...
ترور په خندا وویل: سمده زویه !!!

موټر حرکت وکړ او خاموشي په موټر کي خپره شوه د سندري غږ د موټر دننه خاموشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منځه يوړه سندره د احمد ظاهر په غږ وه چي تول يي د ځان سره غرق کړو په سندره کي:

امشب از باده خرابم کن وبگذار بميرم
غرق دريايي شرابم کن و بگذار بميرم

وخت نا وخت زيد سره سترګو په سترګو کيدلم د موټر په هينداره کي او زيد داسي ښکاريدو لکه چي دا د سندره يي خپل د زړه خبری وی او ماته يي د سندری په ډول کوی او خپل سترګو نه په ډير مهارت کار اخلي، تقريبا وروسته له 40دقو منزل ته ورسيدو، پدی 40 دقو کي بغير له سندری څخه موږ نور هيس خبري و نکړل موټر ودريدو زيد ښکته شو او يو چاته يي زنګ ووهه.

روسته له څو شيبو يو ځوان په ظاهر کي د 25 کالو معلوميدو راووت د زيد په ليدو يي خوشحالي څرګنده کړه!! او روغبړ يي وکړو.

حسنات- يغما دا مي ترور زوي دي عدنان!
يغما- خا د همدي واده ده؟!
حسنات- نا !!دا يي دويم ورور دي
يغما- خا خا ډيره ښه ده !!

لګ څنډ وروسته زيد راغي او د موټر دروازه يي ترور ته خلاصه کړه زه و حسنات هم ښکته شو زيد مونږ نه مخکي و !

زيد- حسنات ديخوا لاري څخه لاړ شي...
حسنات- سمده لالا جان.

ترور زمونږ نه مخکي دننه شوه او بيا زه و حسنات کور ته دننه شو، عجيبه ګڼه ګونه وه کور کي رنګارنګ خلک ول د کور په کتلو بوخته وم ډير وخت شوي و واده ته نه وم تللي چي د يو چا غږ را غي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ واه واه بعد له سومره وخت دې ګورم خور جانې

سترګې مې دې کور له کتلو لرې کړې او يو نسبتا ځواني ښځې باندې مې سترګې ولګيدې هغې د ترور جانې سره ستړمشې کوله چې ترور ورته وويل: ذکيه جانې ته خو ښه پوهيږې کور چاته نشم پريخودلې ترڅو ستاسو ليدلو ته راشم.

ذکيه- هو هو پوهيږم ښه پوهيږم اوس هم مهرباني دې ده چې راغلې.
ترور او ذکيه خاله په خبرو بوخت ول چې حسنات لږ وټوخل، او په خپل شيطانت يې وويل: عه ترور جانې زه دې له هيره ووتم خير ترورې..

ترور چې وس ما او حسنات ته پام شو ويخندل او ويې ويل: واې پيشوګې مې!! سومره ښکلې شوې او سومره بدله شوې يې؟!

حسنات په غيږ کې نيسې او مخ يې ورته ښکل کوې حسنات په خپل شيطانت او مظلومانه لهجه وايې:خاله ټول سينګار (ارايش) دی راته خراب کړو ښه.!
خاله زکيه په کرار باندی د حسنات په سر وهې،او په همغه مسکاه ورته وايې: په رښتيا هم همغه شان ليونۍ يې!

حسنات ارام وخندل!
هغه ښځه چې د خاله لخوا ذکيه خطاب شوی وه، ماته په اشاره خاله ته وويل: معرفي نکوی؟!

مخکې له دې چې خاله ځواب ورکړې، حسنات تلوار وکړو خپل لاس يې زما د اوږی څخه راتاوو کړو او په غرور يې وويل: وريندار مې ده خاله جانی!زيد خان ښځه!يغما جانه!
خاله په حيرانتيا سره وويل: رښتيا! ؟ ماشاءالله بالاخره زيد خان په جال کې واچول شو هههههه!

د دې کلمې په ويلو ذکيه خاله حسنات زما د غيږې څخه لرې کړه او زما مخ يې ښکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو او ویې ویل: لوری پخیر راغلی زید زما د زوی په خیر دی!
ما په مسکا ځواب ورکړو: مننه، مهربانی مو ده ترور جانی!

ذکیه خاله- اه اوبخښی ولاړه پاتی شوي! راځي صالون کې کینئ!

موږ د خاله ذکیه نه وروسته صالون ته ننوځو! واه، یو لوی او ښکلی سالون! که زه غلطی ونه کړم، د صالون اوږدوالی او پلنوالی څلويښت مترو ته رسیږي! ګڼه ګونه دومره زیاته وه چې ټول تالار یې ډک کړی وو! ما د شرم احساس وکړ، کله چې زموږ په ننوتلو ټولو سترګې زموږ خوا ته راړولې، او د تل په شان د نوی کسانو په لیدو ټول ښځو خپل مینځ کې پس پس خبری کولې!

موږ یو کونج غوره کړو او کېناستو، حسنات د خوښی له امله په جامو کې نه ځای کیده!زه او حسنات په قصي کولو کې ګرم شو!

یغما- حسنات ستا خاله زید څنګه پیژني! ؟
حسنات په خندا وویل- یغما جانی یواځې خاله نه، بلکې ټوله کورنۍ زید پیژني، سربیره پردې زه باید ووایم، چې هغه د کورنی د جینکو په منځ کې خورا مشهور دی،فکر دی ویی..!

په حیرانتیا سره وایم: ریښتیا!؟
حسنات- ولا ربښتیا وایم، که دوی تا ووینې، ټول به حیران شي!
په دی خبره باندی زه او حسنات دواړه په لوړ غږ وخندل! او ما وویل: خاوری دی په سر نشه حسنات..

حسنات خپل وریځی پورته کوي او په رشخند وایي: ښه بیا وګوره چې ریښتیا وایم او که دروغ؟!

زه خپل سر پورته او ښکته کوم او نور بحث ته دوام نه ورکوو! څو شېبې وروسته د نجونو یوه ډله د چایو له پتنوس سره راغله! حسنات چې دوی ولیدل، پاڅېده او  او د تلو اراده یې وه چې لاړ شي! چې ما د هغې لاس ونیو او په نه چندان قهرجن لهجه مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته پخیر!

حسنات- ځم چې ورسره مرسته وکړم! او هو موږ سلام علیک هم نه دی کړي! دا ټول زما د ترور او ماما لورګانی دي!
ما د هغې لاس پرېښود او و مې ویل: سمه ده، لاړ شه!
حسنات- اوه، مه غوسه کېږه، راځه، ته د زړو ښځو په منځ کې څه کوې چې کیني راځه ته هم مرسته وکړه!( او بیا زما لاس نیسي او ما پورته کوي او خاله ته وایې: موری زه او ورینداره ځو چې جینکو سره مرسته وکړو.

ترور چې خپل د عمر ښځې سره په خبرو بوخته وه، او موږ ته یې پام نه و د حسنات په خبره یې ورروکتل او ویې ویل: سمه ده خو ورینداره دی زیات په تکلیف نه کړی!
حسنات په مسکاه ځواب ورکړو: په سترګو مور جانی

او بیا زما لاس نیسي او د ښځو او جینکو ګڼه ګوڼی څخه راوباسي! او د هغه انجونو په خوا ځو چې د چای او خواړه په ورکولو بوختې دي، او پټنوس یې تقریبا خالي شوی وو.

حسنات- یغما، راځه چې بهر لاړ شو، دلته ټول اوس راټولیږي( او په لوړ غږ یې جینکو ته وویل: جینکو دباندی درته پټمه یم!

موږ دواړه په کراره او سختئ سره د خلکو د مینځ څخه بهر راوځو، موږ لا په پوره توګه ساه نه وه اخیستی او راوتلې نه و چې جینکی راورسېدې! ټولو په وار وار حسنات سره ستړی مشی وکړل البته، چې د شوخ انجونو پشان وه یو یې ویل:

(چیرته یې، شیشکې)
(کم را معلومیږی وه انجلې.)
( ښکه ښایسته شوی یې)
(وای جامې خومره ښکلې دي)

کله چې دوی ښکلول او ستړی مشې خلاص شوه، نو تازه یې و ما عاجزی ته فکر شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دوی څخه په ډېر لنډ واټن کې ولاړ وم! په زیړو رنګ شوي ویښتانو او نسبتا ښکلي ښه لرونکې جلی په یوه ځانګړي غږ وویل: حسنات دا جلی څوک ده؟(او زما خواته یې اشاره وکړه! زه په کراره قدمو د هغوی خواته نږدی کیږم چې حسنات خپله ستوني صاف کوی، او د وینا کونکي کس په تمثیل کولو پشان وایې:
:#شهاب
حسنات- جینکو وایم:چې څوک ده،مقصد سکته ونکړی! نا پریده لومړی به تاسو ورته وپیژنم( بیا یې همغه زیړ ویښتانو جلی ته اشاره وکړه او ویې ویل: اناهیتا د ماما لور مې( د حسنات په خبره هغه معرفي شوی انجلی ته چې نوم یې اناهیتا ویل شوی وه ګورم، رنګ شوی او مصنوعي طلایي ویښتان،ښکلی سترګې،غنمرنګه پؤستکي منځینی پوزه درلود لا دهغې په کتو وم چې حسنات یو بل جنې ته اشاره وکړل او ویې ویل:

حسنات- ساره د ماما لور مې ( د اناهیتا څخه مې نظر واړوی او ساره ته مې وکتل د لنډ قد خو ښکلې څېره، نیلي سترګې، اوږده باڼه، قلمی پوزه او وړې شونډې! په ی لفظ کې ښایسته وه! چې حسنات بیا یو جنې خواته اشاره وکړل او ویې ویل: نجیبه د ترور لور مې. ( نجیبه، د متوسط قد لرونکی، خو دومره ښکلی نه وه؟! حسنات یو بل جنې ته اشاره کوی او وایې: امینه،ترور لور مې ( آمینه لوړ قدی جلی، سپین پوستکي لکه د شیدو پشان آمیني ته مې په ځیر ځیر کتل چې حسنات بیا وویل:

حسنات- او دا هم زموږ د ټول قوم شیشکه حدیثه.( د حسنات په خبری مې حدیثه ته وکتل یوه نجلۍ چې متوسط قد او ښایسته بڼه لري. ما ټولو ته لاس ورکړو، او خوښي څرګنده مې وکړه! چې د سارا غږ لوړ شو:

سارا- حسنات وایې اوس که نه؟!
حسنات- اه سمه ده دا یغما جانه ده زما وریندار جان ده!

که زه وایم چې د حسنات په خبره د ټول انجونو خولې د غار په څیر د حیرت څخه خلاص شوی نو دروغ به مې نه ویې ویلې د هغوی د څهرو په لیدلو د حسنات د خندا غږ پورته شو او ویې ویل: خوله بنده کړی،چې مچان داخل نشې!
اناهیتا په نه زړه وویل: وریندار ه! زید ښځه ده! ټوکې کوې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات- هو صیب زید خان ښځه ده، زه ټوکې نه کوم.
اناهیتا- هیڅ باور نه شم کولی.
حسنات اوږه پورته کړه او په یو بې حوصله لهجه یې وویل: ستا زړه نور ما پوري اړه نه لري اناهیتا جاني!

زه یوازې د خغوی د خبرو کتونکې وم، هغوی پوښتنې کولې او حسنات ځواب ورکاوه! خو د ټولو انجونو حسادت او بخیلي له ورایه ښکاره کیده! ساره په تکبر او غرور سره زه مخاطبه کړم او راته ویې ویل: حسنات رښتیا وایي ته د زید خان ښځه یې؟

ما هم د هغې په څیر، په ویاړ او غرور موسکا وکړل او ومې ویل: ولای ښکاری خو همداسې.!
آمینه خپل لاسونه خلاصوي او ما غیږ کې نیسي او په خوشحالې باندی وایې: الا څنګه ښه سر جوړ راغی،دواړه ښکلی یې،ان شاءالله چې بختوره شې!
په خندا ځواب ورکوم: مننه، ژوندی اوسی ګرانې

آمنه او حدیثه شوخی او خوش طبیعته جینکیانې وې! خو نجیبه سارا او اناهیتا ماته داسې کتل لکه چې د هغوی د پلار میراث ما خوړلی وي!؟ او د هغوی دری نفرو داسې غوسه ناکه نظر زه نور هم خوشحاله ولم او د غرور احساس مې کوی، داسې احساس مې درلود چې یو ډیر قیمتې شی چې ټول دهغه شئ په تنده او آرمان کیدی ما لاس ته راوړې اوسیږی! د ذکیه ترور غږ زموږ مجلس خلاص کړو:

ذکیه-هله جینکو منده کړئ پیالې راټولې کړئ قصې مو اوس پریدې شپې ته فعلاً ډوډۍ وخت دې!

پرته له اضاف خبرو جینکو سره لاړم او پیالې مې راټول کړل،یو بار مصرفه دسترخوان مو هوار کړو! پتمه پاتی کیږو چې د بیرون څخه ډوډۍ راشې!
موږ ټول په انګړ کې ولاړ یو! البته، که د ساره او اناهیتا د غوسې څخه لری دریدل په نظر کې ونه نیسم، هلکان له ډوډۍ پټنوسونو سره را داخل شول د دوی په منځ کې زما سترګې په زید باندې ولګېدې، په ښکته سترګو پټنوس زموږ په لور راکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اناهیتا غږ د زید د لیدو مخه ونیوله: ساره وګوره هغه زید نه دی!؟

ساره، له لږ ځنډ وروسته، په ارامه غږ، کوم چې بیخي ما ورڅخه نه و آوریدلي ویې ویل: هو خپله دی!

زه نه پوهیږم، ولې خو بیحده زیاد د حسد او بخیلي احساس مې وکړو داسي لکه چې یو ماشوم بخیلي کوی چې د هغه مور او پلار یو بل ماشوم ته ناز ورکړی..! ساره غوښتل، د پتنوس په بهانه زید خواته لاړه شي چې زه د هغې څخه مخکې شوم او د زید په لور روان شوم، د ټلو حال کی مې خپل ټول مخ په ټکری پټ کړ ترڅو د نور هلکانو او همداسي د زید قهر نه په امان کې اوسم.

زید ته نږدی کیږم او پتنوس یې له لاسه اخلم! چې زید په حیرانه نظر ماته راګوری فکر کوم چې زه یې ونه پیژندلم! ځکه د هغه تندی تروش، څو او سترګې یې ښکته کړې او اراده وه چې لاړ شي! د زید دا سر ښکته کول او زما نه پیژندل ماته خندا راوړه هی هی لکه چې زما بت پرست خپل د عبادت بت و نه پیژندی؟ صدقه له شرم څخه یې شم خپل ټکري پیڅکه لږه لري کوم او په کراره غږ او مسکا باندی د زید د ټلو څخه مخکې ورته وایم: زه یمه مه شرمیږه!

زما په غږ زید په ټلوار خپل سترګې را پورته کړي، چې ما پتنوس یې د لاس څخه واخیستو او په ټلوار د صالون خوا ته لاړم!راو زید مې هملته هک حیران پریخودو د حسنات په غږ مې وروکتل: یغما،چیرته ورکه شوي،له یو پتنوس پسي غره بیخ ته لاړی زر کوه چې ټول خلک پاتي!

یغما- زیات چر چر مه کوه دا دی واخله!

حسنات پتنوس اخلي او مواد یې ویشي!
هغه بیا پتنوس زما په لور نیسي او زه یې له هغه څخه اخلم د انګړ په لور ځم پتنوس زما په لاس کی دی او سترګي می د زید په لټه کې دي! اوه، نو چیرته لاړو زما محبوب؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په خپله خوله لاس کیدم،او هغه کلمه چې بې اختیاره مې له خولې څخه بهر شوی وه، هغه کلمه تحلیل کوم. محبوب؟! یعني چې ما زید خپل عاشق وبلو!؟ حتی د دی لفظ اعتراف کول ځان ته لا سخته وه دومره چې له امله يي زما د غومبر د سور والو سبب کیږی.

زید له پتنوس سره انګړ ته راننوتې داسی ښکاریدی چې د چا په لټه کې وی؟ او زه پوهیدمه چې هغه پرته له ما بختوره بل څوک نده! په خندا اوېښ مخ زید خواته لاړمه! زما په لیدو یی ښایسته خندا په څهره کی ښکاره شوه.څه تسلیم شوې یمه هو اقرار کومه څه یغما هغه څوک چې یوه ورځ زړه یی تیرې په شان وو.ومې بایلل او هغه هم څه یو بایلل وکړل!!

اقرار کومه هماغه ورځ چې زید خپل غرور یی مات کړ او د مینې اظهار یی وکړو . ما خبل زړه و بایلود.یواځې د دی جرات ما کی نه وو چې د مینی په سمندر کې پښه کیږدم.زړه می په سینې کی نه تولو د بت پرست په لاسو کې زولنې شوې وو.تر کله به څه له خپل احساساتو تښتمه.؟

هر څه کیږې ودی شې ګناه کول هم ښایسته ده کله چې د زید نوم یکې وی. زید ته نژدی کیږمه. چې هغه په خندا یی کرار وویل: آغلې یغما ولی نورو ته وار نه ورکوی!پریږده دا ځل یو بله مخې ته راشې!

سترګو کی ورته ځیر کیږمه او مخ ته یی په ځیږ ګورمه چې اوس په خندا کیږده په غوسه ناکه لهجه ورته وایم: چیښې دی؟نه چې په سترګو دی د ړانده.کیدو هوا لګیدلی.

سترګې یی رډی شوې لکه دا چې د دی خبرو د اوریدو تمه یی زما څخه نه درلوده په حیرانه لهجه يې وویل: ته بیا ووایه جان می.
په شیطنت ورته وایم: چیښی ووایمه پتنوس راکړه.
پتنوس راکوی او په مینه وایی:

اندر دا من

(c) ketabton.com: The Digital Library



درون و بیرون
همه توست.
(مولانا)

زید- زما جانانه تسلیم کېږې یا څه خوب کې یمه؟!

په یوه ښایسته خندا زید یواځی پرېږدمه او روانیږم ورڅخه بد شانتی د زید له مهربانه الفاظو سره مې عادت کړی وو داسی ښکارېده چې د مینی احساس نور د فولادی دیوالونو تر شاه نشم پټه ولې.نه نور نکیدل ډیر سر کښه شوي وو چی دا هر څه پټ کړمه نور زما له توان نه وتلی خبره وه.ډوډي وخوړل شوه او دسترخوان ټول شو.نڅا او ګانی پیل شوې وو اوټول انجونی په میدان کی ټول شوي وو

د ماشومانو شور ماشور پیل شو او د ناوې او زوم راتګ یی خبر ورکول.حسنات امینه او حدیثه تر څنګ می ولاړی ول.او د زوم ناوی راتګ ته په تمه وو. ساره او اناهېتا زمونږ نه لږ لری ولاړې ول. په دې څو ساعتو کی می درک کړی وو چی حسنات له اناهیتا او ساره سره جوړه نده.له لږ ځنډ وروسته ناوې او زوم راغلل ټولو لاسونه وپړکول.د هغوی په ننوتو ډیر هلکان د ننه شول.

زید هم ورسره وو او د هغوی مینځ لکه لمر ځلیده.په لېدو یی څلوریزه می وویله.

څما په سترګو ورته ګوری
جانان ښایسته دی که رب څه لیونی کړمه.

نڅا پیل شوه.هلکانو او انجونو خندل او نڅا یی کوله.سترګی می په میدان پاتی وو او د راغلو خلکو په خوشحالیو کی غرقه ومه.چی د حسنات په غږ باندی له خیالی نړی نه ووتمه: یغما ژر کوه زید ته ځان ورسوه.
په تلوار می وویل: ولې؟
حسنات- هلته وګوره...

چې ومی کتو ساره له زید سره غږیدله.خو زید خپل سترګی ښتکه نیولي ول.اوپه غصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې خبرو ته غوږ نیولې وو.

حسنات- لاړه شه هله نو ولی ولاړه یی ساره په باطن پاکه نده.

ای خاوری می په سر شه ولی مې پام نشو د حسنات خبرو ته نه په تمه کېږمه او منده کومه زید خواته. زید ته په نږدېدو کیدو سره د د ساره غږ لږ لږ اورمه چې زید ته وايې: ولی نګوری راته نه چی ډارېږې ښځه دی ونګورې ؟

زید خاموشه وو ځان می زید ته ورسه و او د خندا څخه په ډک غږ مې وویل: نه ساره جانی غلط شوې یی ځه په زید باندی خپل د سترګو څخه زیات باور او ایمان لرمه او ډاډه یمه چی پرته له ما بل چاته نګوری.همداسی نده زیده؟

دا خبره کوم او د زید لاس په کراره خپل لاس کې نیسم، زما پدی کار او خبرو زید د حیرانتیا څخه هک حیران راګوری چې زه به زړه کې خاندم او ځان سره وایم: دا خو لا تر اوسه د فلم پیل دی زید خان. پام می له زید نه اړومه او د ساره د غوسې او بخیلې څخه تک سور شوی مخ ته ګورم او وایم: ساره جانی ته دلته څه کوی ؟

سارا- هیڅ د زید سره می خبری کول.
په خندا او په طعنه لرونکې لهجه ورته وایم: عه عه اول خو زید نه او زید ورور .په نوم باندې یې حساسه یمه او بله دا چی فکر نکوی د یو متهل سړی سره خبری کول ښه خبره نده!؟

زما په خبرو زید کرار خاندی، د سارا د نور غوسه کولو او زړه چاودولو لپاره خپل لاره بدله کومه او د زید مخامخ درېږمه د زید د غاړې رومال په لاسونو مې سم کوم چې سارا د غوسې څخه په ډکه لهجه وایې: یغما جانې فکر نکوی سم ځای ندی د دی کارو لپاره ؟

د خندا څخه په لوړ غږ ورته وایم: نه ساره جانی که په زړه نه نیسی زما خبره نو ګرانې ما خپل د خاوند سره یواځې پریخودلې شی؟! اخ مزاحمه یې موږ ته.

ساره د غوسې څخه بد بد راګوری او بغیر د کوم خبری کولو څخه تکه سره د غوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله لاره نیسی او ځي د سارا په تلو د زید شتون هیرومه او له ځان سره به لوړ غږ وایم: مرداره جلی سترګی یې د خلکو خاوند ته نیولي.

د زید د خندا په غږ مي تازه هغه ته فکر کیږی چې زید په همغه خوشحاله لهجه وایي: چیشي دی وویل؟ یو ځل بیا ووایه هیلللللله کومه.

تازه مې پام کېږي چی څه ګل ته مې اوبه ورکړی، په دروغجنه غوسه وایم: چیشي دی؟! زه لاړم ترور ناری وهي راته راسره کار لری..
د تلو قصد می درلود چی زید مې لاسونه کلک نیسی او کرار وایي: ظالمې یو ځلې می آسمان ته خیژوی او یو ځلی می داسی په ځمکه وهي چی دانه دانه هډوکی می ماتوی. ووایه څه خبره دی په ذهن کیده؟ څه پلان دی ماته جوړ کړی؟ آیا دا انصاف دی؟

یغما- څه وایی لیوني شوی یی؟ ومی لیده چې خوښ نه ښکاریدی ورسره په خبرو کولو ومی غوښتل مرسته درسره وکړم!
زید- یواځی همدومره؟!
یغما- هممم هو !
زید- یغما هلته وګوره هغه انجوني ستا خاوند په سترګو وخوړې
بی واکه وایم: هغه انجوني دی بد وکړی چی زما خاوند کاږه لا وګوری! کومه دی انجوني خو نشته؟!

دا د خاوند کلمه مې ولی تر خولې شوه؟! اصلا ولی په خپل حرکاتو کنترول نلرم!؟ کوم خاوند هان!؟ په څه دومره بخیلی کوم ما چې په ټول عمر د بخیلی په نوم کوم څه نه پیژندل؟

زید می لاس ته زور ورکوی او په خوشحاله او خند وایي: میرمن یغما نور د فولاد دیوال هم درته د حل لاره نده د کوم کلک څیز په لټه کی اوسه!

پوه شوم چې مطلب یې څه ده! ښه پوه شوی و چی زه تسلیم شوی یم! ښه پوهیده چې زما په زړه کې یی کور کړی دی! په هر څه پوهیده خو ښکاره کوه یی نهچ همداسی چې د زید ترڅنګ ولاړه وم او زما لاس د هغه په لاسونو کې وه کرار مې وویل: زیدا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- د زید ژونده! وو ایه!

څومره ښکلی یی جواب راکو ولي فکر نکوی دا بت پرست چې زما زړه د دومره خوشحالي طاقت نلری! کرار ورته وایم: کولی شی لاس می خوشی کړی!
زید- نه.. نه کیږی وګوره هر څوک له خپلي جوړی سره ولاړ دی ته خو نغواړی چی ددومره انجونو تر منځ مې یواځې پریږدی غواړی هوم؟

بیا هم د بخیلی اور مې په ضعیفه زړه بری وموندو عجیب د مالکیت حق می پر زید پیدا کړی وه دا ځل زه د زید لاسونه می په خپلو ګوتو کې ټینګ نیسم دقیقا د هغه ماشوم حالت مې وه چې په یو لوی ښار کې یواځې خپله مور لری چې لاس یی ورته ټینګ نیولی چې هسې نه په لږ غفلت او بې پروا یې باندی خپل ګران کس ورک کړی.

پو هیږم! والله پو هیږم چی زید ماته منع شوې دی ښه ووایم حرام دی ښه پو هیږم په لاس نیولو یې په ګناه کې غرقیږم اخلم ګناه! په خپله خوښه ګناه اخلم دا دومره وقت د هغه ګناه چی هیڅ مې نه وه کړې تاوان می ورکاوه دا یې هم په سر مګم دا دومره وقت ترور! نه یواځې ترور بلکه ټولو می په حق کی ظلم وکړو ګناه یی وکړه!
چا یی د حساب پوښتنه وکړه؟

پریږده دا ځل زه ګناه وکړم ! هغه ګناه چې ماته مقدسه ده! لکه کعبه! هغه ګناه چې تر اخر پرې ودریږم او هیڅکله یې په کولو نه پښیمانه کیږم هغه ګناه چې نوم یې مینه ده! نه غلط فکر مه کوی نشی کولای چې د مینه په نوم مستانه ګناه وکړې هوس وکړې او د مینې نوم پرې کیږدی! زما مینه او ستاسی د هوس چې د مینې نوم مو پری ایښی ډیر فرق شته!

ګناه زما لپاره د زید د لاس نیول د له دې زیات نه !د وړه خبره زما لپاره عبادت دیه مګم دا که تاسو یی ګناه ګڼې ستاسو فکر په انځور باسی! د زید خندا زما فکرونه لکه کاغذ په اوبو کې ډوب کړل.

زید- زما سپین ګل ډاریږي چې خپل بت پرست د دومره عشوه ګرو ترمنځ یواځې پریږدی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطمئن او په غرور مې وویل: که زما بت پرست د دې عشوه ګرو په لیدو لړ هم ذهن یې راګیر شي. زه خپله خپل ځان ماتوم، زه پوهیږم ! بلکه ایمان لرم ته تر پایه یواځې ما عبادت کوې!

زید په ځیر ځیر راکتل. او په ښکلې غږ یې چې زما لپاره یې د موسیقۍ ارزښت درلوده وویل: اه یغما ښه پوهیږې خو بیا هم په څو وارې دې زما زړه لکه شیشه رامات کړی، پوهیږې چې وجود مې ستا له مینې ډک دی بیا دې هم ځان له ما منع کوی زما غوږونه ستا د خوږه الفاظو د آوریدو په تمه کې دی او ته بیا هم په ډیری بی رحمی خپل دا بت پرست له ځان نه شړی..؟

په کوم مذهب کې دومره ظلم روا دی ؟
دا ځل د ټول وختونو په خلاف په نرمه مسکا او شرم خپل ټول دارایې خپل د ژوند سړی ته کیږدم او وایم:

انکه به دل اسیرمش
در دل و جان پذیرمش
ِمن گر چه گذشت ُعمر
باز سربگیرمش!
(مولانا)

حیرانتیا د زید په سترګو کې له ورایه ښکاره کیدله،خپل لاس یې په خپل زړه کینود او سترګې یې پټې کړې په زمزمه یې وویل:

بالا بلنِد عشوه گر،نقش باز من کوتاه کرد
قصه ای ُزهد دراز من......

په نرم غږ ورته وایم: سترګې دی خلاصې کې ولې دې تړلې؟
زید خپل توری سترګې کرار خلاصوې او وایی: پټې می کړی که دا خوب ویې نو د عمر تر اخیره دی ویښ نشم د دی خوب څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرم ناکه مسکا مې په مخ راولم او خپل لاس د زید د لاس نه خوشې کوم او د حسنات په لوري ځم شپه نور اخر ته رسيدلی وه د مولا د راتلو او د نکاح د ترړولو وقت رارسيږدلي وه! ناوی او زوم يې د ډوډی خوړلو لپاره کوټې ته بوتلل!
ټولی انجوني په يوه کوټه کې ټولی شوی وو ويل مو او خندل مو!
ساره او اناهيتا خپل منځ کې قصی کولی او بد بد يې ماته کتل

يغما- حسنات دا قدوګکه هسې سپکه وم ډير بد بد راګوری
زما په خبری حسنات خاندی او وايې: الا شيشکی څه يې کوی زړه يې اور اخيستی پريږده چی بد بد درته وګوری څه کولای شی؟

ما خبری کول حسنات او حديث او امينی خندل! دروازه خلاصيږی او ترور رااننوځي په مهربانه مسکا ماته په خطاب وايی: يغما جانی لاړه شه زيد په کار يی بهر درته په تمه ده.
يغما- سمده ترور جانی راغلم!
پورته کيږم او حسنات ته په کتلو وايم: بيړته راځم غيبت مې ونکړی ويلی مې وی!
د حديثی د خندا غږ پورته کيږی او حسنات په خندا وايي: ورځه چی يوسف د زمانې درته غږ کوی دومره لوی وياړ لا لاسه مه ورکوه!

خاندم او د حويلی لاره مخې ته نيسم زيد موبايل په لاس انديښمن ولاړ و،
مصلحتي ټوخي کوم ماته يی پام کيږي او مسکا کوی کرار وايم: ماسره دی کار وو؟
زيد غټه ساه اخلی او د خبرو کولو هڅه کوی ګواکې ژبه يی ورسره ملتيا نکوله
د ټيلفون په زنګ يې خبره نيمايی کې پاتې کيږی بيا غټه ساه اخلی او ټيلفون ته ځواب ورکوی لږ واټن اخلی او په انديښنې وايی:

زيد- بلی رضوان اورم.رضوان يو څو دقيقی صبر وکړه ويل يی دومره اسانه ندی نشم کولای زه يی نشم کولای( رضوان يو شئ وزته وايې چې زيد به کراره سمده وايې او زما په لورې ګام اخلې او په انديښنې وايی: رضوان غواړی درسره خبری وکړې.

ټيلفون په نه زړه اخلم او وايم: سلام رضوانه
رضوان- عليکم سلام خورجانې! ښه يی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- مننه ښه یمه ته ښه یی کورنی ښه ده؟
رضوان- هو هو زه او کورنی ټول ښه یو واوره یغما! غواړم یو څه درته ووایم سم دقیق یې واوره.

د رضوان په داسې لهجه پوهه شوم چی بیا مې سم شی په انتظار کی ندی مخکې هم داسی خبری کولی؟ کرار ورته وایم: هو ووایه اورم
رضوان- نن دی ترور له پولیسو سره راغلی وه زید هم پوهیږي نپوهیږم ولی یی درته ندی ویلی؟ګوره یغما جانی نپوهیږم څنګه یی درته ووایم خو باید له زید سره نکاح وکړی ترڅو وکولای شو ملاتړ دی وکړو خپله خو دی د افغانستان شرایط وینی که د نکاح سند مو لاس کې نه وې کار مو سخت ده بیا هم فکر مه کوه چې ملاتړ کوونکې نلرې یواځې د شونې پیښی له امله وایم

د رضوان خبرو ګنګسه کړم د ترور او پولیسو په نوم وویریدلم مګم د نکاح خبره د زید سره راباندې ښه ولګیده چې د رضوان غږ بیا خپل د فکرونو څخه وباسلم: یغما آوری؟
یغما- هو وامې وریدل
رضوان- پریکړه دې څه ده؟
یغما- نپوهیږم

رضوان غټه ساه اخلی او کرار وایی: هیڅوک دي په زوره نه اړ کوي ته خپله پریکړه نیونکي یي مه هیروي چي یو ورور د رضوان په نوم لري

یوه عجیبه ښه احساس مې د رضوان پدی خبره وکړو او کرار مې وویل: پوهیږم ژوندی اوسی.

خداي پاماني کوم او تیلفون قطع کوم سترګي مي د زید په لور نیسم چې هغه وارخطا وایي: وګوره یغما په خداي قسم که زه کوم بد نیت ولرم باور وکه د نکاح موضوع د رضوان وړاندیز وو، که ته ونغواړي نه زه او نه هم بل سوک دي په زوره نه اړ کو.

خندا راغلی وه د زید په وارخطایي! نکاح له خپل بت پرست سره! مګم له دي بله لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحالي شته؟ په مسکا وايم: زيد ارامه اوسه.
زيد داسې غلی شو لکه په اور چي اوبه واچوئ به بند بند ژبه يې وويل: يعني
له.....ما.......سره نکاح کوي؟ (او ځان ته اشاره کوی؟ سر ښکته او پورته کوم چې زيد
په بې کراره انداز وايې:

زيد- يغما په خوله دي ووايه
يغما- هو!
زيد يواځې کتل او څه يې نه ويل خپل لاس مې د هغې د سترګو په وړاندي ښوروم چې
زيد کرار وايې: يغما ټوکی خو نکوي؟

ژبه مې له خوشحالی څخه نه ښوريده نو ځکه د سر په خوځولو جواب ورکوم چې زيد په
کړس کړس خاندی چې زه خپل ګوته په خپلو شونډو ايږدم او کرار وايم: وويل:
ايششششششش چې څوک يې وانوري.
زيد- په سترګو ميرمن مې.

د ميرمن کلمه مې عجيبه په مزاج ښه ولګيده چې زيد وويل: نن شپه څنګه ده؟

په حيرانتيا وايم: څنګه څه ته؟
زيد په يو نه کنټرول کونکې خوشحالي او خندا وويل: نکاح، زما زړه نکاح.
د زيد په خبره د شرم څخه مې غومبری تکې سرې شوی چې هغه په خندا وويل: ستا
خاموشې په څه تعبير کړم؟ آياد غه عاجزه فقير ملنګ زيد په غلامې منې کنه؟

يغما- نه!
د زيد خندا د شونډو څخه الوځې او په نا مطمئنه لهجه وايې: نه؟؟
يغما- امهمممم نه.

زيد په کراره قدمونو شاته روان شو، چې زما خندا راغله د هغه و دی کار ته بس به ويې
دومره پعذابه ول خپل د ژوند د همسفر مې؟ په خندا او لوړ غږ ورته وايم: زيد چيرته
روان يې بغير له نکاح څخه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- تا زه په توکو نیولې یم؟!
یغما- نه خو تا وویل په غلامې مې منې؟ زه یغما زید خان خېل د زړه سلطان او پاچاه منم نه غلام.!

زما په خبره د زید تللی مسکا بیرته په شونډو خپره شوه، او په خوشحالۍ وویل: تیاره یې؟
یغما- هو خو خاله خبره ده؟

زید په داسې غږ چې خوشحالي او شوق ورڅخه په څپو و ویې ویل: نه ورځه مور جانې ته غږ وکړه چې زه یې پوه کړم.
یغما- سمده.

د زید موبایل ورته په لاس ورکوم او په تیز قدمو د سالون خواته روانیږم چې د شا لخوا د زید غږ اورم چې وایې: یغما غټ ټیکری دې په سر کړه.

بغیر لدی چې د زید خبری ته کومه توجه وکړم سالون ته داخله کیږم او د خاله په لټه ولو بوخته کیږم نظر مې په خاله پریوځې په تلوار یې خواته ځم همدا چې وروسیږم په کراره غږ ورته وایم: خاله جانې زید تاسو ته ناری وهل.

خاله- سمده لور جانې( بیا خپل د هم عمره ښځو د مینځ څخه پاسیږی او هغوی ته وایې: زوی مې راته غږ وهې ځم چې وګورم څه راته وایې؟

خاله په کراره ګامونو زما سره روانه شوه، کله چې دروازی خولې ته ورسیدو زه و دریدم او خاله ته مې وویل: خاله زه دلته تاسو ته په تمه کیږم تاسو لاړشې.

خاله خپل سر ښکته پو ته کوی او د زید خواته ځې، تقریبا 15 دقې په تمه پاتې شوم! وخت بیحده کرار روان وو بیخی نه تیریدو زړه مې لکه چوغکې پشان ډب ډب کوی. د 15 دقو انتظار وروسته خاله په خلاصه خوله د خندا څخه سالون ته راننوتل د خاله په راتلو ما په شرم خپل سترګې ښکته کړل چې خاله زما خواته رانږدی شول او په مهربانې او خوشحالۍ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاله- ورځه لور جانې یو غټ ټیکرى دى په سر کړه زه ذکیه ته غږ کوم.
یغما- په سترګو.

دا خبره کوم او د کالو بدله ولو کوټې ته داخله کېږم او ټیکرى کې مې ځان راپیچم د دهلیز خواته لاړمرخاله د ذکیه خاله سره ماته په تمه ولاړ وه، نه پوهېږم زید خاله ته څنګه وضاحت ورکړى وو چې خاله بیخی غوسه نه ښکاریده په ښکته سترګو د شرم څخه د خاله او ذکیه خاله خواته ځم چې ذکیه خاله په مسکا باندى وایې:

ذکیه- مه شرمیږه زما ښایسته لورکې دغه د هر پیغلې جنې لاره ده.
خاله- ذکیه زما لور مه پعذابه وه.
ذکیه- بې بې جانې ما خو ورته څه ندى ویلې!

خاله زما لاس کلک نیسې او د دباندى پخوا روانیږو په کوچنې قدمو د خاله پسې شوم د یو څه تلو وروسته خاله د یو کوټې دروازه وټکول او بیا یې دروازه خلاصه کړه، زه په ښکته سترګو کوټې ته ننوځم موږ درى واړه په کراره سلام کو او همداسی په آرامه هم د سلام جواب اخلو او کینو زه د خاله څنګ ته کینستم او خپل سر مې ښکته واچوى

د سترګو د کونچ څخه د کوټې داخل کسان له نظره باسم، یو سړى چې په نظر راته آشنا راتلو او یو هم مولوى صیب و! سترګې مې په زید ولګیدى یو سپینه خولې په سر کړى وه او کرار او با وقار ناست وو، خومره سپین خولې په سر ښه ښکاریده! مولوې صیب قران خلاصه وى او د زید په غوږ کې یو شې وایې.

زید کرار راپاسیږى او زما څنګ ته راځې زما مخکې ګونډه وهې او زما غوږ ته نږدى وایې: د پلار نوم دى څه دى؟
کرار ورته وایم: سید عاصم.

زید خپل سر خوځه ویې او پورته کیږى د مولوى صیب په غوږ کې زما په خیال همدغه خبره کوى چې هغه هم خپل سر خوځه ویې او وایې: یغما بنت سید عاصم آیا تا زید ولد حاجې رحیم بغیر له کوم زور او جبر څخه په خاوندى قبول دى؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- هو قبول مې دی.

د چک چکو او مبارکیو غږ پورته کیږی! اوس د زید د ایجاب او قبول نمبر و مولوی صیب په همغه انداز زید ته وویل: زید ولد حاجي رحیم آیا تا یغما بنت سید عاصم بغیر له کوم جبر او زور څخه خپل د ښځې په عنوان قبوله ده؟

زید په بیحده ښایسته او خوشحاله لهجه وویل: هو قبوله مې ده.
مولوی صیب بیا وویل:زید ولد حاجي رحیم آیا تا یغما بنت سید عاصم بغیر له کوم جبر او زور څخه خپل د ښځې په عنوان قبوله ده؟
زید- هو قبوله مې ده.

مولوی- زید ولد حاجي رحیم آیا تا یغما بنت سید عاصم بغیر له کوم جبر او زور څخه خپل د ښځې په عنوان قبوله ده؟
زید- هو قبوله مې ده.

د زید د هر "قبوله مې ده" په لفظ و زړې مې کول او آسمانو ته پورته کیدلم د شاهیدانو په اقرار یو همغه هلک چې ماته آشنا معلومیدی د حسنات د خاله زوی عدنان و او بل خله او ذکیه زموږ د نکاح شاهیدان شول نکاح و تړل شوه ټولو مبارکي راکړل او د کوټې څخه ووتل او زه پاتې شوم او زید!

زید چې اوس مې اسلامي حلال او جایزه خاوند په حساب راتلو خپل سر مې تراوسه ښکته نیولې و چې د یو چا چې بغیر له کوم شک زید وو زما مخ ته د کینستلو احساس مې وکړو او زما ټکری یې له مخ څخه لری کړو او په مینه ناکه لهجه یې وویل:

زید: یغما مې، سترګې دې پورته کړه، دا شرم د څه لپاره!؟
د زید سره د مخامخ کیدو جرئت راکې نه وو د شرمیدو احساس می کولو! نه پوهېدم چې څنګه سترګې پورته کړم او ورته وګورم!

زید په خندا وویل: زما زړه شرمیږی!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خبری وروسته، هغه زما زنه په خپل لاس کې نیسي او سر مې پورته کوي! خپلې سترګې مې پورته کړې او د زید ښکلې خندا ته مخامخ شوم! هغه زما لاسونه د خپلو نارینه لاسونو په مینځ کې ونیول! او کرار یې وویل: زما مینی، که اوس مړ هم شم، زما په زړه کې نور ارمانونه نشته یوازینې ارمان می ته وی چې لاسته مې راوړی!

لاسونه مې نیسی او ښکل کړه! شرم مې یوې خوا ته کېښود، لاسونه مې د هغه د لاسونو له حصار څخه خلاص کړل! اوس نه مذهب او نه هم بل هیڅ خنډ په وجود کې نشته او نه هم په لاس کی زولنې شته! اوس زید فعلاً زما لپاره وو! زما په ژوند کې داسې خوښۍ او بخت مې نه وو، زه تری بې برخې وم!د زید ښکلې مخ مې خپل په دواړو لاسونو منځ کې نیسم او په خپلو پېنو باندی کینم او مخ مې د هغه مخ ته نژدی کړو او سترګې یې ښکل کوم! او ورته وایم:

یغما- زید زما خاوند، زما نړۍ په تا پورې تړلی، د مړینې خبری مه کوو، شک مه کوه، دا ځل به زه ستا څخه مخکې مړه شم که پرتا کوم شې وشې، دومره بدبختیانې او مرګونه مې تیر کړل دا ځل زه غواړم چې ژوند وکړم،ته زما لپاره د ژوندون اوبه اوسه!

زه ستا په خېر په خبرو کې تکړه نه یم، چې ستا په څېر خوږې خبرې وکولای شم! د مینې نړۍ ته مې تازه قدم اینبی دی، له هر څه نه ناخبره یم، لکه ماشوم!یغما په تیاره کې په نفرت کې لوی شوی، هغه د مینې له کلمې څخه نا آشنا ده، ته ما بیا را لویه کړه، ما ته مینه زده کړه، ما ته د مینې کلمو سره اشنا کړه، هغه وخت به ستا بت مړ شي او یوازې ستا نوم به په خوله راوړي!

زید زما تندی په ارامه ښکل کړو او ویې ویل: ته پوهېږې چې زه دې ورځې ته څومره پتمه وم، څومره تږی وم ستا دی خبرو ته؟زه خپله درته مینه معنا کوم، زما محبوبې ستا د سختیو ټولې ورځې لکه د خوب په څیر د ذهنه څخه دی درته پاک کوم ته یوازې زما شه!یوازې ماته خانده!ته نه پوهیږی ستا خندا زما روح تازه کوي ژوند مې !

د زید هر خبرې سره زما یو غم په تیاره کې ورک شو! ما هیڅکله فکر نه کاوه چې یوه ورځ به زه د زید سره دومره مینه لرم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- یغما ستا په سر قسم ، زه هیڅ باور نشم کولی چې دا صحنه ریښتیا ده، او ته زما یې! باور مې نه کیږي چې دا خبرې ستا له خولې زما غوږونو ته رسېدلي وي! ته

نه پوهېږې چې څومره خوږې خبرې کوې، د سادګۍ په وخت کې لکه د مولانا شعرونه په زړه کې کیني!اه ټول وجود مې، زما خایستو فکر کوم چې په خوب کې یم!ممکنه ده ستا د تیرې زړه ماسره مینه ولري او ستا زړه زما په نوم وی هوم؟ یعنی.. یعنی....

زید حتا نشو کولي چې سمې خبرې وکړي، خپل د حرکاتو کنټرولول! خو لری اه زما خدایه!! تا ماته زید د ټولو دولسو کالو ثواب راکړو زه منم، قمار وهم، قمار هغه هم له خپل ژوند سره ، هو، ما ټول خپل عمر د زید په بدل کې قمار ایښی وو، نه پوهیږم دا قمار به چیرته پای ته رسیږي! زه د زید لاسونه په خپلو لاسونو کې نیسم او په موسکا وایم: زید زما خاوند‌ه، آرام شه، وګوره چې هرڅه ریښتیا دي.

سم وګوره زه ستا و مخ ته ناسته یم او ستا د نکاح په قید کې بندی شوی یم! شاید زه لومړی بندې اوسیږم چې خپل د قیدی کیدو او په زولنو کیدو باندی راضې یم.

زید نا مطمئنه خپل ځانته اشاره کوی او وایې: زه زه ستا خاوند یم!؟ ته زما د قیدی اوسیدو باندی راضې یې؟

مسکا مې نرر هم زیاتیږی او په خوشحالي ورته وایم: هوو ته زما خاوند یې یواځې او یواځې ته.. او اقرار کوم زه ستا په قید او زولنو د نکاح باندی د زړه څخه راضې یم. زما زړه ستا په نوم دی او هر یو چې ستا څخه بغیر زما د زړه حریم ته راشي لکه کافر به د جنت له دروازو څخه یې شړم.

زید په لوړ غږ وخندل او ما د ژوندی اوسیدو احساس وکړو د هغه په خندا زید په همغه خوشحاله لهجه وویل: ای ظالمې دومره خوږی خبری دی زده وی او زه دی خپل د خبرو په آرمان کې پاتې کړی وم.

په کراره خاندم او په شیطنت باندی وایم: ښه چنارګل بابا هغه وختو کې ته یواځې زید وی او زما لپاره یو دم حرام، خو اوس شرایطو بدلون کړی اوس ته زما خاوند یې او ما خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول دا خوږه خبرې خپل خاوند ته امانت ساتلې وه.

زید په لوړ غږ خاندی او وایي: وای خدایه دا دومره نیکمرغی او زه؟! نا ممکنه ده!
مګر هغه لیونې یغما هم داسی خبری زده دی او پوهیږی ورباندی؟!

د زید په خبره ما خپلې سترګې پټی کړی او په دروغجنه غوسه د هغه ښکلي ویښتان کش کوم او وایم: ګوره زه له هغو ښځو نه یم چې ارامه پاتی شم!پخدای ژوندی به دی پوستکی درنه اوباسم! خبر اوسی! لیونی هم ته خپله یې مجنون خان!

زید خپل لاسونه د تسلیمی په څیر پورته کوي او په خندا وایي: میرمنې زهی نوکر غلام یم! هو، هو، دا خو واضح ده چې زه لیونی یم،لیونی د خپل بت! لیونی یم.

په خندا ورته وایم: افرین چنار ګل مجنون!

زید، ماته وکتل او داسې وخندل لکه ماشوم چې د زړه له تله خاندی! چې ما ورته وویل:
زید، پورته شه، ډیر ناوخته دی، جینکی راته پتمه دی!

زید شونډې راښکته کړی لکه غوسه چې ویې او ویې ویل: نا، نه منم زه خپله ناوی غواړم.

د زید و دی سپین سترګي ته مې خوله وازه پاتی شوه او ومې ویل: پورته شه( بیا مې د هغه د خولې پیښې وکړل او په رشخندی لهجه مې وویل: زه خپله ناوی غواړم هله پورته شه.
زما په کارونو او خبرو زید خاندی او وایي: سمه ده، پوی شوم، ضرورت نشته ځان داسې کږه وږه کړی...

په لوړ او ګواښ لرونکي غږ وایمچ: زیددددددد
زید- جان زید ووایه خایستو مي ژوند مي.
یغما- ولاړ شه نوو..
زید- سمده په سترګو دا ده ولاړ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زيد په سترګو ويلو ته په زړه کې وايم:قربان دې د سترګو شم يوسف د زمانې مې.
زيد خپل د خبر پسي په خپل ځاي ودريدی زما لاس يې ونيو او زه يې هم له ځايه جيګه کړم، پرته له کوم خبري دروازي خوا ته ځم چې زيد حيران راپسی ناری وهې: يغما ! چيرته؟

يغما- خلک چيرته ځي! کوټې ته!
زيد- همداسي ځي ؟!
سترګي مې تاوي کړي او په ټوکو وايم: هو صايب همداسي ځم.
زيد په شيطانت وويل: خي مچو مې سنګه کيږی؟

د زيد په خبره مې غومبري د شرم څخه تک سره شول او غوړونه مې اور غوندي ګرم شول په ناباوري وايم: ته څنګه ګل بابا سومره بې تربيه او بې شرمه يې په خداي!؟

زيد په لوړ غږ خاندی او وايې: څه مې کړي؟ که مچ رانکړی تر سهاره همدلته پټمه کيږم زړه دی نو.

د نياګانو غوندي په نصيحت پيل کوم او ورته وايم: زيد وشرميږه! بده ده غټ سړي يې.
زيد مظلومانه وويل: د زيد خايستو کوم ځاي بده ده هاا ميرمن مې نه يې؟
پوهيدم تر سهاره راته دليل وايې د همدې لپاره بغير له کومې خبري ورنيږدی کيږم او وايم: سمده!

سترګي مې پټوم! چې زيد په خندا وايې:ليوني مينه مې(ورو مې په وينتيانو ښکل کوي سومره د زيد حيا او غيرت مې په زړه کې ځاي نيولې ده باوري شوي وم چې زيد کوم څه د هوس په نوم نه پيژني سترګي مې ورو او نوبتي خلاصې کړي چې زيد موسکي شو او وي ويل: اوس ستا نوبت ده !

يغما- زما نوبت ؟!
زيد- همممم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل چنار غوندي قد ټيټ کوي او خپل سترګو ته اشاره کوي، اهاا يوهه شوم چنار ګل بابا وايي سترګي مې ښکل کړه هههههه پښو په ګوټو ودريدم او دواړه جهانونه مې ښکل کړل نور د زيد د خبري پټمه نشوم او دروازي ته لاړم!!

د کوټې څخه د وتلو څخه مخکې زيد وايې: ريښتيا يغما مهر مي درته خپله وټاکه سلور سوه د طلا سکي!
يغما- زما لپاره سل غونچي د ګلو بس وي ولې دومره زيات ...؟!
زيد- پوهيږم ګراني ماديات ستا لپاره اړين ندي خو دا زما ډالي ده تاته.
يغما- ته خپله زما لپاره ډالي يې.

دا خبري سره سم مي کوټه پريخوده او لاړم، چې زيد په ښکلي غږ چي خندا پکي پرته وه وي ويل: ښه شپه خايستو مي.
په منده کوټې ته لاړم کوټې ته ننوتو سره سم دي انجونو هوراا چغي ووتي امينه په لوړ غږ وويل: چيرته وي اغلي يغما يو ساعت شو ورکه يې!

حسنات- هي امينه ورينداز مي مه زوروه ښکاره ده چې ورور سره مي وه ضرور کار يي لره ورسره.

امينه- ته يي وکيله يي ؟!
حسنات- هو زه يې وکيله يم !

د حسنات او امينه مشاجري ته مي خندا راتله په جيګ غږ مي وويل: انجونو هيله کوم غلي شې( حسنات او امينه دواړه چپ شوي چې ما وويل: څه شوي؟ولي ګوري؟ توبه خدايه ترور سره وم.

ټولو يوزاي وويل: ريښتيا؟!
په کلکه باندی وايم: هوو!
ا نجونو په ارامه وخندل د انجونو مينځ کي ساره او اناهيتا په قار ناستي وي توجه مي ونکړه ورته او حسنات ته مي وويل: حسنات جاني زما دي خوب کالي دي چيرته ايښې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات پرته له زنډ نه جيګه شوه او ويې ويل: سمده وس يې راوړم.
بيرون لاړه او به تلوار له يو جوړه کاليو سره راغله او ويې ويل: دا ده واخله وريندارې .
کالي مې واخيستل او پردې شاته مې واغوستل بيرته چې راغلم نو انجونو ته مې وويل:
انجونو شپه ختميږي جيګ شي ويده شي.
حديثه په خندا وويل: ولې مجلس دې خوښ نشو؟!

مخکې له دې چې زه جواب ورکړم ساره په طعنه لرونکې انداز وويل: معلومه ده خوښ يې نشو مجلس.
يغما- نا ګراني مجلس ډير خوږ دې خو سبا ورځ هم بايد نظر کې ونيسو.
حديثه خپل سر ښکته پورته کړو چې امينې وويل: يغما جاني راشه دلته ما څنګ ته
(امينه ځان خوا ته اشاره وکړه چې حسنات وويل: اړتيا نسته ماته وريندار نه پرته مې خوب نه راځې.

د حسنات پدى خبره د انجونو د خندا غږ شو په ډير زيار حسنات څنګ ته مې ځاې ونيوه انجونو خه شپه وويل او څراغ يې مړ کړو، خوب ځاې کې مې سملاستم او د څو شيبو مخکې کارو ته مې چورت وهه لکه دې يو خوږ خوب غوندې مې سترګو ته کيده بې اختياره موسکا مې پر شونډو خپره شوه سترګې مې پټې کړې او د زيد موسکې څيره مې سترګو کې انځور کړه اخرې څه چې مې په ذهن پاتې و د هغه ښکلې موسکا وه...

هله انجونو جيګ شې فکر کوم د ذکيه ترور غږ و سترګې مې په لاس وڅولولې تولې انجونې لکه خرس ويده وې،حسنات مې په لاس وښوروله

يغما- هوويې خرس جيګه شه ماسپيښين شو.
حسنات په خوبولې غږ وويل: اه يغما!! پريميږده
يغما- نچ نچ ندې پريږدم جيګه شه( حسنات په غوسه جيګه شوه او ګډود ويښتيانو سره او په غوسه يې وويل: يغما ريښتيا ووايه ما ستا د پلار ميراث درته خوړلې؟ چې عزرايل غوندې نازل شوې هاا

هغې ويل او ما خندل په خندا مې وويل: سنګه دې زړه ډک ده !
حسنات په غوسه سترګې واړولې او وې ويل: زه تا سره خفه يم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیګه شوه او دروازي ته لاړه په شیطنت وایم: سمده لالا ته دي وایم چي نن لاړشو.

حسنات- یغمـــــــــــاااا....
په خندا ورته وایم: لیونی اوس ښه چیغی ووهه !

د حمام په لور ځم مخ او لاسونه مینځم د عادت مطابق اودس هم کوم بیرته انجونو کوټی ته راځم ، خوب ځایونه ټول شوي او سهار ناشته هم آماده شوي وه! حسنات حدیثه ډوډی چای راوړي امینه نه وه! په ټوکو ټکالو باندی چای څکل کیږي، بیا آرایش کول پیل کیږي .....

ما په زیر زیر هغوی ته کتل، ټولو کالو بد لول خپل ځانو باندی بوختی وي چې حسنات راباندی غږ کړو: ولی ورته ګوري لاړه شه کالي دي بدل کړه!
یغما- مه خوو نور کالي راوړي ندی نکیږی پرون شپی کالي په ځان کړم !

حسنات زما اوره وهي او به خندا وایي: تا راوړي ندی ... مه خوو درته راوړي کالي هم تاته هم خپل ځانته.
حیرانه شوم په خوشحالی می ورته وویل: رښتیا؟ ؟؟؟؟
حسنات- اه ته صبر وکړه درته راوړم.

حشنات په منډه دروازه په لور ځي څو شیبو وروسته راځي دوه جوړه کالي په لاس کي وه! خوشحالی باندی کالیو ته ګورم چي حسنات وایي: کومه جوړه غواړي؟ ؟
یغما- امم نپوهیږم هر کومه ستا خوښه وي هغه ته واخله.
حسنات کالیو ته ګوري بیا راته وایي: ښه یغما جانی ته ډیره سپینه یی دا شنه کالي ستا واخله په ځان کړه او دا نیلی رنګه کالي زما.....

په مسکاه باندی کالیو لور ته ګورم لنډ پنجابي ګیبی، پرتوګ سره، غاړه یی غمویو باندی جوړه وه اول ځل مه حسنات لاس کي ولیدل زړه کی می خوښ شوی وه کالی حسنات څخه اخلم غومبري ورته ښکلی کوم او ورته وایم: مننه کنه اوس ساره، اناهیتا، مخکي به دوه روپو کیدم مننه حسنات جانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات په خندا وايي: ورځه خوږه خوږه راته ځان مکوه زه دي پيژنم
ژبه مې ورته راباسم مسخرې که وايم: رښتيا هم تا سره مينه نکيږی همداسی تيره لرګي پشان ښه يی ..
حسنات خاندي راته: ورځه ورځه..

کالی مې بدل کړل ځان مې هينداره کی وليده ډير ښه يو ځای شوي رنګونه وه تضاد په ډول سپين پوستکي او شين رنګه کالي دا شين رنګه کالي انسان نور هم سپين ښکاره کوي..

يغما- حسنات حسنات وګوره څنګه ښکاري!؟
حسنات زما په ليدلو سترګويي وځليدی او په خوشحالې وويل: وای وای وجلی ډير ښکلی شوی يی ماشاالله.
يغما- مهرباني موده ګرانيييی.
حسنات په خندا وويل- پوهيږم.
يغما- خاوري پوهيږم ستا پخان دومره باور دی زه مړه کړی يم.

حسنات زما خبروته ډير پام نکوی حديثه په لور ځي هغه هم آرايش باندی بوخته وه ورته وايي: حديثه هغه ظريفه آرايش سيټ دي راکه زه خپلي وريندراه جاني ته ووهم

حديثه آرايش کولو څخه لاس اخلي زما لور ته ګوري او وايي: اه يغما څومره شين رنګه کالی درسره ښه ښکاري.
په مسکاه جواب ورکوم: مننه ښکلی مې ..
حديثه- مننه ګراني وريندارې راشه کينه اول به تاته آرايش وکړم.
يغما- سمده .

حديثه لور ته ورځم مخامخ ورته کينم 20 دقيقی وخت ونيوه ترڅو حديثه وويل: خلاصه شوی وينتان دي پورته کړه تول، کنه واده خلاص شوی يو اځي ميلمانه پاتی دی دومره د وينتيانو فيشن ته ضرورت نشته.
يغما- هررقم ته غواړی هغه رقم راته جوړ که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیثه ویښتان می ټول پورته کوي ځودانی سیخک هم وهي! او وایي: سل زري ماشاالله ډیر ښکلی شوی ګراني.
ورته مسته خاندم او وایم: اه خجالت مه راکوه سترګي دي ښایسته ګوري!

حدیثه خاندی او زه پورته کیږم ټکری په سر کوم، خپل ځان باندی بوخته وم یو لس کلن هلک کوټی ته راغی او ویې ویل: یغما خور ځوک ده ؟؟؟
خواته یی ورځم مسکاه باندی ورته وایم: ووایه ګرانه زه یمه!
هلک خاندي راته یو خلطه زما لور ته نسئ او وایې: خاله دا زید لالا راته راکړه راته وویلی تاته راوړم اوتو کړی.

د هلک د لاس څخه کالی اخلم او په خندا ورته ووایم: سمده ګرانه په تمه اوسه همدا اوس درته اوتو کوم !

کالی د ماشوم څخه اخلم او بل کوټي په لور راونیږم کالی خلطی څخه راباسم ، تور رنګه کالي وه ! لیونه چنار ګل بابا حتما غواړي ما لیونی کړی فکر کولو څخه لاس اخلم کالي ورته اوتو کوم هلک دروازه څنګ کې ولاړ وه کالي ورکوم چې د برق پشان عمومي دروازه لور ته ځی، ټولی انجوني تیار کیږي دهلیز خواته ځي تقربیا نو غرمی تایم شوي وه، خلک ډیر نه وه یوازي خاص میلمانه پاتی وه غرمی ډوډی جلی کورني راوړي وه ډوډی هم وخوړله شوه بیا مجلس پیل شو.

سهار څخه تراوسه پوري می زید لیدلی نه وه ! زید فکر کی وم سارا په ژاړ کوټي خواته لاړه اناهیتا هم ورخطا خواته یی ورغله او ویې ویل: ګرانی سارا څه شوي خوری ؟

سارا په سلګو سلګو ژړل اناهیتا، سارا غیږ کې نیوله وه آرامه کولی ! ټولی انجونو عجیبه عجیبه سارا ته کتل اناهیتا سارا له لاس څخه نیسی او دروازه په لور ځي اندیښنمه کیږم لږ ځند وروسته پورته کیږم دروازه په لور ځم دهلیز ته ورننوځم سارا ژړا غږ د کوټو د شالخوا څخه راتلي سم مې اوریدی نه بیا هم لږ خبرو غږ غوږونو ته می راته

سارا۔ اناهیتا نږدي وه زما لاس ماتې کړي.( سارا دا خبره کوی او بیا ژړا ته پیل کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اناهستا ورته وايې: ګرانی سارا آرامه اوسه!

سارا- مه .... مه یواځې هغه لاس ونیوه خوو هغه داسې ناسزاه خبرې راته وکړې د یغما نیکمرغې باندی زما بخیلی او حسادت کیږی پوهیږم څه یې راته وویل؟( بیا یې ساندی پورته شول اناهیتا ورخطا باندی ورته وایې: ارامه اوسه اوس څوک خبر نشی پخدای قیامت به جوړ شي.

سارا- اناهیتا نپوهیږی هغه تورو کالیو سره یوسف د مجلس شوې وه.
اناهیتا په کلکه غوسه ناکه لهجه ورته وایې: سارا انسان شه وجلی ته نګوری هغه ښځه لرې اول څخه مې تاته وویل چې زید داسې څوک ندې چې ته یې د غوښتلو اراده وکړی او هغه لاس ته راوړی.! اول نه پوهیدی دومره ښکلا سره یی ستا خواته نګوری ته بیا هم هغی په تمه وې؟!

ولی دومره ساده او بیعقله یی؟ عمه لور کیسې څخه یی خبره نه یې؟ زید هغه ته ارزښت ونکړه تاته به ارزښت درکړې؟ هااااان

دوی څه په اړه خبرې کوې کومه خبره شوی؟ اوریدلو څخه لاس اخلم دروازه په لور ځم یو ماشوم ته وایم زید ته غږ وکړه! وروسته د څو شیبو زید دروازه څخه راننوځې ورته ګورم زما په لیدولو خاندې او زما خواته راځې....

زېد- واه واه زما خایستو څومره ښایسته شوې ده.ما شا الله.
یغما د خبرو توان نه وو راکی او یواځې زید ته مې کتل چې زید وویل: یغما مې چیشې شوې دی ولی خبری نکوی ؟
په ډیر ستونزمن ډول او کرار می ورته وویل: ساره ... ساره...
د زید څهره له ډیری غصې سور شو.اوپه لوړ غږ یی وویل:هغه بی حیا جلی چیشې ویلی درته؟
سترګی می ښکته واچول او سلو می وویل: ستاسو مېنځ کې څه پیښ شول؟
زید زما د زنی لاندی لاس راکش کوی او سر مې اوچت کوی او ورختا غوندی وایې:
یغما قسم په الله باور وکړه ځه هیڅ ګناه نلرمه.نپوهېږمه هغیه بی حیا جلی څه ویلی درته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه می شو کولی زید خواته وګورمه نپوهېږمه ولی؟ شاید د دی لپاره چې ساره د زید تعریف وکړو په دی جامو کی زید په لوړ غږ وویل:لعنتي ولی ګوری نه راته هااااا؟ وډاره شومه بیا کوم لېونتوب ونکړی.هیس کار د زید څخه ناشوني نده هغه هم کله چې غصه وی نه می غوښتل خبری ورسره وکړمه پوهیدمه هم چې زید ګناه نلری.ولی بیا هم زړه می خفه وو.ربښتیا هم نپوهېږمه ولی داسی ومه.
په بی مینی انداز مې وویل:

یغما- زیده دا کور نده چی ته غږ داسی لوړ کوی.هیله کومه غلي شه.اوس به څوک واوری.او د ترور عزت به یوسی.!

زید په غوسه خاندی او وایي: ارام شمه!احمق ته ګوری نه راته بیا وایی آرام شمه.ډېر غواړی ما خوار او ذلیل وګوری. اصلا پوهېږې هغه هر ځای انجلې...( په وارخطایي مې لاس ورته خوله کی کیښوده .سترګی می د توپ په اندازه شوې وو.نپوهېدمه زېد دومره غصه کېږې چې د ژبې کنترول له لاسه ورکوي.

لیوني چنارګل یواځې زما خواته راکتل په غصه می وویل: نشې کولی په دغه غصه او په دغه خبرو ځان پاک کړې .ته ووایه ساره سره دی څه کول ؟

په ټول وخت کی چی دا خبری می کولی لاس مې د زید په خوله وه.
لاس مې واپس کومه او د ځواب په تمه یمه.زید ځما په لیدو غرق وو. او په بې خوده لهجه یې وویل: یغما نور دا رنګ وانغوندی.

د زید په خبره په حیرت باندی ورګورم! خدایه څه څه وایمه او دا لیونی څه وایی؟!
مخکی له دی چی ځواب ورکړمه د حویلې دروازه خلاصه شوه. یو ځوان د ننه شو چې د زید له برکته می ونه لیدو. ځکه زید زما مخ ونیول داسې لکه چې زید اول د هغه ځوان راتلو ته پام شوی وو نو ځکه لکه یو پناه پشانتی خپل سیوری لاندي پټه کړمه.تر سېنې پوری یی رسېدمه څه ټیټه نه ومه برعکس د لوړ قدو کی راتلمه.خو زید ډېر جېګ او اندامی وو.

زید په غوسه ناکه لهجه وویل: یغما که یو ټوټه کالی د هم څوک وګوری وژنمه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ورسېږي ځهرې ته دی پوهه شوې. نور دلته مه ودرېږه.( په لاسونو يې پړونی (ټيکری)راته سم کړو چې زه د زيد په کارونو يې غرقه شوې ومه.تو له غصه می هيره شوله او زيد ته مې کتل.هر ثانيه له مخکی نه هم پری مينيدمه.هو خبره له ميني تيره شوې وه آو د محبت نړی ته می پښه اېښودی وه.

هغه نړی چی يغما يې بدله کړه بخيله شوې ومه. که مخکينی يغما ومه د ساره په ژړا زيد می ملامت کول.او مغرور می ورته ويلی. ولې اوسنی يغما مخی ته يې دريدلی او حساب پوښتنه کوی. زيد چې ليونتوب يی هم ښکلی دی يو اځې ځما لپاره .
د دروازې پوری کيدلو اواز شو. چې زيد وويل: ورځه وروسته غږيږو.

زيد ولاړ او ما د هغه تک ته کتل په لوړو قدمونو دهليز ته ننوتمه. سمه ده جسما دلته يمه ولی روح می هلته پاتی شو.په سستو قدمونو کوټې ته ولاړمه تول انجونی په خبرو بوختې ول.او موضوع هم ساره وه.حسنات او امينی خواته لاړمه. او وايم: حسنات لږ اخوا کينه.

حسنات زما په ليدو يو څه شور خوری او ځای راته تش کوی. څه ديوال خواته ناسته ومه خو حسنات زما او د امينې مېنځ کې ناسته وه.د امينی غږ لوړ شو: يغما ځند د وکړو چيری وی؟

يغما- هيڅ لږ تازه هوا مې خپل سږو ته ورکول.
امينه په خندا وايې: زه ښه ده چې پوهيږی هوا سږو ته داخل کيږی.
په شيطانی خندا می وويل:آه امينې جانی ټول خو ستا په څير هفته فام ندی .

زما پدی خبره حسنات له خندا سره شوه.او امينی هم خپله خوله نيولی وه
حسنات په خندا وويل: جلی ته څومره چالاکه يی.
اوږې می پورته اچوم اووايم: مهربانی مو ده.

مجلس مو ګرم وو چای مو څښل او خندل مو. دلته وخت ډير ښه تيريدو هوا نوره تياره شوله او د ډوډی تياری پيل شو. وروسته له ډوډی انجونو لوبې ومينځل ذکيه ترور اجازه نه ورکوله لاس په تور او سپين ووهمه.د خوب وخت رارسيدلی وو بودی ښځی وخته ويدی شوې ول.يواځی مونږه انجونی پاتی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساره لکه بد اخلاقه ښځو هرى انجلى ته خوله اچوله .کوښښ مې کولو چې سترګى په سترګو نشمه ورسره ځان مى لرى ساتو ورنه. پوهېدمه دا هر څه ځما له وجهې دى.حديثه او او امينى ځايونه واچول.ټول غزېدلې وو او کېسې مو کولى پوهيدمه نن اخرى شپه مو دلته ده.انجونو سره مې ډېر عادت کړې وو.کيسى ختمې شول او انجونى ويدى شول سترګى مى پټې کړل او ايت الکرسې مې تلاوت که تر څو بيا هغه خوب ونګورمه.

بيا هم هماغه خوب هماغه ځاى خو د سيند رنګ تور وو دقيقا لکه د زيد د سترګو پشان، د سېنې په سر مى دقيقا د زړه څنګ ته مى يو مړاوى تور ګل وو.له ډاره د خوب څخه پاڅيدمه.کوټې ته مى وکتل ټول ويده ول. د سهار ړنا ټوله کوټه روښانه کړى وه پاسيدم او د تشناب خواته لاړم ټول کور پاسيدلې و بغير زموږ د انجونو د کوټې څخه! اودس کوم او بيرته د کوټې خواته راځم او په انجونو غږ کوم:

يغما- انجونو پاسيږى سهار دى.
د هيچا غږ رانغې چې دا ځل مې يو څه په تيزه وويل: هوى پاسيږى نو...
حسنات په خوبجن غږ وويل: يغما دوه دقې نور مو هم پرېږده.
يغما- نچ نه يو دقه نور دى لا نه پرېږدم.

ما او حسنات خبرى کول چې ناساپه سارا سر د کمپل څخه سر راوباسې او په غوسه يې وويل: يغما يې که هر سوک چې يې حق نلرى د نور کسانو خوى خراب کړى، ته پاسيدلې يې معنا دا نده چې ضرور دا نور هم راوپښ کړى.

د سار پدى خبرو حسنات په تلوار خپل ځاى کې کينستل او ويې ويل: سارا د انسان پشان خبرى وکړه، ته نشې کولې ميلمه ته سپکاوى وکړى.
سارا هم لځايه پاسيدل او دا ځل يې په غوسه ناکه لهجه حسنات ته وويل: څه دى دربادى بده ولګيده؟ حق خبره تريخه وى کنه؟ صحيح ده چې وريندار دى ده او ميلمنه ده خو د آسمان څخه نده راښکته شوى چې زه يې هر حرکت او خبره ناديده ونيسم او هيس ونه وايم ورته..!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی دواړو په جنګ ټول انجوني راویښ شوی وه او هک حیران یې دوی ته کتل د دی ښخه مخکې چې حسنات دهغه قدوو جواب ورکړی ما تلوار وکړو او د دوی د جنګ ختم کولو لپاره مې وویل: حسنات بس دی! باسیره لاس او مخ دی ومینځه.

حسنات زما خواته راوکتل او ما د سترګو په اشاره و پوهه ول چې نور دی چوپه شي! د سهار چای وخوړل شو ډیر میلمانه لاړل تر غرمه خپل مینځو کې بوختې و او کور مو سره پاک کړو زید خاله ته ناری کړل ضرور کوم شئ ورته ویل؟! د ځو دقو وروسته چې خاله راغله نو حسنات ته یې غږ کړو او ویې ویل:

خاله- حسنات لورکې خپل او د وریندارې کالې دی را ټول کړه.!

د خاله په خبره پوه شوم چې د تلو وخت دی، حسنات بغیر له کوم ځنډ ښخه پاسیده او زموږ کالې راټول کړه او په بکس کیخودل خاله خپل سپین ټیکری په سر کړو ما او حسنات هم خپل ټیکرانو کې ځانونه وپیچل! ما او حسنات د ټولو انجونو سره حدای پاماني وکړل، خاله هم د ذکیه ترور سره په خدای پاماني بوخته وه حسنات د ذکیه ترور خواته ولاړه او هغې د مخ ښکله ولو حال کې ورته وویل:
:□#شهاب
حسنات- خاله جانې تاسو هم زموږ کور ته بیا راشي، ستاسو پسې مو زړه تنګ کیږی.
ذکیه ترور حسنات غیږ کی نیسي او ښکل کوی او ورته وایې: سمده خاله دی درنه قربان شي ضرور راځم.

زه هم د خدای پاماني په نیت د ذکیه ترور خواته نږدی کیږم چې هغې هم ماته پام کیږی او خپل غیږه راته حلاصه ویې او وایې: ښه شو چې راغلې لور جانې، انشاءالله چې ښه وخت به دی تیر کړی وی؟
یغما- مننه ترور جانې، هو ډیر ښه وخت و د انجونو سره مې سات تیر شو.

ذکیه ترور زما مخ ښکل کړو او خپل د لاس ګوتمې زما په ګوته کړل! د طلا د ګوتمې په لیدو و شرمیدم او غوښتل مې بیرته یې ورکړم چې ذکیه ترور وویل: لور جانې دا ستا او د زید خان د واده ډالې ده زیات شئ نده خو ته یې ومنه زما لخوا.
یغما- هیله کوم ترور جانې دا نو ښنګه خبره ده تاسو مهربانې ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخره خدای باماني خلاصيږی او د حويلي د دروازی خواته روانيږو، زيد خپل په موټر ډېره وهلي او موږ ته په تمه و زموږ په رسيدو ژر اول خاله جاني ته بيا ما او حسنات ته د موټر دروازه خلاصه وی، په موټر کي کينم زيد د موټر هينداره زما په مخ برابره وی، ښه شو د حسنات او خاله فکر نشو! په حيرت کي وم د زيد و دومره بی پرواه کارونو ته!

موټر روښانه کوی او حرکت کو د څو دقو وروسته د حسنات اوف او چوف پورته کيږی او وايي: لالا يو سندره خو ولګوه لاره لری ده بيخي ستړی کيږو.

زيد بغير لدی چي د حسنات جواب ورکړی خپل موبايل له جيب راباسي او د يو چارچر پشان لين سره يي وصل کوی او موبايل د حسنات خواته نيسي او وايي: الخله هر سندره چي غواړی چالانده يي کړه!

حسنات په خوشحالي د زيد له لاس څخه موبايل اخلي او خپل د خوښي سندری پسي ګرځي د څو دقو وروسته وايي: اها دغه دی پيدا مي کړو( سندره پلي کوی د سندری د اول بيت په آوريدو په تلوار د هينداری څخه د زيد خواته ګورم چي سترګي مي د هغه د سترګو سره بندی پاتی کيږي...

شده ام بُت پرست تو
قسم به چشمان مست تو

به کُنج ميخانه روز و شب
شده ام جامِ دست تو

شب هجران ديګه تمامه
ګل مهتاب بر لب بامه

عاشقی جز با تو حرام است
که برای تو زنده ام

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تو چون سجده میکنم
شرّر به هر سینه میزنم

به غصه میخواهم که بعد از این
بت روی تو بشکنم

شب هجران دیگه تمامه
گل مهتاب بر لب بامة

عاشقی جز با تو حرام است
که برای تو زنده ام

شده ام بُت پرست تو
قسم به چشمان مست تو

به کنج میخانه روز و شب
شده ام جامِ دست تو!

د سندرې تر تمام کېدو د زيد تندی تروش و چې معنا تراوسه غوسه دی! کله ناکله په هینداره کې مو سترګې سر جنګیدل چې هغه په ژر خپل نظر اخیستو زما د سترګو څخه، بلاخره کور ته ورسیدو زید خپل موټر خپل د يو انډیوال کور کې و دره ویې او نور لاره تر کوره پیاده روان شو، کورته ننوتلو سترې ستومانه و دا هم بنه شول زيد د ماښام لپاره ډوډۍ اخیستې وه، زيد د ناستې کوټې خواته لاړو او حسنات ته يې وویل چای دم کړی.

ما هم خپل ټیکری په تار واچو او د آشپزخانې خواته ولاړم د حسنات سره مو په ګډه چای دم کړو او د ناستې کوټې خواته ولاړو حسنات ټولو ته د چای پیالې ډکې کړل، زيد خپل په موبایل لګیا و لیونې بیخی يو ځل راکتل هم نه! ما او حسنات د چای څکلو حال کې د واده په اړه مو خبری کول او خندل مو، چای مو خلاص شو زيد مو یواځې پریخود او د کور د بڼ خواته ولاړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات ماش د پاک کولو لپاره راوړل د شپې د تیاره کیدلو پورې د ماش په پاک کولو باندې بوختې وو، د تیارې په خپره کیدلو د بې ښخه کور خواته ځو چې خاله وایې: انجونو هغه ډوډی ګرمه کړی ناوخته دی.

ډوډی خوړل کیږی او خاله زموږ ټولو ښځه مخکې د خوب لپاره خپلې بسترې ته ځي، چنارګل راسره خبرې نکول او د اتلس کلنو انجونو پشان یې ناز کوی! حسنات ته وایم: حسنات زه ځم د لالا د خوب ځای دی اچوم او ګورم کوم شئ ته خو ضرورت نلری!؟

حسنات- سمده ورځه او هو. دا غوړی هم واخله!
یغما- غوړی څه کوی؟
حسنات په ریشخند وویل: غوړی خلک څه کوی؟ خو هوښیاری خپل ویښتیان او سر ورباندی غوړه ویې او چاپې کوی.
یغما- ښه ښه سمده زیات فلسفه مه وایه..

حسنات خپل سر چپ او راست خوځه ویې او زما پر حال افسوس خوری، د ناستې کوټې خواته ځم او کرار دروازه خلاصه وم زید زما پر لیدو خپل سترکې پټه وی! عه دی نو بیخي د حد ښخه اوړی! نو زما غوسه هغه ورځ کوم ځای غلط وه؟ خو ویرېږم کومه جنې دی زما خاوند خواته بد وګوری او زه دی ناخبره اوسیږم!

د غوړی ډوبې مخ ته کیدم او ځای ورته اچوم او کرار ورته وایم: کوم بل شئ خو دی پکار ندی؟

زید هیس جواب رانکړو زړه مو غوښتل ټول ویښتیان یې ورته وشکوم خو هیس مې ونه ویل او په غوسه د کوټې د دروازی خواته روانه شوم چې راپسې غږ کړو: چیرته؟
یغما- که اجازه راکړی صیب غوارم ویده شم.

زید- سمده اول زما سر ویښیتان او سر چاپې کړه بیا لاړه شه...

حتا دغه جمله یې لا په غوسې او قهر وویل! زه هم په غوسی او قهر د زید خواته ځم، د غوړو ډوبې راخلم او د زید شاته په ځمکې کینم په غوسه مې خپل لاس په غوړو ولړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلکه مې د زید په وینټیانو کې ووهو چې زید په غوسه وویل: یغما کش کړه نور هم کش کړه دا میراث شوی وینتیان.

زید په غوسه دا خبره وکړل خو زه هم غوسه وم د هغه دی نازونو څخه نو خبره مې ورڅخه ومنل او په کلکه مې وینتیان ورڅخه پورته خواته کش کړل چې د زید چیغې پورته شوی او ویې ویل: اه یغما و دی شکول پخدای ټول وینتیان دی راته د بیخ څه وباسل..

د ماشومانو پشان وایم: بیا زما سره جنګ کوی!؟بیا زما سره خبری نکوی؟ ها؟
د زید خندا غږ پورته کیږی او وایې: د همدی لپاره مې وینتیان د بیخ څخه باسې؟ نه وایې خاوند دی ګنجې کیږی؟
په غوسه وایم: پریږده ګنجې شې ترڅو نور هیس سوک در ونګوری او زما د جګرخونې سبب نشې.

دغه خبری مې دومره په مظلومانه توګه وکړل چې خپل په ځان مې خپله زړه وسوځیدی څه ورسیږی زید ته! د زید خندا بنده شوه او په کراره او خفه لهجه یې وویل: ولې راباندی باور نلری؟

وینتیان مې ورنه کرار چاپی کول او سترګې مې د اوښکو څخه ډکې وه! د خبرو توان مې نه درلود پدی ورځو کې بیحده زړه مې نازکه شوی وو! او په نه خبره مې هم ژړل زید په همغه خفه او نیولې لهجه وویل: یغما راته ووایه ولې راباندی باور نلری؟ ته مګر نه پوهیږی ستا څخه بغیر مې هیس سوک په نظر نه راځې. پوهیږی کله چې د هغه انجلې د خبرو له لاسه دی ماته نه راکتل څنګه مات شوم؟!

خپل ژړا کنټرول کوم او کرار مې وویل: زه درباندی باور لرم ستا پاکې ماته ډیر وخت مخکې معلومه شوی! ولې نه پوهیږی زه جنی یم هغه هم د یو مات شوی جنس څخه نه پوهیږی هغې ته سنګه په هغه تور کالو کې تعریف کولې!؟ زه اصلا نغواړم ته دومره ښایسته و اوسیږی په والله چې نغواړم دومره د هر چا نظر تاته جلب شې،

که کوم کس ستا خواته وګوری زه بخیلې کوم زما نه خوښیږی دا بخیلې خو زما لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نده همداسې کيږم، نغواړم زما څخه بغير دی سوک تاته وګوری په دی دومره لوی نړی کې ته يواځې زما حق يې ستا په نظر غټه غوښتنه ده؟!

نيو هيږم څه وخت اوښکو ټول مخ راته نيولي و زيد په شک راته وکتل او په حيرت يې وويل: خايستو مي ژاړي د کوم وخت څخه زما يغما دومره کمزوری شوی چې داسې په نه خبره ژاړی؟

لکه ماشومانو غوندي شوي وم شونډې مي پر يو بل کلکې کړي وي ترڅو ونه ژاړم زه له قوي اوسيدو نه ستړي شوي وم نمي غوښتل نور نر واوسم غوښتل مي د يو ښځې په څير ژوند وکړم او زيد راته نر توب وکړي زيد زما مخ خپل لاس کې نيسي او ورو وايې:

زيد- ژوند مي ژاره مه صدقه شم درته ناا ډير وړه غوښتنه ده، خايستو مي ته څه وغواړي يا ونه غواړي زه يواځې او يواځې ستا يم ستا يم يغما، ښکلا پسي بلا پريده ماته وګوره که ټول دنيا ماته راوګوری زه يواځې او يواځې تاته درګورم، زما زړه او ساه ستا پوري اړه لري څه ګټه لري د هغوي کتل کله چې زه ستا د مينې عبادت کوم!؟

سترګي مي پورته کړي او ورته مي کتل په خپل ګوتو يې سترګي راته پاکي کړي او ورو يې په سترګو ښکل کړم او ښايسته شعر يې وويل:

ديګران چون بروند از نظر از دل بروند
تو چنان در دل من رفته اي که جان در بدنی

نور اوښکي ختمي شوي خوشبختي مي د وجود په رګ رګ کي محسوس کوله د خبرو بدلولو لپاره مي وويل: ويل يې لاس دي ورته مات کړي و ريښتيا ده؟
د زيد پر شونډو موسکا خپره شوه او ويې ويل: څرمخکې ښه پوهيږي چې ما د هغه انجلې سره څه وکړل خو بيا هم ما ملامتوي! هوو خو کاش مات شوي وايې خو افسوس مات نشو.( بيا ناساپه په شيطنت وويل:

زيد- اصلا ته وايه وينتيان دي ورته ولي نه شکول دا خو ستا وظيفه وه چي زړه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته له ژوند نه تور کړي واي يا ته فقط ما مخ کي شيره يي؟

د زيد په خبرو مې خندا راتله خپل خندا مي کنټرول نشو کړي او ومي خندل او په ملنډو مي وويل: هوي او چنارګل تولـه ستا ګناه ده چا نه دي اجازه اخيستي وه؟! چي ښځو مجلس کي هې تلي راتلې!! او ولي دي تور کالي اغوستي و؟ مګر ستا وحشې واده و!

زيد په حيرت راته کتل چي يو دم له خندا شين شو او ويې ويل: چاته چنارګل وايي هاا؟! او وحشې سوک ده يغما ؟!

د زيد غوږونو نه مي ونيول او وايم: تاته وايم! تا ښيم !ووايه توبه بيا دي نجونو منځ ته نه راځم !!

زيد په خندا وايې: يغما مکوه نشرميږي ځان نه مشر کس غوږونو څخه نيسي هي سپين سترګي !!

تازه مي پام شو چي موږ سومره د عمر توپير لرو! غوږ مي ورته پريخوده مخامخ ورته کينم او په حيرت وايم: زيد ته خو 7 يا اته کاله زما څخه غټ يي کنه؟(په خوله مي لاسچ ايږدم او په افسوس غوندي لهجې وايم: وي تخو بوډا يي دوه کاله بعد ديرش کلن کيږي؟!

زيد خاموش او تروش تندی باندی راته کتل او او په همغه غوسه ناکه لهجه يې وويل: ښه نوو بوډا يم که ځوان يم اوس دي خاوند يم او بل دا چي دومره هم ډير توپير نلرو نو خبر مه غتيوه..

د زيد په خبره زړه کي خاندم او ځان سره وايم: چنار ګل بابا ته زما سره نه غږيدي هاا او زورولم دي اوس ګوره د شپي ستوري دربانديې په ورځ کي وينم کنه؟!په همغه خفګان مي دوام ورکړو: نا ډير زيات توپير دي ولي مي لومړي پام نشو زما قبول ندی ( ويښتيانو ته يي اشاره کوم او وايم: وګوره ويښتيان دي سپين شوي؟

زيد په غوسه وويل: يغما عصاب مي مه خرابوه څه نه قبلوي؟ چټيات مه وايه!

سر مي ښکته پورته کوم او وايم: اوس هم سری وخت دي، زه ستا د لمسي پر ځاي يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه؟( زما په خبرې زيد له غوسې څخه غاښونه يو پر بل کيخودل او غوړونه يې سره شول او په حيرت يې وويل: يغما څه وايې؟په هوښ يې؟! د څه ملسې؟ وګوره وينتان مې تور دي سپين شوي ندي! ( بيا خپل غاښونه يې ښکاره کړل او ويې ويل:وګوره غاښونه مې يو دم سم دي اوس هم ځوان يم.

په زړه کې د زيد و دی کارونو ته له خندا مړه وم، هې زه مې د زيد څخه صدقه شم چې ماشومانو غوندي ما غواړی قانع کړی، خو ظاهر کې خپل ځان همغسی خفه نيسم او وايم: نه نه نيکه زموږ ده ونشو.
زيد- يغما!!!!!!!!!
يغما- اصلا زه خپل مهر درته بخښم خوشې مې کړه( دا جمله مې بې اختياره له خولې ووته ناساپه خاموشي کوټه کې خپره شوه، لږ ځنډ وروسته زيد وويل: څه؟ څه دی وويل؟؟؟؟
په ډار مې وويل: هيسس...
زيد زما خبر تکرار کړه:هيس؟!؟

سر مې ښکته پورته کړو او پټمه مې کټل ورته چې زيد خپلې سترګې ځمکې ته اچولې وې او تندي يې تروش نيولې و،کاش ګونګې شوې وې خو دا جمله مې نه وې ويلې!
کرار ورته وايم: زيد !
زيد-همم

پوهه شوم ډير غوسه دي ځکه هر وخت چې نوم يې اخلم داسې ده همم ځواب نه راکوي
کرار ورته وايم: تاو شه وينتيان دي چاپې کړم.
زيد- نې غواړم زه ويده شه !

خبر مې ورنه جدي ونه ګڼله ګوتې مې په غوړو کړې او په ښکلې وينتيانو کې مې ورته دننه کړې وينتيان مې ورته چاپې کول او مظلومانه مې وويل: په خداې توکې مې کولې خفه يې رانه هوممم؟

ژوره ساه يې واخيسته او ډير مظلومانه يې وويل: ما سره داسې ټوکې مکوه حتې ټوکه يې هم ويرووونکې ده راته يغما!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موسکا مي وويل: سمده په سترګو اوس اشتي؟ (او کوچني ګوته مي مخ ته ورته ونيوه ښکلي موسکا يي په شونډو خپره شوه او ويې ويل: اشتي؟! مګر سوک خپل د ژوند څخه خفه کيدی هم شي؟ همم؟

د زيد په خبره مستانه خاندم او وينيتيان يي مساژ کوم او په بالښت يي يو ټوټه اچوم تر څو بالښت په غوړو نشي او وايم: ښه نو زيد خان دا هم د وينيتيانو چاپې او غوړه ول دی.
زيد- لاسونه دي دردمن مشه خايسته ښځې مي.
يغما- وظيفه مي ده زما جذابه خاونده.

زيد خاندی او وايې: يو ځل بيا ووايه خايستو مي؟!
د لومړي ځل نه په لوړ غږ وايم: وظيفه مي ده زمااا جذابه خاااوووونددده..
زيد زما په خبرو او کارونو خندل او د هغه د هر خندا په ليدو ما د خوشحالي او ژوندی اوسيدو احساس کوی دي، غوړي راخلم او دروازي خواته ځم چې زيد وايې: ښه شپه ولړي خايسته ښځې مي..!
يغما- تاته هم جذابه خاوند مي ..

سهار لکه تل په شان د لمانځه وروسته ويده نشو زيد ته مي سماور روښانه کړو تر څو اوبه ګرمې کړ او زيد خپل وينيتيان ومينځې حمام وکړی، چاي وڅکل شو زه و حسنات د کور کارو کي بوخت شو، زيد حمام وکړو او باغچي ته لاړ تقريبا لس بجو پوري کور کار کي مصروفه وم چي ترور غږ وکړو: يغماا لورې؟!

کار نه مي لاس واخيست او ومې ويل:اورم ترور جاني
ترور- لوري يو ځل باغچې ته لاړه شه هيس مي زوې ته پام نکوي.
په نرمه موسکا مي وويل: په سترګو تروري

کوټي نه ووتم او باغچي ته لاړم زيد چوکي کي ناست و او چاي څکه پټه پټه لاړم او سترګي مي ورته پټي کړي لاسونه يي زما پر لاسو کيخوده داسي چي غوښتل يي پوه شي سوک ده؟

زيد په شيطنت ووېل:اه دا بدرنګه لاسونه د چا دي؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونه مې د سترګو ورته لرې کړل او مخامخ ورته ودریدم او ومې ويل: خپل لاسونه دې بدرنګه دي بيخي کلنک غونډي؟!
زيد په خندا وويل: دچا لاسونه بدرنګ دي زما هاااا ژوند مې؟!

اه چې په ټوکو کې هم د ژوند مې کلمه نه هيروي زما ښکلې، حق په جانبه ودريدم او ومې ويل: زه وايم.

زيد په سترګو باندې په ظاهر زما په کتلو بوخت کيږی او خپل يو لاس د زنې لاندې ايږدي او وايي: ستا خبر په سر سترګو ځاي لري بدرنګه مې!
په حيرت مې وويل: زيد چاته دي بدرنګه وويل؟؟
زيد له خندا سور شو خو ځان يې کنټرول کړو او ويې ويل: تاته تا مګر ستا څخه بغير دلته بل سوک هم شته؟

د زيد په خبرو خاندم او په شيطانه او مغرورانه لهجه وايم: ښاغلي زيد خان همدي بدرنګي د عالم رسوا کړي له هيره خو دي نده وتي؟
د زيد خيره زما په خبرو د ښکلي موسکا څخه ډکه شوه او ويې ويل: نا نا مګر کيږي چې له هيره وباسم؟ ته د نړې تر ټولو ښکلي انجلي يې ناقه خو درته په ګونډو نشوم؟!

د زيد هر خبر زه د دی دنيا څخه باسلم داسې اثر کو پر ما لکه جادو هسې نه زيد د ښايست ښار جادوګر وی؟ مخامخ هغه ته په چوکې کينم او په پښتو ژبه وايم ( ملګرو ناول فارسی دی او ناساپه يغما پښتو وايې نو ځکه زيد حيران دی ورته: وايم څه وخت ځې ښار ته؟

زيد يواځې په حيرت راکتل او ويې ويل: څه دی وويل؟
يغما- وايم څه وخت ښار ته ځې؟"
زيد- يغما تاته وايم تا هم پښتو زده ده؟

يغما- هو اکثر خلک راته وايي ستا لهجه او څيره پښتنو ته ورته ده ..
آيا رښتيا وايی ؟؟؟
زيد په همغه عجبيه او حيرت څخه ډک غږ وايي: د زړه سرمی څومره خوږه پښتو وايي!
هو ته مشرقی ښکلا لري. او لهجه دي هم بيخی ښايسته ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا جواب ورکوم: تاسو مهربانه یاست زما ښاغلیه
زید په زړه پوري مسکاه راته ګوري او وایي: پوهیږی زه دي نیکونونه نه پښتون یم ګرانی!

سر مي خوځوم او وایم: هو پوهیږم رضوان ورور راته ویلي وو!
زید- نوره پښتو مه غږیږه،بیخی زړه وړونکي کیږي ښاپیری می !
د زید په خبره خاندم او وایم: سمده جانانه !
زید حیرانه وایي: جانان؟
یغما- هو، ته یی کنه !

زید خپل دواړه لاسونو باندی خپل مخ پټه وي چوکی ته تکیه کوي او آسما لور ته سر پورته کوي کراره ورته وایم: زید کوم څه شوي؟
زید- پریمیده دا لفظ دا احساس خپل مغز او زړه کي زنداني کړم !

کراره می وخندل لږ روسته زید خپل سر پورته کوي خاص آرامتیا سره زما لور ته ګوري او وایې: نن ځم ښار ته.
نا څاپه لوی غم زما په زړه حمله کوی او کرار او نیولي غږ باندی وایم: نن ورځ ؟
زید- هو.

فکر کی ډوبه شوم ،د څو شیبو مخکي خوشحالی مي له مینځه لاړل چي زید د زید په غږ مي وروکتل: یغما جانی کوم څه وشول !
یغما - نه!
زید په خندا وایې : ولی نه وایي راپسي خفه کیږي؟ ولی نه وایي مه ځهګ د دی خبرو ویل دومره درته سخته ده!؟
یغما- که درته ووایم مه ځه بیا نه ځې؟!

زید- تر ابده پوري همدلته پاتی کیږم ، یوازي ووایه مه ځه.
یغما- نه، فرشته ترور حتما تا پسی خفه شوی باید لارشی.
زید کرار خاندي او وایي: ای زما زړه آزاره یاره ته هم زما سره ځي خپل کورته !
یغما- یعنی څه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- یعنی دا چې ولاړه شه سامان دی راټول کړه نن ورځ یوځای ځوو..

یغما- رښتیا؟
زید- هو خایستو مې.
یغما- نو هغه ستا د عمه کورني څنګه کیږي!
زید- اوله خو هیس سوک هیس کار نشي کولې‌چ ځکه ته زما قانوني میرمن یي او دویم پاتی شوه کورني خبره می هغوی سره رضوان خبري کړي!

غمجنه لهجه وویل: زید مریم سره به څنګه مخامخ کیږم؟ اصلا کورني سره به دی څنګه مخامخ کیږم؟ وایي به نه دا هلک څنګه جلی شوه هوممممم؟
زید په خندا وایې: وایم د خدای په امر هلک جنې شوه هههههه.
بد بد می ورته وکتل چې زید په همغه خندا وویل: ښه تسلیم تسلیم ورځه بیګ دی تیار که ، ناوخته کیږي

یغما- سمده
په چګو کامو کور خواته ځم او ناری وهم: حسنات! حسنات !
حسنات- هـــا!
یغما- ته یوځلي دلته راشه.
حسنات- دغه ده درغلم.
حسنات په تیزه کوټې ته راغله او زما په لیدو یې وویل: څه شوي یغما؟

یغما- زید وایي بیګ دی تیارکه ښار ته ځووو؟!
حسنات په حیرانتیا وایی: ټوکې کوي؟
یغما- نه .
حسنات- یعنی ته هم لالا سره می ځی ؟
سرمی خوځوم چې حسنات غمجنه کیږي الماری څخه بیګ راخلی او زما خواته نیسې او په خفه لهجه وایې: واخله دا دی بکس.

یغما- حسنات ولې دی تندی تروش سو؟
حسنات جواب نه راکوی او په همغه خفه او نیولې زړه د رازی خواته ځي، زه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بکس کې شیان تولـه وم او د حسنات پسې وځم په آشپزخانه کې ګورم وربانـدی غږ کوم:
حسنات!
حسنات۔ ها!

سترګو ته مې ورنه وکتل سترګې سرې وه! کرار ورته وایم: حسنات جانې خیرت خو دی څه شوی؟
حسنات راګوری او په ژړا وایې: یغما مه ځه.

وی دا زما پسې ژاړی؟ نږدی کیږم او غیږ کې نیسم او کرار او د دلداری لپاره ورته وایم: حسنات جانې خور مې مه ژاړه، بیا راځم نکیږی چې تل همدلته پاتی شم او ستاسو د اوږو بار اوسم اوبیا میلمستیا هم یو حد لري وخت لري.
حسنات غیږي څخه می جلا کیږي غمجنه لهجه وایي: یغما ما خو به نه هیره وي؟

یغما۔ لیونی مګر کولی شم تا هیره کړم؟
حسنات ژړا کی خاندي او وایې: او که هیره دي کړم مړه کوم دي.
دواړه په لوړ غږ خاندوو چې د زید غږ زموږ خندا ته د پای ټکی کیښود: یغما؟!
یغما- هـــا درغلم.

دواړه حویلی په لور ځوو زید دي ترور څنګ کې ولاړ وه زما په لیدو ترور وویل: راشه زما لورکی(غیږي کې می نسئ او په غمجنه لهجه وایي: موږ ډیر تاسره عادت کړی وه زما لوري، هر وخت غواړي راشه زموږ غریبانو زړونه خوشحاله که.

لاسونی ورته ښکلی کوم وایم: ترور جانې ستاسو لطف مهربانه ده مه هم ستاسو سره عادت کړی! بیا هم میلمستیا یوحد لري، زحمتونه مو را اوبخښی

ترور خاندي او وایې: رحمت یی زما ښکلی لور کې نه زحمت( ترور خپل د خبرو پسی یو قوطي زما خواته نسئ او وایې: لوری دا ما امانت ساتلی وه د زید میرمین لپاره! دا ماته حسنات پلار تحفه راکړي وه اوسي هم تاته تسلیمه وم.

یغما- مننه خو زه قبول کولی نشم ترور جانې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترور خانديي او وايي: ته زما ناوی يی بيا ولی قبول کولی نشی؟!

د حسنات او ترور سره مې په ژړا خدای پاماني وکړل، اوړه په اوړه يو ځای د زيد سره د هغه د ملګري کور په لور روانيږو زيد خپل موتر ملګري کور څخه واخسته ښار خواته مو حرکت وکړو، هرڅومره ښار ته نيږدی کيدم زړه می نورماله حالت څخه خارج کيدی ډيری تيز تيز زړه می وهل کيدی په آرامه او لړزانده غږ مې زيد ته وويل:

يغما- زيد زه ډاريږم!
زيد په مسکا باندی راته وکتل او زما لاس يې خپل لاس کې ونيو او په آرام يې ښکل کړو او ويې ويل: ولی ګرانی، ايا زه مړ يم چې ته ډاريږی؟!
قهرجنه لهجه وايم: زيد پام دي شته چې څه وايي؟ که بيا دي داسي د مرګ خبره دی وکړل ځان څخه دی ګيله وکړه نه زما څخه؟!

زيد زما لاس خپل لاسي کې نيولي او د موتر ګير بدلوی په همغه حال کي زما لاس د هغه لاس کي بند دی خاندي او وايي: په سترګو خايستو مې په سترګو..!

او بيا خپل بل لاس د زنځير پشان خپل په خوله کش کوی مطلب د خولی کشک مې وتړو او نور نه وايم. په ټول لاره ترڅو چې ماڼي ته رسيدو لاس مې په امن ترينه ممکن ځای کې قرار درلود هو د زيد په مردانه لاسونو کې زما کوچني او ملايم ښځينه لاس بيخی معلوميدی لا نه! هر څومره چې ماڼې ته نزدی کيدلو هغومره زما ويره استرس زياتيدو..

يغما- زيد نکيزی لاړنشو؟
زيد- نه د زيد نفس نکيزی ټول زموږ تلو ته په انتظار دی، ربنتيا عمه او مريم هم راغلي او موږ ته په تمه دی.
د مريم د نوم په آوريدو فشار مې صفر شو او يو بد احساس مي ټول وجود ونيو په نيولې غږ مي وويل: زيد هسی نه بيا حالت يې خراب شي؟! بيچاره انجلی..

زيد زما لاس ته لږ زور ورکوی او په خندا وايي: اه زما ليوني! ته ولي دومره مهربانه يې؟ ولي يوځل دا دومره مهرباني دی زما فقير او عاجز په حق کې نکوی چې د خلکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق کې کوی؟!
یغما- زیـد د ټوکو او ریشخندی وخت ندی، باور وکړه ډیره سخته ده، ځنګه د انجلۍ په نوم او نشان هغه کور ته ننوځم کوم ځای کې چې څه د پاسه یو کال مې ټولو ته ځان هلک معرفی کړی و؟ څه فکر به زما په اړه وکړی؟

زید- هیس فکر نکوی بر عکس ډیر هم لیواله دی چې تا وګوری.!
یغما- یعنی هغوی په هر څه خبر دی؟
زید- هو رضوان د الف څخه نیولې تر یا ټوله کیسه هغوی ته کړی، او مور مې ستا د هلک کیدو په کار دومره افرین وویل چې بیخی نووو..

د زید په خبره په حیرت او خوشحالې ورګورم او وایم: ربښتیا وایې؟
زید- هو ستا په سر قسم زما د ځان څخه لا راباندی ګرانې..
او هو پلار، عمه او اسما هر ځل زنګ وهي او وایي: زموږ ناوی څه وخت راوړئ؟
بیخی نو زه یې هیڅ کړی یم ټول ستا پوښتنه کوی!

ما د پخوا پرتله په لا حیرت وویل: زما په سر قسم یاد کړه ربښتیا وایې؟

دا زما لپاره هیڅکله د باور وړ نه وه، ما یو لوې لانجې ته چمتو والې نیولې و، ما د زید د کورنۍ څخه د بد رد آوریدو ته چمتو والې نیولې و، ما د زید د عمه ښیراو او کنځلو ته چمتو والې نیولې و، او اخیره کې د مریم د لاس یو څپیړه خوړلو ته! هیس مې باور نکیدو چې هغوی دی زه بغیر له کوم پیښې او جنجال څخه منلې اوسم؟!

زید په غوسه ناکه لهجه وویل: یغما نوره دی ونه وینم، چې خپل په سر ماته قسم راکړی!
یغما- په سترګو خو اوس راته وو ایه چې دا ټول ریښتیا وو، یعنی ماته دوی سزا نه راکوي!

زید بریک ونیوه او موټر یې ودراوه! خپل نظر یې له سړک لرې کړو او ماته یې وکتل او ویې ویل: یغما، ته فکر کوې، چې زما په شتون کې دا امکان لری چې څوک تاته ترخې خبرې وکړي، څه ورسیږی ستا مجازات او سزا درکولو ته!!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د داسې احساس څخه ډکه وم چې پدې ورځو کې ما ته په سخته پیژندل شوی وو! د مینې په احساس،بې اختیاره د هغه په لور وخوځیدلم او د هغه مخ مې ښکل کړو! زید په حیرت باندی خپل لاس خپل مخ ته یوړو کوم ځای چې ما ښکل کړی و همغه ځای لمس کړو او زما خوا ته یې راوکتل!

د شرم څخه مې خپل سترګې د موټر څخه بهر خواته ونیول ترڅو د زید سره سترګو په سترګو نشم،زید له یو څه ځنډ وروسته اخیر حرکت وکړ وروسته یو څو دقیقو کې ودانۍ ته ورسیدو د مانۍ په لیدو زما په ذهن کې د یادونو سیلاب په څپو وهلو شو! ښه او بد یادونه! د ښو یادونو شمیر یقینا د بدو یادونو څخه ډیر وو!

ساتونکې دروازه پرانیزي او موږ ننوځو، خپل په لاس خپل د پوزی هغه حلقه(چارګل) ختا کوم او د ترور راکړی قوطي کې اچوم! تازه د ترور ډالۍ ته مې فکر شو،غوږوالۍ چې د شاپرک په څیړ وی دومره نازک او ښکلی وو! د مانۍ په لیدو د ویری څخه یو غټ نفس اخلم چې زید راته غږ کوی: یغما!

د زید پر غږ د هغه خوا ته ګورم چې د هغه تندی تروش و! او د هغه په خفه څهری زه پوه شوم چې بیا مې یو داسې کار کړی چې زما د خاوند په مزاج بد ولږیده، مګر ما څه وکړل؟ پدی فکر کی وم چې زید وویل: ولې دې لری کړل؟

اها زما زړه د چارګل په لری کولو خفه شوو! په خندا سره مې ورته وویل: هر کله چې ته وغواړې نو زه به بیا په پوزه کړم خو اوس حالت سم نه دی خیر دې زید درک یې کړه! زید- زه نه پوهیږم چې څنګه حالت دی چې ته دومره خفه ښکاري؟!اسمه ده دا ځل تیریږم څه نه وایم خو بل ځل بیا نه تیریږم!

خپل لاس مې په سترګو کیخود چې مطلب په سترګو، زید موټر ودروی،موږ دواړه تری ښکته شو! زید زما څنګ ته ودرېد او زما لاس یې ټینګ ونیول او د ودانی په لور زما سره روان شو! څنګه چې موږ صالون ته نږدې کیدو، ما خپل لاس د هغه له لاس څخه راوباسه، خو زید زما لاس پرینښوده چې ما په مظلومانه لهجه وویل: زید په خدای بده ده زما لاس پریږده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- نوچ نه څه شی بد ده،ما ټول عمر ستا د لاس په خاطر هیچا ته کتلي نه دي، او اوس چې خپل جوړه مې پیدا کړی ته وايې بده ده! ته پوهېږې، له هغه وخت چې ما ځان وپېژانده او په حلال او حرام پوه شوم، له هغه وخت مې ژمنه کړی وه چې زما ټول احساسات،مینه به زما د میرمنې وی او ستا په نشتون کې مې لا یو جنۍ ته په غلط نظر ندی کتلی..

زه به حیران کیدلم کله چې دا ځینی سړیان مې لیدل چې د ښځو د درلودو با وجود هم د پردی ښځو پسی دی او خپل میرمنې سره دوکه کوی، په داسې حال کې چې د ځوانې له وخت څخه تاته ژمن وم.

د زید د خبرو په آوریدو په پراخه موسکا مې وویل: یعني چې زید خان له پیل څخه ما ته ژمن و، هوم! واقعاً لکه زما په څیر زه هم د هغه ځوانی ورځو کې چې ستا نوم او نشان لا نه و! خو زه تاته ژمنه وم.

زید -هو، زما ژونده مګر د الله تعالی وعده دی هیره کړی چې فرمايي" د پاکو نارینه وو لپاره، د پاکو ښځې دي او هر چا لپاره خپل جنس په څیر دی واقعاً چې همغه شان ورته رسیږی!" زه باور لرم چې زه او ته له یو جنس څخه یو د پاکو اوبو پشان.

ما په مسکا د زید خواته کتل! د هغه خبرې زما روح او روان ته آرمتیا ورکول، د څو دقیقو مخکې ویره او استرس مې له یاده وویسته او د هغه لاس مې په کلکه ونیوی موږ دواړه یوځای صالون ته ننوتو، ټول حاضر وو، رضوان په پراخه خندا زموږ ښه راغلاست ته راغی، زید یې په غیږ کې ونیوه! او په خندا یې ورته وویل:

رضوان- ای مضره،نوبت دی مراعات نه کړو له ما څخه دی مخکی ښځه پیدا کړه هوم!!!
زید ورو خاندی او وايې: ته بخښه وکړه ورور خپل په مشر باندی.
رضوان،د زید شاه په لاس څو ځلی ووهې او ویې ویل: بختور شی لالا مې!
زید یوازې خندل رضوان زما مخې ته ودریږی،او په ورته مسکا سره وايې: ورینداره جاني پخیر راغلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه څومره د رضوان په شتون کې د ورور په لرلو د خوشحالی احساس مې کول،په رښتیا چې هغه زما په حق کې د ریښتینې ورور څخه لا زیا ورور ولې وکړل په کراره غږ ورته وایم: خیریوسی رضوان لالا!

رضوان موسکا کوي او نورو ته نوبت ورکوي! فرشتي ترور په مهربانه موسکا زموږ خواته راغله، ډیر مې د شرم احساس کولو،د ډیر شرم څخه مې د زید لاس مې کلک ونیو چې فرشته ترور وویل: پخیر راغلی زما نازولې ناوی.!

فرشته ترور خپل د خبری سره سم خپله غیږ راته خلاصوی چی په ټوله خوشحالی یې مورنی غیږ ته پناه وړم، مخ راته په ښکل کوی لاس یی ښکل کوم او ددی مور په مهربانی فکر کوم ستاسو په اند که بل څوک وی له ما یی همداسی ښه راغلاست کوو؟نه، حتما یی مخ راته په څیپرو ډیزاین کوو، فرشتې ترور ورسته له ما زید په غیږ کی ونیو او په ګیله منده لهجه یې وویل:

فرشته ترور- د مور شاهزاده ولی دې له اوله راته ونه ویل
زید د مور لاسونه ښکلوی او په مسکا وایی: مورجانی ددی په اړه وروسته خبری کوو .

فرشته ترور په سر ښکته کولو او پورته کولو بسنه کوی،اسما په ښکلی مسکا می خواته راغله او په صمیمیت یی ښکل کړم او ویې ویل: ښه راغلې وریندار جانی!
د وریندار د نوم په اوریدو می زړه د حسنات هوا وکړه دی څو ساعتونو کې ډیره وریسي خفه شوی وم! په کراره د آسما جواب ورکوم: خوشحاله اوسی ګرانې!
اسما- ته هم وریندار جانی!

آسما ددی خبری په کولو یی ځان د زید غیږ ته واچوه! او په خندا یې وویل: لالا جانه مجرد لاړی متاهل(واده شوی) راغلی!
زید- ولې ښه ونشو !؟
اسما- ولی نه ډیر ښه شو رضوان لالا خو هسی هم زوړ شوی!
د ټولو د خندا غږ پورته شو چی رضوان په دروغي غوسی وویل: چا ویلې زه زوړ شوی یم؟ دا چې زید سپین سترګی وکړه او نوبت یی مراعات نکړو زما ګناه څه ده یا الله ته خپله خو وینی زما مظلوم حق خوړل شوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو د خندا لا لاسی شونډې پر یو بل کلکی نیولی وی! چې فرشتې ترور په خندا وویل:
رضوان بس کړه نور همدا یې وقت دی!؟
رضوان- په سترګو میرمن فرشتې هر څه ستاسو امر وی!

رحیم تره،ترور،او مریم په کوچ کی ناست ول، ترور او رحیم تره په ښکلی مسکا د ښه راغلاست لپاره ودریدل مګم د مریم په لور مې نشو لیدلی!زید لومړیتوب وکړو او د پلار لاسونه یی ښکل کړل چې رحیم تره هم په خپل غیږ کی ونیوه! او ویې ویل: ماءشاالله زما زید ځان ته ځانته یو نر جوړ شوی، آن شاء الله چې خوشبخته شی او د یو بل تر څنګ زاړه شي!

زید- تاسو دی ژوندی وی پلارجانه!

ښه یوه شوی وم چې زید د ټولو لپاره ډیر ګران او اړین دی آن ډیر له رضوان او اسما نه! د زید پسی زه د رحیم تره لاس ښکلوم چې سر می ښکلولی او د خوشبختې هیله راته کوې! ترور هم لکه د فرشتې ترور په څیر دواړه په غیږ کی ونیولو او په خوشحالی یی د مورږ ښه راغلاست وکړو، په خپلو ډیرو مهربانیو یی زه وشرمولم
اصلا دی کورنی د کینې او ظلم بوی هم ندی حس کړی آن یو یی هم دا راته په مخ رانه وړه چې زه یو ورځ یوسف وم..؟!

اه چې څومره یی مننډویه وم سترګې مې په ډېر سختی د مریم خواته واړولې بیا هم د زید په لیدو کې غرقه وه! هغه زید چې هیڅکله د هغې نه وه! مریم لاس د زید په لوری ونیوه! او ویې ویل: مبارک دی وی!
زید د مریم لاس ونه نیو او په ټیټ سر او کرار غږ یې ورته وویل: مننه خوری!

د مریم د رنګ سور والی مې له ورایه لیده خو څه مې لا لاسه نه راتلل! مریم د زید له لیدو لاس اخلې او ماته ګوری! نظر یی دومره یخ وه چې د کلکی یخی حس مې په خپل ځان کې وکړو،نږدی راغله او په غیږ کی یی ونیولم لا یی د غیږ د حیرت څخه نه وم وتلی چې د خبرو په اوریدو یی ګنګه او بی ژبی شوم، داسی یی خبری کولی چې یواځې ما اوریدلی دومره تیزه او هوښیاره وه، چې یوه دقیقه یی هم شونډې د دروغې مسکا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالی نه وی؟!

مریم په ریشخند لهجه وویل: نوم دی یغما ده سمده یوسف جانه؟؟ هههههه فکر کوی زما زید ستا شوی؟ نه غلطی مه کوه ته د لوبی ګټونکی نه یی! فکر کوی نه پوهیږم د څه لپاره د سړیانو په کالیو کې مانی ته راننوتلي پوهیږم د زید د زړه د لاسته راوړلو لپاره دی دا کار کړی مګم قسم دې که د خاورو میلمنه می نکړی نوم مې مریم نده، د خوشحالی مخ په ونګوری زید تر پایه یواځې زما بت دی یواځې زما!!

د مریم د خبرو په آوریدو مې اه له ځیګر ووتل خدایه مګم مریم خپل عقل له لاسه ورکړی؟ مخکې خو داسی نجلی نه وه هېڅ مې باور نه راته دا دې همغه مظلومه مریم وی؟ اصلا د کومی ګناه لپاره ما محکوموي !مګم زید کوم وقت د مریم وه چې زه خبره نه یم؟ دومره هم فکر نکوی چی که د زید زړه په مکر او نازونو لاسته راوړل کېدلی نو بیا ولی خپله یې ونه توانېده چې لاس ته یې راوړی؟

که ووایم د مریم له خبرو ونه ډاره شوم نو دروغ به مې ویلې وی! خبرې یې لکه تور سیوری زما ټولی خوشحالی یې راونغاړلې,د مریضو او لیونیو خلکو په څېر یې خبری کولی هیڅکله نورماله نه ښکاره کیدله او داسی لوی ډار یی زما زړه ته راواړوه، مریم له مانه جلا شوه او په همغه ساړه نظر یی راته کتل! چې د رضوان خبری زما فکرونو ته د پای ټکی کیښوده!

رضوان- ولی ولاړ یې کینی نور !!!!
ټول کینو او مجلس ګرمیږی داسی ښکاریده چې غیر له مریم نه هیڅوک ددې اړیکی نه خفه او مخالف ندې، د چای په څښکلو او ترور په رنګارنګ سوالونه چې د زړه سواندی له مخې وو شب راورسیده! یوه کوټه چې د اسما د کوټې ترڅنګ وو راته یی راکړه!د خبرو په مطابق یی غوښتل یو غټ محفل ونیسي!
د رواجونو او کلتور له مخی!

د شپی خواړه تیاریږی او ټول دسترخوان ته ټولیږو! زید زما خواته کینی او په داسي مسکا چی نه محسوس کیږی وایې: زما خایستو څنګه ده؟
یغما- ښه ده که ته ورسره کار ونلري نوره هم ښه کیږی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید کرار یی وخندل او ویې ویل: عه میرمن یغما ګوری؟ اوس دی چې خسرګنی ولیدله زه دی له یاده وباسلم؟

یغما- هو تورکی ته وایم چې یوځای کی دی وتړی چې نور دی ونه ګورم.
زید- ولی خیر خو دی ستا سترګی غیر زما د لیدو نه بل هر څه ته منع شوی دی زما د سترګو تور!

اه وباسم دا څو ورځی عجیبه ډار لرم نپوهیږم ولی !مخکی له دی چې خواب یی ورکړم سترګی می په مریم لګیږی چې په وینو ډکو سترګو راګوری ګواکې د پلار میراث مې ورته خوړلې وې!د زید د خواب ورکولو بی فکره کیږم او خپل غاب راخلم او ځان لپاره ډوډی راخلم په نه اشتها خپله ډوډی خورم چی له دوه مړی نه زیات نه وو! دسترخوان ټولیږی او ټول خپلو کارونو ته ځی! اسما کله ناکله راسره ټوکی کوی او یوسف راته غږ کوی چی زما له مسکا سره مخ کیږی

زید او رضوان د شطرنج په لوبی بوخت ول! د رضوان غږ پورته کیږی او وایی ماته د منلو وړ نده یغما یوځل دلته راشه! په خندا د ترور او فرشته ترور له خنګه پورته کیږم او خواته یی ورځم!
یغما- هان وو ایه؟!
رضوان- ته دی د روانی خاوند ته وګوره دوکه کوي ټوله لوبه یی همداسی ویوړه! څه نه وایی ورته؟!
د څنګ چوکی باندی کینم او په دروغجنه غوسی وایم: هې چنارګله ونه وینم چی له تورکی سره کار ولري!

زید په کړس خاندی او رضوان په حیرانتیا راته ګوری! چې ژر وایم: هغه مطلب مې وایم له لالا سره می کار مه لره چې ژوندی دی له پوسته کوم!
داخل رضوان خاندی او زید په حیرانتیا راته ګوری، رضوان په ټوکو او په همغه خندا کی وایی: ودي خوړه زید خان ژوندی دی له پوسته کوی له یاده دې ونه وځی!

زید- تاسو دواړو خور او ورور لاس یو کړی چې ما لیونی کړی که څنګه ها!؟
د شطرنج تختی ته ځیر کیږم سپینې دانی د رضوان وی او توری د زید، د سپینو دانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعداد له تورو دانو کم وو! او یواځي پادشاه او وزیر او یو څو داني نوري پاتي وي دا یعنی زید ګټونکي دي اي تورکیه خاوري دي په سر شه کله چي لوبه نشي کولي ولی دي خپله پوزه پرې کوي!

یغما- رضوان ولی ستا داني په میدان کې کمې دی؟
رضوان لکه ماشومانو زید ته اشاره کوی! او وایې: تولی دغه وحشی وخوړلی!
په خندا وایم: تولی!؟
رضوان سر ښکته او پورته کوی،له ډیری خندا کم پاتی وو په ځمکه وغورځم په ځان مسلطه کیږم او په مسکا وایم: ښه نو زید څه وکړی چی ته لوبه وګټی!
رضوان په خپل لاس د دانو حرکات راوښودل!په امری (امر کولو) لهجه وایم: هله زید جانه ځنګه چې لالا مې وایی همغسې وکه ولی دی ورسره دوکه کړی ها!؟

زید په حیرانتیا راوکتل او رضوان له خندا شین وو زید په همغه لهجه وویل: یغما لیونی شوی یی پخدای دوکه می نده کړی خپله یی زده نده بیځایه شله وی چی راځه لوبه کوو!

یغما- خو هر ځنګه چی وی رضوان کومه دانه یی وړاندی کړی!
رضوان وزیر ته اشاره کوی!زید یواځې کتل چې ما وویل: زید هله نو مخکې کړه!
زید په نه زړه خپله دانه مخکې کوی په همدی توګه تورکی د لوبی ګټونکی کیږی! چې زه په خوشحالي وایم: هوراااااااااااا لالامی وګټله!
ما او رضوان خندل چې زید په ټوکو وویل: تاسو دواړه په ریښتیا خور او ورور ونه اوسیږی؟ دواړه هم نمونه!؟

زید- تا باندی خو زه هسې دوکه شوم، دې تورکې ته څوک جلی ورکوې!
زید خپل د خبرو وروسته یې په لوړ غږ وخندل! رضوان اعتراض وکړ او ویې وویل: ما مه مجبوره وی،چی د سپینیدو کریم شروع کړم!
د رضوان په خبرو مې وخندل! او ومی ویل: چنار ګل تا ته وایم ونه ګورم، چې زما لالا ته تور ووایه، زه به پخپله یوه جلی پیدا کړم ورته د، ښاپیری په څیر!

زید- ښه ښه وبه ګورم!
رضوان ناساپه وویل: ریښتیا یغما، حسنات ځنګه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رضوان په خبره ما او زید په خلاصو سترګو یو بل ته وکتل،او په همغه حیرانتیا وویل:
ښه وه سلام یې ویلو!
رضوان- علیکم السلام
ما په آرامه وویل، رضوان،حسنات زما وریندا‌ره کوی!؟؟ رېښتیا ووایه،رضوان ارام وخندل او زما په ځیر یې وویل: چې خور مې یو څه ووایې او زه نه ووایم، دا امکان لری؟!

د رضوان په خبره پوه شوم چی رضوان هم په زړه کې د حسنات سره مینه لری؟! د دی خبری په پوهیدو په خندا وایم: کرار کینه تورکې،ستا په زړه ښه پوه شوم، زړه دی په کلی کې پریښودی وو! اوس خور مه بهانه کوه!
رضوان په خندا وایې: څنګه هوښیاره یې؟
زید په په کلکه لهجه وویل: څه خبره ده چې د لیوني په څېر خاندی؟
زه خپل ستونی صاف کړم او په جدي توګه ووایم: د خپل وریندارۍ په اړه مو خبری کولی،خپله د رضوان څخه پوښتنه وکړه!

بې له ځنډه پاڅېدم، پخلنځي ته لاړم، د چای ترموز مې لټولو!چې یو ښوک پخلنځي ته راننوځي، پرته ده کتلو چې څوک راننوته، خپل کار کې لګیا وم ترموز مې پیدا کړو،او ګیلاس مې ډک کړو چې د مریم غږ مې واوریدی چې ویې ویل: ته ډېر خوشحاله یې چې دومره زر دې د کور خلکو په زړونو کې ځای پیدا کړو؟!

زه په چټکۍ سره بیرته وګرځیدم،چې مریم د دروازې مخې ته ولاړه ده،حیرانه شوم! او ومې ویل:مطلب!؟
مریم- مطلب، ډیر خوشحالې مه کوئ،تراوسه دا سر فلم دی!

بغیر لدی چې د مریم خبری ته پام وکړم د دروازې په لور لاړم،غوښتل مې چې څنګ نه زر تیره شم، چې هغې د چایو څخه تازه ډک شوی ګیلاس راوخیستو او په ناساپه توګه یې زما په لاسونو خالي کړو؟! د چای ګرم والې دومره زیات و چې بې کنټروله مې چیغه کړه: اه وسوځیدم..

او هملته پر ځمکه کېناستم او د اوښکو ډکو سترګو مې لاسونو ته ګورم! لاسونه مې لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور ګلاب په خیر شو، او د سوځیدني له املـه سپیني پولی ښکاره شوی! زما له اوښکو ډکې سترګې زما د لاسونو د سوځولو له املـه نه وې، بلکې د دې لپاره وې چې زما د عمه د کور یادونه ژوندي شوی.ښه مې په یاد دی،له هر غلطی وروسته څنګه زما لاسونه د جوش شوو اوبو سوځول!

زه د خپل ژوند په یوه پټه پاڼه کې ډوب وم چې زید او ټول په بیړه راغلل! مریم لا ولاړه وه او یوازې کتل،زید په ورخطا زما څنګ ته کیناست زما لاسونه یې ونیول او به ورختا یې وویل: ی...غما څه وشول؟!

ما نه غوښتل چې موضوع لویه شي! ما خپله کرکه زندانی کړه او په مشکل سره مې وویل: هیڅ مې فکر نه وو، چای مې په لاسونو توی شوی!
زید په غوسه وویل: توی شول او که چا دربانډی توی کړل؟( او د مریم په لور یې وکتل چې ما په تلوار وویل: نا توی شوو!

زید ما د اوړی څخه نیسي او پورته کوی مې،په چټکۍ سره تشناب ته لاړم، لاسونه مې د یخ اوبو لاندې ونیول، چې سوځیدل یې یو څه کم شول! چې زید کرار وویل: ښه یې، نفس مې؟

خپل سر په پورته کولو او ښکته کولو سره د هغه خبره مې تایید کړه، اسما په تلوار راننوتل او ویې ویل: لالا، په لاسونو یې دا ملحم ووهه، چې سوځیدو ځای پاتی نشي!
زید په ورخطایی سره ټول ملحم زما په لاسونو ووهل او ویې مښیل، ټول ولاړ وو او په غورځیدلو مخونو یې راته کتل!ما ټولو ته په خندا وویل: ولې ټول ولاړ یې؟زه ښه یمه؟دومره زیات هم نه یم سوځیدلی ښه یمه.

ترور په خفه لهجه وویل:لور مې کې زیات سوځیږی نو ډاکټر ته لاړ شه
یغما- نه،ترور جانی، دومره زیات ندی سوځیدلې، ښه به شي.

نه پوهیږم، خو د زید د عمه په سترګو کې مې په ښکاره ډول خجالت لیدو، ولې فکر کوم چې عمه پوهیږي چې زما د لاسونو سوځول د مریم کار دی! زما د غوښتنې سره سم، ټول مایوسه صالون خواته روان شول، یوازې رضوان پاتې شو! په ورو ګامونو سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خواته راغلو او ويې وويل: زما خور، ته ښه يې؟

د هغه درد با وجود چې سينه کې مې تاو شوی وو په مسکا مې وويل: هو تورکۍ زه ښه يم، نه دي اوريدلي چې بده بوټې بلا لا نه وهي!
رضوان ژوره ساه واخيسته، او داسې لکه چې زما خبره يې نه يې اوريدلی ويې ويل:د مريم کار وو؟

يغما- نــ...(لا مې خبرې نه وه خلاصه کړې، چې زيد په غوسه له ځايه پورته شو، او رضوان ته يې مخ کړو او په غوسه يې وويل: رضوان قسم خورم، که بيا ځلی يوازی يو ځل بيا، زه دا لېونی جلۍ د يغما شاوخوا وګورمه، بيا هيڅا خاطر نه کوم هيڅا ښه به دا وی چې ته يو کار وکړئ که ماته دا کار پاتی شو بيا به ښه ونشی!

رضوان سر پورته ښکته کوي او وايي: زه به يې پخپله حل کړم، ته هم خپلې کوټې ته لاړ شه، ته هم له مريم نه په کمه نه يې؟!

رضوان د تلو څخه مخکې په يو زړه سواندی نظر ماته راګوی او بيا د آشپزخانې څخه وځي، او زه ځومره د خلکو د زړه سوانده نظر څخه کرکه لرم خو لکه چې دا منحوس شيبې زما په قسمت کې ليکل شوی د اول څخه تر پايه،زيد زما څنګ ته ناست و او په غوسه ناکه سترګو يې زما لاسونو ته کتل چې کرار مې وويل: زيد!

زيد په ژړغوني او نيولي غږ وويل: جان د زيد خايستو..؟!
يغما- وګوره سوځيدل يی په پوره توګه له منځه لاړو! بيخی بيخی ښه يمه باور وکه!

ژوند مې خاوند مې لا تراوسه هم په فکر کې و، چې ماته د منلو نه وه، په ماشومانه لهجه په پښتو مې ورته وويل: ماسره زيد خبری نه کوي هوم؟
زيد ژوره ساه واخيسته او سترګې يې زما سترګو سره وتړلې او هغه هم په پښتو ژبه وويل: اه يغما احساس کوم چې نړی کمزوری انسان يم،ګوره ما د خپل ګل نه حفاظت ونشو کړای،هغه ګل چې زړه په وينو راغوړيد! هغه ګل چې زما ساه د هغی په خندا پوری تړلی ده، حقا چې دا پولی ستا په ښايسته لاسونو باندی زما د مرګ حکم ......

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمله لا پای ته نه وه رسیدلې، لاس مې هغه خولې په لور ځی، د کلمې د بشپړیدو مخه نیسم! او په غوسه وایم: زیده ایا پوهیږی چې دا خبری دی ستا د ګل په تن باندی د ګلی (ژاله) په څیر وریږی! کومه ګلی چې د هغی ضعیفه وجود زخمی کوی !
هیله کوم بیا داسی مه وایه ، زما ژوند ستا پوری تړلی دی !

زید زما کیخودل شوی د لاس ګوتې بنکل کړل او په یو داسی مسکا چې ما تراوسه د هغه پښان نه ولیدلی ویې ویل:د سترګو توره! د زړه سر می لیونی کیږم کله چې ګورم زما په موجودیت کې دی تاته ضرر ورسیږی ! له منځه وړم هغه څه چې زما ژوند ته درد رسوی قسم دی.

د زید په خبرو لویه مسکا مې په شونډو خپره کیږی، زما زید څومره مرادنه زما څنګ کی ولاړ دی مګر کیږی چې د زید په شتون کیدی زه د ویری احساس وکړم؟ زید چې د غر پښان زما شاته ولاړ دی، هغه زید چې پوهیږم زما د یو اوښکې په توی کیدو د هغه اوښکې د تویه ولو سبب او کس د ریشې څخه پری کوی، نه زه نوره بی پناه او بواځې یغما نه یم زه اوس زید لرم هغه زید چې ماته د ټول دنیا حکم لری.

یغما- که دومره زما سره مینه لری نو د مرګ او تلو خبری مه کوه، مګر ستا زړه راځې خپل ګل په دومره وحشې او خونخواره خلکو مینځ کې بواځې پریږدی؟! هغه ګل چې د ژوندی پاتی کیدلو اوبه یې ته یې؟! هغه ګل چې بیحده کمزوری دی او بواځې ستا د مینې څخه تغذیه کوی! زید که د تلو خبره وکړی باور وکړه ستا ګل مړه کیږی او نور هیڅکله به ژوندی نشی.

زید- میرمن مې خایستو مې، دومره خوږی او په عین حال کی ترخې خبری مه کوه، زه لکه اغزی پښان خپل و ګل ته ژمن یم هر هغه خونخواره کس چې وغواړی زما ګل ته لاس راوړی ژوندی نه پریږدم.
د زید په خبره خاندم او وایم: اووو زید خان تر دی حده خطرناک کیدی شی؟!
زید هم زما پښان خاندی او په کراره وایی: زما ګرانې هیڅکله مه ختا وځه ځینی کسان شاید په څهری عاجزه وی خو داسی کارونه کوی چې باور به دی رانشی،! د هر کس څخه هر کار امکان لری.!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- سمده بدماش صیب اوس نیمه شپه شول ځم چې ویده شم.
زید- ښځګه کولې شې دومره راحته ویده شې کله چې زما له سترګو دی خوب تخته ولې دی؟
په خندا وایم: ډیر ښه خوب هم راځې مزی داره ...
زید- هو پوهیږم زما په زړه ډېری خایستو.

یغما- سمده زه به یو ځا سالون ته لاړشم ترڅو د خاله جانې دوی تشویش او اندیښنه لری شی، او ښه شپه تاته غواړم زید خان.
زید- ستا شپه پخیر د سترګو توری.

د آشپزخانې څخه وځم او سالون ته ځم کله چې د کور غړو ته مې خپل د لاسونو د ښه والې خبر ورکړو نو ښه شپه ټولو ته وایم او خپل د کوټې خواته ځم، په کټ کینم او د نن ورځې پیښو ته فکر کوم! عجب ژوند لری میرمن یغما ټول د عجیب غریب کارونو څخه ډک دی! د مریم پدی کار داسی راته معلومیږی چې یو سخت لاره مې په مخه کیده.

په ځای کې مې څملم او سترګې د کوټې چت ته نیسم، چت چې په ښایسته سور ګلانو ډیزاین شوی، ټول شپه د لاسونو د سوځیدو په درد مې تیره کړل او د خوب او ویښ په دنیا کې زنګیدم، سهار د مولا په آذان پاسیدم اودس مې وکړو او کوم عادت چې د حسنات دوی کور کې مې درلود غوښتل مې د کور ټول خلک راویښ کړم خو بیا یاد ته مې راغلل چې دا د حسنات دوی کور ندی، نو ځکه خپل د کار څخه پښیمانه شوم خو ناساپه مې ځان سره وویل: که ټول کور نشم راویښ کولې زید خو راویښ کولې شم د دی څخه مخکې چې مونځ یې قضا شې؟!

په کراره، کراره د زید د کوټې خواته روانه شوم ټول کور په درنه خاموشې کې اخته وو، د زید د کوټې دروازه مې کراره خلاصه کړه او ننوتلم زید د ماشومانو پشان ویده وو او ویښتیانو یې ټول مخ نیولې وو ښنګ ته یې نږدی شوم او کرار مې ورته غږ کړو: زید

راویښ نشو په لاس مې د هغه ویښتیا د مخ څخه لری کړل او پورته مې واړول چې د زید لاس ته مې فکر شو عکس یې خپل د زړه په سر نیولې وو! په کراره عکس یې د لاس څخه راخلم، د عکس په لیدو نه حیرانه کیږم هو په عکس کې زه وم! خپل د عکس په لیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکا کوم او بیرته عکس د زید لاس کې ایږدم او د زید اوږه کراره خوځه وم او وایم: زید پاسیږه مونځ قضا کیږی شابه.

زما ژوند دواړو توري سترګي کراره خلاص کړي،څو دقیقی ماته زیر زیر ګوري او بیا زر پورته کیږي خپل خوب ځای کې کیني او وایي: یغما ته یی ؟
یغما- هو ، جناب اوس پورته شه لمونځ دی قضا کیدو حال کیدی شابه.

زید په ورخطایی باندی زما لاس نسئ او د هغه په کتلو مصروف کیږي، په داسې حال کي چې سری یې لاندي وو او خپل ګوتو باندی زما د لاسونو زخمونه لمس کول کرار یې وویل:یغما سوخت والي لږ شوی یا نه؟ ایا دي شپی دی خوب وکه؟

په مسکاه جواب ورکوم: اهان ، ډیره ښه ویده وم . اوس هم دي خبرو تیر شه لمونځ وکړخ خاوند جانه.
زید ښکلی مسکاه دي خپلو شونډو میلمه کوي او وایي: خاوند جان دي قربان شي میرمن جانی.

د دروغ غوسه کي ورته وایم: خدای نکوی، لیوني خان !
دا خبره کوم او د دروازی خواته حرکت کوم د تلو څخه مخکې بیا وایم:لمونځ هیر نکړي.

دا خبره کوم او بیا بغیر لدی چې د جواب په تمه شم خپلي کوټي ته لاړم، کالی می بدل کوم لاسونو باندی ملحم وهم سوخ والي سپیني پوقانه هم نظر په شپه باندی لږ شوی وی ملحم خپل کار کړی وه دهلیز په لور لارم ، ټول ویښ وه سبا ناری یی میز باندی څکل دهلیز ته ننوځم جګ غږ سلام کوم! یوازی مریم جواب رانکړو نورو په خوشحالي جواب راکړو لاس پوښتنه هم را نه وکړه

آخري څوکي می کیناستلو لپاره خوښه کړه رضوان هم کار لرو چای هم څکلی نه وه شرکته تللی وه زید هم تراوسه لاندي راغلي نه وه، ټول په سبا ناری باندی مصروفه ول چې د زید غږ راغې:
زید- سلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید غږ د دی سبب شو چې ټول د څوشبیو لپاره چای څکلو څخه لاس واخلي، زید ورزشي کالي په ځان وه ښکاره معلوم وه عادت په چیری ورزش کړي ورزش تراوسه پوري هیر کړی نده زید په جګو کامو زما خواته راځي او زما څنګ کې کیني او کرار راته وایې:سهار پخیر میرمن یغما

یغما- ستا سهار هم پخیر زید خان.
زید په خندا وایې: زما سهار هغه وخت پخیر شو ستا غږ وپیش شوم.
خندا می دي شونډو میلمه کیږي چې فرشته ترور وایې: لوری کولی شي،نن لاړي شوو د طلا او کالیو اخیستو لپاره بازار ته؟

ستوني می صاف کوم او په آرامه وایم: هو ترور جاني ،هر رقم تاسو وغواړي.
فرشته- بیا سمده نن ورځ به بازار ته لاړی شو. زید ته اوزګار یی یا موږ خپله لاړی شوو!
زید- نه مورجانی اوزګار یم ، ستاسو خدمت کی یم
فرشته ترور خاندي او وایې:سپین سترګیه هلکه

سهار چای خلاصیږي، هرڅوک خپلو کوټو ته ځی بازار تلوو ته ځان تیار وي،نیو هیږم څه واغوندم، نمی غوښتل زید کورني کمه راشي همدی سوچ که وم دروازه ټک ټک غږ پورته شو!

یغما- راځي دننه.
آسما په لیدلو لږ اندیښنه مي کمه شوه چې آسما به خوشحالي وویل: وریندارې جانی حجاب می درته راوړه ! لالا می نه خوښیږي بغیر حجاب څخه باندي لاړی شوو!
یغما- راځه دننه آسما جانی، ښه شول راغلی نیو هیدم څه واغوندم؟!
آسما په خندا راننوته زما لور ته راغله! حجاب یې خلاص کړو او په مسکا یې وویل:
وریندارې حجاب دي خوښ شوو!
:□#شهاب
عربي حجاب وه لاستونی ، طلایي غمویو باندی ظریفه دیزان جوړ شوی وه په خوشحاله لهجه مي وویل: هو مننه ګراني ډیر ښکلی ده په زحمت شوي
آسما- وظیفه ده وریندارې جانی ترڅو تاسو حجاب اغوندئ زه بیرته راځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- سمده.

آسما کوټي ته ځي زه حجاب اغوستلو باندی مصروفه شوم، حجاب سره مې قد جګ ښکاره کیده مصروفه دي ځان لیدلو هینداره کې وم چي دروازه خلاصه شوه او آسما هم حجاب په ځان کړي وه لاس کي يوه بکسه وه کوټې ته راننوتلل او ويې ويل: یغماا جانی راځه که غواړي دا بکس څخه هم ګټه واخله !

یغما - په دی کې څه دي؟
آسما آرامه خاندي او وایې: آرایش سامان دی نوو ......
یغما- اهان ډیر ښه خو ما ګټه اخستلی زده ندی یعنی کولی نشم !
آسما- سمده کینه زه درته ساده آرایش کوم
تخت په سر کینم آسما بوخته کيږي مخ باندی مې ! او وایې: دا هم زما ښکلی ویندار،
آرایش ته هم ضرورته نلري
کراره خاندم او وایم: مهرباني دی ده آسما جانی!

آسما هم زما مسکاه پشان مسکاه باندی جواب راکړو، او د الماری په لور ځي! تور دسکول توري چپلی بوټ الماری څخه راباسي او وایې: دا هم ډیر ښه حجاب سره دي خوند کوی دا هم واغونده.
یغما- په سترګو ګرانی.
آسما- سترګی دی بی بلا ویندار جانی.

آسما ځی او زه تازه خپل د لیدلو لپاره وخت پیدا کوم، سترګي مي ریمل سره جوری وی، ګلابي غومبري، توري وریځي ،ډیر ډیر کم رنګ سترګو لیمو (سترګو شاه )باندی سور رنګ ښکلی منظره یی جوړه کړي وه تور تکری داسي په سر کوم یوتار ویښتی مې هم ښکاره نشئ، چپلی بوټ ، دسکول راخلم دهلیز په لور ځم ! زما په نظر هیڅوک تیار ندی، ځکه یوازي زید ناست وه هغه هم مبایل که مصروفه وه

یغما- دا نور چیرته دی ؟
زما په غږ زید خپل سر پورته کوي نظري زما نظر کی قفل کیږي، آرامه پورته کیږي زما په لور راځي او په کلکه لهجه وایي: یغماااا بیادی آرایش کړي؟ ؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما۔ اه نو ، بده ښکارم؟
زید۔ هو ډیر ډیر بده ښکاري هله لاړه پاک یې کړه.
یغما۔ نوچ پریده پریده بده ښکاره شم پاک کومه نه.

زید۔ یغما زما اعصاب مه خرابه وه !
مظلومانه وایم:خیر ده غوسه کیږي مه! فرشته ترور سره ځم نغوارم هغه ملګرو مختته کمه راشي
زید۔ چا ویلی بی آرایشه لاړ ه شي فرشته ترور کمه راځي هوم؟ کمه ښایسته یی چې آرایش دي هم وکړو؟!نور هم ښایسته شوي.

زید خبری کولې چې د فرشتې ترور غږ راغلو: زید زویه چیرته یی دي مور شاهزاده؟( اه چې څومره ښه وخت را ورسیده،زید څخه یی خلاصه کړم! فرشته ترور،مریم، عمه ،آسما دهلیز ته دننه شوي فرشته ترور زما په لیدو د خوشحالې څخه په ډکه خندا وایې: ماشاالله څومره ښایسته شوی زما لورکی.
هغه پشان په خندا جواب ورکوم: مهرباني مو ده ترور جاني.

زید په جدی لهجه وایي: د باندي په تمه یم زر راشي.
زید خپل خبری سری سم د باندی لور ته روانیږي! لږ ځنډ وروسته ټولي ورپسی باندی ورځوو ! مریم هر چاسره خبري نکوی اسما سره هم! دومره ډیر آرایشی کړی وه اصلي څیره یی ورک شوي وه ، هغه مریم چې ما مخکي پیژندلی د دی مریم سره یې د ځمکي او آسمان توپیر درلود، زید موتر ته تکیه کړي وه داسي فکرونه کي ډوب وه چې بیخی نو.....

زموږ شمیر زیات وه ټولی موتر شاتني سیټ کي نه ځایدو مجبوره یوه زموږ څخه مخکي سیټ کي کیني زید سره! چې فرشته ترور وویل: یغما لوري ته یوځای د زید سره کینه !
یغما۔ ترور جاني نکیږی تاسو یا عمه دي هلته کیني؟
زما په خبره فرشته ترور په خندا وایې: نه لورکی نکیږی ، شرم څه لپاره کوي بیګانه کس څنګ کې خوو نه کیني، زید دی خاوند دی !

په نه زړه د مخته دروازه خلاصه وم او د زید څنګ ته کینم چې زید په مسکا وایې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهرباني زما آغلــــــې ....

سترګي مي غوسه سره ورته تاوه وم او په چوکی کینم !ټول کیني او موټر حرکت کوی هیڅ کومه خبره یو بل مینځ کي ویلي کیږي نا یعنی هیڅوک خبري نکوی روسته د 20 دقیقو هدف ته رسیږو،ټولی ښکته کیږو کالیو مرکز ته ننوځو،دوم منزل ته ځوو یو دوکان ته داخلی کیږو.دوکاندار ډیرصمیمت سره زید ته ښه راغلاست وایي:

دوکاندار- وا وا زید خان ، څنګه زموږ غریبانو کلبه ته دي قدم کینودو!
زید- مهرباني لري اصف جانه ، د نکاح او د واده کالو د خوښه ولو لپاراه راغلي یو.
دوکاندار- ښه راغلاست راځي ډیر ښه جنسونه درته ښکاره کوم !
ټول کالیو باندی مصروفه کیږي ښایسته ظریفه دیزان داره کالي لرل!سترګو باندي می کالي کتل سترګي می په یو ډیر ښایسته کالیو باندی ولګیدی،سپین کالي ډیر ډیره لویه لمنه!
که ووایم لمني یوه لویه کوټه نیوله که دروغ می ویلی نه وي دومره لویه لمنه درلوده

ټوله لمن باندی سپین کرستال غمي کارول شوي وه لاستونی مکمل کرستال وه غاړی ملایي هم ساده وه ښایسته کالي ساده وه یوه لویه جالی (سپین تکری ) شال هم درلودډیر می خوښ شوی وه خو جرعت می کولی نشوو خوښه می په ژبه بیان کړم
چې زید وویل: همدا دي خوښ شول زما ګلابه! زما هم خوښ شول خوو ډاریږم د کالیو سره وزری وکړي هغه شپه او و نه تښتي رانه؟!

مخکي لدي چي زه کوم جواب ورکړم زید فرشته ترور ته غږ کوي: مور جاني ستاسو په نظر دا کالي څنګه دي؟

فرشته ترور- هو ډیرښکلی دی خو پریږده چي یغما یی خپله خوښه کړی!
زید په خندا وایي: اه مور جانی زما خوښه د یغما خوښه ده، اندیښنه مکوه!
فرشته ترور- توبه د نن له ځوانانو سپین سترګی هم یو حد لری،د مور شاهزاده!
زید- په سترګو مور جانی.

د ټولو په موافقي می خپل د خوښی جوړه واخیسته، تقریبا یو دری ساعته ګرځو طلا مو واخیسته مګم وخت د نکاح او نکریزو جوړی ته پاتي نشو! مریم او اسما هم خپل ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالی واخیستل! یواځې فرشته ترور او د مریم مور نندارچیان ول. نور د ګرځیدو توان نه وو ډوډی مو هوټل کې وخوړله او کور ته راغلو زید موږ. ښکته کړو او خپله شرکت ته لاړه! هر چا خپل خریدونه خپلی کوټی ته یوړل! دومره ستړی وم چې پوهه نشوم کله د خوب نړي ته تللی وم !

د اسما په غږ د خوب نړي مې پریښوده: وریندار جانی!
یغما- ها ګرانې!
اسما- وینه شوی یی!
پورته کیږم او په ځای کی کینم او وایم: هو ګرانی کوم کار دی وو؟
اسما- هو ښکته ټول تاته په تمه دی راځه چې چای وڅښکو.
یغما- په سترګو ګرانی.

له تخت نه ښکته کیږم او خپل ټکری په سر کوم او اسما ته وایم: راځه چی ځو!
اسما- وریندار جانی ته ښکته شه زه ګیټار( دومبره) راخلم او درځم!
په حیرانتیا وایم: ګیټار د څه لپاره؟؟؟
اسما- یو ځل دهلیز ته لاړه شه بیا پوهیږی!
سر ښکته او پورته کوم او دهلیز ته ځم، ټول ناست ول رضوان هم راغلی وو چای یی څښکه! سلام کوم او د ترور ترڅنګ کینم.

رضوان په خندا وویل:میرمن یغما درته سوپرایز(حیران کوونکی خبر) لرو !
په حیرانتیا وایم: زما لپاره؟
رضوان- هو هو وریندار جانی ستاسو لپاره (او مخ زید ته اړوی او وایي: همداسي نده زید خان!
اسما ګیټار په لاس راننوځي او د زید په لور ځی او وایې: دا دي واخله لالا!
زید ګیټار واخیست او رضوان ته یی وویل: یعنی نه کیږی له دی شرط نه دی واوړی؟

رضوان خپلی وریځې پورته اچوی او په ټوکو وایی: نه په هیڅ قیمت نغواړم ژوندی کنسرت له لاسه ورکړم
زید- سمده رضوان خان دا ځل یو صفر ستا په نفع
زید یوه غټه ساه اخلي او ګیټار په لاسونو کي جوړوي خپل نظر ماته ډالی کوی او په خوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ یی شروع کوی د سندری په ویلو:

دراین زمانه ای بی های و هوی لال پرست
خوشا به حال کلا غانِ قیل و قال پرست

چگونه شرحد هم لحظه لحظه ای خود را
برای این همه ناباور خیال پرست

به شب نشینی خرچنگ های مردابی
چگونه رقص کند ماهیذلال پرست؟!

رسیده ها چه غریب و نچیده میافتند
به پای هرزه علف های باغ کال پرست

رسیده ام به کمالی که جزاناالحق نیست
کمال دار برای من کمال پرست

هنوز زنده ام و زنده بودنم خاری است
به تنگ چشمی نا مردم زوال پرست..

دومره یی ښکلی وویل چی وروسته له سندرې یې ټوله کوټه غلی وه،په دی ټول وخت کې یی ماته کتل!مګم ما د مریم حرکات د سترګو لاندې نیولې ول بغیر دستر ګو رپول ولو ځخه یی زید ته کتل یعنی یوه دقیقه یی هم سترګی نه پټولی! د لاسونو د پړقا غږ د کوټی ټوله فضا ونیوله!
رضوان په ټوکو وویل: ظالمه ولی غواړی دا پرېښته دوله غږ دی پټ وساتی که دا غږ ما درلودلی 24 ساعته می سندری ویلې!

زید- وتړه خوله دی رضوانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو د زيد په خبره وخندل،دوه اونۍ تيرې شولې او ټول په خريدارۍ کې مصروف وو!
په دی ورځو کې زيد ډير کم وينم او زړه مې د هغی د ليدلو هوا کړی! مريم هم کله ناکله د عمه سره راځې او زما سره ښه رفتار کوی خو نه پوهيږم ولی ماته يې رينتينولې سمه نه ښکاری؟ولی فکر کوم دا ټول له يوې ډرامې ډير څه ندی!؟
د جمعې ورځ وه زيد او رضوان دواړه په ښځ کې ناست ول او نپوهيږم د څه په اړه غږيدل!

ظريفې ترور غوښتل چای ښځ ته يوسی،چې مخه يی نيسم او خپله چای وړلو ته مخکې کيږم!د تل په څير ټکری می په خپلو ويښتو چې اوس ډير رسيدلی ول جوړوم او د ښځ په لور ځم! په احتياط می ګامونه اخيستل چې داسی نه پټنوس رانه ولويږي!لا می څو ګامه پاتی ول چې ورسيږم چی د رضوان اواز مې تر غوږ شو!

رضوان- زيد شيږ ورځې شوی خو تر اوسه يې زخم صحيح ندی جوړ شوی، يو ځل ډاکټر ته لاړ شی ضد مکوه زخم يی بدتره کيږی! که ډاکټر ته نه ځی لږ تر لږه مور ته خو ووايه.!

زيد- رضوانه ژر ژر دی خپل کار وکړه نه ډاکټر ته د تللو وخت لرم او نه يی حوصله!
رضوان په غوسی وويل: ولی دومره ناپوه او ضدي يی؟ ماشوم يې؟ پخدای نور خو په سپين ږيری توب يې خو اوس هم چرګه دی يوه پښه لری(د چا خبره نه منل او په خپله خبره ټينګار کول)! نپوهيږم څه درسره وکړم!

زيد په اعتراضی ډول وايی: رضوانه يوځل د يغما مخکې ونه وايی چی سپين ږيری کيږی چی وژنم دی! هغه ځل يی هم وويل چی د لمسۍ په ځای دی يم ، او غلطی می وکړه! که ستا له خولی يی هم واوری بيخی هوايی کيږی!

رضوان کرار وخندل او ويې ويل: ښه نو وروورمې ستاسو د عمر واټن ډير دی هغه لا 20کلنه ده او ته 28 کلن يې! يعنی 8 کاله عمری واټن لری!
زيد جدی او په کلکه لهجه وويل: ښه نو څه وکړم؟ نه چی ته هم فکر کوی يغما زما پر وړاندی لکه ماشومه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیو هیږم ولی بی حرکته ولاړه یم او خبرو ته مې ورته غوږ نیولی!مګم راته د منلو وړ نده، یعنی زید فکر کوی چی زه په رښتیا رښتیا زید سره په نکاح کولو پښیمانه یم او غلطي مې کړی؟! زما د ژوند سړی دومره زر خپه کیږی او زه نیو هیدلم؟منم یی چی زه د خپل د مینه په اظهار کولو کی ضعیفه یم،مګم کاش زید پو هیدلی چی که زه زر ځلي هم ژوندی شم نو زر ځلي به له خپل زید د خپل د ژوند له سړی سره نکاح کوم!
کاش پو هیدلی چې زما لپاره غیر له هغی نور ټول سړیان تر اخر حرام دی!

د ونی شتون ددی لامل شوی وو چې زید او رضوان مې له سترګو پناه وی او یواځې مې ورته غږ اوریده هغه هم سم نه! د زخم په یاد راوړلو مې ټول فکرونه لاهو کیږی او په وارخطایي د زید او رضوان په لور ځم! د هغه څه چې مې مخکی ول په لیدو یې حک او حیرانه پاتی کیږم
زید په چوکی ناست وو نیمه اوږه یی لوڅه وو او رضوان د الکول ډکه پخته د هغی په اوږی ایښی وه! زما په لیدو دواړه وارخطا شول، رضوان له خپل کار نه لاس واخیست او زید په تلوار خپل یخن قاق واغوسته، دواړه مې مخکی ودریدل!

زید په حیرانتیا وویل: یغما ته دلته څه کوی؟
غلی او بی دمی پتنوس په میز کیږدم ستونی مې صافوم او کرار وایم: تاسو ته مې چای راوړه!
زید- ظریفي ترور راوړه تا ولی ځان په زحمت کړ!
ځواب مې ورنکړ او اوږی ته مې ورته اشاره وکړه: ولی زخمی شوې؟
رضوان مخکی کیږی او وایې: هیڅ همداسی یوه دانه پری راختلې وه!
بد بد ورته ګورم او وایم: ته چپ شه مګم خپله ژبه نلری! موضوع مه تغیروه نیو هیږم بیا مو کوم ګل ته اوبه ورکړی!

رضوان غلی شو او وروسته له لږ چوپتیا یی وویل: ښه نو تاسو دواړه خپل منځ کې جوړ راشی زه لاړم!
د تللو په حال کې یی وویل: او هو زید خدای درباندی رحم وکړی( او بیا په خندا ماته اشاره کوی، وای خدایا چی دا بشر په هیڅ حالت کې د ټوکو نه لاس نه اخلی!
رضوان په غتو ګامونو لاړه او موږ دواړه یی یواځی پریښودلو! مخ مې زید ته واړوه او په غوسی مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يغما- ګنګ شوی يی زيده! وايم بيا دی څه کړی! ولی دی اوږه زخمی شوی!
زيد خپلی سترګی ځمکی کی ګنډلی وی او کرار يې وويل: يغما!
يغما- څه يغما!
زيد- درته وايم يی (توضيح درکوم)
يغما- کينه غوږ يم!
زيد په چوکی کيناسته او راته يې کتل! چې ما وويل: لری که يخن قاق دی!
زيد په هغه حال کې چې سترګې يې د حيرانتيا څخه راوتلی وی وويل: اړينه نده، يو کوچنی زخم دی!

وريځې می پورته اچوم او وايم: غواړم چې همدا کوچنی زخم وګورم کومه ستونزه ده؟
زيد د لږ ځنډ وروسته خپل کيڼ لاس د يخن قاق څخه راوباسي! او وايې:نه تاسو صاحب د اختيار يی ميرمن می!
يغما- اه دا يعنی کوچني زخم دی!؟( د زخم په ليدو يې وريځې می ټولی شوی! څلور د وينو ډک سوری! په حيرت وايم: زيد دا په څه زخمی شوی؟ بيا دې جنګ کړی؟

زيد په کرا وويل: په بوکس پنجې،نه زه عاجزک کله جنګ کولی شم هغوی راسره جنګ وکه!

پوف کوم او د الکول ډکه پخته يی په زخم نه چې په زخمونو کيږدم!
چی لاس يی له ډېره درده موټی کيږی چی زما سترګی هم ورسره پټيږي! په کراره وايم: ډير درد کوی؟؟
زيد په ټوکو وايی: نه د سترګو توره،کله چې ستا شفا ورکونکې لاسونه زما په زخم ولګيږي نو شوني ده چې ښه نشي؟
يغما- ډيری خبری مکوه چی اعصاب دی راته خراب کړی! پخدای ماشوم خو نه يی!
چی هر ځل بايد جنګ وکړی!يعنی هر ځل چې له کوره وځي ماسره بايد ددی ډار ووسی چی زخمی راګرځي هووم؟؟

زيد- دا ځل زه ملامت نه وم نپوهيږم ولی له شا يی حمله وکړه زه ورسره ښکيل نشوم يواځې په بوکس پنجې يی ووهلم او وتښتيدل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې وایم الهی لاسونه یی مات شي چې ته یې وهلې! خو په خوله ورته وایم: شپی کورکمن او هګۍ پری کیږدم ددی لامل کیږی چی زخمونه دی زر ښه شی دواړه خاموشه کیږو چی زید په مظلومانه ډول وایی: یغما غوسه یې راته؟

یغما- زما سره خبری مه کوه.
زید- ته وایې د ټول ژوند سره دی خبری مه کوه دا هم مګه امکان لری؟
یغما- نو قول راکړه خپل ځانته به فکر کوی نګوری زخمونه دی څومره ژور دی، نه وایې یو څوک به دی په تشویش شی!؟
زید په شیطانی خندا وایې: هغه وخت دا یو نفر سوک دی چې ماته په تشویش کیږی؟

د ماشومانو پشان په قهر وایم: ستا بدبخت میرمن، یعنی خدایه زه باید دا وحشی غټ کړم؟! ظلم ندی؟
زما په خبرو زید په لوړ غږ خاندی او وایې: د سترګو توره زه کله وحشی یم؟! او هو ته خایستو مې باید لوی کړی.

سومره زه د زید په خندا مئین یم، مګر امکان لری یو سوک دی زید د خندا په حال کی وګوری او مئین نشی ورباندی؟ ناساپه بی اختیاره ورته وایم: زید نکیږی د نورو مخکې ونه خاندی؟
زید په حیرت وویل: ولې ګرانې؟!
ټپ یې ورته نرم او ځنګ ته یې کینم او وایم: پخدای بخیلې مې کیږی! اصلا حق نلری بغیر د ماسک ښځه د باندی لاړشی او هو ویینتیان دی واخله. پوه شوی؟!

زید- عه بلاخره زما یغما هم پر ما بخیلې کوی( بیا خپل سر د آسمان خواته نیسې او په لوړ غږ وایې: خدایه شکر دی اخیره هم زما بت زه د خپل ومنلم.

خپل ګوت خپل پر شونډو نیسم او وایم: هیسسسس چنارګل اوس ضرور دی چی ټول خلک پر ما خبر کړی؟
زید- هو ضرور دی هسی زه خپل پر ژوند باور نلرم غواړم هر څومره ژر چی کیږی زما ګل ما خپل ومنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید د کوم منلو څخه خبری کوی؟ که د زید د مینې احساسات زما په رګونو او فکر یې زما په مغزو کیدی ایا دا منل ندی نو څه دی؟ ولې بت کړم پرېږده خبر شي چې زه د هغه په شتون ژوندی یم! پرېږده پوه شي زه هغه ته تسلیمه شوی یم، پرېږده پوی شي هغه زما د زړه او روح مالک شوی، زید تراوسه آسمان خواته کتل او خندل یې، او زه غواړم اقرار وکړم هر هغه خبره چې په زړه کې مي ده و تراویه مې پوره ویلی نه وه.

شاید نور هیڅکله داسی سم شانس په لاس رانشي،او د اظهار کولو لپاره ناوخته شوی اوسیږی زه پدی تقدیر باور نلرم باور نلرم چی دا بد تقدیر به زما شا ایله کړی او زه دی خوشحاله اوسیږم خپل ستوني صاف کوم او په جلا لفظ او کلمه کلمه وایم:

یغما- زید!
زید- د زید سپوږمې د زید نفس وایه!

غته ساه اخلم او اخیره هم دا دروند بار خپل د اوږ څخه ښکته کوم او ورته هغه خبری کوم، کوم چې هره شپه د خوب څخه مخکې ځان سره مي کول نن پر ژبه راوړم او وایم:
زید زما ژوند زما خاوند زه درسره مینه لرم په اندازه د هر هغه آرمان چې ورته ونه رسیدم، مینه درسره لرم خپل د ژوند غمونو په اندازه، تا زما ټول وجود خپل ځانته تسلیم کړی داسې یې لکه وینه چې په رګونو کې د جریان حالت کې وی.

د وجود زره،زره مې ستا د عشق ګواهي ورکوی، زید که زر ځله ژوندون وکړم هر زر ځله به زما د زړه مالک او صاحب ته اوسیږی، زه تا خپل په ټول وجود باندی منم زما ژوند.

زما د خبرو وروسته یو درنه خاموشی خپره شوه کرار خپل سترګې خلاصه وم، او د زید هک پک د حیرت څخه څهره وینم زید بغیر له کوم حرکت او حتا بغیر لدی چی سترګی ورپه وی مات راکتل چي په مسکا می ورته وویل: زما بت پرست زما په شتون کې ستا فکر او خیال چیرته تللی هوم؟

زید کرار وویل: یغما؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- جان یغما!
زید- زه ویښ یم کنه؟
یغما- هو کنه؟!
زید- ما یو ښیږه ووهه چې باور وکړم ویښ یم!
نږدې ورځم او مخ یې ښکله وم او وایم: مګر امکان لری زه خپل خاوند په ښپیړه ووهم؟

زید د څو ثانیو لپاره په حیرت راګوری او هیس خبره نکوی، د هغه پداسی راکتلو خندا مې راځی اخ زما زوند سومره و دی خبرو ته پتمه و او ما ورته ونه ویل هی هی زید په همغه ناباوره غږ وایې: یغما فکر کوم په آسمانو کې یم او دا ټول یو خوب دی!

کرار یې چونګاری کوم او په خندا وایم: ها اوس پوی شوی ویښ یې او خوب ندی!
زید کرار خاندی او وایې: هو زما د زړه سکون، پوی شوم ولې دی دا خبری مخکی نکول؟ ولی دومره ظالمه وی؟
کرار وایم: نه پوهیږم ولې می درته وخت نکول! احساس می کړو اوس یې وخت دی ددی څخه مخکی چی ناوخته شي درته می اظهار وکړو چی سومره راباندی ګران یې.

زید- ناوخته کیدل نور په کار کی نشته، د عمر تراخیره به یو دبل سره یو د عمر تر اخیره به ته زما د زړه ملکه پاتی کیږی.
کرار خاندم او وایم: امید لرم زما بد تقدیر تا هم ځان سر اخته نکړی زید.
زید- زه تقدیر ستا و مخ ته په ګونډو کوم زما خایستو!

د زید په خبرو په مسکا باندی سر ښکته او پورته کوم مګر امکان لری زید یو خبره وکړی او زه یې ونه منم؟! هیس امکان نلری زید چی څه وایې هغه ضرور کوی، د زید خندا او خوشحالي نه کنټرول کیدل، او زما زړه راته ویل یغما سم ورته وګوره زید خبری کول او ما ورته کتل زه د زید په کتلو کی ډوبه وم چې د آسما غږ راغلو:

آسما- وریندارۍ موږ څو بازار ته، ته هم راځه.
یغما- ته او مریم ځې؟
آسما- هو.
یغما- نه ګرانې تاسو دواړه لاړشی زه مو نه مزاحمه کیږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسما په اعتراض لرونکی لهجه وايي: عه وریندارى ولې مزاحم اوسیږی؟ خپل مریم ویل د یغما سره به بازار ته لاړشو.

زید په کلکه لهجه وویل: آسما ضرورت نشته، کله چې وايي نه ځم يعنى نه ځي، نور نو هسی تینګار مه کوه.

د زید په خبرو د آسما څهره د خفګان څخه ډکه شوه او غوښتل یې چې لاړشی چې ما یې لاس کلک ونیو او ورته مې وویل: سمده آسما جاني ته لاړشه زه هم درځم درپسی.

آسما خپل سر ښکته او پورته کوی او د مانې پخوا ځي چې زید په غوسه ناکه لهجه وايي: یغما فکر نکوی باید زما څخه اول اجازه واخلی؟ زه نغواړم ته دهغه انجلې سره د باندی لاړه شي..
یغما- و دی نه لیدو آسما سنګه خفه شوه! یو همدا نن ورسره ځم نور بیخی نه ځم سمده زما یوسف د زمانی؟

زید- افف ښه چل درځی چې سنګه ما راضی کړی، سمده لاړشه خو ژر بیرته راشه یو ثانیه لا ستا د بیلتون طاقت نلرم پوه شوی یو ثانیه.
یغما- سمده زما خاوند په سترګو.

زید خپل د جیب د پیسو بکس زما خواته نیسي او وايي: واخله هر شئ چې غواړی ځانته واخله او هو هر کله چې راغلی نو خپل دانه دانه خرید به ماته ښه یې سمده؟! غواړم وګورم زما خایستو څه څه اخیستي؟!

د زید د لاس څخه د پیسو بکسه راخلم او خلاصه وم یې، اوو څومره پیسی لری دا چنارګل د پیسو د مینځ څخه دری زره افغانی یواځې د احتیاط لپاره راخلم او بکس بیرته هغه ته ورکوم چې زید په حیرت وايي: همدومره؟د پیسو بکس ځان سره ویسه هسی هم زه ټول ورځ کور کی یم نن پکار می نده.

یغما- هو همدومره بسنه کوی دا مې هم یواځې د احتیطاط لپاره راوخیستل.
زید په خندا وايي: عجب لیوني ښځه لرم، زه سومره نیکمرغه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا لځایه پاسیدم او د ماښي خواته لاړم، آسما او مریم تیار کړی ما ته په تمه ناستې وی.
په تلوار مې خپل حجاب واغوندو او د ماښي څخه بهر شو اسما مریم ته وویل:  مریم چیرته لاړی شو؟

مریم موټروان ته آدرس ورکوی او موټر حرکت کوی د ډیر مزل وروسته موټر دریږی چې آسما و مریم ته وایې: مریم ولړی دومره لری راغلو؟ دا خرید خو په پارک مال کې هم کیدو؟!
مریم په پوسخند وایې: نه د دی ځای جنسونه د پارک مال په پرتله ډیر با کیفیت دی.

مریم او آسما خبری کول او ما یواځې هغه دواړو ته په خاموشې کی کتل، د یو څه خبرو وروسته د موټر څخه ښکته کیږو او مغازی ته داخله کیږو، آسما او مریم خپل د خرید اخیستلو باندی لګیا شول او ما یواځې د مغازی شیانو ته کتل، تقریبا خرید مو خلاص شوی وو او د تلو حال کې و چې ناساپه مریم خپل لاس به سر ووهی او ویې ویل: اه آسما د کالو خلطه مو دوکان کی پریخودل!( مریم خپل د خبری وروسته زما خواته راوکتل او ویې ویل: یغما جانې ته همدلته د موټر په تمه ودریږه ما او اسما ځو او ژر د کالو خلطه راخلو او راځو.

په مسکا ورته وایم: سمده تاسو لاړی شې زه همدلته تاسو ته پتمه یم.

مریم د آسما لاس ونیو، او خپل د ځان پسی په کشه ولو د دوکان خواته ویوړل، ډیر ژر زما د ست ګو پناه شول، تقریبا لس دقی ورته منتظره وم خو رانغله! چې اخیر د مجبوری څخه د مریم په تللی لاری کرار قدمونه اخلم او راونیږم وروپسی ټول مغازی می وکتل خو د مریم او آسما څخه هیس نام او نشان نه وو؟! ستړی شوم او یو یواځې ځای مې بیدا کړو همته کینستم؟!

لا آرامه نفس مې اخیستې نه وو چې ی  آشنا غږ مې واوریدی چې ویې ویل: بح بح ماشالله یغما جانه! د دومره وخت وروسته؟!

په تلوار مخ می شاته وګرځه ویې! او د مقابل کس په لیدو می لاسونه یخ شول او زړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حرکت څخه و دریدی! س....لیم. پښې مې یارې نکوې چې ودرېږم خو کوشش کوم او په سختۍ باندې پاسیږم چې سلیم په شیطانه او مضر خندا وایي: اخیره هم زما په ګیر راغلی یغما جانې( او خپل د خبرې سره سم زما لاس ته حمله کوی او نیسي مې، د هغه پدې کار به چغو او بغارو وایم:

یغما- ماته لاس مه وهه لرې کړه دا مردار لاسونه دی.

خو سوک وه زما د غږ آوریدونکی؟ سلیم په زوره ما ځان پسې د مغازې څخه د دباندې خواته کش کوی او ټول د مغازې کسان یواځې کتونکی وه! یو لا مرستې ته مې رانغي؟! لکه چې ټول شل او معیوب وه؟! دومره چغې مې ووهل چې نور مې غږ نه پورته کیدو اخیره په زارې مې وویل: سلیم ته وقران ما نکاح تړلې، زه اوس متاهل یم

زما په خبرو سلیم په ریخند وخندل او ویې ویل: غواړې پدې خبرو دی ماته چل راکړې؟

سلیم د خبرو په حال زه خپل د موټر خواته کشه ولم، کله چې بوه شوم خبرې ا زارې فایده نکوی اخیری کوشش می وکړو او چیغې مې کړې: مـــــرستـــــه وکړې مـــــــــرســــــــته( سلګې مې بو ته شول خو هیس سوک مرستې ته رانغلو سلیم د موټر دروازه خلاص کړل او غوښتل یې چې ما موټر ته تیله وهی خو ما مقاومت وکړو د موټر دروازه مې ونیول او په زارې مې وویل: سلیم د قران روی ته وګوره، د خدای روی ته وګوره، مکوه! پخدای قسم ما واده کړی پریږده خپل ژونـــ...

خبره مې خلاصه شوی نه وه چې سلیم په مخ څپیړه راکړل او زما دژړا او خبرو مخ یې ونیو او به غوسه یې وویل: بې حیا انجلې لکه د انسان د لور پشان په موټر کې کینه کنه قسم پخدای ټول غاښونه دی په خوله کې درماته وم.

سلیم خپل د خبرې سره سم زه لکه د قربانې حیوان پشان په موټر کې ختا کړم او حرکت یې وکړو، توله لاره مې چغې کړل ومې ژړل او زید ته مې ناری کړل، خو زید نه وه، زید رانغلو، زید غیب شو نور په بدن کې مې هیس حرکت نه وو پاتې سر مې په ښیښې تکیه کړې و، او خپل تقدیر ته تسلیمه شوی وم! ههها دا تقدیر بیا زه بدبخته کړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تقدير دا ځل ضرور زما د خاوند زما د عمر ملا خامخا ماته وی، دا تقدير زما زيد ضرور ځان سره غرق کوی، پدی فکرو بيا مې ژړا ته شروع وکړل او د موټر ښيښه مې په لاس وهل، د ژړا او ساندو مينځ کی مې خدای ته ناری کړل، هغه خدای چی بيحده ورڅخه خفه وم، هغه خدای چی فکر کوم زه يې لياده باسلې يم؟!

خــــــــــــدايه ولــــــــې؟؟؟ خــــــــــــدايه ولــــــــــــــې؟؟؟

تازه د خوشبختې رنګ او بوی مې ليدلی او احساس کړی وو، بيا دی ولی زه د دی نا آرامه سمندر کې ور ګډه کړه؟ مګر د کشتې څخه بغير زه دا نا آرمه سمندر څخه وتلې شم؟ خدايه زما کښتې راسره نده؟! خدايه زما زيد راسره ندی! خدايه زما ژغورنی راسره ندی! خدايه زه ډوبيږم زه غرقه کيږم، قسم دی وی ستا په جلال او جبروت نور ددی دومره تور تقدير د مقابلی توان راکې نشته، والله چې نه يې لرم...

سليم لکه چې کوڼ شوی وو او زما چيغی او زاری نه آوريدل، ړوند شوی وو او زما بد حال او ژړا يې نه ليدل پخدای چی نه يې ليدل، په بيحده سرعت روان وو، د ښار څخه ووتو او نور روښنای نه تر سترګو کيدل، لکه چې نور د خط اخيری ته ورسيدم!؟

موټر په يو کنډواله کې و دريده او سليم لکه يو وحشی ځناور زما خواته راغلی او زه يې په زوره د موټر څخه ښکته کړم، او د يو تور تياری کور خواته يې کشه کړم، لکه يو حيوان يې ځان پسی کشه ولم او زما مقاومت او زور هيس فايده نه درلود، ما يواځې زيد ته ناری وهل هغه زيد چې زما د نار جواب يی په جان، عمر مې، نفس مې نه راکو

سليم د کور دروازه ډير په غوسه خلاصه کړه او په کور کې واچولم او په غوسه يې په چغو وويل: بنده که خوله دي بي شرمي انجلي نور دهغه بي شرف نوم په خوله وانخلي. په ژړا او ډير په سختي او په چغو مي وويل: بي شرف ته يي چي د خلکو ناموس دي لکه شغال راوړي زما زيد غيرت لری دهغه نوم په خپل مرداره خوله دي مه اخله

زما په خبرو د سليم مخ له غوسي سور شو او لکه يو ځناور يي راباندي حمله وکړه وينتيان يي راته په لاس کي ونيول او په زور يي کش کړل،وينتيانو نه يي ونيولم او يو کوټي خواته يي کش کړم کوټي ته ننوتو سره سم مخ يي راته په څپيړو ډک کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کنټرول يې له لاسه ورکړي و او چغې وهلې،کله چې له وهلو مې ستړي شو په ځمکه يې ووهلم او بيرون لاړ او دروازه يې بنده کړه

بې حرکته په ځمکې پرته وم د سر پوستکې مې زياد سوښت کو،پوزه او خوله مې له وينو ډکه وه خاموشه اوښکې مې تويولې د غږ پورته کيدو تاب مې درلود، ليونيو غوندې مې وخندل له غم او ژړا نه ډکه خندا زيد چيرته يې؟! راشه او وګوره خپله خايستو دي! زيد خايستو دي مړاوي کيږي او ته نه يې؟! راشه او مړه کيدل مې ګوره
نيوهيړم تر کوم وخته په ځمکه پرته وم ټول يادونه لکه د فلم په شان د سترګو نه مې تيريدل

د خوشحالې احساس مې کو چې په جرعت او وضاحت مې خپل مينه اظهار کړه خپل زيد ته خپل ژوند ته، شايد پوهيدم ښه شي مې پتمه ندي او خپل ټوله هستي مې د هغه سترګو پر وړاندې کيخوده، اګر چه ما لومړي ځل د حسنات د خاله د زوی محفل کې مې خپل زړه خبر کړي وه خو زيد پري ناباوره وه شايد ګمان يې کو له مجبوريت دا خبري کومه ښه ملامت هم نه وه ځکه په سمو کلمو مې اظهار نه و کړي
خو وس پوهيده ډير ښه پوهيده چې د هغه ځيزونو په اندازه چې ما نلرل ورسره مې مينه کوله په رښتيا چې پوهيده چې زه سومره بيګانه وم د مينې دالفاظو سره.

وجود مې يخ کيدو همیشه له تياره او لوړ ځای ښخه په بيحده اندازه مې ويره درلود، لاسونه مې د زيات ويرى ښخه موتې کړي و او لړزيدل،سترګې مې پټې کړي او د زيد ځيره مې خپل سترګو کې مجسم کړه يعني اوس به سنګه وي؟داسې نه چې بيا خپل کنټرول له لاسه ورکړي وي او ځانته زيان ورسه ويې؟!

پوهيږم حالت به يې ښه نه وي! زما زړه زما ژوند زما د لرې والي طاقت نلري،د هر حقيقت په ويلو اوښکو مې لکه سيلاو په مخ ښپې وهلې لکه ليونيو غوندې شوي وم کله مې خاموشه اوښکې تويولې کله مې خندل او کله مې د چغو غږ کيده، مګم نمې ويلې چې شپې ته يې زخم په کورکمن "ديګ مساله"او هګې پټې کوم؟! که پوهيدم ما لپاره شپه نه راځي ما به همغه وخت زخم ورته سم پټې کړي و

وايي چې ژوند مې يو نيمګړي قصه پشان شو، بيا هم په چغو ژاړم خپل د ټولو غمونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه مي وژړل توله شپه مي همداسي تېره کړه په هره شېبه يي مړه شوم او ژوندي شوم زما تياره شپه د زر کلونو په اندازه راباندي تېره شوه زر کاله بيا هم د خپل خداي شکر ګذاره يم عصبي حمله راباندي رانغله د شپي باندي د سهار لمن خپره شوي وه خو زه بيا هم په تياري کي وم، لکه چي دی کوټي ته زما د ژوند پشان

رڼا نه دننه کيده؟!

د کوټي دروازه خلاصه شوه او زه په ځاي کي مي کيناستم خپل ځان مي ټيکري کي تاو کړو د سليم په راننوتو سره ځان کي تاوه شوم او عجيبه ويره مي زړه کي دننه شوه ټول وجود مي لکه پاڼه لرزيده او ژړا مي ستوني کي بنده وه سليم په شيطاني خندا وويل: شپه دي سنګه وه د ماما لوري؟!

د سليم د هر قدم نږدي کيدو سره زه شاته تلم چي سليم په ريشخند وويل: عه ولي ويريږي له مانه ګراني؟!
په ويرى او لړزى مي وويل:م ..نږ ....دی کيږه راته.
او د دی خبري سره سم مي اوښکو په مخ بيا په بهيدو شول چي سليم وويل: سپوږمي مې ته اول نه زما وي که هغه بيشرفه په مينځ کي نه وي راغلي، اوس هم اوښکي دي پاکه کړه او سبا ناری دې وخوره نغواړم د نکاح تر ورځی نوره هم مړاوي شي...!

په چغو مي وويل: د څه نکـــــــــاح هـــا؟په هوښ يي؟قسم په هغه پاک ذات چي زه د زيد ميرمنه يم يو ځل مي نکاح کړي مګم خلک سو ځله نکاح کوي؟!
سليم- اه يغما چټيات مه وايه ته چيرته او نکاح کول چيرته؟ پدی خبرو دي ما خپل کار نه منع کوي نشی.
يغما- د څه کار بنه به دا وي همدلته مي په سر ځو مرمي خالي کړي.

سليم په مسخره خندا وويل: خيال پلو مه وهه، مګر تا تل نه ويل چي ذلت او خواری تاتهک د مرګ حکم لري؟! نو ولي دا ذلت ته د پاي ټکي نه ايږدي تر کومه غواړي د هغه بيشرفه کور کي اوسيږی؟ تر کومه غواړي دلته داسي واوسيږی؟ باور وکړه د سر تاج مي جوړوم دي فقط يو ځل راته هو ووايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا احمق زما په خبرو يقين نکوی او نه منې چې ما د زيد سره نکاح تړلی! وای دی زما په حال و اوسيږی که سليم د زور څخه کار واخلی؟ په کراره لهجه ورته وايم: ماته ډير شيان د مرګ حکم لري لکه ستا اوسيدل دلته. محترم وروره زه ډير پخوا خپل سري کرښې نه تيره شوي يم دا هم مخ يې ډير پخوا مړه شوي يم ډير پخوا مې خپل مرګ تجربه کړي ما له څه نه ډاره وی ها؟!

سليم په غوسه وويل: زما زغمل دومره سخت کار دي؟! سمده يغما پدی باندي پوهه شه چې د زيد په جنازه دي کينوم ما غوندي درد تجربه کړي، ته د زيد په وړاندی کمه راغلي کنه؟ زه ستا پر وړاندي کم راغلم ما وبايلله ته هم بايد وبايلی؟!

ليوني شوې وم په لوړ غږ خاندم او وايم: ته حتي زيد له ځاي نه ښورولي نشي ته يي دي مړيني خبري کوي؟! ( بيا مې خپل ټوله کرکه په خپلو سترګو او خبرو کې راټوله کړه او په کلکه مې وويل: دعا وکه د زيد لاس درته ونه رسيږی کنه ژوندي دي ښخ کوي سليم! په خداي ژوند دي درته جهنم ګرځه وی!

زما په خبرو سليم بيا خپل کنترول له لاسه ورکړو او راباندي حمله وکړه او په غوسه يې وويل: زما مخکې د هغه بي شرفه په اړه خبري کوي؟( د لاس په شا يې په خوله ووهلم د ويني خوند مې په خوله کې راپيدا شو خو خاموشه نشوم نيوهيرم دا دومره جرعت له کومه شو ما کې چې بيا مې وويل: بي شرف ته يې چې په يوې ښځې لاس پورته کوې، که نر يې د زيد سره مقابل شه چې لاس دي درماتوي کنه؟

بيغيرته ته يې چې د زيد د کتلو څخه لا ويريږي څه ورسيږی د هغه مړ کولو ته ( خپل د دی خبری سره سم خپل د خولي ويني او لاړي د سليم پر مخ ورته توو کوم چې هغه هم داسي کلکه ووهلم چي پر ځمکي پريوتم او په غوسه يې وويل: تاسره بايد لکه د حيوان رفتار وشي د هغه خيال دي له سر نه وباسه که اړتيا شوه تر ابده دي دلته په همدی کوټه کې زنداني کوم.

په سختي او کرار وايم: هغه راځي زما زيد پرته له ما ژوند نشي کولي ايمان لرم چې هغه راځي( وحشي خبره يي راته ناديده ونيوله او ووت وينښتيان مي پر مخ پريشانه پراته ول او دي تيکري له منځه وتي و چپ لاس مي مخ ته ونيوه او خپل د چلي( يعني کوژدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتمي)په کتلو ډوبه شوم ورو مي ښکل کړه اوزږه ته مي نږدي ونيوله د احمد ظاهر يو سندره مي بي اختيار په خوله شوه

بيايی ديدنم ترسم که ان روز
بغير از سبزه اي خاکم نبينی

سترګي مي له سترِيا او بيخوبي پټي شوي" يغما خوب ويني: زيد لکه ليونيو په شان منډي وهلي او نوم يي راته اخيسته دومره په لوړ غږ چي په سل متري کي هم اوريدل کيده زه لکه بت ولاړه وم او لاسونه مي په ځنځير تړل شوي و،زما زيد خفه او پريشان و ښايسته ويښتيان يي په مخ پريشانه ول،لکه د لري ځخه چي زه يې وليدم په ډير چټکي زما خواته راغي په نږدي کيدلو سره يي سرعت کم شو لکه پښي چي ورسره ياري نکوي..

زما په ځو قدمي کي ودريد او پر ځمکه پريوت،ګونګه شوم حتي نوم مي ورته نشو اخيستي يوازي کتل مي زيد په سل زحمت او سختې په ګونډو کينستې او په ريږديدلي غږ يې وويل: خايستو مي ژوند مي برباد دي کړم په والله چي ملا مي ماته شوه قسم ماته شوه، اوري يغما ماته شوه، وګوره زخمونه مي ندي ښه شوي مګر تا نه و ويلي چي پټي کوي راته تسکين کوي ووايه يغما؟!

وګوره درد يي زما له ټول وجودته رسيدلي خبري مي ورته اوريدي خو خبرو کولو توان را کي نه وه همغه د زړه ځنګ ته تور ګلاب مي ورژيده او باعث شو چي ځنځير مي شاته کش کړي، زيد جيګ شو او ما خواته منډيي وهلي او چغی وهل: يـــغما ژوند مي مه ځـــــــــه ..... دزيد ستوني ډک شو او لومړي د اوښکو څاڅکي له هغه ښکولو سترګو ځخه وڅڅيدل واي چي ذره ذره د وجود مي اور واخيست
زما زيد اوښکي تويولي زما ژوند اوښکي تويولي!

د تندي په احساس له خوب پاسيدم ستوني مي سوځيدو، سومره له دي لعنتي خوبونه نه مي کرکه کوله سومره دا زما لپاره کرکجن وه زه پو هيږم زما د زيد حالت کټ مټ همغه وچي په خوب کي و خو حق يي نلره چي وژاړي زما زيد اوښکي نه تويوي بايد استوار وي، کلک وی، زما ژوند بايد زمونږ په ځاي هم ژوند وکړي زما د حق برخه هم بايد ژوند وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه حق چي هيس کله ماته رانکړی شو،اي کاش هيس کله نه وي ليدلي اي کاش همغه شپه په موټر باندي ساه مي وتلي وي، زما زيد ددي بدبختيو لايق ندي زما عشق به هغه بربادي ته کش کړي چي قطعا منصفانه نده،زه مرګ وينم ښه احساس ددی کوټي او هغه تور ګلاب په اړه نه لرم که ونشم کړي مخکي له مړګ نه مي زيد وګورم څه؟ حتي فکر کول يي هم ويروونکي ده حتي له خپله مرګ نه هم د زيد بيا ځلي نه ليدل راته ويرونکي ده ...

يو هفته تيره شوه او هر شپه سليم شکنجه کولم او دومره وخت کي پوهه شوم مريم د سليم هملاسي وه او زما برمته کيدو کي لاس درلود، هيس مي باور نکيده چي تر دي حده پسته واوسيږی،هغه مريم چي په جيګ غږ يي خبري نشوي کولي نن يي زما ژوند په زندان بدل کړي سليم نه ډيره ويريدم هر شپه کوټي ته راته هميشه مي ځان حجاب کي تاووه خو ډير بد يي کتل کله يي غوختل ويښتيان او مخ مي لمس کړي چي زما په مقاومت به مخ کيده،له شپي او د کوټي نه مي کرکه کيده

هر وخت مي چي زيد وليده ورته وايم هميشه دی زمونږ د کوټي ګروپ روښانه پريږدي زه له تياري ويريږم ورته وايم دا کوټه شپي دومره ويروونکي کيږي چي فکر کوم خوري مي! ورته وايم خپل په لاسونو سره دی زما ويښتيان کرار جوړ کړی، ځکه سر پوستکي مي درد کوي،ورته وايم د ويښتيانو له کميدو مي دي نه قهر کيږي بيا به ريښه وکړي او ډير به شي..

ورته وايم د لاسونو شينوالي او مخ زخمونه مي دي ښکل کړي، دي جملي سره مي د ژړا او سلګي غږ پورته شو بيا ژړا مي پيل کړه او چغي مي کړې: زيد چيرې يي؟ په خداي ډاريږم تياري نه دلته يو سوک دي او هر شپه ما مړه کوي ويريږم راشه او ما په غيږ کي ونيسه،قول دی نور دي نه زوره وم بيا دي خبره پر ځمکه نه غورزوم
ژړا می زور واخيست...

قول دی نور تانه بغير چيري نه ځم، بيا مي سلګي غږ پورته شو بيا هم شپه شوه او د دي وحشي د شکنجي پتمه وم،د دروازي د خلاص کيدو پتمه وم،هو انتظار ختم شو سليم دننه شودا ولي دومره ځانته رسيدلي؟ ولي دومره سينګار يي کړی؟ولي لاسو کي ګلان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم په مرداره خندا زما خواته راځي او وايي: زما سپوږمي سنګه ده اهاا له هیره مي ونه وځي تیکري دي په سر که مولوي راځي....

په رپیدلی غږ می وویل: د چشي مولوي؟
سلیم- د نکاح تړولو لپاره!
سلیم خیل د خبری سری یوازي لاس زما مخ لور ته اوږده وي چې زه په ډیر سرعت سره شاته ځم او په کرکه باندی وایم: مردار لاسونه دي ماته مه اوږده وه.
سلیم په خندا وايي: سمده میرمن یغما ، اوس دی ځان تیار که !

ګلان زما غیرږي اچوي او زما د جواب په تمه نکیږی او د باندی ځی! تکری می کلک نیسم او د قسمت لوبې ته په تمه کیږم !سلیم یو بوډا سړی سره راننوځي
سلیم- مولوي صایب پیل کړه!

مولوي د نکاح خطبه ویلو پیل کوي،صبر دوی څه کوي! دی څه نکاح؟
څومره زه بیچاره یمه؟! په تیزه ژړا سره پورته شوم او وایم: د قرآن مخته وګوري! خاوند داره ښځه ځنګه نکاح کوي؟په کوم قانون کې راغلي ښځې خاوند وي بغیر طلاق څخه بل چا سره نکاح وکړي؟

مولوي حیرانه ما ته راګوري او په غوسه سلیم ته وايي: فکر کوي زه ستا ریشخند وهلو لپاره یم ؟ دا مظلومه جلی څوک ده؟ په وهلو تکولو په زوره نکاح ته مجبوره کوي؟ غواړي ما هم د خدای غضب کی اخته کړي؟

سلیم ډیر غوسه څخه سور شوي وه او همغه غوسه ناکه لهجه وايي: مولوي صایب دا جلی زما کوژدنه ده،خپلو اعصابو تعادل نلري یعنی لیون حالې ده، خبرو باندي باور مه کوئ یغما- په پیر ، په پیغمبر رښتیا وایم وګوري دا زما چله ده زید نوم مخ باندی لیکلی شوي په ګوتمې وګوری! زه لیونی نه یم ، پخدای لیونی نه یم دا سړی زه په زوره دي ځایه ته راوستی یم، خدای لپاز لپاره ما سره مرسته وکړي !
سلیم په غوسه وايي: مولوي صایب که نکاح نه تړلي بل څوک به راولم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي په غوسه پورته کیږي او وایي:دا نکاح هیڅ کوم شریعت کي منلو وړ نده او تړل کیږی هم نه ځوانه !

مولوی دا خبری کوی او د کوټي څخه وځي چي زه ورپسی چیغی ناری وهم او وایم: خیره دی مه ځئ لطفا مرسته وکړي راسره خیر ده ...

سلیم په وحشي انداز بیا زما ویښتان ونیول او خوله راته کلکه ونیوله او په غوسه یي وویل: بی حیا جلی زما عزت له مینځه وړي؟ درته ښایم سلیم څوک دی؟( سلیم د دی خبری سره سم زه په ځمکه ختا کړم او خپل د کالیو د دکمو په خلاصولو مصروف شو! د سلیم پدی کککار په ویری مې ورکتل یا الله دا مردار غواړی څه وکړی!؟ په رپیدلی غږ مې ورته وویل: څه کوي؟

سلیم په خبیث او شیطاني لهجه وویل: اوس به وګوري میرمن یغما!
سترګي می پټي کړي ټول بدن مې د ویری څخه لړزیدی په لړزانده غږ وایم: مکوه ! قسم در کوم د هغه چا په سر چي درته ډیر ګران وي، مکوه.

سلیم لکه لیونیانو خاندی او وایي: د ګران انسان په سر قسم راکوی؟ ته یغما! ته ماته د ټولو څخه زیاته ګرانه یي.یغما مجبوره دي کړم خپله ګناه دي ده .

سلیم خپل لاس زما پر اوږه باندی ایږدی چي زه په چیغو ورته وایم: مکوه، مردار لاس مه راوړه، لاس مه راوړه !!!! لعنتیییییی ( بیا هم زما لعنتی ژړا ډیره شوه چي سلیم په همغه مسخره خندا وویل: ولی څه وشوو وډاره شوي سپوږمی؟!

هغه په لیدلو زما وضعیت خرابېدو زړه می بد بد کیده ، مردار انسان! په رببدلی غږ ورته وایم: قسم خورمه یوازي یوه ګوته دي پر ما ولګیدی یوازي یوه ګوته نو هم خپل ځان وژنم او هم تا مردار....؟!

سلیم- خوښه ستا لاس کیده،یا به ماسره نکاح کوي او یا هم..........
خپل په لاسونو باندی خپل غوږونو کلک نیسم او په چغو وایم: خوله دی بنده کړه بیشرفه! خبري مکوه نجسه! نغوارم ستا نجس خبري واروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیم- دا ځلی دي لحاظ کوم بل ځلي دي لحاظ پکار نده.دا ټولی خبری دی زه نه آوریدلې نیسم، میرمن یغما خو سبا شپه که آسمان هم ځکمې ته راشي بیا هم زموږ د نکاح تړلو مخه نشي نیولې....

سلیم دا خبری وکړل او د کوټې څخه ووتی دروازه یې هم ځان پسی قفل کړه، خپل سر می زنګنونو باندی کیخودلې وو، او نامعلومه راتلونکي ته می فکر کوه ! ولی دروغ! راتلونکي ته نه مرګ ته می فکر کوه؟! تور راتلونکي هم پکار نده !خپل ځان وژنې ته ذهن که لاره پیدا کومه خو دا سلیم ځناور ټول تیز شیان راته لري کړي وه زما د لاس رسې څخه.مخکي لدی چې سبا شپه راورسیږی زه باید خپل کار خلاص کړم؟!

سترګي مي درد کوی خلاصولی نشم،روحي تعادل نلرم عجیبه عجیبه شیان کوټې کې ګورم ډارونکي ښایسته څو شپې کیږي مور او پلار مې کوټه کې راته ښکاره کیږی وایي راته! لږ پاتی ده لوري ، ډیر زر یوځای کیږو، ټول پوهیږو یو ځای کیدلی قیمت ژوند مرګ ده !یوځای کیدلو لپاره باید مرګ خوند وګورم...

اوس هم زید راتلو ته په تمه یمه، خپلي روښنای په تمه وم هغه حتما راځي، راځی او ما ددی ځناور دی لاسه خلاصه وي، بیا خپلي خیالي دنیا ته ځمممم

یغما- موری تا زما زید لیدلی ؟ ههههههههه یعنی لیدلی دی نده! که وګوري هغه ښکلا کي غرقه کیږی! زما زید لوړ قد لري، توري سترګي اوږده بانه توري وریځي ګڼی، تور ویښتان، قلمي پوزه، ښکلی شونډی، سپین پوستو کي! موري پوهیږي زید سترګي ویښتانی زما قسمت پشان دي ډیر ډیر تور !

خو توپیر یې دلته دی چې زه مینه د هغه په دواړو (ویښتان سترګي ) بلکل زما تقدیر غوندې هههههه هغه تل ماته (د سترګو تور )غږ کوي مور دومره لیونی دی هیڅ مه وایه!لیونتوب سری مینه لرم ، زما مخکي هغه شوخ ماشوم پشان دي خوو نورو ته جدي بد خویه او سنګین دی .....

په ټولو پاکي باندی زه مینه شوي یم هغه یوازي زما ده ! موري پوهیږي هغه اوله نه خبره وه زه جلی یم خو بده سترګي راونکتل،هغه داسي لکه یوسف پاک ښایسته ده، حیف نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري شايد نور زه هيڅکله د زيد ملاقات ونشم کړی،تېوله شپه مې په پټو سترګو خبري وکړي ذره مې هم خوب ونکړو

سهار شوو زه اوس هم ژوندی وم،شپه نيږدي کيدو سره ډار مي لروو چې سليم به پخپل تصميم ولاړ وی؟ وخت داسي زر تيريدو هيس مې شپه راتلو ته فکر نشوو، ځان سره مي ويل چې همدا چی سليم کوټې ت راننوتی نو زه به وربادی حمله کوم او وسلحه به ورنه اخلم هو! دا يوازيني او آخيرنې لاره همدا ده يا به وژغورل شم يا هم خدای پامان دنيا ....

ښکاره وخت باندی سليم مردار قامت څلور لرګي دروازه کې ښکاره شوو، همدا چې غوښتل مې حمله ورباندي وکړم او وسله ورنه واخلم د يو چا غږ مې واوريده.......

ولی هغه غږی زما ټول ډار لمينځه ويسو!؟ او د مرګ او ځان وژنی لځايه ژوندی پاتی کيدو ته مې فکر وکړو؟آرامه ځان سره زمزمه کوم: زيد،زيد ....
يا الله يعنی زما زيد راغلی !! مړه نشوم او بيا هم د زيد ملاقات مې نصيب شوو! خدايه شکـــــــر دی خدايه شکـــــــر دی.

د اوښکو ډکو سترګو باندي دروازی ته ځير وم مخکي لدی چې سليم کوم کار وکړي دروازه په تيزه خلاصه شوه، وای زما يوسف راغی !زما ژوند راغی! زه ډوبه شوم د زيد په ليدلو کې او که زيد لکه زخمي زمري، بغير له کوم ځند څخه د سليم خواته حمله وکړه! داسي سوکانو يې سليم ته بند کړی وه لکه بوکس خلطه پشان موټو لاندي نيولی وه ...

هر بوکس چې زيد سليم وهې زما يو زخم باندی لکه چي مرحم کيخودو، سليم نغوښتل ځان څخه دفاع وکړي لکه يو سبک او بی ارزښت شي ځمکی باندی پورت وه د زيد چيغو نارو زه خپل د سمندر پشان خيالونو څه اوباسلم: بی غيرته، زما ناموس ته سترګي پتي کړي وي، بی پلار نجس مرداره، زما ګل زما د بڼ څخه شکوي؟ ژوند دی درباندي زهر کوم پخدای پيښمانه کوم دی لکه سپي پشان بايد د هغې د پښو لاندي وغورځيږی او بخښنه ورڅخه وغواړي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید د هر چغو او نارو سره، خپل د سوکانو او لغتو ضربه ډير ول، سليم يې کلک د
ويښتانو ونيوه سر يې ورڅخه پورته کړو، اخ زړه مې يخ شوو! زما خپل د وهلو خاطره د
سليم له لاسه د فلم پشان د سترګو څخه مې تيره شوه همغه شان وهل ټکول سليم ماته
راکړی کوم چې زيد دا مردار ووهه،زيد چغو سره خبري کولی لکه حساب چې حسای
يې اخيستي د سليم څخه ما يې خبري نه آوريدل يوازي د زيد د لاسونو حرکت مې په
سترګو ليدو!

سليم فکر کوه زه بی پناه يم! زما لپاره څوک نشته حساب پوښتنه وکړي؟ خو بايد پوی شی
زما شاته لکه زيد غوندی يو غر تکيه او پناه مې ده، بايد پوی شي د يو واده کړی ښزی
تخته ول څه سرانجام لری. زما عمر، زما ژوند زما خاوند تراوسه ماته يی فکر نه وو
شوی،که هغه زه پدی حال وليدلم چې ګل يې مړاوي شوي او عمر يي نيمې ته رسيدلې
غروری شايد مات شي

کاشکی دي حالت کې ما ونګوری! کاشکی دا شين والي د بدن مې د وهلو له لاسه او دا
وچ وينی زما د مخ ونګوری لکه د کيسو پشان خيال وي او لکه شيشه مات نشي د زيد
روسته يو بل څوک کوټې راننوت چهره راته ډيره اشنا وه؟! اووو دا سړی خو هماغه
مولوي دی؟! يعنی مولوي په واسطه زيد پيدا کړم؟ مولوي کوښښ کوه زيد د سليم څخه
جلا کړي!

د هغه بوډا مولوي زور چيرته او زما د زيد زور چيرته؟ په ډيره بدبختی سره مولوی زيد
د سليم څخه چې پر ځمکی باندی خپل په وينو کې لت پت ډوب پروت وو جلا کړو! زيد
ژوره، ژوره ساه اخلي لږ ستړيا غوسه کمه کيږي
مولوي زيد ته وايي: زويه دا زه د باندی باسم( مطلب سليم( بس دی مړ دی کې خپل ښځه
د لاس څخه ونيسه او د دی ځای څخه ژر لاړشی، اوس پوليسان رسيږي دا هسي هم
حرکت کولی نشی( مولوي دا خبره کوی او سليم په کش کولو کش کولو د کوټې څخه د
باندی باسي!

اوس زه او زيد يوازي پاتی شو، اوښکی می لکه سيلاو په مخ رارواني وي يوه لحظه هم
درليدلی نه زيد خپل ښايسته د سپوږمی پشان مخ زما خواته راړوي!اوس کولی شم خپل
صنوبر(يو رقم ګل دی ) سم وګورم وای په کتلو کوم خشي نوم يي زړه دی په سينه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې مات شو زما خاوند څومره مات شوي وه ، ړیري بې حده لویه شوي وه،سترګو بې خوبې څخه نارې وهلي!

ولې زه دلته ناسته یمه مګر نګورې زید راغلې!په سختي پورته کیږم خواته یې منډه کوم رسیدلو سرې یوځای د زید په نارینه او امن غیږي که پناه اخلم، د دنیا د ټولو امن ترین ځای که اوسیږم نور نه سلیم او نه تیاره څخه داریږم! زید بې حرکته ولاړ وه، او یوازي د زړه درزا وه چې آوریدل مې زما اوښکو دا لعنتې اوښکو د دریدو نوم نه اخیستو..سر مې د زید پهسینه که نور هم ننباسم، چې هغهخپل مردانه لاسونه زما د ملا څخه تاوه ویې، چې زه په ژړا او ګیله مند لهجه ورته وایم:

یغما- چیرته وي؟ ؟؟ زید چیرته وي؟ ؟ ولې دی دومره ناوخته کړه؟( ژړا مي ډیره شوه ځان مې نور هم د هغه سینه پوره جوخت کړو،زید خاموش وه، د لږ ځند وروسته په نیولې غیر نورمال لهجه وویل:زید یغم ......ماا.....! (لفظ یې نیمه کې پاتې شوو او سر یې زما ویښتانو که ننباسي! ژوره ساه اخلي او زما ویښتان ژر، ژر ښکله ویې او وایې:

زید- زما خوږې مه ژاړه، زما سپوږمې مه ژاړه، وګوره تر یوې اندازه پوري زه هم مات شوي یم قسم پخدای نور ژړا لیدلې نشم..! ( د زید غږې رپیدی ، سمي خبري نشوو کولې ژړا مي ستونکې بنده کړه سترګي مي بندي کړې ترڅو اوښکي مې د څڅیدلو لاره بنده شي، زید زما مخ خپلو لاسونه کي ونیوه او په ځیر ځیر یې زاا مخ ته کتل

زما د مخ په لیدو د زید د څهرې رنګ والوتې او په حیران لهجه یې وویل: یغما مخ دي؟؟؟

زه خپل سترګي د اوښکو څخه پاکې کوم د هغه لاسون چې زما پر مخ دی لاسونو مې نیسم او ښکل کوم یې په دروغجنې مسکا ورته وایم: هو زما مخ لږ حساس دي جدی مه نیسه! لږ وخت کې یوازي څو ورځو کې ښه کیږې !ته راته ووایه ما پسې خفه شوی وي چنار ګل خان؟!

زید بغیر له کوم خبرې هک پک مات راکتل بغیر د سترګو له رپیدلو څخه یوازي د ستوني منه( مطلب هغه غتې) پورته ښکته کیدل زید ګونګ شوي وه بلکل، د زید حالت څخه داریږم ، پوهیدم زما په لیدلو عرش څخه فرش ته وغورځیده کرار ورته وایم: زید

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ایه خفه وي راپسي؟!
زید په سختي باندی په آرامه غږ وایي:هاااا خفه شوی وم؟ زه مړ شوم یغما مړ شوم ، تباه دي کړم ، زما خایستو زید څخه هیس پاتی ندی ، په والله ندی پاتی...
:□#شهاب
د زید لفظونه او خبری زما په روح باندی تاثیر کوه، په درده ډکه خندا ورته وایم: زید باید ژوندي اوسي یغما لپاره! خپل عمر لپاره یی،تور سترګو لپاره یی ، هغه یغما لپاره چې هر شپې ستا په یادولو تیره وله ژوندي پاتي شوه!دا دلیلونه زما د خاوند لپاره بسنه نکوی! زه ستا ځنګ کي د نړی تکړه انسان یمه.یوازي ستا لپاره می هرڅه په ځان تیر کړل دا یوازي څو دانی ساده زخمونه دي. تیر شو هیر شو زید نور ځان مه غمژن کوه.

زید آرام زما تندي ښکلی کوي او وایي: یغما ژوندي ورته دوزخ کوم، ستا د دي ټولو دانه دانه زخمونه حساب ورڅخه اخلم ! سړی به نه یم که د هغه نجس منحوس د مخ نقشه ورته بدله نکړم....

زه بغیر د کوم خبری څخه د زید په الفاظو کي چې ماته یي د خوړی زمزمي څخه په کمه نه غوږ نیولي وو، د دروازې په پرانستل کید او د ډزو غږ زما څخه د خبرو کولو فرصت واخیست، هر شئ په بشپړ سرعت سره پیښ شو! زه نه پوهېدم چې څه وشول او څه ونه شول! یوازینی شی چې مي احساس کاوه هغه درد و! د زړه په

ځنګ کي مي د مړینی درد احساس کړ، په ځمکه راولیدم، ساه اخیستل راته سخت او سخت کیده،زید د لیونی په څېر چیغي وهلې، هر څه راته ګنګس وو!غږونه نور هم زیات شول داسي ښکاریده چې پولیس کور ته راننوتي دي!
زما ژوند هم د فلمونو په څیر شوی و، که پولیس یو څو دقیقې مخکې راغلي وایي خدایه ستا په خدای کي څه کمیدل؟

هو، زما تور تالي او بخت دلته هم خپل کار وکړ! زید زما ځنګ ته کېناست او زما سر یې په غیږ کې کېښود! په ورخطا او غیر نورمال (نیولی غږ) وویل: یغما، پاځېږه، ولې داسي راپرېوتي؟هله، ښه جلی، پورته شه، وګوره، زه راغلم، هرڅه پای ته ورسیده! زما خایستو ، یغما مي،ته نه اوري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوره ستا سپین کالی( د واده جامې) مې هره شپه په غیږه کی نیول!غوسه نشی ښه!باور وکړه لکه د سترګوو په شان می ساتنه تری کوله!حتا یو لکه (رټه ټاپه) په نه ده اچول شوی!

زید خبرې کولې زه یوازی تماشه کوونکې وم، د خبرو چانس ما نه درلود، د سینه درد مې په ورو ورو زیاتېده! ځومره چې ما فکر کاوه چې سینه مې ټوټه کیږی! زید په چیغو او په ډکو اوښکو یی وویل: لعنتی ،نو دا امبولانس ولې نه راځي! خدایه زما ګل ځی! خدایه، بی نفسه کیږم!( زید زما مخ په خپلو لاسونو منځ کی نیولی او په ګیله مند لهجه یې وویل: یغما، زما ګرانې، واورۀ! رضوان د واده تالار انتخاب کړی

که تالار ووینې حتماً، د هغه غوړونه اوباسی! زما هیڅ خوښ نشو! پورته شه، موږ به په ګډه رضوان ته سزا ورکوو!( ما ورته په ګنګس انداز کتل د زید خبری پای ته نه وی رسولې او مخ یې له اوښکو ډک شو، زما خاوند ........زما پناه.... د آسمان د پراخ والې په اندازه ژړل او زه بې وسه پریوتی وم! هغه ژړل او زه مړه کیدم! اوښکې بهېدې چې زما بې وسه بدن لړزېده.

درد مې دوه برابره شوو چې د زید اوښکو توان مې نه لرلو.زه په سختۍ سره خپل لاسونه پورته کوم، او په لړزه توګه د زید مخ ته یې نږدی کوم او د هغه د اوښکې په خپلو ګوتو پاکوم! په بی وسه او نیولې غږ ورته وایم:

یغما- زید...زما خاوند.... ژاړ.... ژړاه....نه ..... کوی !م..مه ژاړه...مه... ژاړه....
هغه زما ګوتې ښکلوي او دوام ورکوي،"یغما، ته باید زما لپاره د واده جامې واغوندې!" اوری؟؟؟؟؟اه ستا په خیر می تنبله ناوی نه ده لیدلی!اه پورته شه ....

نو ګوره،بیا عصبې کیږم!( اه زما زید عصبې توازن نه لری، نور د خبرو توان راڅخه لاړو چې د زید غږ مې بیا وآوریدی: رضوان، هغه به لاړه شي، ورته ووایه زه به له هغه پرته مړ کیږم، رضواااان ووایه چې مه ځاااا، هغه له ما خفه ده! هغه زما سره خبرې نه کوي، ته ورته ووایه،ته یی لالا یی نه یې!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاریده چې رضوان راغلی، خو ډېر ناوخته راغلو! کاش چې مخکی له تلو مې حسنات ورته خاستګاری کړی وی! خامخا به خوشبخته جوړه به وي د رضوان او حسنات د واده په فمر همغه حال کې مې په شونډو مسکا خواره شوه! رضوان په منډه زما خواته راغی او ویې ویل: زید، جان لالا، ارام شه، امبولانس راځي، یغما هیڅ ځای ته نه ځي مګر پرته له دې چې خپل تورکی لالا پرېږدي! همداسې نه ده یغما!؟؟مګر تا نه ویلی چې وریندار غواړم؟

په بې نفس او ناتوان شونډو مې کلمی په ځیر وویل: تو..ر...کیه....
رضوان پورته شو او په چټکی له کوټې ووت! زید بیا هم چیغې وهلې او ویل یې: ژوند مې،لږ نور هم وزغمه(طاقت)، اوس رارسیږی، زما لپاڼه وزغمه(طاقت) وکړه!
زما سترګې ورو ورو پټیدی او د زید مخ ماته تار تار شو! یوازې د زید شعر چې له اوښکو او چیغې سره ګډ و، وروستۍ خبره زما په حافظه کې پاتې شو!

خوش خرامان می روی
ای جانِ جان
بی من مرو...
سر به خرامانِ منی
ای دل و جان
بی من مرو....

" دلته ملګرو داستان د دریم کس مطلب د لیکوال په ژبه بیان کیږی"

وروسته له هغه چې یغما له مریم سره لاړه،زید بی قراره وو ،په صالون کې په عصبي توګه قدم وهلو، د یغما په انتظار کې وو! یغما چې رانغله! څو ساعته تېر شول، د زید ناراحتی دومره زیاته شوه، چې په هرو پنځو دقیقو کې به یې له مور څخه د جینکو د راتګ په اړه پوښتنه کوله! زید په صالون کې ناست و او د یغما د راتلو انتظار یې کاوه،د جنګ او غوسی تیارې یې نیولی وه د انجونو د ناوخته کیدو په خاطر!

چې د اسما د ژړا غږ زید له فکری حالت څخه را وباسي!اسما په اوښکو او ډار سره زید ته مخ کې وویل:لالا وریندرا..وریندار....

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید په تلوار وویل:اسما یغما چرته ده؟ولې ژاړې؟
اسما په مشکل سره وویل: لالا یغما وی وړه... وریندار‌ه یې په زور وی وړه!
د وریندار‌ه یی وی وړه!!!!!! دی کلمې په اوریدو! د یخ اوبو سطل په زید مخکی خالي شو او بې نفس و دریدی او د لیونیانو پشان یې چغې کړل" څه وایې په هوښ یې؟ چا یغما ویوړه؟ مریم چیرته ده؟

د زید په خبرو د آسما ژړا نور هم زیاته شوه او ویې ویل: نه پوهیږم پخدای نه پوهیږم لالا! مریم بهر منتظر ده، زید پوی شوی وو چې د یغما په تخته ولو کې خامخا د مریم لاس شته نو ځکه بغیر له څه ویلو په تلوار او زغاسته د دباندی خواته منده وهی، د مریم په لیدو په غوسه د هغې خواته حمله کوی او وایې: چیرته ده یغما؟ مه وایه چې خبره نه یم چې پخدای قسم مغزی دی در مات کوم.

مریم په ویری او بنده،بنده لهجه وویل: زید د څه په اړه خبری کوی؟ زه له کومه پوهه شم چې یغما چا وړی؟
زید مریم په ځمکه ختا کوی او په غوسه ورته وایې: دعا وکړه کومه خبره چې کوی رښتیا وی کنه خپل قبر دی خپله کیندلی دی.

زید د مریم د ښنګ ښخه په غوسه تیریږی او خپل موټر خواته ځي، موټر په چالانده کولو سره رضوان ته زنګ وهی او ددی پیښې په اړه یې خبر کوی، رضوان هم د زید پشان ورختا کیږی دواړه د پولیسانو حوزی ته ځي او شکایت درج کوی، د هغه ځای ښخه چې د زید کورنی زیات خلکو پیژندل نو د حوزی مشر قومندان ورته زیات دلداری او د یغما د پیدا کولو قولونه ورکوی، د زید حالت نورمال نه وو رضوان پوهیدی خو هیس کار یې خپل د ورور د ښه کیدلو لپاره نشو کولی..

زید پداسی حال کې نه وو چې سوک دی ورسره په کراره خبری وکړی او هغه دی واوری، یو سوک د زید د سری کرښې ښخه تیر شوی وو د زید وینه په جوش راغلی وه خو هیس کار یې نشو کولی او مجبور وو ځان کنټرول کړی، دواړه مانې ته ننوځي ټول موکود کسان په ژوره فکرونو او خفګان کې وه هیس سوک خوشحاله نه معلومیدی، زید بغیر له کوم خبری د یغما د کوټې خواته ولاړی او دروازه یې ځان پسی قفل کړه او هلته یې سر په زنګانه کیخودو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یغما عطر ټوله کوټه د بویه ډکه کړی وه، ژوره ساه اخلی او د یغما عطر خپل سینې ته کش کوی کوټه د نظر لاندی تیره وی او په غمجنه مسکا ځان سره وایې: یغما ملا دی زما و برباد کولو ته تړلی ده؟! هاا؟! زما خایستو وګوره زه دی کوم حال ته رسه ولې یم ... ای زما لیونی خبره یې کوم ورځ چې ما ستاس سره تصادف وکړو او تا راته په هغه سترګو وکتل همغه ورځ هم پوی شوم چی جنۍ یې! او هم می دربانډی زړه وبایلود...

سومره آسانه می زړه تاته ولړزیده، هغه زړه چی د هیس جنۍ په لیدو شور یې لا نه وخوړلی، ستا به یو نظر د عرش نه فرش ته راغي همغه ورځ پوی شوم چی زما ورځ را توره وی، همغه ورځ پوی شوم ته زما د مرګ فرشته یې، سومره هغه ورځ غوسه وی! سم د وحشی پیشوګانو پشان پوهیدم چی جنۍ یې نو ځکه تل می درته فکر و او ساتنه مې درنه کول او کوشش می کوی نور کسان خبر نشی دربانډی....

یغما تل د لری ښخه ستا خیال مې ساتی وګوره یو نن بی پروای می وکړل او انجام یې ستا الوتنه وه زما د ښنګ ښخه، یغما پوهیری هره شپه ستا د عکس په کتلو ویده کیدلم؟! زما ناوکی زما سره دی څه وکړل وه ظالمې! یغما تا پر ما باندی تاریخ د سر ګردان کړو ما ټول بیچاره کړل خپل په غرور خو تا زه بدبخت او بیچاره کړم د ټولو ښخه..

لکه چې زما ښخه دی بدله واخیسته د ټولو هغه هم ښنګه سخت بدله دی هم واخیسته! پوهیری کله چې دی هغه خبری وکړل( مطلب د یغما د مینی اظهار د سلیم په لاس د تخته ول کیدو ښخه مخکی) خایستو مې په اسمانوو کی وم فکر نی کوی یو ښایسته خوب وینم، سومره کم و زما د خوشحالی بخت؟! که خبره شې څه پریکړه مي نیولی وه هغه ورځ( کوم ورځ چی یغما بیخبره د کندز خواته روانه شوی وه) شاید رانه مروره شی که هغه ورځ ستا ژړا نه وایې ما دواړه د مرګ لاسونو ته ورکول...

پوهیری کله چی خبر شوم تللی یې حال می ښنګه شو؟ پوهیری کله چی دی خپل وینتیان ووهل ټول شپه ما سنګه تیره کړه؟ پوهیری کله چی عصبی حمله دربانډی راغله ما په شپو شپو خوب نشو کولی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید د لیونیانو پشان ځان سره خبری کول، خپل د سګریټو قوطی راوباسي او د سهار د هوا روښانه کیدو پوری دوه قوطی سګریټ وو هی، ټول کوټه د سګریټو د دود څخه ډکه وه سهار د مولا په آذان د پولیسو حوزی ته ولاړی، خو د یغما څخه هیس درک نه وو؟ داسی لکه چی ځمکه چاودلی وی او یغما دی پکی ننوتلی وی؟! ټوله ورځ یې حوزه کی تیره کړه خو هیس خبر یې د یغما څخه پیدا نکړو شپې ناوخته کورته راغي او بیا د یغما کوټې ته یې پناه یوړه او خبری شروع کړل د سو داسی کس سره چي شتون یی نه درلود....

د یغما بالښت یې په غیږ کی نیولی وو او د زیات عصبی او نارحتی څخه خوب وړیې وو، نن هم تیره شوه او د یغما څخه هیس خبر ونشو زید د جنون او لیونتوب اخری حد ته رسیدلی وو، هیچا دا جرئت نشو کولی چی د زید سره دی خبری وکړی حتا مور یې؟!!!

زید بیا د یغما کوټې ته ورغی او د هغې د کوټې په کټلو شو د واده د سپین جوړی په لیدو هک بک لکه ساه چی د بدن څخه وتلی وی ودریدی، هغه کال یې په کټ کیخودل او خپله هم ورسره پریوتی توله شپه یې د هغه کالو سره خبری کول: یغما پو هیږی هره شپه دی پدی کالو کې تصور کوم ای ظالمې سومره ښایسته ښکاری پدی سپین کالو کې....

په همدی توګه یوه هفته تیره شوه، داسی یو هفته چی مور ته په هفتې تیره شوه خو زید ته د زر کالو په برابر تیره شوه، پدی یو هفته کی هر ځل د مریم په لیدو د غوسی څخه یږ خپل کنترول له لاسه ورکو او که رضوان یې مخه نه وایې نیولی خامخا یې مړه کول، یو شپه ورته د حوزی څخه ورته زنګ راغی او د یغما د پیدا کیدو خبر یې ورکړی....

په تلوار یې ځان تر حوزی ورسه ویې، خبر راوړنکی مولوی وو! هغه د زور د نکاح تړلو سره د زور د نکاه لفظ په اوریدو د زید لاس او پښې له کار وولیدل او د دریدو توان یې له لاس ورکړو په ناباوره لهجه یې وویل: زما د خایستو په سر څه بلا راغلي؟

زید د پولیسانو د خبر په تمه نه پاتی کیږی مولوی ځان پسی کوی او د هغه د ورکړل شوی آدرس په لوری حرکت کوی، دومره په تلوار ځی چی په نیم ساعت کی هغه ټاکل شوی ځای ته هغه کندولې پشان کورته رسیږی! په تلوار د موټر څخه ښکته کیږی او د کور په خوا زغلی بغیر له کوم ځند څخه کوټې ته ننوځي او د مخامخ صحنی او منظری

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ليدو هک پک کيږی، زيد د اول ځخه په سليم شک درلود خو فکر يې نکوی چې دومره رزيل دی اوسيږی ...

خپل په ټول قدرت او توان يې سليم د لغتو او بکوسونو لاندی ونيويې، دومره کلک يې سليم وهي چې هغه نور د حرکت توان نه درلود ضرور شايد هډوکی يې ورمات کړی وه! مولوی سليم د کوټې ځخه بهر وړی زيد تراوسه يغما ته فکر نه وو شوی! د يغما په ليدو نړی ورته يو دم تياره کيږی، مخ يې د وهلو ځخه شين او تور اوښتې وو ويښتيان يې نامنظمه د ټيکری لاندی کش کړی وه..

يغما په غيږ کې نيسی وصال يې ډير کم وو د توفنچې په ډز، د زيد نړی کامل خرابه او برباده کيږی يغما پر ځمکه غورځيدلی وه او زيد دهغه سر په غيږ کې نيولی چغی او سلګې وهل، رضوان د پوليسو سره يوځای وررورسيدی، خو ډير ناوخته وه ....
زيد د ليونيانو پشان د يغما نيمه ژوندی جسد سره خبری کول، ګيلې کول او ژړل يې هو هغه زيد چې د الماس پشان نه پری کونکې وو، خپل د معشوقې لپاره يې ژړل او ساندی وهل...

خبل د مړاوی شوی او رژيدلې ګل او برباد شوی عمر لپاره يې چغې وهل، د يغما د نيمه خلاص سترګو په بند کيدلو د زيد بند د يخ پشان شو او چغې او ناری نور هم زيات شوه، رضوان بی غږه ژړل او زيد يې په غيږ کې نيولی وو او د هغه د کنترول کولو کوښښ يې کوی زيد چغی وهل: رضوان يغما لاړه، پخدای لاړه، رضوان هغه لاړه، پريږده زه هم لاړشم، ساه مې لاړه، زوند مې لاړه، پريږده زه هم لاړشم رضواااان مړ کيږم...

امبولنس راورسيدی او د يغما بی ساه وجود يې په سپين چپرکټ وځمله وو، زيد د رضوان په هر خومره منع کولو او نه پريخودلو په امبولانس کې د يغما د کټ سره کينستې او د شفخانی پخوا يې حرکت وکړو...

په توله لاره کې زيد د يغما په کتلو کې ډوب وو، يغما چې رنګ په مخ نه درلود او د يو مړاوی شوی ګل پشان ويده وه، زيد ګونګې شوی وو حتا نور يې د يغما سره لا خبری نکول، او داسی ښکاريده چې د يغما ځخه دی هم خفه وی! د بت پرست بت د هغه د سترګو وړاندی د غر له څوکې ځخه په وليدو وو! که ويې نه نيسی خامخا د بت د مات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدو مخکی زید نابود کیږی، امبولانس د شفخانی خواته نږدی کیږی او د یغما نفس او نبض هم په دریدو دی ....

امبولانس راغي او د زید بت يي عاجله کوټې ته بوتله،زید پر ځمکه ناست و حالت يي بيخي د هغه خلکو په شان و چي د ژوند اخري شيبې تجربه کوي،هيس څه د هغه يو هفته مخکې زيد نه پاتي نه و هر سوک چي روغتون مخي نه تيريده نو د زيد باندي زړه سوزيده.زيد د خفګان په سمندر کي ډوب وهيڅا ته يي پام نه و بغير خپل سپوږمي نه لږ ځنډ وروسته رضوان رازي او زيد پر ځمکه وينې چې په سوچونو کې غرق دی..

د زيد پر ليدو د رضوان په زړه کې عجيبه غم ننوزي، هغه زيد چي هيسکله په چا زړه نه سوزيده نن د يغما لپاره پر ځمکه ناست ده او په خود نده!اچا ګمان کو چي يو ورځ به زيد د ميني سمندر کي دومره ډوب شي داسي ډوبيدل چي د بربادي په قيمت يي وي؟!
رضوان د زيد خواته ځي او ښنګ ته يي کيني او ورو وايي: زيد ! ته کور ته لاړ شه زه دلته يم هر وخت هر څه وشو زه درته وايم.

زيد هيس خبري نکولي او سترګي هغه کوټې ته چي يغما پکي وه پاتي وي، ايا مينه يي خپل بت پرست يوازي پريږدي او ځي يا وفا کوي او پاتي کيږی؟ رضوان بيا وويل: زيد لالا جانه اوري حالت دي ښه ندي جيګ څه
زيد ستړي لهجه باند ورته وويل: رضوان چيرته لاړ شم نګوري نفس مي تلو کي ده نګوري سوک په سپين تخت د شفخانی په وينو کې لت پت پراته ده؟ورور دي برباد کيږي نګوري څه مي پر سر راغله؟! چيرته ولاړ شم چي يغما دلته ده؟!

رضوان خپل مخ زيد نه پټ کړو او په لاسو يي خپل مخ اوښکي پاکي کړي،اوښکي تويولي دي دواړو لپاره اوښکي تويولي د يغما لپاره چي د خوښي مخ يي نه وليدلي او شايد ونه ويني هيس ... اوښکي تويولي د زيد لپاره چي د سيند غاړي ته ولاړ دي که يغما ګټوونکي نشي زيد هم ورپسي ځانن غورزه ويې.څه يي پر قوي ورور شوي و؟!

هغه ورور چي خپل د نيکه پر مرګ چې د پلار ښخه ورته ډير ګران وو يوه اوښکه تويه نکړل، هغه ورور چي قدرت نښان د دوی په کور کې وو، هغه ورور چي د پلار تکيه او ډډه وو، هغه ورور چي روضوان ته يي تل د مشر ورور پشان حمايت او مرسته کول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما غم څه حال ته ورسه ویې؟!!

زید ماشومانو پشان په ګیله منده لهجه وایي: رضوان که لاړه شي که زما د حالت مراعت ونکړي! رضوان نزي کنه؟ هر وخت وینه شوه ښه صحیح پري غوسه کیږم لیوني غواړي مونږ پعذاب کړی...نا ... نا نه غوسه کیږم یو ځل سترګي خلاصي کړي ټول قهر او ناز یي اخلم..

رضوان خپل غږ صاف کړو او ویې ویل:هو وینیه کیږی یغما تا نه بغیر هیچ چیرته نزي خو که وینه شي اوتا دي حالت کي وګوري دربانډي په غوسه کیږی.
زید- پریده غوسه شي پریږده وګوري له ما سره یي څه وکړل؟! پریده وګوري ټوکه یي هیس ښه نه وه.

رضوان زید غیږ کي نیسي او ارامه وایي: هه نر دومره ضعیف نه وي خپل کنټرول لاس کي ونیسه.!
زید- چا لپاره نر توب وکم دهغه چا لپاره چي دي لعنتي کوټه کي د چړو لاندي ده؟
د زید هر کلمه د رضوان زړه په ښنه کړي و هیس کله یي زید دومره بي وسه نه و لیدلي، که پلار اومور یي زید وګوري خداي نکړده د دي دنیا نه به ولاړ شي،مور یي فشار لري او پلار یي هم زړه حمله پري تیره شوي ده.هیس کله د زید داسي کتلو توان نلري ...

زید۔ رضوان دا دروازه ولي نه خلاصه وی دا ډاکټران؟ داسي خو به نه وي چي یغماا----
--(زید خپل خبر نیمه پریخوده حتي د خبري کولو نه هم ویره لرله..بعد له ډیري مودي عملیات کوټه خلاصه شوه شین آسماني کالو والا ډاکټران راووتل زید په منده خوا ته ورغي او په ورخطا یې وویل: میرمن مي سنګه ده
ډاکټرانو زيډ ته وکتل او ماسکونه یي ښکته کړل او ویې ویل: عملیات پخیر تیر شو په وخت مو راوسته خو پاسیدل یي د خداي لاس کي ده!!ځکه زخم سره مریض حمله عصبي هم لرله ....!

زید خپل غږ صاف کړ او بي واره یې وویل: یعني امکان لري ,,,,,,,,,چي هیس کله وینه نشي ,,,,کماا ا....!
ډاکټر۔ هو امکان یي شته البته ناروغ باید د خپل د ویښ کیدو لپاره لامل پیدا کړی!؟ مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې مغز فعال دی باید یو امید او ډاډ ورکول شي ترڅو هغه خپل بدن ته د راویښ کیدلو اجازه ورکړی! کنه زمونږ له لاسه څه نه راځي.. هو متاسفانه اوس کما حالت کیده ....

زید سترګو باندي تیاره شوه که رضوان نه وایي شاید پر ځمکه غورزیدلي وي، ډاکټران لاړل او زید یي همسي برباد پریخود رضوان په تشویش وویل: زید وروره ښه یي؟

زید خپل سر وښورو او په منډه موټر خواته ورغي...
رضوان- زید چیرته صبر موټرواني نسي کوي حالت دي ښه ندي دواړه
ځو زیدددددد....

خو زید بغیر د رضوان د خبرو د آرویدلو خپل موټر ته لاړ او په اخر سرعت یي حرکت وکو،ځان خالي کولو ته باید چیرته تللي وایي؟ هغه ځاي چي خپل قسم یي پوره کړي؟
حوزي ته ننوتو سره سم قومندان ورته ښه راغلاست وویل: زید خان پخیر راغلې انشالله حاجي صیب ښه دې؟

زید خپل سر وخوځه ویي او په جدیت یي وویل: چیرته دي؟
قومندان- په یو تیاري کوټه کیدي.
زید خپل سر د قومندان غوږ ته نږدي کوي او کرار وایي: تیزاب لري؟؟
د زید په خبره د قومندان سترګي له حیراني خلاصي پاتی کیږی او په کلکه لهجه زید ته وایي: قانون به فیصله وکړي ..

زید په معنا داره الفاظو ورته وایي: که قانون واخلم؟
( د زید په خبره د قومندان په څهری شیطانه خندا راغله چي زید بیا وویل: قیمت؟
قومندان د خندا او خوشحالي څخه په نیولي غږ وایي: پنځه لکه!
زسد- لس لکه..

د زید په خبره د قومندان خوشحالي نور هم زیاته شوه او په غوږه مالي ډول یي وویل:
سمده زید خان هیس سوک به پوی نشي هر څه یو پیښه په خیر ښکاره کو..
زید خپل سر ښوروي او وایي: ورخطا یم چیرته دی؟ کومه کوټه کیدی؟ او هوو چوکي مو هیره نشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان- هر څه چي تاسو امر وکړی...

قومندان خپل يو اعتمادي کس ته وويل چي چوکي اوتيزاب راوړي،خپله يي زيد سره د کوټي په مخ روان شو رسيدلو سره سم افسر له چوکي او تيزاب سره راځي چي زيد هغه دواړو ته وايي: تاسو تللي شي.
قومندان او افسر ځي ! زيد سليم سره يوازي پاتی کيږي،سليم د کوټي کونج کي پروت و د زيد په ليدو يي قهقهه خندا پيل کړه او ويې ويل: اه د فلم هلکه د يغما داغ مي درته پر زړه پريخوده، زما که نشوه ستا هم نشوه ...

ايا تاسو خو د زيد څخه د رحم توقع او اميد خو نلري؟! زيد په بي رحمي وربانديي حمله وکړه او لکه حيوان يي ووهه تر دي چي د هډوکو د ماتيدو غږ يي اوريدل کيده،داسي بوکسونه په خوله کی ورکړل چي ټوخي سره وينه يي خوله نه رغله او همغه وهلو وخت کي وزته وويل: دا د دي لپاره چي زما د ښځې نوم په خپل مرداره خوله وانخلي ...

زيد د ډير ستړيا څخه په چوکي کيناست،لستوني بډ وهل يخ او بي رحمه يي سليم ته کتل هر سومره يي کتل زړه يي تيره ته بدليدو او رحم يي وجود نه تلو .چوکي سليم څنګ ته کيخوده او د تيزابو بوتل چي اوس يي سر خلاص کړي و په لاسو کي نيسي سليم د وينتيانو څخه نيسي او ځان خواته کش کوي،د زيد غاښونه يو په بل لګيږي له غوسه نه او د لاسو فشار يي ډيرکيږی..

زيد- په همدا مردار لاسونه دي زما پر ښځې وار مړی وو؟؟ (او بيا د سليم دواړه لاسونه نيسي او تيزاب پري اچوي د سليم چغي پورته شوي،له هري چغي سره يي د زيد په شونډو ويروونکي موسکا راتله..لاسو نه يي چي خلاص شول
وينتيان يي نيسي او مخ بانديي يو دم تيزاب اچوي ...سليم چغي وهلي او زيد لکه ليونيو خندل...

سليم- مرسته-- مرسته - مرسته وسوځيدم( زيد پورته کيږي او چوکي هخوا اچوي)
سليم- مرسته - مرسته اوبه اوبه وسوځيدم..
زيد- وسوځيره هر شپه وسوځيره دا زما حساب و د قانون او د قانون څخه هم پورته پورته (اشاره اسمان ته کوي او وايي:پاتي هغه جدا حساب دي. زما د خايستو ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرداري چهري په کتلو نبايد پخواني بد خاطرات ورياد شي...لکه سپي بايد مړ شي درد سره بايد مړ شي خووو نه زما پر لاسو...! مړ به شي پر خپله کله چي ونشي کولي خپل مخ چاته ښکاره کړيک؟!

زيد خپل لستوني ښکته کوی او د کوټي څخه وځي د قومندان خوا ته ځي،قومندان د زيد په ليدو پهچاپلوسانه لهجه وايي:کار دي خلاص شو زيد خان؟!

زيد خپل بکس راباسي او قلم له ميز سر څخه را اخلي،او پيسو مبلغ پري ليکي او قومندان ته ورکوي قومندان په ډير خوشحالي وايي: مهرباني مو ده حاجي صيب ته سلام کوي.

زيد پرته له ځواب نه د حوزي څخه وزي اوروغتون ته زي،تيلفون يي مکرر زنګ راتلو ورته خو ځواب يي نه ورکو،بعد له لږ ټايم او فاصلي روغتون ته ورسيدپه بي ځانه قدمو د يغما کوټي خوا ته لاړو دروازه يي خلاصه کړه او ورو ننوته د يغما تخت ته نږدی شو هغه يغما چي اوس په ژوره خوب نړی ته تللي وه،زيد د يغما په څيره کي ډوب شوټول مخ يي شين او ټپي ټپي و رنګ يي سپين الوتي و سري شونډي نوري سري نه وي بلکې رنګ يي سپين شوي و...

زيد خپل لړزانده لاس د يغما مخ خواته کيخود،د مخ شين والي او زخمونه ورته لمس کول او ځاڅکي اوښکي تويولي مخ ته يي نږدي شو او دانه دانه زخمونه يي ورته ښکل کړل سر يي په لاسو ورته کيخود او په سختي وويل: يغما جيګه شه سترګي شوم سمده غوسه شه مرورره شه چغي ووهه خو داسي مه ويده کيږه،وګوره خايسته مخ نه دي رنګ تللي! خپل سترګو نه مي مه محروم کوه؟! سپوږمي مي اسمان دي ستا څخه بغير نا تکميل دي پاسيږه او ژوند ته مي معنا ورکړه...

زيد خبري کولي او يغما خاموشه پرته وه،شپګ ورځي تيري شوي او د يغما حالت کي هيس کوم تغيير رانغي زيد حالت نورمال نه و په 24ساعتو کي 20ساعت يغما سره و په دومره وخت کي سليم د مريم سره په همکاري اعتراف وکړ او د مريم کار محکمې پورى کش سو،خو کورني لخوا رد شوه نوره هيس سوک حاضر نه وه چي د مريم مخ ته لا وګوري او هغې خپل په کوټه کی ځان قيدی کړی وه..

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریبا لس بجي وي چي زید په ورخطایي کور ته راغي،زړه یي د ډاکټر د خبري طاقت نه درلود ډاکټر ویلي ول باید ماشینونه لري کړو د یغما څخه او بدن( مثال زړه، ګورده، ادا د کما ته چي کوم کسان ورشی د څو ورځو د تیریدو وروسته دا غوښتنه د مریض د پیواز څخه ډاکټران تل کوی.) غړی یي خلکو ته اهدا کړو..مګر شوني ده چي د زید په موجودیت دي ماشینونه د یغما څخه لري شي؟

او د هغه د خایستو د وجود حصي بل چاته اهدا شي؟په اوږدو قدمو سره د عمارت نه لري دوه کوټو خواته لاړ،زید درد لره خو د مور او پلار په موجودیت کي نشو کولي خپل درد ښکاره کړي، خامخا هغوي نشو کولې دومره درد وزغمي،زید محکوم و چي د کورني مخکي ځان خوشحال او نورمال ښکاره کړي، کوټې ته د رسیدلو سره سم د پخلنځي تول لوښي یي مات کړل لیونیانو غوندي شوي و،خوب کوټي ته دننه شو هغه کوټې ته چي یو وخت پکي یغما وه ...!

ګلدان یي مات کړو او خپل ویښتیان یي کلک ونیول،خپل ویښتیان یي کش کول او چغي وهل: لعنتي حق نلري لاړه شي مګر زما بدبخت اوسیدل درته بسنه نکوي بسنه نکوي هومم! زید خپل د هري خبري سره یي اوښکي تویولي،په کم حق وایي چي ماشینونه لري کو تري؟وایي خپل د خایستو وجود مي نورو ته اهدا کړم ههههههه خپل د مړيني سند مي راباندي امضا کوي!! کوم ځاي انصاف دي خدایه نګوري حال مي؟ بس ندي؟

ځان سره یي خبري کولي او دیوال ته تکیه کړي وه لږ زنډ وروسته تیلفون یي راوخیست او د موبایل پر سکرین یي د یغما عکس راوړ، د یغما یو یو عکس یې اړوه ویې تر دی چې هغه عکس ته ورسیدی چي یغما ته په ګونډو شوي و او د چپلکې بند یي ورته تړه؟ خواشیني وخندل او عکس یې ښکل کړو او سترګي پټي کړي و او خوب یوړه... خوب یې لیدې چي یغما سپین کالي پر تن وه لکه ناوي؟! ویښتیان یي اوږده شوي و تر ملا پوري رسیدل وه!

زید- زما خایستو سومره ښکلي شوي یې؟
یغما خندل او شاته شاته تله..
زید- یغما چیرته ځی مانه بغیر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما د یوې شیبې لپاره ودرېده او په خوښۍ یې وویل: زید دا ځای ډېر ښکلی دی! ته غواړې چې ماسره لاړ شې؟
زید په نیولې غږ وایي: زما خایستو ته دا د اور کرښه نه ګوري، زه نشم کولې د دی کرښې څخه تیر شم.
یغما- هو، ته نه شې تېرېدای، له هغه ځایه څوک نه شي راتلای!

زید- نو ته چټکې وکړه یو ګام مخکې راشه، شاید ته وکولاي شی چې له دی کرښې راتیره شي!
یغما په فکر ډوبه شوه او ویې ویل: زید، مور مې هلته انتظار کوي، ناوخته کیږي، زه باید لاړ شم! حتماً راته غوسه کوي!
زید- نو زه به څه شم؟ سمه ده، زه هم راځم انتظار وکړه!

زید په لوړ قدمونو سره د اور کرښو په لور روان شو! یغما ته نژدې کیدو سره یغما چیغه کړي: زید، ودریږه، نږدې کیږه مه، دا ځای ستا لپاره نه ده!
زید په غوسه لهجه وایي: که نه راځې زه به پخپله راځم، له دې کرښې څخه نه ویریږم،

زید د کرښې د اوختلو څخه په یو قدمې کې وو، چې د تیلیفون زنګ پۀ غږ له خوبه راویښ شو او د هغه خوب نیمایي پاتي و! زید په خپلو لاسونو خپلې سترګې مښلی، د سهار رڼا په خونه کې خپره شوی وه.زید تلیفون ته بی حوصلی ځواب ورکړ!
د رضوان خوشحاله او له انرژۍ ډک غږ په تلیفون کې وپیچلو شو: زیدددددد هله زر خپل ځان شفاخانی ته راورسه،یغما په هوش راغله پخدای چې د رښتیاا لکه ستا په څیر لیونی ده، یواځې ستا نوم اخلي!

زید د حیرانتیا له امله ډیرې خبرې نشو کولی، باور یې نه شو کولی،چې خدای د هغه غږ آوریدلی ویې او د هیله لبیک ویلي،بی له اختیاره ځمکی په مخ سجده وکړه

"اوس کیسه د یغما له خولې بیان کیږی"

ما په سختۍ سره سترګې خلاصې کړې، د رڼا سره،داسې نه ښکاري چې ما ډیر خوب کړی وي!سپینه خونه زما سره اشنا نه وه، خپل ذهن فشار راوړم په یادولو دا چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته یم! لومړی شی چې زما یاد ته راغلو د ډزو غږ و او وروسته
د زید اوښکي! لکه چې زه اوس شوک څخه بهر شوم، ما په چیغو زید نوم واخیست!

یغما- زیددد....
زما لاس او زما د سیني په چپ اړخ کې، سخت درد تاو شو، د څو شیبو لپاره بې حرکته
پاتې شوم او بیا ځلی مې د زید نوم غږ کړو: زیددد

دروازه پرانیستل شوه او نرس په چټکۍ سره رادننه شوه! هغه سمدلاسه له کوټې څخه
ووته او څو دقیقې وروسته ډاکټر سره راغله،دواړو په حیرانۍ ماته کتل!
توبه خدایه په دوی څه شوی دی! فقط چې جن یې لیدلی وی! زه خپل ستونی صاف کړم
او په لوړ غږ وایم: زما خاوند چیرته دی؟
د نرسې په شونډو موسکا خپره شوه! وایي: هغه لیوني ستا خاوند دی! څومره بختوره یې
دا چې زیاته مینه درسره لري نژدي وو ډاکټر سره جنګ کړی وایې.همدا تېره شپه لاړو!

زړه مي غوښتل د هغي وینتان وشکوم! هیڅوک حق نه لري چې زما زید ته لیونی
ووایي!غوښتل مي چې ځواب ورکړم، چې دروازه خلاصه شوه او رضوان ورخطا
راغی، په ډیر حیرانتیا سره وویل:یغما!

یا خدایه په دوي څهٔ شوي، خو یو مرمۍ وخوړلی یم، مړه نه وم زه بیا ژوندی شوم چې
دوی به حیران شي!نرس راغله زما لاس څخه یې سیروم پیپ لري کړو، ډاکټر هم زما
سترګي په ګروپ سره کتنه کوی، او د زړه ضربان یې وڅیړل (چک)بهر لاړه!
رضوان هم حیران وچ کلک ولاړ وو!

یغما- هوی تورکی څه شوي؟ رینتیا یاد مې دي چې کلي ته لاړه شم او حسنات باندی
مرکه وکړم،له یاده خو نه دی وتلی؟؟؟
رضوان حیرانتیا ورو ورو په خندا بدلیږی او وایې: نه له یاده مي نه دي وتلي،څنګه يي
اوس؟درد احساس خو نه کوی!

یغما- نه، یوازې دا لاس مې درد کوي،د دې ډاکټر له امله چې دوی ستنې کار کړي دي!
رضوان په خندا سره خپل سر وښوراوه ویې چې زه بیا وایم: ترور ښه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان- هو، هره ورځ ستا لیدو ته راتلله! شاید یو څو ساعته وروسته راشئ
په حیرانتیا سره مې وویل:او هی څو ورځې؟ما څومره خوب وکړی؟

رضوان خپه او غلی شو! چې ما وربانده غږ وکړو: زید چیرته دی؟ دا نه وایي چې یوه
دلته پرته ده او مرمی یې خوړلي! خاوري په سر نشي دا چنار ګل!
رضوان په ارمه وخندل او ویې ویل؛یغما پخدای ستا خوږې ژبې پسي خفه شوي وم.

مخکې لدې چې زه ځواب ورکړم ، دروازه په کلکه ډول خلاصه شوه زید بنده ساه رادننه
شو! زما په لیدو په خپل ځاي کي جام ودریږي! زما خاوند ډیر سترې ښکاري! د هغه
ږیره ولي دومره زیاته ده؟؟ تیره شپه څخه د نن ورځی کمه وه!

په کراره وایم: رضوان تا تراوسه دا انسان کړي نه دي،وګوره د مریض کوټې ته څنګه
رادننه شو!

رضوان ارام وخندل او د دروازی په لور ولاړ! او زید ته په رسیدو هغي زید ورو په شا
ووهلو او په مسکا سره وویل: دا ته او دا هم ورینداره!

رضوان لاړ او دروازه یې وتړله! زید بیا هم بې حرکته ولاړ و!
په شیطانت مي وویل: هوی چنار ګل اوښکي تویدل دي راته په یاد دي هههههههه څنګه
دي چیغي وهلي!نژدی وو چې غوږونه راته کاڼه کړي ولا!

له لږ ځنډ وروسته زید په ورو قدمونو زما خواته راغی!
په ناباوره وویل: یغما؟
په خندا سره وایم: جان یغما!
زید یوازې لیدلی او ښوریده نه! په کټ کې ځان راټولوم لږ شان ځای ورته پریږدم!
له لاس څخه نیسم په خوا کي ورته ځای ورکړم! زید لا اوس هم په شوک کي وو،یعني په
دوی څه شوي پېښه څو پرون شپه تېره شوه،او زه نن په راوینه (په هوش)شوم! نو
کوم ځایي حیرانتیا لری؟ په کراره ورته وایم: زید ګونګی یې هوم؟؟
زید د لیونی په څیر زما مخ ته کتل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا د هغې مخ په خپل لاس پوښم او د هغه اوږه په خپل لاسونو مینځ کې ټینګه نیسم، سر مې د هغه په نارینه اوږه باندې کیدم! او وایم: زید، ماته داسې مه ګوره، زه وېرېږم! او هوو دومره درپسي خفه شوی یم چې مه وایه!( زید خبرې نه کول! چې ما بیا وویل: زید، ته په غوسه یې؟ ماسره خبري نه کوی هوووووم؟؟

زید ستونی صاف کړو او په ارامه سره وایی: ښه یې؟
یغما-هو، هو، زه ډېره ډېره ښه یم، ته زما تر ځنګ اوسئ دا ناشوني ده چې ښه نه اوسم!
زید خپل سر پورته کړ او زما په سر کېښود او ژوره ساه یې واخیسته! ما په ماشومانو په لهجه وویل: زید، ته زما ویښتان لاس ووهه؟

د زید موسکا مې احساس کړه، هغه زما په ویښتو ښو ښکلي مچو کیښودل،د هغه ګوتې زما ویښتو ته لاړه او یو ښکلی ساز یې جوړ کړی! شیطاني فکر د یادولو لپاره د هغه له اوږو سر پورته کوم او په پراخه موسکا سره وایم: زید، په یوه شپه کې دې څه وکړل؟ وګوره څومره بوډا شوي!هههههه ته دی ږیري ته وګوره!

زما د خبرو په تعقیب، ما خپل لاس د هغه په ږیره کېښود او زه د ماشوم په څیر لوبوم، زید په خندا راته وکتل او ویې ویل: زما خایستو، ته فکر کوې چې په یو شپه کې دومره بوډا شوم؟ ته نه پوهېږې چې څو ورځې بې پروا ویده وې! ته نه پوهېږې چې ما څه ورځی راوړی ای ظالمی!!؟ ته نه پوهېږې چې پرون شپه دوي لعنتی ماته څه وویل؟

زما لاس حرکت څخه ودریدل! او زه په حیرانتیا سره وایم: څو ورځې ویده وم؟

د زید سترګو د خپګان رنګ ونیو! خاموشه شو او څه یې ونه ویل چې ما بیا وویل: زید، راته ووایه، داسې نه چې کما تللی وم؟

زید سترګې بندې کړی او په آرامه یې وویل: هو شپږ ورځې ویده وې(یعني کما کې وی) ژوند مې شپږ ورځې او شپې چې هر یو یې په ما باندی زر کاله تیریده! هسی خو زه بوډا نه شوم!

یعني شپږ ورځې زه په خپل حال کې نه وم؟؟ یعنی په همدې خاطر تول حیرانه وو چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېښه شوم؟؟ زما خاوند په همدي خاطر مات شوي دي! زيد خپل د خبرې وروسته په شيطانت وايې: او هو رښتيا دا خبره هم بايد وکړم زه ځوان هلک وم ستا د لاسه بوډا شوم دی ځو ورځو کی نو هيس ډول حق نلری ماته بوډا ووايې او ما نشي پريخودلی، تا زه بوډا کړم، اوس مي بايد وزغمي د سترګو توره..

د زيد په خبره زه خپل سترګي تنګ کوم او په کلکه يې چونګاری کوم او وايم: چا وويل چې زه تا ايله کوم، هو؟ ليونی چنار ګل! که ته وغواړې، بيا هم زما لاس نه خلاصيدلی نشي!
زيد په لوړ غږ خاندی او ما خپل غيږ خواته کش کوی او وايې:ای زما زړه ليونيه !!!!ځومره چې زه ستا سرپناه پسي خفه وم، ځومره زه ستا په خندا پسي خفه وم!
هيڅکله مي هغه ورځي فکر نه کاوه، چي دومره ژور عاشق (مينئن) شم.....

په خندا وايم: زيد، پاڅېږه، زما زغم ختم شو،اوس به ځوک راشئ زموږ پوزې به پرې شي پخدای!
زيد- خو زما زغم زما د ژوند تر پايه نه ختميږي، زما زړه،ته نه غواړې چې پوزه دې پرې نشي، نو ژر روغ شه چې کور او خپلي ژوند ته لاړ شو!

خدايه دی انسان سترګي ورځ په ورځ سپينيږي! په حيراني وايم: يعنی چې ستا پوزه به نه پرې کيږي او يوازې زما پوزه به پرې شی! ته د شرم او حيا په نوم څه نه پيژني؟

زيد خپلي وريځی اوچتي کړې او زه يې نور هم کلک خپل غيږه کې ونيولم او ويې ويل: نه، شرم څه شی دی! ؟ ته زما ښځه يې، نامحرمه خو نه يې يا نامحرمه يی راته؟ ؟

د خپلو خبرو په تعقيب يې شيطاني وخندل، چې ما په دروغجنه غوسه وويل: ته زما په کټ کې د شيطان په څير پورت يې، غټ سړی يې، که زما څخه نه شرميږې، لږ خو خدای وشرميږه، پورته شه نو!

زيد په خندا وايې: يغما ته لېونی شوی یې؟؟ ولی وشرميږم،هسی مي عصاب مه خرابو ولا همدلته خبل تول وبينتان شكوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هڅه کوله چې زما خندا کنټرول کړي، مګر کولی شم خپله خندا کنټرول کړم،د لبلبو په څير د خندا تکه سره وم په خندا وايم: ولي خپل وينتان شکوی؟ خبر اوسه،چې يو تار وينته دی کم شوو،نه دی کوم خبره ختمه (تمام)؟

دخپلی خبرو په تعقيب، خپل سر پورته کوم او د هغه وينتان خپلو د ګوتو سره څيرم چې زيد وايي: يغما ته څه کوئ؟
يغما- ګورم چې وينتان دی کم دی او که پوره!!
زيد په لوړ غږ خندای او وايې: نه کم شوی دی،ستا په جدائی کې ټول توی شول!

زه پوهيدم چې هغه رينتيا وايی، تل د کنټرول څخه بهر شی، نو خپل وينتان شکوي! ما د ګواښ په توګه وويل: زيد، پخدای که لاس دی وينتانو کي ووهل،لاسونه به دی مات کړم،افسوس ستا په وينتانو چنار ګل!
زيد- په سترګو ښځي می زما واک ستا په لاس کې دی!

په شوندو مي پراخه موسکا راښکاره شوه او وايم: ښه سمه د اوس پورته شه،ځاي دي راته تنګ کړو!
زيد- يغما همدا ستا زړه تنګون وو همدومره؟ د څو دقيقو لپاره مي پرېږده چي راحته ساه واخلم.
يغما- خو زما ځاي دی راتنګ کړی وی توبه خدايه،هاا خفه وم مګر اوس خفه نه يم،که پورته نشوي داکټر ته غږ کوم نور دی زړه!

لېونی چنارګل نه پوهېده يو پېړی په اندازه خفه شوی وم، خو زه ويريدم چې څوک رانشي او به شرمو ونه شرميږو خلکو ته، زه پوهيدم چې هرکله زما خبره رامخکی شي زيد نور د هيچا خبرو ته ارزښت نه ورکوی..زيد له يو ټوپ سره کټ څخه ښکته شو ظاهراً غوسه وو او ويې ويل: صحيح شو ځاي دی پراخه شو!؟

په يوه شيطانت موسکا سره،کټ د خپلو لاسونو او پښو سره ټول بستر محاصره کوم او وايم: هوو ډير ډيررررر ځای مي پراخه شوو! سربيره پردې، وزن او دا سپورت عضلاتی هم بايد اوبه کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زید- بیا ولې؟؟
سغما- ځکه چې ډیر ځای نیسي هههههههه!

زید په خندا ماته کتل، ما دا ټولې خبرې د هغه د مزاج د بدلون له امله کولې. زید چوکی سره زما څنګ ته راغلی!د ماشومانو او مظلومانه یې وویل: ته زما په حق ډېره ظالمه یې بدرنګې!مجبور چې دربانډی بنه( دویم بنځه) راوړم

د زید په خبره بالبنت ورته وربانډی ور غورځوم! او په حیرانتیا مې وویل: چاته دی بدرنګه وویل!؟؟په چا باندی بنه راوړی هاااان؟؟؟ (زید وخندل او په خپلو سترګو یې ماته اشاره وکړه! چې ما په غوسه وویل: هلووو لیونۍ زید خان! ته له کوم ځایه پوهه شی چې همدا بدرنګه چې لوړ قد،نری وریځی،ښایسته سترګې، غونچه شونډی ،بینی ګګ قندول، او اخیره کې د شیدو په شان سپینه نو ښومره خاستګاری لری هومممم؟؟؟

او په عین حال کې،هم تاته او هم خپلی بنی ته اور اچوم سپین سترګې‌به بدرنګک!!
زه خبری کوم،او هغه ورو ورو خندل!زما خاوند خاندی، او زه د ګل پشان غوټیږم

زید کرار وایې: اه، زما خایستو ښومره مغروره شوی! هو، زه ستا د ښکلا په پرتله هیڅ نه یم! په ناحقه خو ستا بت پرست نه یم!
خندل مې او په لوړ غږ وایم: وایې،زه قربان شم خپل مات شوی خاوند ښخه!"
زید- خدای دی نه کوی د سترګوو توره!هیڅکله داسې مه وایه حالت مې د خراب کیږی ستا دی لفظ ته.....؟!

په خندا مې ورته وویل: زیده زه د ربښتیا شیږ شیږ ورځی ویده شویی یمه؟
د زید ځیره خفګان څرګند کړ او سترګې یی ښکته کړی.ما نه غوښتل چې د زید خفګان وګورمه زید خپل سر یی کرار وخوځول او ویې ویل:هو
یغما- بیا څه وشول؟
زید- څه وشول؟؟؟
یغما- مطلب ولي دومره ویده شوی یمه؟

زید نور هم خفه شو او په نیولې غږ یې وویل: ډاکټر ویل ته په هوښ راتلو لپاره باید یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل پیدا کړې.خو تا د هوښ راتلو لپاره حتمن کوم دلیل نه درلوده. حتا همدا پرون شپه یی وویل چی ماشین باید بند کړو او د بدن غړي دیـــ( زید خپل د خبرو دی ځای کې چوپ شو زید څه وویل؟ ما د هوښ راتلو لپاره دلیل نه درلود؟ مګر زید خپل زما لپاره دلیل نه وو؟ مطلب زید فکر کوی چی ما کوښښ ندی کړې په هوښ راتلو لپاره او زید می له پامه غورځولې.

په غوسه مې وویل: ډاکتر غلط کړی چې داسی یی ویلی .په هوښ راتلو می یو دلیل پورې اړه درلود.کنه ستا په شتون کې هیڅکله بی هوښه کیدلم نه. یو هیڅړی څه می په خوب لیدل هر وخت؟! یعنی شپږ شپې او ورځې مې یواځې همدا یو خوب مې لیدلې( زید ما خواته کتلو خبری یی نکول.چې ما وویل: زیده ته می لیدلی کوښښ می کول ستا خواته راشمه خو هغه ځنځیر چی زما په پښو لاسو کی تړلی وو نه می شو کولی درشمه.نیو هیڅړمه اخر ځل چی شاته تیل وهل شومه څه سبب شو چې ځنځیر وشلیدل او تا خواته می منډه کړل...

زید ډیر خفګان سره زما خواته کتل چې ما کرار وویل: زیده داسی مړاوی مه اوسه.وګوره جوړه تیاره یمه.بد بوتې بلا هم نه وهی.او تر څو چی ستا وینتان لکه غاښونو په شان دی سپین نکړمه هیڅ چیری نه ځمه وعده ده.

زما په خبری ښایسته خندا زما د خاوند په خوله راښکاره شول او ویې ویل: وعده ده؟ په ډاډمن لهجه او په خندا می وویل: وعده وعده ده.

مازدیګر ترور،اسما،او رحیم تره له ګلانو سره راغلل ډیر خوشحاله ول.او کامله شفا یی راته وغوښتله. یو ساعت کیناستل او بیار ولاړل.زید باندی تللی وو فکر کوم کار یی درلوده.حوصله می نه وه نوره او هوا هم تیاره کیدله. ځان می د مجلې په لوستلو بوخت کړی وو.او د چیستان په ځواب مې فکر کول.چی دروازه خلاصه شوه.
ور خواته می وکتل او حیرانه شومه زید له ګلانو او ډیرو پلاستیکونه یی په لاس د ننه شو.ډیره حیرانتیا می د زید ظاهرې بڼې ته وو؟! خومره یې په خپل ځان ګوتی وهلې وو.

ږیره یې کمه کړی وه.او نقره یی یخنقاق یی په ځان وو،په خندا زما خواته راغی.
او ویې ویل: د سترګو تور می ښکه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد بد می ورته وکتل، چې زید په حیرانتیا وویل: بیا څه شوې ولې داسی ګوری؟
یغما- لومړې نو چیری ورک وی؟دوهم واده د دی چی دومره دی په ځان ګوتې وهلې؟!

زید کرار  وخندل او ویې ویل: لومړی خو ولاړمه او خپل مینې ته می خریداری وکړه.
دوهم خپلی ښځی لپاره می په ځان ګوتې وهلې کومه ستونزه ده؟
یغما- لومړی خو دی ښه وکړه د روغتون ډوډی بیخی زړه یی راله خرابه کړی یواځې غرمه می ډوډی یی خوړلې.او دوهم وای دی پرځان وی زید که چا درته کتلی وی...
زید په کړس کړس وخندل او ویې ویل: ښه نو چې راګورې نو زما ګناه څه ده؟!

یغما- تاته چا ویلي ځان نه یوسف د زمانې جوړ کړی؟ او څه دلته په جړ سر پرته یمه؟(
زید د ډیر خندا څخه خبری نشوې کولې چې ما بیا وویل: هیییی پر ما باندی خاندی؟!
زید سر یی د نه پشان وخوځول او ویې ویل: نه خدای نکړی.
یغما- سمه ده ته راوړه څه دی راوړی.رشتیا کاکو خو د هیر شوې ندی؟

زید زما خواته راغی او سپین ګلونه یی زما خواته ونیول او په خوشحالې وویل: دا دی زما ګل ته ډالی ..
په خندا می ګلان واخیستل او بوی می کړل او ومې ویل: مننه جانان می.
زید داسی ښایسته وخندل چی بی اختیاره می وویل: ستا خندا زما ژوند ښایسته کوي.وخانده او زما د  ژوند اوری تل لپاره ښایسته کړه.

زید- په سترررررررګو ته همداسی راته ناری وکړه څه به تل درته خاندمه.( ګلونه یو څنګ ته ایږدمه او پلاستیکونه یی له لاسه اخلمه.هههههههه داسی لکه یو ماشوم ته یی چې خریداری کړی یی.له چپس څخه نیولې تر لالي پاپ ژاوله او ډول ډول جوسونه یی اخیستی ول.اخ جان قربان می له خاوند نه شمه.هههههههه خاوند ستا نه قربان.لکه یو وړی پشان لګیا کیږمه خوړلو ته.. چې د زید غږ اورم چې وایې:

زید- جان می لږ په کراره ولا ټول یی ستا دی.
له خوړلو نه ډډه کومه او بالښت ته تکیه کوم او وایم:سمه ده هسی هم مړه شوم نوره.
زید- کوم ځآی خو دی درد نکوی؟
د زید د پعذابه ولو سوچ مې ذهن ته راغې او په شیطانه لحجه مې وویل: نه ښه یم یواځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ مړ کړه او خپله هم لاړ شه .
زید په حیرانتیا وویل: څه؟؟ چیرته ولاړ شمه یعنی څه غواړي؟نو څه دا ټول لاره د چا لپاره راغلی یمه؟

اوږې می پورته واچولې او په خندا وایم: ماته یی څه د نرسانو لپاره به راغلی یې فقط چی زه دی نه پیژنمه!!؟
زید- یغما اعصاب می مه خرابوه سمه انسان غوندی کینه ولا خفه شوې یمه درپسې.
ای جان دومره یی په مظلوم انداز وویل چی زړه می ورته و سوځیدی او د پعذاب کولو مې ورنه ډډه وکړه. او ومې ویل: ښه سمه ده اوس ځان ماشوم ماشوم مکوه .
زید په خندا شو او ویې وویل:یغما کولی شې لږ ځآی قرض راکړې؟

خندا می تیره کړه او په تنده لهجه می وویل: نه ځآی می تنګ کیږی .
زید- پخدای هماغه کنج کی ځآن ځایومه څو دقیقو لپاره .
خندا می نور نه کنټرول کیده په خندا مې وویل: سمه ده.خو یواځې څو دقیقې!
زید خوشحاله شو وو خواته می راغی یوې خواته ټولیږمه او زید ته ځآی ورکومه.
زید کټ کی څنګه ته می تکیه وهی او وایې: دومره هغه چوکی کې کیناستلم بیخس ستړی شوم.

یغما- کاش کور ته تلی وایې!؟
زید- نه نو دومره هم ستړی نه یمه او هو یو بل څه غواړمه ښکاره کړمه درته.(زید خپل د خبری سره سم خپل موبایل راویستو او عکس زما سترګو مخې ته نیسې. موبایل ورنه اخلمه او عکس ته په غور ګورمه.د قصر (هال)په شانتی ځآی وو؟! په حیرت وایم: زید دا څه لپاره دی؟

زید په خوشحالي وایې: زما او ستا د واده تالار یو میاشت وروسته ان شاء الله.
واده مخکی لرو؟په حیرانتیا می وویل: ټوکی کوی؟
زید- نه ولي ټوکی وکړم؟! خیر کار کې تلوار ښه دی!

تر سهاره مو کیسی وکړی او ومو خندل،کله چی سهار زید له ډاکټر سره خبری وکړی او زما رخصتیی واخیستل.تقریبا یو میاشت تیږه شوه او جالبه پیښې وشوې راسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه حسنات او خاله زما لیدو ته راغلل چې حسنات می هم ریباری وکړه.که څه هم د زید غیرت سره مقابل شو خو زما په شتون حل شو.امکان نه درلوده زما په شتون زما وروړ ته چنارګل څه ووایی.خو زما کارونه یی بی ځوابه نه پرېښودل.

لکه ټام او جیری( پیشو او موږک)پشان شوې وو کله ناکله یی ځورولمه.اخر رضوان ا حسنات ته یی وړوکی محفل ونیول. او زمونږ دواړو واده یوه ورځ کی وټاکل شوه.
په حقه چې ښایسته جوړه وه دواړه.ورروسته له مودو د واده ورځ ورسېدله .هو سبا آخری ورځ زما پرته له تخلص می ده.سبا ته د ټولو مخ کی د زید تخلص ځانته اخلمه.یغما زید غضنفری.

سترګی می وتړلې خو خوب مې د سترګو څخه تختیدلې وو،په سختی می سترګی وتړلې او ویده شومه.سهار له آذانو سره پاڅیدمه.اودس می وکړو او د شکر سجده می پر ځآی کړه.حسنات او اسما راغلل راته .دری واړو جامی مو واخیستې او سینګارتون په لوری ولاړو.د سینګار کار تقریبا څلور ساعته وخت ونیول.
لومړی حسنات تیاره شوه.اوففف چې څومره ښایسته شوې وه د نکریزو شیپی په جامو کی.

یغما- حسنات څومره ښایسته شوې یې ما شاء الله.
حسنات په ناز وخندل او وویل: مننه کوم خوږې می .
یغما- هغه خو هسی هم یمه خو ته هم ښایسته شوې یې .
زما په خبره حسنات او اسما دواړو وخندل.اوس زما د سینګار نوبت وو سینګار ښځې ته می ډیر تاکید وکړو چې ساده فیشن راته وکړی.ډیر سینګار می نه وو خوښ.

څوکی کیناستمه دوه ساعته می ښور هم ونخوړلو، کار یی خلاصیږی بالاخره او د پاڅیدو اجازه راکوی.زما سره د اسما کار هم خلاص شو.اسما هم ډیره ښایسته شوی وه د ارایشګرې او اسما و حسنات تعریف خندا یی راوستلو.سینګار والا ښه خپل کار کی بلد وو ډیر ښایسته او ساده فیشن یی کړی وو.

اسما په خندا راته وویل:اوفففف چې دواړه وریندار ګانی می سپوږمی په شان ښکلی شوې.نظر نشي ما شاء الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات له شرم نه په ډکه لهجه وویل:خپله هم ښایسته شوې یی ګرانې.
یغما- هوی مننه او تعریفونه پرېږدی زید او رضوان ته زنګ وکړی .چې راشی کار ختم دی.

اسما سر خوځوی او زید ته زنګ کوی او موږ ته وايي: تاسي خپل شالونه خپل پر مخ واچوی هغوی هم اوس رارسیږي .

څنګه چې اسما ویلي وه موږ هم خپل شالونه په مخ اچو او زید و رضوان ته په تمه کېږو وروسته له پینځه دقو د موبایل غږ پورته شو او اسما جواب ورکړو: سمه ده ورور دا دی در ووتلو( آسما مونږ ته اشاره کوی او وايي: هله چې راغلل یغما ته په تمه شه اول حسنات وړمه.ترور له رضوان سره راغلی په تمه نشی .
یغما- سمه ده لاړه شه.

اسما حسنات دباندی وړی او بیا راځی ما له لاسه نیسی او وايي: راځه وریندار جانی.
کرار کرار د اسما سره له سینګارتون څخه وځو.سر می ښکته وو او شال سره می زید نشو لیدلی. خو پوهېدمه چې د نن شپې د مجلس لمر بیا هم زید دی.زید د موټر دروازه موږ ته خلاصوی او څه وو اسما دواړه شاه سیټ کی کینو.

موټر له ښایسته سندری سره حرکت کوی.او وروسته له څو دقو تالار ته رسیږو. اسما زمونږ نه مخکی ښکته شوه او لاړه. چې ما وریسی ناری کړل:هی اسما چیرته ځی؟ ما اوس څوک یوسی.؟
زید په خندا وویل: څه دی وړمه.
له شرم نه می غمبوری سره شول .زید ښکته شو او د موټر دروازه یې راته خلاص کړه زه یې د لاس ونیولمه او په ښکته کیدو کی یی مرسته وکړه راسره. فرشته ترور او ترور دواړه زما ښه راغلاست ته راغلی ول.

لاس په لاس د زېد سره تالار ته ننوتلو او ناوی خونی ته لاړو.په ننوتو سره سترګی می په رضوان او حسنات ولګیدلی،حسنات سر یی ښکته نیولی وو او رضوان غږېده.
کرار د زید غوږ اندی ته وايم: زید وګوره دواړه څومره ښایسته ښکاری ما شاء الله.
زید- هو خایستو مې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رضوان خبرو زمونږ خبرې بندی کړی: واه واه یوسف زلیخا راورسیدل( رضوان خپل د خبرو سره سم راغی او زید یی په غېږه ونیوی او ویې ویل:مبارک د وی وروره او تاته هم اغلی یغما.
زید- ژوندی اوسی رضوانه.اوس ته ما پرېږده او حسنات ته ولاړ شه چې زه خو خپل د میرمنې مخ خو وګورم..؟!

رضوان خاندی او سپېن سترګی وایی او ځی چې زه زید ته وایم: زید بده ده مننې ته د هم پرینښوده څه کار د وو ورسره .
زید- بد نده زما سپوږمی.نپو هېږې دی ورځی ته می څومره انتظار کړی.( زید خپل د خبری سره سم خپل لاسونه پورته کوی او زما شال سم کوی نشم کولی دا وخت بیان او توصیف کړم درته زید زما او څه د زید له لیدو حیرانه ومه.اوففففففف د لونکی او افغانیو کالیو سره څومره ښایسته شوې وو.بیخی افسانو په شان.

زید کرار غږ باندی وویل: زر ما شاء الله ما شاء الله ژوند می( زه د شرم څخه سر ښکته اچوم چې زید په خندا وایې: همدا شرم می خوښېږې ستا خایستو مې.
زید زما لاس نیسی او رضوان او حسنات خواته ځي.نن دواړه ورونه ډیر ښایسته شوي ول وای د مجلس په بخیلو انجونو غږ می سم کومه او په لوړ آواز وایم: هی تورکیه څنګه نور دی ویستلی.
زما په خبری رضوان په خندا وایې: خپله خو دی زما فقیر د عالم څخه زیات نور ویستلی.
په خندا وایم:هغه خو ده ولی ته هم بد نه یی ورور.

څلور واړه خاندو چی زموږ د خندا سره سم فرښته ترور خاله او اسما یوځای کوټې ته راننوځي، او موږ د تالا مجلس سالون ته هدایت کوی اول حسنات او رضوان داخل کیږی بیا زه او زید ټول سالون تالار د چک چکو غږ نیسي لکه چې د زید عمه او مریم ندی راغلې! مجلس په خلاصیدو وو یواځې د سپین واده کالو اغوستل پاتې وه..

ما د حسنات سره د کالو په اغوستلو کې مرسته وکړل او هغې زما سره، د حسنات سپین د واده کالې زما د کالو څخه زیات ساده وه یو تورکې جوړه وه، د زید غږ مې وآوریدی چې ناری وهل: یغما راشم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یغما- هو راځه.
زید او رضوان دواړه جوړه رادخل کیږی کوټې ته، تورکې د حسنات خواته روان شو خو زید هک پک د دروازی مخکې ولاړ وو او ماته یې راکتل، د څو ثانیو وروسته زید زما خواته رانږدی کیږی او په پراخه مسکا وایې:

در وصف تو چې گویم؟؟
که تو خود جاني و جهاني....

د واده محفل خلاص شو او نکاح د دویم ځل لپاره وتړل شوه، او د مشرانو د لاسونو په ښکوله ولو سره چې د فرشته ترور، خاله، او رحیم کاکا چې زموږ دواړو هم د حسنات او هم زما د وکیل شو، ما په عمر کې دومره مهربان انسان نه وو لیدلی .. د مانې خواته روان شو فرشته ترور د دری منه سپاندی( اسفند) دود کولو وروسته اجازه راکوی هر یو خپلې کوټې ته لاړشې، زید د محفل څخه نیولې تراوسه زما لاس کلک نیولې وو او یو ثانیه یې لا خوشې نکړو ټول وخت یې راته ښایسته اشعار زمزمه کړل..

زید د کوټې دروازه خلاصه وی او دواړه کوټې ته ننوځو، وای دا کوټه سومره ښایسته سینګار شوی وه، ټول کوټه د سپین ګلابو باندی ډیزاین شوی وه او د ګلابو ښایسته بوی ټوله کوټه نیولې وه، زید غټه ساه اخلې او په خندا وایې: اه خلاص شو راحته شوم.( او خپل د خبری سره سم ما د لاس څخه نیسې او د کټ خواته ځې د واړه کوړه ښنګ په ښنګ په کټ کې کینو، زید زما سترګې ښکله وی او زه یې په مقابل کې دهغه مردانه لاس ښکله وم..

زید خپل سر زما غیږ کې ایږدی او خپل په ښایسته غږ وایې: اه زما خایستو، د زر کلونو په اندازه ستړی یم! دا لاری سومره خاوری او تکلیفونه درلودل! خو شیرنې او خوږ والې یې د درد څخه زیات وو! خایستو مې غواړم د زر کالو په اندازه ستا غیږه کې خوب وکړم او ته راته کیسې وکړی..

خپل لاس د زید په ویښتیانو کې تیره وم او وایم: نو کیسه درته وکړم؟
زید- زما عمره ته یواځې کیسه وکړه زه د عمر تر اخیره ستا د کیسو د آوریدو څخه نه ستړی کیږم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زید په خبره خاندم او وینښتیان یې ښکله وم او وایم: نو غوږ ونیسه زما مغروره چنارګل( خپل ستوني صاف کوم او کرار د کیسې په بیان کولو شروع کوم:

وو نه وو په پخوا زمانه کې یو جنۍ وه..
په نوم د یغما، زړه یې د نوم پشان د غمونو کور وو..

تقدیر یې د شپې پشان تور او بدبخت وو..
ناساپه د دی په ژوند یو رڼا وپرقیده..

تور او د غم آسمان باندی یو لمر وځلیدی..
زړه یې یو سړی و تخته ویې...

هغه سړی چې د یوسف پشان خایسته وو...
او د زلیخا پشان عبادت کونکې..

د قیس د جنون (مجنون) په اندازی..
او خپل د غرور تر حده..

هغه کس بل سوک نه وو بلکې د هغې بت پرست..
زید مشهور په بت پرست..

هغه بت برست چې د هغه مینې د هغه بت ته نوی ژوند او نوی روح ورکړل، هغه بت چې د بت پرست په مینه لیونی شو او ساه او روح یې واخیستل او د زید په مینه کې ډوبه شول...

#د بت پرست ناول پای...
#لیکوال: ناشناس...
#ژباړونکې: خواجه زی خیروندیه اداره..

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه کوم د ټولو هغه ملګرو څخه چې د ژباړې او د ناول په نور تخنیکي کارونو کې زموږ سره مرسته وکړل او خاص مننه ستاسو لوستونکو څخه چې موږ مو حمایت او تشویق کړو دا وو د بت پرست ناول پای د نور داسې خونده ور ناولونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل جوین او خپل ملګری دعوت کړی...

#خواجه زی صاحب.

Https://t.me/shuhab00

Edit From bashir Ahmad Shabab

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**